Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ټولنې پرله پسې لمبر ۲۲۵

PROPERTY OF ACKU 4499

د

# رحمان بابا دیوان

خپروونکی

پښتو ټولنه

د

۱۳۵۶ کال د زمري پنځلسم

د چاپ شمیر ۳۰۰۰ ټوکه

دولتي مطبعه

(c) ketabton.com: The Digital Library


مرتب او مُهتمم :

څېړنیار محمد عارف غروال

د نسخو مقابله کوونکي :

څېړنمل عزیزالله

څېړنیار محمد عارف غروال

څېړونکی محمد عمر

خپل ډېر ګران، د قدر وړ او پیاوړي ګلدري او ډېر ښه ملګري او ډېر ښه ورور عنایت جان (شفق) ته چې ډېره مینه او د ښه هیلو وړاندې کوم، د یادګار په بدل کې وسپارل

چې کشور د افغانانو معطر کړي
د هر بیت مصرع مې زلفې د خوبانو کړي

خوار او ملګری دی ګل ملي رخا...
(۱۵/۲۸/۸/۹۰)

له ډېرې مودې راهیسې د رحمان بابا د دیوان چاپي نسخې بالکل نایابه شوې وې. له همدې امله، پښتو ټولنې تصمیم ونیو چې د بابا یو نسبتاً جامع او بشپړ دیوان چاپ کړي. څرنګه چې کتاب د یوې علمي او ادبي اکاډمۍ له خوا خپرېده لازمه وه چې تر وسه وسه پورې اکاډمیک او علمي پرنسیپونه پلي او عملي شي. د دې هدف د تحقیق د پاره، له پنځو چاپي او شپاړس قلمي نسخو څخه استفاده وشوه. د یادونې وړ خبره ده چې د رحمان بابا د دیوان قلمي نسخې د پښتونخوا په هر ګوټ کې پیدا کېږي. خو له یوې خوا د ملکو او ادبي تړنو او علمي ارتباط او له بلې خوا د پښتو ټولنې مالي امکاناتو اجازه نه ورکوله چې دا کار نور هم وغځېږي.

په همدې اساس، د پښتو ټولنې د کتابتون او نورو کتابتونونو له موجودیت نه په ګټه اخیستو کوښښ وشو چې د بابا د دیوان نو اعتبار متن تیار کړي. د دې دیوان په خپرېدو سره به د ادبیاتو څېړونکي او د افغانستان ترلاسه کړي چې د بابا ادبي سبک "ژبه"، او د تفکر طرز په ښه توګه وڅېړي او د هغو اشعارو پر ماهیت باندې هم رڼا واچوي چې رحمان بابا ته منسوب شوي دي.

د لیدو وړ څېړونکي د خپلو علمي څېړنو د پاره، البته، په دې نسخه باندې بسنه او قناعت نشي کولی ځکه سره له دې چې کتاب له یو شمېر نسخو څخه ترکیب شوی دی خو هره نسخه یې د متني کره کتنې - textual criticism له مخې ځانګړې مطالعه او زوره څېړنه غواړي. له دې امله، د دې نسخې په چاپېدلو سره دا د بل کره کتونکو وظیفه پای ته نه رسېږي بلکه په نوي افق کې به خپلو څېړنو ته دوام ورکوي.

زه دلته د رحمان بابا د افکارو د ترجمانۍ، تعبیر او تفسیر څخه چې ده کوم حکمت بې هر څرګند بې له خپلو عمیقو څخه په بل رنګ وینې او بهتره به دا وي چې په دې باره کې ځانګړې رسالې یا کتابونه ولیکل شي.

سره له دې، د لوبو او فولکلور د لوی مدیریت له خوا د رحمان بابا په لمانځنه بیوګرافي ترتیب شوې ده چې مبتدي لوستونکي له مضمون او اساسي ټکو سره آشنا کړي او د ادبیاتو ته د زیاتې څېړنې د پاره چلنج ورکړي.

د دې کتاب په تدوین کې د لوبو او فولکلور د لوی مدیریت مسلکي غړو ښاغلي محمد عارف غروال، ښاغلي عزیز الله، ښاغلي شاه ولي او ښاغلي محمد عمر او نورو ډېر زیار ایستلی دی. د پښتو ټولنه په دې وسیله د دوی د زیار او د اهتمام یادونه کوي او د پښتو ژبې او ادب د خدمت په لاره کې د دوی د زیاتو بریالیتوبو هیله کوي.

۱۳۵۵/۷/۱

څېړنوال محمد صدیق روهي
د پښتو ټولنې رئیس

# رحمان بابا

## ژوند پېژندنه او دیوان

لیکوال

حبیب الله رفیع

ما غوښتل چې په دې لیکنه کې د رحمان بابا په ژوند پېښو، فکر او فن بشپړې خبرې وکړم. لټون مې پیل کړ، یادداشتونه مې راغونډ کړل، د بېرې لوې خبرې مخې ته راغلې مجبور وم چې په ټولو وغږېږم نو ځکه خبره د دیوان له سریزې څخه لوړه بشپړ کتاب ته اوږده شوه.

په دې سریزه کې د رحمان بابا د فکر او فن له څېړنې څخه تېرېږم ځکه چې له یوې خوا خبره اوږدېږي او له بله پلوه د ده فکر او فن په دې دیوان کې ستاسو په مخ کې دی. نو یوازې ژوند پېژندنه او له دیوان سره مربوط مطالب یې راوړم، البته د ده په باب به هراړخیزې خبرې په هغه ځانګړي کتاب کې چې "رحمان بابا - د پښتو عالمګیر" مې نوم ورته ټاکلی دی وړاندې شي.

دوهم

زه عاشق یم سر و کار مې دی له عشقه
نه خلیل، نه داؤدزی یم، نه مومند

# [I]

# د رحمان بابا تاریخي څېره

رحمان بابا لکه څومره چې په پښتنو کې وتلی او منلی شخصیت دی هماغومره یې ژوند پېښې تتې او د تاریخ په تیارو کې پټې دي، دا ځکه چې دی د یوې غریبې کورنۍ غړی و، او د غریبانو ژوند او مرګ ته چا د دې ارزښت نه ورکاوه چې ځان پرې ستړی کړي او ژوند پېښې یې وکاږي، د ده ژوند هغه وخت ارزښت وموند چې د ده د خپل شعر په قوت د پښتنو زړونه او د "روه" سیمه تسخیر کړل او د ټولو پام یې ځان ته ورواړاوه خو دا اسې وخت و چې د ده د ژوند ډېر څه هېر شوي وو.

د ده د ژوند پېښو په باب د ډېرو کسانو د اټکل نیلي ځغلولي او ډېرې خبرې پرې شوې خو د ده د ژوند په باب ډېر حقایق بیا هم یا نه شوي او ډېر داسې څه هم ورسره تړل شوي چې په اصطلاح د ده ارواح ترې خبره نه ده.

**ټبر، کلی او نوکره** : رحمان بابا د پښتنو د روایتي سلسلة النسب له مخې "سړبن"(1) په سړبن کې غوریاخېل(2) په غوریاخېل

---

(1) یو کتاب په سړبن کې چا ونه کړ
لې رحمانه چې یې وکړ دا کتاب
(د رحمان بابا دیوان، کابل پښتو ټولنه، ۱۴۱ مخ)

سل سړبني دي تر دا یو غزل ځاریږي
تر چې دا پښتو د کرلاني خوشال وېلي
(کلیات خوشحال خان خټک، دوست محمد کامل په سریزه ۴۶۸ مخ)

پاته په (۳) مخ کې

کې "مومند" [۳] په مومندو کې "دویزی" [۴] او په دویزیو کې "ابراهیم خېل" [۵] دی. راوړل شوي دي په مومندو کې غوریاخېل بولي [۶] خو ځکه چې مومند د غوریاخېلو ښاخ دی نو ځکه نو موږ یې ختیځ یوه تېروتلې او دخبرې د ښه سپینتیا به له پاره له مومند نه تر سړبن پورې شجره دلته کاږو :

---

د (۲) مخ پاته :

فکر کیږي چې له سړبني نه مراد رحمان بابا وي او د رحمان بابا دا بیت دده خواب ګڼل کېدای شي :

یو خوشال یو کم سل ختک لوړ په طبیعت کې
ځار شه د رحمان سړبني لږ یوه فرده
(د رحمان بابا دیوان ، کابل ، ۱۴۲ مخ)

بیا په دوره د شاه عالم په څېر بنو کې
راښکاره شو په جهان عبدالرحمان
(میر احمد شاه رضواني - روهي ګلونه ، ۱۲۳ مخ)

(۲) - زه ختک دیان په غم تازه تازه شم
غوریه خېل رحمان که شو ورځنی ستري
(د عبدالقادر خان ختک دیوان ، د استاد حبیبي تدوین او تصحیح ، ۱۳۴ مخ)

د دې مخ د متن پایلیکونه :

(۳) که لې شعر د رحمان مومند تر غوږ شی
غوږ به نه باسي په شعر د خوشال خوک
(د رحمان بابا دیوان ، کابل ، د استاد بېنوا په سریزه ، ۹۴ مخ)

خدایه ولېږې مومند عبدالرحمان
پرې نازل کړې حنېل رحمت لکه باران
(دیوان عظیم (عبدالعظیم رانیزي) لاهور ۷۶ مخ)

(۴) ما نجیبم په دا طور غزل ووې
که ویلې دویزي عبدالرحمان دی
(دیوان نجیب ، د پېښور پښتو اکاډمي ، ۲۷۳ مخ)

د ملا بنا لیسته خان په جونګ کې هم چې د رحمان بابا د شعر وند وخت ته ورلنډ کښل شوی ، دده له نامه سره د دویزي کلمه شته
(د ملا بنا لیسته خان جونګ ، قلمي نسخه ، د لیکونکي کتابتون)

(۵) "رحمان بابا لکه چې یادرې هیوز لیکي ابراهیم خېل مومند و . د پېښور د مومندو به تپه کې چې کوم خلک ځان د رحمان بابا منسي او عزیزان بولي هغوی په ابراهیم خېلو یادیږي ... " (رحمان بابا ، دوست محمد کامل مومند ، پېښور ۱۹۵۸ ع ۸ مخ)

(۶) کامل ، دوست محمد : "رحمان بابا" ، ۵ مخ

# خلوړم




---

* . ددې شجرې په ترتیب کې د خواجه نعمت الله هروي له "مخزن افغاني" په ۱۹۶۲ ع . کال کې ډهاکې چاپ د حافظ رحمتخان له "خلاصة الانساب" په ۱۹۷۳ ع . کال د پېښور د پښتو اکېډمۍ چاپ، د افضل خان خټک له "تاریخ مرصع" په ۱۹۷٤ ع کال کې د یونیورسټي بک ایجنسي چاپ ، د ظفر کاکاخېل له "پښتانه د تاریخ په رڼا کې" په ۱۹٦٥ ع . کال کې د یونیورسټي بک ایجنسي چاپ ؛ څخه استفاده شوې ده.

(۷) "پښتانه د تاریخ په رڼا کې" د الوم "گند" کاږي .

(۸) "تاریخ مرصع" د کاسي نوم نه اخلي .

(۹) د الوم "خلاصة الانساب" د "شمنی" محفف بولي ، مخزن افغاني یې "شیخا" او "خرخشني" قیدوي . پښتانه د تاریخ په رڼا کې یې په دریو بڼو: "شیخا ، خوشني ، خابي" راوړي .

(۱۰) د "غوریا" لوم مخزن افغاني "غوري" او "غوزا" او تاریخ مرصع "غوری" راوړي .

(۱۱) خلاصة الانساب او مخزن افغاني ځینې نسخې (چې د خلاصة الانساب اخځ هم همدا دي) د غوریا زامن پنځه بولي په دې ترتیب :
"خلیل ، داوود ، مندك ، یوسف ، مومند" او په دې اساس مومند او داوودزي د خلیل ورېرونه نه بلکه ورونه گڼي او سکاره چې رحمان بابا هم د همدې عقیدې په اعتزکې وایي :
"نه خلیل نه داوودزی یم نه مومند"
د مخزن افغاني ځینې نسخې د "دولت یار" وجود د ځینې فولکلوري روایاتو په اساس ردوي او مومند او داوود دده زامنو په توگه غلط بولي.

(۱۲) د مخزن افغاني معتبرې نسخې د غوریا په زامنو کې تر خلیل وروسته د "منوزئي" په نامه یو لوم زیاتوي او د غوریا زامن پنځه بولي .

(۱۳) د الوم د مخزن ځینې نسخو "جوکن" ضبط کړی دی .

(۱۴) د "زیرانی" لوم مخزن افغاني "زیرانه" راوړی دی .

(۱۵) د "ملی" لوم مخزن افغاني او پښتانه د تاریخ په رڼا کې "ملهی" کښلی دی.

(۱٦) د "ترک" لوم په خلاصة الانساب او مخزن افغاني کې نشته .

(۱۷) د "شجاع" لوم هم خلاصة الانساب او مخزن افغاني نه راوړي .

(۱۸) د الوم خلاصة الانساب او پښتانه د تاریخ په رڼا کې "مهیار" کاږي .

رحمان بابا په "بهادرکلي" کې چې له پېښور څخه درې غلور میله لرې(19) جنوبي اړخ ته پروت دی(20) له عبدالستار مومند کره وزیږېده(21) پټه خزانه د محمد رسول کلاتوال د بیاض(22) له مخې د رحمان بابا د زیږېدو کال (۱۰۴۲ ه.ق.) ښیي(23) که څه هم ځینې کسانو هڅه کړې چې دا سند سم ونه بولي خصوصاً ښاغلی کامل مومند په خپل "رحمان بابا" نومي تحقیقي اثر کې زیار ایستلی چې دا ټکلونې په اساس دې کال په څنګ کې د نورو کلونه وړاندې کړي خو بریالی شوی نه دی او مجبور شوی چې د خپل بحث په پای کې بیا هم دده زیږېدل د همدې کال شا او خوا بولي.(24)"

د پښتونستان یو بل مؤلف ښاغلي عبدالحلیم اثر سره له دې چې د پېښور د پښتو اکېډمۍ د پښتو مجلې د ۱۹۷۶ م. کال د اپریل په ګڼه کې پټه خزانه یو د بې باوري کتاب بولي خو د ښاغلي میر عبدالصمد خان د "رحمان بابا شاعرالانسانیت" د کتاب په سریزه کې بې له دې چې کوم اخځ وښیي، کاږي چې سوانح لیکونکي د رحمان بابا د زیږېدو کال ۱۰۴۰ ه.ق. بولي.(25) بیا دا کال رد وي او جالبه دا چې دا ځل هم بې له دې چې کوم لاسوند ولري، لیکي: "زما د معلوماتو (؟) له مخې رحمان بابا د ۱۰۳۸ ه.ق. کال د جمادی الثاني په ۲۱ نېټه د جمعې په ورځ د پېښور له مضافاتو څخه په بهادرکلي کې وزیږېد."(26)

د رحمان بابا نومي بې لیکوال د کتاب هم د رحمان بابا د زیږېدو په باب د فکر نیلی زغلولی او د پټې خزانې د صراحت په خلاف یې دده د زیږېدو کال ۱۰۶۳ ه.ق. اټکل

(۱۹) عبدالصمد خان، رحمان بابا شاعرالانسانیت، ۱۹۷۴ ع. پېښور، ۶۹ مخ.
(۲۰) حبیبي، استاد عبدالحی، پښتانه شعراء (لومړی ټوک)، ۱۳۲۰ ش.، کابل، ۱۹۲ مخ.
(۲۱) محمد هوتک "پټه خزانه" دلوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي په سریزه، سمون او تشریح ۱۳۲۳ ش. کابل ۹۳ مخ.
(۲۲) د دې بیاض نسخه محمد هوتک لیدلې وه خو اوس یې چېرته پته نشته او د زمانې پېښو له سترګو ولې ناکړې ده.
(۲۳) پټه خزانه، ۹۳ مخ.
(۲۴) وګورئ: له ۷ تر ۱۶ مخ پورې.
(۲۵) رحمان بابا شاعرالانسانیت، ۱۳ مخ.
(۲۶) هماغه اثر.

کړې دی.[۲۷]

دهیواد پیاوړی محقق لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبی د رحمان بابا د زېږېدو په باب د پېټې خزانې وینا سمه بولي او د هېڅ شک ځای نه پکې ویني[۲۸].

په دې ترتیب وینو چې د رحمان بابا د زوکړې په برخه کې د پېټې خزانې دوینا په مقابل کې ماتوونکی سند نشته. نو موږ په دې برخه کې د ده خپل د دیوان کوږ و چې هلته د دې وینا په رد یا منلو کې څه موندلای شو که نه؟

رحمان بابا په خپل دیوان کې د لنډبهر یوه اوږده بولله لري، چې د دنیا بې وفايي او خپل ځان سپین ږیرتوب پکې انځور وي او د اورنګ زیب په مرینه بحث او ساندې پکې کوي، دا بولله ظاهراً په ۱۱۱۸ هـ.ق. کال چې د اورنګزیب د مړینې کال دی[۲۹] او یا هم احیاناً په ۱۱۱۹ هـ.ق. کال ویله شوې ده. په دې بولله کې یو بیت داسې لولو:

ترپنځاوپنځه تېر شوې　　　　تر لا ځان بولې پسر[۳۰]

نو کله چې دی په ۱۱۱۸ هـ.ق. کال تر پنځه پنځوس تېر و بولو او دا تېر والی هم د ده د شپېته کلنۍ و منو نو بیا د ده د زېږېدو کال ۱۰۵۸ هـ.ق. راځي او د پټې خزانې تر سنې (۱۶) کاله لا وروسته کېږي خو د پټې خزانې کال له دې سره هم نه ردېږي.

ځکه چې دا بیت د رحمان بابا د دیوان په بېلو- بېلو نسخو کې یو له بله توپیر لري.

---

(۲۷) محکمهٔ نشر واشاعت قبایل، "رحمان بابا". دا کتاب نه د لیکوال نوم لري او نه یې د چاپ کال ښته او ښکاري چې د کوم غرض له مخې په دېر عجولانه ډول د رحمان بابا په باب د افکارو د تشتت لپاره خپور شوی.

(۲۸) - حبیبي، پوهاند عبدالحی، د افغانستان پښتلیک، ۱۳۵۳ ش، ۱٤۰ مخ.

(۲۹) محی الدین اورنګزیب عالمګیر د کورګاني شاجهان دریم زوی دی چې په ۱۰۲۷ هـ.ق. کال د هند په احمدآباد کې وزېږېده. په ۱۰۶۸ هـ.ق. کال یې خپل پلار بندي کړ او دی پر تخت کېناست. ده د خپلې واکمنۍ په دوره کې پښتانه ډېر وکوټل او په پښتنو غوا کې دده په ضد پیاوړی ملي نهضتونه پیل شول چې د اخوند چالاک، ایمل خان او خوشال خان غوندې څېرې یې زموږ د ملي تاریخ روښانه بابونه دي. (د تفصیل له پاره وګورئ: تاریخ افغانستان در عصر کورګاني هند، د لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي اثر، د خوشال ختک مرغلرې، کلیات خوشال خان، ارمغان خوشحال او نور....).

(۳۰) دیوان عبدالرحمن، د پښتو اکېډمۍ، ۳۸ مخ.

او خصوصاً د رحمان بابا د دیوان په یوه هغه نسخه کې چې د پښتو ټولنې په کتابتون کې ساتل کېږي ، دا بیت داسې دی :

تر پنځا وشسته تېر شوي       تـه لا ځان بولې پسر

او په دې متن کې هم همدا بیت د اصل په توګه راغلی دی.

د پېښې خرابې د سنې له مخې د اوخت د ده عمر ۷۶ کلو ته رسېږي او تر شپېته کلنۍ تېرېدل شپږ او یا کلنۍ ته رسېدل نه مقید وي، نو ځکه د پېښې خرابې و بنا بیا هم سم او په ځای ده.

## استوګنه ، زده کړه ، او سفرونه :

مونږ مخکې وویل چې رحمان بابا پېښور ته ورنږدې مه په بهادر کلي کې زېږېدلی دی. را ورته لیکي چې دی د پېښور د مومندو د تپې په هزارخانۍ نومې کلي کې اوسېده[۳۱] دا چې رحمان بابا په هزارخانۍ کې اوسېدلی له نورو وایا تو څخه هم سنګاري خو دا چې دی په څه علت له بهادر کلي څخه هزارخانۍ ته تللی د څېړلو وړ ده .

لوی استاد پوهاند حبیبي په دې برخه کې کاږي : " ... عبدالرحمن به خپله زمانه کې یو صوفي مشرب او په عشق کې داسې ډوب شاعر تېر شوی دی چې خپلې فقیر مزاجۍ او په خپل عشق کې فنا شوی حالت - دی د خپل کلي (نه) هزارخانۍ ته په تلو او استوګنه مجبور کړ ."[۳۲] په دې توګه وینو چې درونداو محترم استاد د ده د لېږد علت د ده فقیر مزاجي ګڼي .

د "رحمان بابا" نومې کتاب نا معلوم مؤلف د ده د دې لېږد له پاره لاندې دوه علتونه توږي : " ... لکه څنګه چې مشهوره ده رحمان بابا پیدا شوی خو په بهادر کلي کې وخو ورو سته

---

(۳۱) - کامل مومند ، دوست محمد ، رحمان بابا ، ۴۹ مخ .
(۳۲) - پښتانه شعراء ، ۱۹۲ مخ .

دځينو وجوهاتو له کبله يې خپل کلي پرېښود او هزارخوانې (؟) ته راغی. په دې وجوهاتو د وه خبرې زما په خيال قياس ته ډېرې نژدې دي: يوه دا چې ده په هزارخوانې کې د بړخواوو ې خپل خپلوان لرل د هغوی کښښ دی هلته بوتله او دوېمه دا چې دی د علم حاصلولو د پاره هزارخوانې ته راغلی وي او بيا د همدې ځای شوی وي، بلکه دا دواړه قياس يو ځای کولی هم شي چې د علم د تحصيل له پاره هزارخوانې ته راغلی وي. دلته يې خپل خپلوان وي. استوګنه يې د هغوی کره وي. وروسته يې واده هم دلته کړی وي او بيا د همدې ځای شوی وي.[۳۳]

ښاغلی اثر له بهادر کلي نه هزارخانې ته د رحمان بابا لېږد په بدل د قبايلي ولېش[۳۴] له مخې بولي او وايي چې د دې ولېش په سلسله کې د دوی کور هزارخانې ته راغی[۳۵] دا اټکل ځکه سم نه برېښي چې که رحمان بابا د "ولېش" دوران ته لوېدلی وايي نو بايد لس دوولس کاله وروسته په هزارخانې کې هم نه وای پاتې شوی او کومې بلې سيمې ته لېږدول شوی وای، سره له دې چې دده تول ټروند په هزارخانې کې تېر شوی او هورې مړ او خښ شوی دی.

زما عقيده دا ده چې ښايي د رحمان بابا د کورنۍ اصلي ځای هزارخانې وي او په موقتي ډول بهادر کلي ته تللي وي چې دا وخت دی هم هورې زېږېدلی او د ماشومتوب دوره يې تېره کړې وي. د دې يو دليل دا دی چې ښتانه خپل مړي په خپله ادېره کې ښخوي. نو که د دوی ملي ځای بهادر کلي وای حتماً به يې دده مړی بېرته بهادر کلي ته وړی و، سره له دې چې دده مړستون (قبر) په هزارخانه کې دی او هم د مومندو

(۳۳) رحمان بابا، محکمهٔ نشر واشاعت، ۱۷ مخ.

(۳٤) د ولېش قوانين د پښتنولۍ مفکر او مقنن شيخ ملي جوړ او په خپل دفتر کې يې وکښل د دې ولېش له مخې به په هرو لسو دوولسو کلونو کې د پښتنو د ټبرونو - ټبرونو ترمنځ ځمکه او کورونه سره بدلېدل او د بالغانو په سر به کاوه (د تفصيل له پاره وګورئ: د پښتو ادبياتو تاريخ (دوهم ټوک)، د استاد حبيبي تاليف له ۲۳۵ تر ۲٤۲ مخ پورې). شيخ آدم ملي په قام يوسفزی او خيل قام ملي مشر و چې د ۸۳۰ هـ.ق کال په حدودو کې يې ژوند

(۳۵) رحمان بابا شاعر انسانيت، سريزه، ۱۷ مخ.

د ویزي په هزارخانه کې استوګن سنکاري څخه چې رحمان بابا ته تر ونده خوکاله را وروسته د احمدشاه بابا په دوره کې یو بل دویزي مومند چې رکن الدین نومېږي او شاعر دی هم په هزارخانه کې مېشته ؤ ، دی وایي :

که ظاهر لیمه ساکن هزارخانه کې — زړه مې خاص دی ستا د در په دربانه کې

په نسب کې دیوزي یا مهمندي یم — ستا ... د در بندي یم (۳۶)

رحمان بابا د استوګنې په باب که حقیقت هر څه وي خو دا منلې خبره ده چې دی په بهادر کلي کې زېږېدلی ، په هزارخانه کې استېدلی او هم هلته مړ شوی او خښ شوی دی.

اوس د رحمان بابا زده کړې او د علومو تحصیل ته راسېږو ، پټه خزانه د ده د زده کړې په باب کاږي :

"رحمان بابا له ملا محمد یوسف یوسفزي څخه لوست وکا او له هغه څخه یې فقه او تصوف زده کړل ، بیا ولاړ کوهات ته ، هلته یې هم سبقونه ولوستل او ښه عالم شو . په ځوانۍ یې دنیا پرېښوده او اکثر به په غرو ګرځېدی او کله به ولاړ دهندوستان پر خوا او د خدای عبادت به یې کاوه د دنیا په کار و به نه مشغول کېدی ، عبدالرحمان بابا یو عالم رباني او عابد سړی ؤ ." (۳۷)

ښاغلي عبدالحلیم اثر یې له دې چې ځینې وینا له یاره کوم تاریخي سند ملاتړ ومنې ، د ده د زده کړې په باب ترديې زیات معلومات ورانډې کوي او لیکي چې : رحمان بابا ته زېږېدو او وه کاله وروسته په ۱۰۴۵ هـ .ق. کال په بهادر کلي کې له مولینا عبدالحق څخه قرآن مجید او نور لومړني دیني علوم زده کړل ، په ۱۰۵۲ هـ .ق. کال یې له مولینا محمد یوسف د مولینا محمد یعقوب یوسفزي له زوی څخه د پېښور په سلطان پوره کې

---

(۳۶) شاهنامه احمدشاه ابدالی ، پښتو اکېډمه ، پېښور ، ۱۹۶۵ ع . ضمیمې برخه ، ۲۰۸ مخ .
(۳۷) پټه خزانه ، عکسي چاپ - ۱۳۵۴ ش . د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا آمریت ، ۴۴ - ۴۵ مخونه .

زده کړه وکړه ، بیا حضرت محمد صدیق پېښوري ته کوهاټ ته ورغی. څرنګه چې محمد صدیق پېښوری د پښتو لوی شاعر و ، نو دا وخت رحمان بابا ته له ده نه د فیض موندلو موقع لاس ته ورغله ، همدا وخت یې د شعر او شاعرۍ دوره پیل شوه ، د خپل استاد په غزلونو یې د ځوابي غزلونه جوړ کړل چې لمونې یې په دیوان کې شته (۳۸).

په ۱۰۶۱ ه.ق. کال کې بیا د کوهاټ په شېرکوټ کې د اخوند محمد یوسف سره و ، په ۱۰۶۶ ه.ق کال په پاس شېرکوټ کې و . په همدې کال یې د اخوند درویزه له زوی اخوند کریمداد سره وکتل او حاجي بهادر کوهاټي چې د اخوند کریمداد مخلص و د رحمان بابا استاد او طریقې لارښود و . دی دوه کاله په پېښور کې د اخوند کریمداد په حضور کې و او د کبرویه سلسلې بیعت یې تر وکړ او د شعر او ادب په دې خاص مکتب کې ورودل شو (۳۹).

داسې د کار او د رحمان بابا د علمي او ادبي زده کړې په باب ، په زړه پورې معلومات دي خو کاش چې سنا غلی اثر خپل سند ښودلی وای ، ځکه په داسې زړورتیا د کلونو او نیټو ښودل او په داسې قاطعیت د پښتو بیانول د تاریخي څېړنو په برخه کې د ټینګ سند تر ښودلو پورې هیڅ اعتبار نه لري ، تاریخي پېښې او نېټې په قاطعیت سره راوړل د اتکل او اندکار نه دی د کار پوخ سند او لاسوند غواړي. نو که د سنا غلی اثر دا معلومات رښتیني وای او غوښتی یې چې خولک یې ورسره ومني نو بیا یې د خپلو خبرو ملاتړ یې په ټینګو سندونو کړی وای ؛ خو څرنګه چې سند نه لري نو موږ د پټې خزانې د باوري سند په درلودلو سره دا یې سنده خبرې نشو منلای.

---

(۳۸)- رحمان بابا شاعر انسانیت ، داثر سریزه ۱۳-۱۴ مخونه
(۳۹)- همدا اثر، ۱۵-۱۷ مخونه

ځکه موږ وېيلې چې پښتو خزانې د محمد رسول کلاتوال د کښېنې له مخې د ده د زېږېدو کال ۱۰۴۲ هـ.ق. ښودلی او ويل داسې سند نه لرو چې د اسنه غلطه وباسي نو ځکه د اثر صاحب دا خبره چې تذکره ليکونکي د ده د زېږېدو کال ۱۰۴۰ هـ.ق ښودلی اوو دده دا خبره چې زما د معلوماتو له مخې رحمان بابا په ۱۰۳۸ هـ.ق کال زېږېدلی د منلو ور نه ده. نو دده دا خبره هم د منلو ور نه ده چې رحمان بابا په ۱۰۴۵ هـ.ق کال په زده کړه پيل کړې وي ځکه چې دی دا وخت درې کلن ؤ او په درې کلنۍ کې څوک ماشوم هم په منظمه زده کړه پيل نشي کولای. په همدې ډول يې نور کلونه هم درو ځلي.

پاتې شوه له محمد صديق پښنوري څخه دده د ادبي زده کړې موضوع ، موږ په پښتو تذکرو کې د صديق په نامه يو شاعر لرو چې د ښکلي ديوان پښتنې لاتراوسه لښتنه حو دو بيا ؤ لمونځ يې له دوولارو موږ ته رارسېدلی ، لومړۍ د چمن بې نظير په خطي نسخه کې[40] دده دا وولسو غزلونو موجوديت دی چې يا درې هيوږ په کليد افغاني[41] کې دوې غزلې ترې راخيستې او بيا دا غزلې لوی استاد پوهاند عبدالحی حبيبي په لومړي ټوک پښتانه شعرا[42] کې راوړې دي . او بل د ملا سنا ايسته خان په جونګ کې[43] دده يوه غزل او يو بيت دي چې ما په ادبي ستوري[44] کې ترې راخيستي . دا شاعر لوی استاد پوهاند حبيبي په متوسطه طبقه شعراؤ کې د رحمان بابا له پيروانو څخه بولي[45]

---

(۴۰) چمن بې نظير د پښتو شعر يو انتخابي اثر دی چې د پښتو د ۲۹ نوموړيو او نا متو شاعرانو شعر ونه پکې راغلي او په الفبايي ډول ترتيب شوي دي . ( د برتانوي تا پوګانو په کتابتونونو کې د پښتو قلمي نسخو کتلاک ، د بلوهارت او ډاکټر مکينزي تاليف ، لندن ۱۹۶۵ ع . - دا اثر ګران ملګري ښاغلي عنايت الله ضيا ماته ترلاسه کړي چې په دې وسيله مننه ترې کوم . )

(۴۱) کليد افغاني د پښتو د نثر او نظم اوليکو ټولګه ده چې پادري هيوږ ټوله کړې ده او لومړنی نسخه يې چې په ۱۸۷۲ ع . کال خپره شوې ۴۱۸ مخونه لري ( د پښتو ځوانانو تذکرې ، حبيب الله رفيع ، د افغانستان اکاډمي ، د تاريخ او ادب ټولنه ، ۱۳۵۰ ش ، ۶۸ - ۶۹ مخونه ).

(۴۲) وګورئ پښتانه شعرا ، لومړی ټوک ۳۰۸ - ۳۰۹ مخونه .

(۴۳) د ملا سنا ايسته خان جونګ د يوولسمې پېړۍ په ورستيو برخو کې راغونډ شوی او يوه نسخه يې د ليکوال په کتابتون کې ده .

(۴۴) وګورئ : ادبي ستوري ، لومړی ټوک ، حبيب الله رفيع ، پښتو ټولنه ، ۱۳۵۳ - ۲۴۷ - ۲۴۹ مخونه .

(۴۵) پښتانه شعرا ۱ / ۳۰۸

او اغلب گمان دادی چې تر رحمان بابا کښې او د دوولسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې به یې ژوند کړی وي . که له محمد صدیق پېښوري څخه د ښاغلي اثر حمد صدیق مراد وي د اسې خو ظاهراً تر رحمان بابا را وروسته دی او که بل سړی وي نو ښایي ښاغلي اثر د ده په باب مستند معلومات وړاندې کړي وای . هغه ځای یې ښودلی وای چې د ده دیوان یې ساتل کېږي او د هغه اثر نوم یې اخیستی وای چې د ده په باب معلومات لري ، همدا راز د صدیق په نامه نور شاعران هم تر ده را وروسته دی* د رحمان بابا کوم غزلونه او بیتونه چې اثر صاحب د محمد صدیق پېښوري د غزلونو او بیتونو په پیروۍ بللي کېدای شي چې د ده له خوا د سند د نه ښودلو تر وخته پورې دا غزلونه او بیتونه د رحمان بابا د غزلونو او بیتونو په پیروۍ وبولو او صدیق د رحمان بابا شاګرد وګڼو نه رحمان بابا د ده !

همدا راز له اخوند کریمداد درویزه یې او حاجي ظهاد د کوهاټي څخه د ده علمي او ادبي زده کړه د کوم سند له خوا نه تأیید یږي او خصوصاً د ده په دیوان کې داسې اشارې او دلایل شته چې دی د فکر او شعر له مخې د روښانیانو پیرو و او د روښان په هغه روښانه لاره یې یون کاوه چې درویزه یان یې کلک مخالف وو او د دې لارې په وړاندې لوکې یې ټول ژوند صرف کړی و . (٤٦)

په هر حال ، د پښتو خپلو صراحت او د ده د خپلو وینا و شها دت څرګندوي چې رحمان بابا دوخت د ودې علوم لوستي وو او د علم تر بشپړتیا به وروسته یې باطني تزکیې او تصوف ته لاس اوږد کړی و او په ښه پوهه او بصارت یې مسایل څېړلای او تحلیلولای شوای . د ښه علمي او ادبي مطالعه د رلوده ، دیني مسایل یې په شعر ولو کې ځای په ځای بیان

* د ګورې هیوادمل ، زلمی : فرهنګ زبان وادبیات پښتو ، د ص ردیف .
(٤٦) په دې موضوع ما په " رحمان بابا - د پښتو ژبې عالمګیر " نومې اثر کې داسنادو په رڼا کې بشپړ بحث کړی چې ژر به د ادب د علاقمندانو خدمت ته وړاندې شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دیارلسم

شوې چې په دیني علومو کې دده د سنو معلوماتو څرګندوي کوي او هم دده په شعرونو کې دارزاني، میرزا، دولت او خوشال خان یادونه شوې چې ده د دې شاعرانو دیوانونه لوستي وو او دده په ادبي پیاوړتیا کې د دې شاعرانو د شعر ډېر وند اغېز وو، همدارنګه ده د دري شاعرانو دیوانونه هم په ژوره توګه کتلي وو او ځای په ځای یې د دوی له وینا و څخه لفظي او معنوي اخیستنې کړې او د دیوان په هغو دوو نسخو کې یې چې له ما سره شته د حکیم سنایي غزنوي نوم صراحتاً اخیستی او ویلي یې دي:

په پښتو کې رحمان وي
په فارسي کې سنايي

دده ادبي لټون دومره پیاوړی و چې د پښتو او دري د هغو شاعرانو شعرونه یې هم لوستي وو چې له ده سره یې د ژوند وخت لږ واټن درلود. د مثال په توګه میرزا عبدالقادر بېدل چې په ۱۰۵۴ هـ.ق. کال[47] یعنې تر ده وروسته زېږېدلی یو بیت لري

هر که پا کج میگذارد خون دل ما میخوریم　　　شیشهٔ ناموس عالم در بغل داریم ما[48]

او رحمان بابا وایي:

که سبب د نام و ننګ دي شي ترخنګه　　　د هر چا په کجروۍ به خپل ځیګر خوري

نو که په دې بیتونو کې د تواردله موضوع نه سترګې پټې کړو لیقیناً رحمان بابا تر د بېدل یو زینی بیت ورسپړلی دی.

د رحمان بابا د سفر او چیرته تګ په باب پښته خزانه وایي: "... په ځوانۍ یې دنیا پرېښوده او اکثر به په غرونو ګرځېده او کله به ولاړ د هندوستان پر خوا ..." خو ښاغلي کامل مومند دا وینا د رحمان بابا د ځینې بیتونو له مخې سمه نه بولي او وایي چې دی

---

(۴۷) احوال و آثار میرزا عبدالقادر بیدل، دکتور عبدالغني - د میر محمد آصف انصاري ژباړه، کابل پوهنتون - د ادبیاتو پوهنځی، ۱۳۵۱ هـ ش، ۹ مخ
(۴۸) کلیات میرزا عبدالقادر بیدل. توک

چېرته نه دی خوږېدلی. په دې برخه کې په شپږلس ووبیتو سربېره دا بېتونه راوړي:

هم په دا چې نه له ځایه چېرته خوځم — نه د هیڅ یوه مخلوق یم منت بار
نه مې شکسته ملک لیدلی دی نه پورته — خبر نه یم په یمین او په یسار
آب وخور لکه آسیا په ځای را رسي — په خپل کور کې مې سکون دی هم رفتار(۴۹)

په پورته نظر به د دې بیتونو په رڼاکې د پېښې خرالې وپیا ناسمه وبولو خو له لږ غور نه وروسته که ووایو څرنګه چې د دې بیتونو د ویلو نېټه نه ده څرګنده نو شاید هغه ټول بیتونه به چې شاغلي کامل راوړي رحمان بابا تر خپل سیر او سیاحت وړاندې ویلي وي ځکه موږ ته ثابته ده چې ده شاعري له زلمیتوب څخه پیل کړې او د یوه شاعر په دیوان کې یو د بل ما تو ونکي شعرونه له همدې کبله موندل کېږي چې یو شعر یې د شرونه د یوه وخت او بل یې د بل وخت وي. او که په دې پسې د رحمان بابا دا بیتونه هم ولولو چې:

روښنایي مې په طلب کې شوه حاصله — شپه او ورځ لکه آفتاب په لار روان یم
چې صفت د تورو زلفو دا شنا کړم — پلی سر په لویه لار د هندوستان یم
دا شنا زلفې مې وینوی په لاس کې — بند په لار د هندوستان ولیدی دریغ
* * * * *

نو نه یوازې د ده "سکون" ماتوي بلکه صراحتاً د هندوستان د سفر یادونه کوي او ثابتوي چې دی هندوستان ته تللی دی. او که تر دې وروسته دا بیت هم وګورو:

ستا په زلفو په رخسار پسې رحمان شوی وطن — مسافر د هندوستان د خراسان دی زما روح

نو نه یوازې دا ترې زباد برېږي چې دی هندوستان ته تللی و، دا هم ثابتوي چې دی خراسان ته هم راغلی و؛ ځکه چې پېښور د لرغوني خراسان په ساحه کې نه و او دا بل بیت که

---

(۴۹) رحمان بابا ۱۷ مخ.

دده وي (۵۰) چې پرې ورېيات کړو :

چې مېوې يې دکابل خوړلې نه وي — دهغو له خمه وخلکې شي ګوړ ګوړې

دا اتکل هم په لاس راکوي چې دې کابل ته هم راغلی او دلته يې دومره وخت تېر کړی چې دکابل بېلابېلې مېوې يې خوړلې دي ځکه په هغه وخت کې دارتباط دعصري وسايلو د نشتوالي له کبله کابل او پېښور د پېر سره لرې وو او دکابل مېوې په هغه ځلکم او کيف چې رحمان بابا يې ستايي پېښور ته نشوې رسېدلی.

په دې باب دده لوړ بېتونه هم شته چې دده له کوره وتل او په غرونو کې اوسېدل څرګندوي .

عاشقي سرې مجنون کاندي رحمانه

ګنه څوك په هوښيارۍ وزي له کوره

* * *

که ليلی غواړې بايد دي د ارحمانه

چې مجنون غوندې ساکن دکوه وکمر شي

## خپلوان، اولاد ونه او مالي وضعه :

درحمان بابا يو بيت دی :

نه شی دخانانو دملنګو سره کلی — چېرته عزيزخان چېرته ملنګ عبدالرحمان

له دې بيت نه خلکو افسانې جوړې کړې چا عزيزخان دده ورور ګڼلی، چا يې نږدې تربور ښللی او ځينې بيا وايي چې عزيزخان دی بندي کړی ؤ او څه . . .

---

(۵۰) څرنګه چې دابيت په لږ تغيير دخوشال خان خټك په ديوان کې هم شته نو ځکه ددې ځای پيداکېږي چې دابيت به کاتبانو دده په غزل کې ورزيات کړی او دخوشال بابا له ورته غزلې تخنه به يې راخيستی وی (دې موضوع ته لومړی سناعلي مومند متوجه شوی او په خپل "رحمان بابا" نومې کتاب کې يې کړې ده).

خو له بیت نه تر دې زیات صراحت لاس ته نه راځي چې عزیز خان او رحمان بابا د یوه کلي وو هغه د کلي خان او دی یو ملنګ سړی و، او په دې بیت کې رحمان بابا د خپلې استغنا له مخې اعلان کړی چې دی د خانانو فرمانبردار نه دی.

د رحمان بابا له نورو بیتونو څخه داسې ګڼل کېږي چې د ده د خپلوانو سلسله پراخه وه، د یوه کور په ځای په کورونو کې اوسېدل او ده له تولو سره راشه درشه درلوده په دردلې دردمن او په خوښ ولې خوښ من و، وایي:

په هر کور کې ژړوان را ته پرانه دي | لاس مې نه رسي د هېچا په دوا

د ده د واده کولو په باب دا بیتونه پوره صراحت لري:

په مجنون باندې قلم راغلی نه دی | که حلال یې په مخ ورشي که حرام
حلال عشق دی په رحمان باندې راغلی | په حلالو کې مدام وي احترام

د رحمان بابا دا بیتونه د داسې وخت دي چې د ده مینه بریالۍ شوې او شرعي واده یې کړی دی.

تر دې وروسته نو بیا د اولاد په غوښتنه کې دا شرطونه دي.

خدای له هسې زنګ زوزاده امان راکړه | چې بې دین، بې دیانت شي، بې لمانځه

یو وخت یې چې اولاد موندلی، ورونه او خپلوان یې مطالعه کړي نو د خپلې مطالعې نتیجه یې په خپل یوه بیت کې داسې ځای کړې ده:

که مې ورور، که مې عزیز، که مې فرزند دے | واړه غواړي خپله - خپله مدعا

د رحمان بابا د دیوان په داخلي شهادت برسېره ځینې مؤرخین هم د ده د اولاد په باب روایتونه لري له دیو نه یو هم انګلیسي ختیځ پوه میجر راورټي دی او وایي چې د رحمان بابا د لور له طرفه د هغه اولاد اوس هم د مومندو په بهادر کلي کې اوسي حو د هغه د یکې یو نوی

اولاد د بره مودو وشوه چې ختم دي.(۵۱)

د رحمان بابا د نورو خپلوانو په سلسله کې "حمید گل" نومې شاعر دارمستتر دده خوږې بولې او د "پښتو نخوا د شعر هار و بهار" کې يې دده يوه غزله راخيستې ده(۵۲)

د رحمان بابا د مالي وضعې په باب هم دده په خپل ديوان کې داخلي شها دتونه شته دي په خپلو پارکو کې له ناداري او تش لاسي څخه سرتکوي ، د ناره وغانو د درملو پيسې نه لري او د درهم او دينار مالک نه دي :

په هر کور کې ښځوران راته پراته دي    لاس مې نه رسي د مچا په دوا

د دنيا خبر به واره په دنيا شي    ما به څه کا څوک ، چې نه لرم دنيا

* * *

څوک دې پار کاندې قسم په کردگار    که درم لرم په کور کې يا دينار

خو بيا هم ځکه چې چاته يې لاس اوږد ندو ، گوزاره يې کېده او ځای په ځای خواره ورسېدل نو ځکه خلکو فکر کاوه چې دنيا دار دی :

نه درم او دينار نه لرم په کور کې    ولې نو عالم مې بولي دنيا دار

هم په دا چې نه له ځايه چيږته څوځم    نه د هېڅ يوه مخلوق يم منت بار

نه مې بنگله ملک ليلې دی نه پورته    خبر نه يم په يمين او په يسار

آب وخور لکه آسيا په ځای راسي    په خپل کور کې مې سکون دی هم رفتار

دده دوينا په رڼا کې دا اټکل کولای شو چې رحمان بابا هم لکه د نورو پښتنو غوندې دومره ځمکه درلوده چې دغې په حاصل يې گوزاره کېده له خو محصولات يې دومره نه کېدل چې خرڅ کړي يې وای او پيسې يې پرې ترلاسه کړې وای ، دده د ځمکې د رلودل دغې بولې په ترڅ کې چې د :

هر چې کښت يې په باران او په سيلاب وي

دغو غم به واره په عذاب وي

(۵۱) ديوان عبدالرحمن ، د مولانا عبدالقادر سريزه ، "ت" مخ ؛ رحمان بابا ، کامل مومند ، ۲۸ مخ .
(۵۲) وگورئ : دارمستتر ؛ دپښتونخوا د شعر هار وبهار ، ۱۸۸۸ ع.، د پاريس سرکاري مطبعه ، پښتو متن او فرانسوي سريزه .

په کسر پیل شوې، ښرګند یږي. د پښتنو په کلیوالي ژوندکې لا
تر اوسه هم داجناسو تبادلې تر ډېره حده د پیسو د رلو د لو ضرورت تر سره کړي، نو
ځکه هغه وخت هم د درم او دینار نه درلودل د مفلسۍ او غریبۍ نښه نه وه.

موږ نه د رحمان بابا وینا داهم راښیي چې دی که دنیادار و او که نه خو دا سې
لوړ همت یې درلود چې د دنیا تر لاسه کولو له پاره یې د زر دار و ښنګ ته نه پرېښود
او په ډېر جرأت یې په زردارې او زردار و د وینا وار ونه کول او شعار یې ورکاوه چې:

آدمیت څه په دولت نه دی رحمانه

بت که جوړ شي د سرو زرو نو انسان شه

## سماع، موسیقي او میني پراوونه:

د رحمان بابا د فکري اړخ په څېړلو کې دده په تصوفي لاره او تصوفي منابعو ډېرې
خبرې کېدای شي خو دلته دده د شروند دیوه اړخ په توګه دده په سماع، موسیقي
او مینه لنډې خبرې کوو.

د رحمان بابا د تصوف په باب ډېرې خبرې شوې خو دده د سماع[53] په برخه
کې څه نه دي ویل شوي دا ځکه چې دده تصوفي لار دده له شعر و نو څخه را وزي او دده
د دیوان په خورو نسخو کې داسې کوم شعر نه و چې د رحمان بابا د سماع په برخه کې

---

(۵۳) سماع په تصوفي اصطلاح کې هغه غږ ته ویله کېږي چې داوریدونکي په حالت کې اوښتون را ولي. په شرح
تعرف کې وایي چې: یخوانیو په خپل نفس د پر محڅېره او دومره ریاضت لې وکړ چې وبه ویریدل له کاره وند لویږي نو د
نفس دپیاوړ تیا له پاره به یې څه وغوښتل او دوه بیتونه به یې اوریدل الستردحال سره سم بیت ... خو چې
به په وجد را غلل او له ځانه به یې خبره شول او د مستۍ په حال کې به یې ځان نشو اداره کولی او په نڅا به را ټلل"
(سماع در سلسله هو، همین جهان بګلو "تجدد"، ایران، ۱۳۵۱ ش.) د مولانا جلال الدین بلخي تصوفي رقص لا تر اوسه هم
پیروان لري او په ترکیه کې د کال په ټاکلي وخت کې د مولانا د علاقمند الولدخوا تر سره کیږي. په چشتیه طریقه کې د سماع
او موسیقي ستره برخه ده، چې تفصیل یې د تصوف په باب په لیکلو آثارو کې شته.

# نولسم

لاسوند شوی وای ، په دې برخه کې د ده یکې یوازې غزل متعصبینو د پېښوا ده له دیوان څخه غورځولې وه ، خوله نېکه مرغه د ده د دیوان په یوه زړه نسخه کې دا غزل وموندل شو چې په دې چاپ کې هم نیول شوی او په صراحت راښیي چې رحمان بابا سماع او صوفیانه رقص کاوه د غزلې څو بیتونه دا دي :

ساقي راکړه ته وما ته جام د رقص
زړه ارزو په زړه لرم مدام د رقص
ډېره وبه اوس به د خوښۍ ساعت په تاشي
مغني راکړه ته وما پیغام د رقص
سرنجې پاس تر ننه فلکه څرګندېږي
چې په چاوشي ارشاد اعلام د رقص
لیاقت یې هر وګړی څخه نشته
په لایقو بانده بې وې انعام د رقص
خو یې بسا په وجود شته عبدالرحمانه
حقیقت به هو مرې نه کا تام د رقص

د رحمان بابا د موسیقي او خصوصاً د رباب د زړه کرښې په باب تر دې بخوا هم خبرې شوې ، میجر راورټي او عبدالمجید افغاني دواړه مني چې موسیقي د رحمان بابا په ژوند ژور اغېز درلود ، رحمان حساس او ژوندی زړه درلود او چې د رباب تار به وکړنګېدو او دغه نه به خوږه نغمه راولېږېده نو د رحمان رګ - رګ به وربېږېده د رباب ګوتې به لکه د ده د زړه په تار لګېده - دی به اکثر د استغراق په حالت کې و ... عجب خان - والي چې د رحمان آشنا مجنون په هندوستان کې د بزرګانو د خدمت له کبله د برخې خاوند شو او چې څه وخت وطن ته رخصتېده نو د خپل پیر شاه شرف قلندر

نه يې د رحمان د پاره هم څه تحفه وغوښته . شاه شرف قلندر په رباب کې د رحمان برخه مقرره کړه او ورا وايي ستولو . ولې شرط دې کې دا و چې مجنون به تر مخې رباب ته گوتې نه وروړي تر څو چې ئې رحمان نه وي لیدلی او رحمان ته دې هغه گوته وهي کومه چې د شاه شرف له لوري مقرر شوې وه نو مجنون به مړ شي او رحمان به ژوندی شي هم دغه وشوه . مجنون چې هغه گوته ووهله نو دی خو په ځای پرېووت مړ شو او رحمان د رې ورځې بېهوشه و او چې په خود شو نو حال یې بدل و ...(۵٤)

همدا راز ښاغلی جعفر اخکزی هم په دې برخه کې کاږي :

" وايي چې په رحمان به کله د آمد دوره راغله نو هغوی به خپل رباب په غېږ کې ورته کښېښووی او په تارو ئې گوتې پورې کړې ، د تار وخه به يو پر سوزه ساز پيدا شو او بيا به يې په خپله خپل اشعار ويل شروع کړه ، پر سوزه آواز او دلکش ساز به په يوه آن کې د عقيدتمند واجتماع جوړه کړه ... " (۵۵) څرنگه چې د دې خبرو له پاره کوم سند نه و نو دا تر اوسه د هغو فولکلوري خبرو له ډلې څخه گڼلې کېږي چې په رحمان بابا پسې کېدلې خو اوس د هم دې رقص په غزل کې يو داسې بيت موموچې د رحمان بابا د موسيقى په زده کړه دلالت کوي او ښيي چې ده موسيقى له استاد څخه زده کړې او په فني ډول يې په موسيقي کې لاس درلودلی دی ، وايي :

مسقى علم خپل استاد راته تعليم کړ
رانمايې کړه هر تار مقام د رقص

اوس موچې د رحمان بابا دا غزل تر لاسه شوي نو دده د دې بلې غزلې څو بيتونه يې هم په ملاتړ کې وړاندې کولی شو :

---

(۵٤) ديوان عبدالرحمان ، د مولانا عبدالقادر سريزه ؛ ديوان عبدالرحمان د پروفيسر عبدالمجيد سريزه ؛ سوانح عمري د ملا عبدالرحمان ، د عجب خان فولکلوري کيسه ، د لاهور چاپ .

(۵۵) اخکزی ، محمد جعفر : " ونډ ر" ۱۹۵۹ ع . کوټه ، ۱۵۳ مخ .

# یوویشتم

هر مطرب چې غوږ ی تاو کا د رباب — په دا تا وکې زما زړه کاندې کباب
چې سامع یې په نغمه په ترانه شم — دیوانه شم گریوان څیرې مست خراب
هم یې تار هم یې گفتار هسې اثر کا — چې هیڅوک یې نه طاقت لري نه تاب

تر دې وروسته د رحمان بابا د مینې پړاوونو ته راګرځو، دی د مجازي مینې په پوړیو د حقیقي مینې د معراج لوړ ته ورختلی، ځینې کسان دده مینه یوازې حقیقي مینه بولي او له مجازي مینې نه یې منکر دي خو دده په دیوان کې داسې بیتونه موږ چې هیڅ منکر دانشي ویلی چې ده دې مجازي مینه نه وي کړې. موږ دده له یارکونه دا رانیستلی شو چې رحمان بابا په ښکلا او ښکلو مین و، دژوند ډېره برخه یې د مینې په یادونو او د بېلتون په یادونو کې تېره کړې ده، کله هجران ځورولی، کله له وصال، کله یوه یې مخې ښکار کړی او کله بل، کله مینې کلی ورته اور کړي او کله یې په بېدیا کې یې تابه کړی دی؛ دده دژوند دا تول یې پېښې دده په شعرونو کې نغښتلي شوي او تر موږ پورې را رسېدلې دي د رحمان بابا دژوند ډېره برخه په مجازي مینه کې تېره شوې او د عشق په مدرسه کې یې نې له زلفو، نې له خطه، نې له خاله بل څه نه وولوستی. په مینه کې یې له پیغور څخه عار نه درلود:

زه عار نه لرم په عشق کې له پیغوره — بې پروایم دستي په خبر له اوره

دده شعرونه ښیې چې ده زیاتې مینې کړې او زیاتو ښکلو یې زړه وړی:

زه رحمان په زړه زړی کړم هغو نجونو
چې یې ملا وي دولېښته په دود نرۍ؛

* *

په رحمان د ښایسته و قدر ډېر دی
د طبیب له قدره چا زده بې رنځوره

## دوه ولیشتم

کړمې پېرې کړمې پلورې چاره نشته
زه رحمان د ښایسته وُ خانه زاد یم
* * *
ګوښې ګوښې ښایسته مې زړه وکا ړې
زه وکوم یوه ته وایم چې تا یووړ

اولیو وخت داسې هم پرې راغلی چې:

زړه که یوې ما خوتالره درکړی
مګر نور ولره نور زړونه پیدا کړم

رحمان بابا مینې داسې پوهه ته رسولی وُ چې د خیلو زړي له بند نه يې ایستلی وُ او (کوچنی)
ویل به يې:

زه عاشق یم سروکار مې دی له عشقه
نه خلیل، نه داوُدزی یم، نه مومند

د نوخطو مینه د رحمان بابا بله مشغولا وه:

خط دې نور حرفو نرخ دې پاڼې د کتاب دې
شغل د کتاب دې بل کتاب راځخه یووړ
* * *
په رخسار چې دې د خط غبار ګرګند شو
سربلنده شوه فرقه د خاکسارانو
* * *
سیاهي د نوي خط دې هسې زېب کا
لکه کښلي واره توري د قرآن
* * *
خه شوکه زه یم انګشت نما په مینه ستا کې
زیات له ماندخوښ ته د قاضي هم د ملايي

ده ته عشق دومره ښتيني وُ چې د سر قرباني يې په دې لاره کې هيڅ بلله :

وهغو ته عاشق نه ويلې بويه،

چې يې فکر يا د سر يا د دستار وي

په هر حال دده مينه د حسن او ښکلا مينه وه له جنسي او نفسي غرضه پاکه وه نو ځکه يې په جرأت سره ويل :

پسران دې عار زما له عشقه نه کا

پاک عاشق، پير او پلار دې واړه بويي

* * *

او منزه دی عشق د نفس له خاصيته

چېرته چاه د ګيډې، چېرته چاه د زنخدان

او همدې مينې ده ته داسې استغنا او غرور ورښلی وو چې په لوړه غاړه به يې ويل:

دلبرانو ته خاک ترتلی لا نه دي

دې نوره جهان په سر لکه آسمان يم

* * *

نوکري د معشوقو کوم په عشق کې

عيني نه د بهلول، نه د اورنګ خورم

د رحمان بابا په نظر کې د مينې معراج ته رسيدلې هسې مرحله ده چې :

آواره کړه اول دين پسې دنيا    که مين يې په خپل يار باندې ښتيا

خدای دې نقد د چا نه کاندې نسيا    د جنت له حورو تېر شه که يار غواړې

* * *

عاشقان د سپين رخسار د تورو زلفو

خبر وا لري د کفر د اسلام

خبره نه اوږدوم، خو دومره وایم چې دده د مینې هم پړاو حقیقي او د خدای مینه ده، دا پړاو دده د مینې معراج دی:

رحمان حسن د یار وینم په پرده کې
نه پټیږي نور د شمعې په فانوس

* * *

دا حجاب چې لوی عالم یې حجاب بولي
دا زما د یار ترمیانه حجاب نه دی

* * *

که څوک وايي هغه کوم دی؟ وایه دا دی
چې یې خدای په نوره مینه په چانکه

## ادبي شهرت او مقبولیت:

په وړاندې پانوکې مو د پټې خزانې په استناد وویل چې رحمان بابا په ۱۰۴۲ هـ.ق کال زېږېدلی خو ښاغلي اثر یې چې د کوم سند تر ښودلو پرته د زېږېدو کال ۱۰۳۸ هـ.ق. ښودلی دا نظر هم ورکړی چې دده تر څورلس کلنۍ وروسته د محمد صدیق پېښوري نه ادبي زده کړه کړې او شعر یې ویلی دی. موږ د اثر خبرې مخکې هم نه وې منلې او دلته یې هم نه منو، خو د رحمان بابا روانې طبعې ته چې ګورو یقیناً په څورلس کلنۍ او پنځلس کلنۍ کې به یې د شعر ویل پیل کړي وي نو زموږ په حساب به د ۱۰۵۶ یا ۵۷ - ۵۸ او ان تر ۱۰۶۰ کلو پورې دده د شعر پیلولو وخت وي داوخت په هند او افغانستان کې د شاه جهان ګورګاني د واکمنۍ (۱۰۳۷-۱۰۶۷ هـ.ق) دوره ده. د رحمان بابا په دیوان کې داسې بیتونه موندل کېدای شي چې د شاه جهان

د واکمنۍ په دوره کې یې د ویلو وخت واټکلو لکه دا بیت :

د کاملې عقیدې له برکته
د دوهمې په غاړه ناست شاه جهان یم

نو په دې اساس تر ۱۰۵۶ هـ.ق. کال وروسته دده شاعري په اټکلي دول او تر ۱۰۶۷ هـ.ق کال وړاندې په باوري توګه پیل شوې ده او که د خان خوشال خان خټک دا بیت :

سل سرېښي دې تر دا یو غزل ځار پر ه
من چې دا پښتو ده کرلاني خوشال ویلي [۵۶]

دده په برخه کې ویلو بیا نو دا هم ویلی شو چې د رحمان بابا شاعري تر ۱۱۰۰ هـ.ق کال وړاندې چې د خوشال بابا د مړینې کال دی د ومره شهرت موندلی و چې خوشال خان غوندې قادر الکلام او بې جوړې شاعر یې هم دې ته اړ کړی و چې دده د شعر د اغېز کمولو له پاره په تعلی لاس پورې کړي او خپل شعر تر ده ښه وبولي .

د خوشال خان خټک خوږ ژبي زوی اشرف خان هجري چې په ۱۱۰۶ هـ.ق کال یې له دنیا نه سترګې پټې کړې د خپل وخت د شاعرانو په ډله کې رحمان بابا ته په دې مقام قایل دی :

خوږ ژبان په زمانې ښکري نو لی    هغه واف چې مستقر یې پېښور دی [۵۷]
رحمان په ویل ځای د لقب نشته    چې یې ما شعر منظور کړ معتبر دی [۵۸]

---

(۵۶) کلیات خوشال خان خټک ، ۴۶۸ مخ .
(۵۷) واف بلبل .
(۵۸) رحمان بابا ، کامل مومند ، ۳۴ مخ ( ده دا شعر د هجري له یوې داسې قلمي نسخې څخه راخیستی چې د چاپي نسخې په اصل کې نه دی )

د رحمان بابا په شعر د اقضاوت د داسې شاعر له خوا شوی چې د خپل شعر په باب داسې نظر لري:

چې يې سحر بولي څوك شعر زما دی — نور د وارو شعر شعر سحر دا دی
که باور دې په دا نه شي يا خر گوره — زما هر غزل شاهد په دا دعوا دی[59]

پښتانه محققين د رحمان بابا په شعر د هجري ددې قضاوت کولو وخت تر ۱۰۹۲ ه.ق. کال وړاندې بولي ځکه چې تر دې کال وروسته هجري په هندوستان کې د کورګانيانو له خوا په بېلو-بېلو زندانو کې اچول شوی و، نو ځکه ده دا قضاوت بايد داسې وخت کړی وي چې د رحمان بابا د اشعارو زياتې لمونې ور ته رسېدلې وي[60].

له دې خبرو نه څرګندېږي چې د رحمان بابا شعر تر ۱۱۰۰ ه.ق. کال وړاندې ښه شهرت موندلی او په ادبي حلقو کې پېژندل شوی او منل شوی و.

همدا راز تر ۱۱۱۹ ه.ق کال وړاندې د ده اشعار د ديوان په بڼه په ټولو پښتنو کې خواره شوي او د پښتو نخوا ګوټ-ګوټ ته رسېدلي وو او ده د خپل دې ادبي او روحاني شهرت په بدل کې له پښتنو نه د "بابا" اعزازي لقب تر لاسه کړی و ځکه چې په پورتني کال مير ويس نيکه په کندهار کې د خپل ملي غورځنګ د پيل لياره د ده په ديوان فال اچوی او له ده نه په دې الفاظو مشوره غواړي:

" راسئ چې عبدالرحمان بابا قدس سره هم ولو پښتنو، چې د ده ديوان يې خلاص کا هسې شعر ونه وو...."[61]

عبدالقادر خان ختک (۱۰۶۳-۱۱۲۵ ه.ق.) چې د ده همځولی دی هم د ده يادونه کوي:

---

(۵۹) ديوان هجري، مرتب همېش خليل، ۱۹۵۸ ع.، ۱۵۰ مخ.
(۶۰) رحمان بابا، کامل مومند، تر ۳۳ مخ وروسته.
(۶۱) پټه خزانه (عکسي نسخه)، ۴۶ مخ.

زه خټک دیاں په غم تازه - تازه شم

غوریه خیل رحمان که شو ځنې ستړی (۶۲)

رحمان بابا په ژوند دده ادبي شهرت دخوریدلو په باب دده په خپل دیوان کې هم ځای په ځای ځینې بېتونه شته چې ځینې يې سره له دې چې دشاعرانه غرور او تعلی زېږنده دي خو بیا هم دده ادبي شهرت دخوریدلو ښایندګي کوي:

ستا دحسن دتعریف له برکته

درحمن دشعر کوکې په عالم دي

* * *

چا پېژندم زه چې عاشق نه وم په جهان کې

اوس مې ستا له رویه نوم رسوا په درست جهان دی

* * *

خوشالا او دولتا مې غلامان دي

زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم

رحمان بابا دومره ادبي شهرت موندلی و چې دیوه ځانګړي ادبي سبک تینګه يې کېښوده او دده په ادبي مکتب کې دپښتو دبرخوړ ژلي شاعران وروزل شول او همدا سبب و چې راوروسته شاعرانو په یوه خوله دده ستاینه وکړه او یوه یوه نیم نه بری تعصب له کبله دده په شعري مقام سترګې پټې کړې.

دده په مړینه دده شاګرد یونس خیبري چې په ۱۱۰۰ هـ.ق. کال زیږېدلی یوه له سوزه ډکه مرثیه وویله او دده ادبي مقام يې پکې وستایه:

چې پیل له اشنا یله سره هجران شه ځکه داغ مې په خاطر باندې ارمان شه

---

(۶۲) دیوان عبدالقادر خان خټک، مرتبه حمیش خلیل، ۱۹۷۲ ع، ۲۱۶ مخ.

انجمن دښو یاران نوبهار دی — جدایي ورباندې پېر وکه خزان شه
چې په قدر کې درونه د دریاب وو — اوس صدف د هغو دُر و گورستان شه
چې په شرق د آشنایۍ لکه لمر و خوت — په مغرب د جدایي کې نهان شه
دا چې باد د جدایۍ په جهان گرځي — له هیبته مې صورت بید لرزان شه
د سکوت قلف به یې خرنگ لیرې کړي — چې په مرگ یې درون بند کلید زبان شه
له رحمانه فیض یاب عبدالرحمان شه — چې له دې سرایه په نوي سرای مهمان شه
مرگ سخي د ښو خبرو هسې شوم کا — چې یې یو کلام زړه نه کړي پرې گران شه
چې په ملک یې نام د نېکو شه مرنه دی — خه شو دا که په حساب د مردگان شه
په پښتو شعر یې هسې نامه یو وړه — چې خبر یې په اشعار ایران توران شه

پر لذت شعر به څوک کاندې "یونسه!
چې په مرگ څني خاموش عبدالرحمان شه"(٦٣)

مصري خان گگیاني د رحمان بابا د عصر یو بل شاعر دی چې د ده د خوږه شعر ستاینه داسې کوي:

شعر د فارسي وېنم شېرین لکه شکره
شعر د پښتو کړه تر فارسه حمید رحمان لذیذ(٦٤)

معز الله مومند هم چې د رحمان بابا د پېړۍ شاعر دی د رحمان بابا د ادبي قدرت او قوت ستاینه په دې تکو کې کوي:

د تمامې پښتونخوا له شاعرانو
معز الله عبدالرحمن دی منتخب

---

(٦٣) د یونس خیبري دیوان، د جمهوري آرگ د کتابتون نسخه، د دې غزلې نقل ښاغلي خیبرندوي عبدالله خدمتگار راسیارلی چې په دې وسیله مننه ترې کوم.
(٦٤) د مصري خان گگیاني دیوان، د پېښور پښتو اکېډمۍ، ١٢ مخ

* * *

که د شعر کرامت د چا نه غواړې

معز الله د رحمان شعر کرامت دی (٦٥)

کاظم خان شیدا چې د رحمان بابا تر مړینې وروسته زیږېدلی او د پښتو د بې خوږ ژبي شاعر دی د رحمان بابا د غزلو پیروي کوي :

د رحمان په دا مصرع د شیدا زړه دی

"ته پري یې، که آهو یې، که جادو کمړ یې" (٦٦)

او هم په خپل یوه بل بیت کې دی او حمید بابا د دوو مومندو په نامه د سنو اذلي حکیمانو په توګه پېژني :

په دې وخت کې که شیدا د واړه هوښمندو ي

ثناخوان به ووهر دم ستا د و یلو (٦٧)

عجیب چې د رحمان بابا دادني مکتب شاګرد دی ځای په ځای د رحمان بابا د شعرونو په اقتفا او پیروي شعرونه وایي او دده په باب عقیده لري :

د شعراو سر حلقه عبد الرحمان دی

زه عجیب د ده د شعر دامنګیر یم

چې یې شعر لامثل دی باندې سنایي

که رحمان وایي په شعر عالمګیر یم (٦٨)

د پښتو خوږ ژبی بېدل چې د پښتو شاعرانو د یادونې په لړ کې رحمان بابا

---

(٦٥) دیوان معز الله خان مومند، د خیال بخاري ترتیب او تدوین، ١٩٥٨ ع. پښتو اکیډمۍ، ١٦، ١٠٠ مخونه.
دیوان معز الله خان مومند، د همېش خلیل ترتیب او تدوین، ١٩٦١ ع. دار التصنیف، ٢٦، ١٣٩ مخونه

(٦٦) دیوان کاظم خان شیدا، د همېش خلیل ترتیب او تدوین، ١٩٦٥ ع، ١٤٢ مخ. دا بیت د کابل په چاپ کې نشته.

(٦٧) د کاظم شیدا دیوان، د استاد بېنوا ترتیب او تدوین، ١٣٣١ ش، پښتو ټولنه، ٥٢ مخ. دیوان کاظم خان شیدا، د همېش خلیل ترتیب، ٥٢ مخ.

(٦٨) دیوان عجیب، ١٥١ مخ.

تهٔ رارسېږي نو د سلطان الشعراء لقب ورکوي او وايي:

چې مشهور يې په پښتو ژبه ديوان دی ... شعراؤ کې هغه عبدالرحمان دی
قال و حال يې سره سم زيات و کم نه دي ... مسلم ځکه د هر دانا نادان دی
په سلطان الشعراء دی ملقب دی ... چې يې بيت مصرع په هر ځای کې برهان دی[69]

عبدالعظيم رانيزی دده د پېړۍ بل شاعر دی چې د درناوی سر داسې ورته ټيټوي:

د مهمند عبدالرحمان صاحب په مثل ... هسې خوږ ژبان زما وی دريغه دريغه
زهٔ عظيم به خاص غلام د دې مهمند وم ... اوس ژوندی که په دنيا وی دريغه دريغه[70]

د دې عصر په شاعرانو کې يوازېنی شاعر چې له رحمان بابا سره يې د مومند او ختکي تعصب کړی، نواز ختک دی او منلي يې چې د هغې شاعرانه غرور کسات اخلي چې رحمان بابا د خان خوشالخان ختک په برخه کې کړی، نو ځکه وايي:

چې په غوږ کا خوک گوهر زما د نظم ... د رحمان ديوان به وملي په جيب
برابر مې کړه غزل دده له شعره ... چې د ووزی له خاطره شک او ريب

* * *

په لحد کې به توبه کاندي له شعره
دا غزل که مې خوک ولولي رحمان ته[71]

د پښتو خوږ ژبي او د ځانگړي ادبي مکتب درلودونکي شاعر پير محمد کاکړ چې په همعصرو کې ترخيل شعر لوړ نه وينې، د رحمان بابا شعر معجز گڼي او وايي:

که هر څو وايي نازک شاعران شعر ... ولې دوی گڼي معجز د رحمان شعر

---

(69) ديوان بيدل، د همېش خليل ترتيب او تدوين، ١٩٥٧ ع. ، ٢١٢ مخ.
(70) ديوان عظيم، ١٣٣٣ ق. ، لاهور، ٦٣ مخ.
(71) ورکه خزانه (لومړی ټوک)، همېش خليل، ١٩٦٠ ع. ، ٣، ٥ مخونه (د نواز ختک برخه).

سوز گداز د محبت یې مګر زیات و　　　چې سوزان یې هسې شان کړ بیان شعر

جوړ په شعر کې رحمان غیب اللسان دی　　　په داخېر نشته هرګز د انسان شعر

تر مصرع یې ځار شه لا زه د ملغلرو　　　په څه تار یې آوېخته کړ یکسان شعر

هیڅ تر شعره د رحمان به ډېر کم نه وي یا　　　و منصف نه د ختټک خوشال خان شعر (۷۲)

رحمت داوي د دوولسمې پېړۍ داواخر و یو بل شاعر دی چې په کشمیر کې هستېده او د رحمان بابا تر شعر داسې قربانېده:

هر څوک شعر کا هم لاف د شاعرۍ کا
زه قربان تر شیرین شعر د مهمند (۷۳)

شمس الدین کاکړ چې د پیر محمد کاکړ د ادبي مکتب پیرو دی، د خپل استاد په پیروۍ د رحمان بابا په باب وايي:

که څوک وښیي په لاس میزان د شعر　　　په عروض کا سنجیده بیان د شعر

و به نه رسي په شعر له رحمانه　　　که هر څو کوي هوس افغان د شعر

په تحقیق سره رښتیا لسان الغیب دی　　　لیاقت یې درلوده لسان د شعر (۷۴)

میر زاحنان بارکزی د رحمان بابا شعر یو تر بل سره ګڼي او وايي:

بل رحمان سربندی د پښتونو دی　　　په پښتو یې غزل به دی یو تر بل (۷۵)

عبدالله پوپلزی یو بل کندهاری شاعر دی چې د رحمان بابا شعر معجزه بولي او وايي:

د رحمان له شعره بوی د معجزې ځي
مرید نه کا ندې له پیره برابر (۷۶)

---

(۷۲) د پیر محمد کاکړ دېوان، د استاد بېنوا ترتیب او تدوین، ۱۳۲۵، پښتو ټولنه، ۴۲ مخ.

(۷۳) ورکه خزانه، لومړی ټوک، ۱۵۳ مخ.

(۷٤) د شمس الدین کاکړ دېوان، پښتو ټولنه، ۱۳۳۳ ش.، ٤۱ مخ.

(۷۵) د حنان بارکزي دېوان، پښتو ټولنه، ۱۳۳٦ ش.، ٦۳ مخ.

(۷٦) روهي ګلونه، د استاد خادم ټولونه، ۱۳۲٦ ش. پښتو ټولنه، ۱۲۱ مخ.

عبدالغفار هوتك دكلات دسيوري شاعر چې د ديارلسمې پېړۍ په اوايلو كې يې ژوند كاوه درحمان بابا دادبي مكتب پېروي او ځان دده نايب بولي:

په افغان كې شاعران تر حساب تېر دي
عبدالغفار دی درحمان شاعر نايب[77]

درواني پېړۍ د اوايلو شاعر قاضي مير احمد شاه رضواني درحمان بابا شعرونه له وجد او جذب څخه ډك گڼي او وايي :

بيا به دوړ دشاه عالم په څېر بنو كې | راښكاره شو په جهان عبدالرحمان
موسيقار غوندې يې هسې نغمې وكړې | چې لې يوړې كړلو او ړ په كل جهان
تا به وې چې دشيراز خواجه حافظ دی | چې پيدا شو په اولس كې دافغان
كه صوفي، كه محتسب او كه قاضي و | بې له مانه تول يې گډ كړه په ميدان[78]

په دې سربېره احمدي صاحبزاده[79]، قنبر علي خان اپريدی او قاسم علي خان اپريدی[80] هم درحمان بابا په پېروۍ شعرونه وايي او يادونه يې كوي :

درحمان بابا شهرت او مقبوليت دومره زيات وُچې په دېرلرې وخت كې يې شعر تول پښتونخوا تسخير كړه او د "روه" لوستي، نيم لوستي او نالوستي تول يې حلقې لې ځان ته ورجلب او جذب كړې، صوفيانو يې په شعر كې دمعنوي دنيا وړانگې وليدې، سياستمدارانو او ملي مشرانو دخپلو ملي غورځنگونو په لار كې د دېوې كار ترې واخيست. مستانو او مجذوبانو د رباب په تارونو كې دده نغمې ونغوږلې، هرڅوك يې په ژبه پوه او دهرچا د زړه تېپونو ته ملهم شو، څوك چې لوستي وو

(۷۷) دعبدالغفار هوتك قلمي ديوان.
(۷۸) روهي گلونه، ۱۲۳ مخ.
(۷۹) تېرهېر شاعران، عبدالحليم اثر، ۱۹۶۳ع. پښتو اكېډمي، ۱۴۲ مخ.
(۸۰) وگورئ دقنبر علي خان ديوان، دپېښور چاپ او د نې نوم مؤلف "رحمان بابا".

دده شعر ونه یې په خپله ولوستل ، دنیمه لوستو له پاره یې دلوستو شوق او ذوق ور وباسه او ډېر داسې کسان پیدا شول چې یوازې د رحمان بابا دشعر دلوستو مینې دتوراو بور ز ده کړې ته اړ کړل . چا چې په خپله نه شوی لوستی هغوی هغه کسان لوستلو ته مجبور کړل چې لوستای یې شول ، او دوی ته یې واورول ؛ مطلب نر او ښځو ټولو ته دده شعرونه ورورسېدل او هرچا دخپل زړه هیلې او مرادونه پکې ولټول او پکې وموندل .

دده په ژوند دده دیوان په ټوله پښتونخوا کې خور شو او ډېر ژر د رحمان بابا دلوی ادبي مکتب په ورځ دلیښتونخوا ډېر شاعران ورننوتل او له دې منبع څخه یې دشعر سوز او الهام واخیست .

لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبی د رحمان بابا دادبي سبک ښېګړې او ځانګړنې داسې شمېري :

١ - په دې سبک کې شاعر د روح الهام مني ، دمادې سره یې ډېر سروکار نه دی ، له هغې دنیا څخه خبرې کوي چې له دې خاکي دنیا څخه پرته بله دنیا ده او د معنوي فیوضاتو منبع هم دغه ځای دی .

٢ - په دې سبک کې شاعر له مادي کثافاتو څخه لیرې کېږي او هلته ځي چې صلح کل دی او د دې خاورینې نړۍ غوغا او شورماشور پکې نشته ، شاعران یې د دنیا پر بدو تنقید کوي او ځان یې له ګکړو او کړکېچونو څخه پاکوي .

٣ - په ادا او داحساساتو په تصویر او نورو ښېګړو کې دا سبک خورا سپېڅلی او سلیس دی ، ابهام سره نه لګېږي ، دشعر الفاظ او عبارات ساده او سپېڅلي غوره کوي .

٤ - غزلیات ، قصاید ، رباعیات ، تخمیس او دشعر نور ټول اقسام په سپېڅلي روح والي او دېر له مینې او اخلاقو څخه رغېږي .

۵ ـ د عشق او مینې په دنیا کې هم د واقعیت خواته ځي او د خیال لمن تابع کړي.

۶ ـ د دې سبک شاعر عشق او الهام ته وندوون ملا ګڼي، یقین او ایمان پر عقلیت باندې غوره بولي.[۸۱]

هو! په دې لاره د پښتو شاعران روان شول او په سوونو وینا والو له رحماني غزه الهام واخیست.

د رحمان بابا ادبي لارې مشهور لاروي دادي:

عبدالرحیم هوتک، احمد شاه بابا، اخوند ګدا، عبدالعظیم سواتی، میانعیم متی زی، ملا جمعه بارکزی، عبدالنبی ببهتی، شیر محمد هوتک، مطیع الله پیرخیل، ـ قاسم علي اپریدی، یونس، غفور، صدیق، شمس الزمان، دالپوری حافظ[۸۲] نیاز محمد، عبید، نصرت[۸۳]، ابن یمین، باز محمد بنګښ، عبد الرسول ماشوری، عبدالغفار هوتک، عجب، فضل شاه، ګل محمد کاکړ، شیخ نامدار، معزالله خان مومند[۸۴]، عبدالوهاب اخګری[۸۵] او نور ...

په پښتونخوا کې د رحمان بابا شهرت او محبوبیت دومره زیات شو چې د ده شعرونه د خلکو په ورځنیو خبرو کې د متلونو بڼه ومونده او د پاخه سند په توګه استناد د پرې وشو.

د پښتنو دیوه لوی روحاني شخصیت سوات صاحب څخه روایت کړي چې د ده به ویل: "چې که څیرې د کلام پاک نه علاوه بل کلام کې موږ کول روا وي نو ما به یقیناً د رحمان صاحب کلام غوره کړی و."[۸۶]

---

(۸۱) پښتانه شعراء، ۱/۳۱

(۸۲) د دې کسانو سوانح په لومړي او دوهم ټوک پښتانه شعراء کې ولولئ!

(۸۳) د دې شاعرانو سوانح په لومړي ټوک ادبي ستورې کې ولولئ!

(۸۴) د لنډې پیژندګلوۍ له پاره یې وګورئ: هیوادمل، زلمی. فرهنګ زبان وادبیات پښتو.

(۸۵) وګورئ: زبیر، د لیکوالې مقاله، د ۱۳۵۶ کال، ۱۳ ګڼه.

(۸۶) تاریخ ریاست سوات، محمد آصف خان. ۱۹۵۸ع، ۱۱۱ مخ.

هغه مشاعرې چې لا تراوسه یې هم دلړې او برې پښتونخوا شاعران د بابا په مزار کوي دده د محبوبیت او مقبولیت ښه ښکارند وې کولای شي او څوچې پښتنې او پښتانه وي "رحمان" به "بابا" او وینا به یې د زړونو دوا وي.

## مړینه او مزار:

پټه خزانه کاږي چې رحمان بابا "په سنه ۱۱۱۸ هجري وفات سو خلق یې تراوسه د پېښور په هدیره کې زیارتونه کا." (۸۷) نو چا دده د مړینې نېټه نده ضبط کړې خصوصاً د رحمان بابا شاګرد یونس خیبري دده له سوزه ډکه مرثیه وایې خو له بده مرغه د مړینې تاریخ یې نه ښيي.

د رحمان بابا په دیوان کې داسې داخلي شهادتونه شته چې دده ژوند تر دې کال راوروسته هم ثابتوي، په دې شهادتونو کې یو هغه اوږد نظم دی چې د اورنګزیب مړینه پکې یاده شوې، اورنګزیب د ۱۱۱۸ کال د میاشې په ۲۸ نېټه مړ شوی دی خو په دې نظم کې یو بیت دی:

اوس نوبت د شاه عالم دی

دور او طور یې شو دګر

اورنګ چې شاه عالم د ۱۱۱۹ هـ.ق په عاشورا یا څېره کې خپله پاچاهي اعلان کړې نو ځکه ښاغلي کامل داپا ړکې د ۱۱۱۹ هـ.ق. کال بولي (۸۸) او په دې وسیله دده ژوند تر ۱۱۱۹ هـ.ق کال پورې ثابتېږي. همدارنګه د بابا په دیوان کې د ګل خان او جمال خان د مړینې په باب هم یو نظم شته چې د ا

---

(۸۷) پټه خزانه (عکسي نسخه)، ۴۵ مخ.
(۸۸) رحمان بابا، ۲۲ مخ.

پښتنه د رحمان بابا ژوند څېړ ونکو ډ راو رتي دوينا له مخې له ۱۱۲۳ هـ.ق. کال سره مربوطه ګڼله او ډراورتي دوينا په استنا دې دده ژوند تر دې کال پورې هم اټکلاوه[۸۹]؛ خو ځرنګه چې راورتي خپل سند نه وُ ښو دلی داسنه اټکلی بلل کېږه ، اوس چې د تاريخ مرصع متن د کامل مومند په همت خپور شو هلته په صراحت سره ددې پښتنې په باب ليکل شوي :

" پسر له فوته داورنګ زيب بادشاه جمال مهمند او بعضی ظاهر بين کوتاه انديش ورسره سر په شورش پورته کړی وُ . په مهمند کې موسړينې وه او موسرينې په مهمندو کې کمن ورې تپه ده . غرض يې داوه چې په دا شورش کې به د مانا مه ناموس وشي . ارباني به بياموم . په دا ميان کې ډېر افراط تفريط ورځه وشه . هرګاه چې په سن زرسل دوه ولېشت صوبه دارې د دارالملك کابل په نامه د ناصرخان شوه . پېښاور ته راغی ، ارباني يې ورکړه . امادده ناکردې چې پخوا د ناصرخان ترسردارې يا به صوبدارې کې يې د ناصرخان کړې وې د ناصرخان په خاطر وې . په خپلې اربانځه کې يې کلې د عيسی مهمند هم وواهه . په تل يې خنته وکړه . عيسی مهمند په خپل خېل کې زور ورډی . جوړه يې د ناصرخان سره وکړه . د مغل په وېرانی کې پښتانه خپله مدعاده .

مصرع : بهر طرف که شود کشته سود اسلام است

په داميان کې د جمال د ډوی د واده کار پښتنه شه . ناصرخان دوه زره روپۍ هم په طريق د انعام ورکړې . لوړ عيسی په تموم د مغل جر يې ورليږې کړه . هغه شپه چې يې د ډوی واده وُ دلښکره سره ورروان شه .

(۸۹) رحمان بابا ، د دوست محمد کامل ، ۲۷ مخ . رحمان بابا ، د مجهول مؤلف ، ۱۲ مخ .

په کوري ورغی - جمال له دې هسې آفته غافل وُ مځې ته ور ووت - تاب یې د جنګ را نه ووړ - زخمي کور ته ننووت - عیسیٰ یې په کور اور پورې کړ بلې وسه - اتیاکسه زنځې وورکې هلکان دوا ده هم په هغه کور کې ور سره وسول دا واقعه په سن زرسل درویشت وه - خدائے دې له دې هسې آفته امان وکا.“ (۹۰)

مونږ وینو چې د دې پېښې په باب تاریخ مرصع یو باوري او د هغه وخت سند دی چې راورته هم یې له دې چې خپل اخځ وښيي له همدې تاریخ نه د دې پېښې کال سنودلی دی . له بله پلوه رحمان بابا د اتراتر یدی په خپل یوه نظم کې په ډېر سوز او درد انځور وي :

ډېر یاران وو د ګل خان او جمال خان — په کار نه شو یو په وخت د زراستان
دهمه وار و یار الوځ دې تور شي — که به څوک وبله یاري کا په داستان
چې یو یار په سوري پروت وي بل په اور کې — وهغو ته به څوک څه وایي یاران
هېڅ تعریف یې په داسې به وایه نه شي — صد رحمت شه په یاري هم د ګل خان
په دا پورته د یاري شرطونه څه وې — چې په اور کې دواړه وسوځي یکسان
چې له آل له اولاده سره وسول — خدائے دې نه کا څوک د هسې مظلومان

ترپایه...

څرګنده چې دا د همدغه پېښې انځور دی او د پېښې کال هم ۱۱۲۳ هـ.ق کال دی لو د دې باوري سند له مخې تر ۱۱۲۳ هـ.ق کال پورې د رحمان بابا ژوند یقیني کېږي خو تر دې وروسته څرګنده نه ده چې تر کوم کال پورې ژوندی و. اوس په دې برخه کې یو بل [illegible] هم رامنځ ته کېږي او هغه دا چې تاریخ مرصع

(۹۰) تاریخ مرصع، افضل خان خټک، ۱۹۷۴ ع. ، ۴۰۲ مخ.

(c) kotabton.com The Digital Library



او پټه خزانه دواړه د پښتنو باوري سند ونه دي او په تاريخ مرصع کې
د پېښېنې کال په توره: "سن زر سل دروېشت" کښل شوی او هم د تاريخ مرصع
ټولې نسخې په دې برخې کې يوه خوله دي، ځکه د دې کال د باور په باب
د شک ځای نه پاتې کېږي؛ خو په پټه خزانه کې د رحمان بابا د مړينې د
کال (۱۱۱۸ هـ.ق.) په باب د اټکل ځای شته ځکه چې هلته دا کال په شمېر
(۱۱۱۸) کښل شوی او له بلې خوا د پټې خزانې د تر لاسه شوې نسخې په پای کې
کاتب کښلي: "باستعجال تمام قلمي شد" نو د دې اټکل ځای پيدا کېږي چې سنايي
د پټې خزانې په بله نسخه کې به دا سنه "۱۱۱۸" نه بلکه بل ځای او هم احياناً "۱۱۲۸" وي
چې د دې "استعجال" په سبب به "۲۸"، "۱۸" کښل شوي وي. او که دا اټکل
ومنو نو بيا به د رحمان بابا ژوند تر ۱۱۲۸ هـ.ق. کال پورې راوغزېږي.
په هر حال، که رحمان بابا د ۱۱۲۴ هـ.ق. کال په شا او خوا کې مړ شوی وي نو ويلای شو چې
ده "۸۲" کاله عمر کړی او که تر ۱۱۲۸ کال پورې يې ژوند اټکل کړو نو بيا يې ژوند
"۸۶" کلو ته اوږدېږي او دا کوم غير عادي او ناشونی ژوند نه دی.

د رحمان بابا مزار د پېښور ښار ته د برلنډ په هزارخانې کې دی او د اخون
درويزه په هديره کې خښ دی چې خلک يې زيارت ته ورځي او کال په کال يې
د پښتونستان شاعران په مزار غونډه کوي. دده قبر پخوا له پخو خښتو
روغ و، خو په ۱۹۵۸ ع. کال پښتو ټولنې د کابل د ځجارۍ او نجارۍ په
فابريکه کې د مرمر وله د برې تخته جوړه شوې ښکلې او نفيس تعويذ ور واستاوه
او دده په قبر کېښودل شو.

رښتيا هم چې: که نظر که څوک په کار د درويشانو — خود به وويني وقار د درويشانو
هومره خلق يې زيارت کا پس له مرګه — چې بازار وي په مزار د درويشانو

زه رحمان په خپل شعار شکرګوزار یم
چې دا هسې رنګ دیوان مې دی موندلی

# [II]

# د رحمان بابا دیوان

رحمان بابا د دیوان را ټولېدلو په باب هم لکه د ده د ژوند پېښو غوندې هر چا بېلې بېلې خبرې کړې او بېل بېل نظرونه پرې ورکړل شوي دي چې مونږ یې دلته بېل بېل ښیو:

## فولکلوري روایت:

زه چې ډېر کوچنی وم، د رحمان بابا شعرونه مې له خپلې خور څخه (چې په خوند به یې لوستل) اورېدلي وو خو په خپله یې لا د لوستلو نه وم، په همدې وخت کې مې له دې نه دا فولکلوري روایت هم اورېدلی و: "رحمان بابا یو ملنګ شاعر و، له خلکو نه به ګوښه د سیند په غاړه ناست و، شعرونه به یې ویل

او په هغو کوډو ړو به يې ليکل چې خپل ښنګ ته يې راټول کړي وو ، يو وخت څوک ورغی او ويې د شعر په ليکلو بوخت وليد ، رحمان بابا ډېر ژر ليکل شوې کوډوړې سپند ته واچول ، هغه کوډوړې چې ترې پاتې وو هغه سرې سره راټول کړل او د رحمان بابا د موجوده ديوان يې ترې جوړ کړ."

دا يو منلې روايت وُ چې د رحمان بابا دوينا د عامو علاقمندانو قناعت يې حاصلاوه او اوس يې هم مني .

**له خولکو ونه متاثر روايت :** د رحمان بابا د ديوان لومړني سريزه ليکونکي پروفيسر عبدالمجيد افغاني د رحمان بابا د ديوان د راټولېدو په باب ليکي :

"... څه وخت چې مجنون (91) د ده ته هغه رباب د طريقهٔ چشتيه وغږاوه نو مجنون مرشد او عبدالرحمان دې ورځې سموسنه پروت وُ چې څه وخت په هوښ راغی نو حالت د ده تبديل وخوړ اوله نېکانو شمار شه او ددې وجې نه به ده سرود اورېدلو او آخر پرې د ومره استغراق غالب شه چې نو څخ ترې نه هم پاتې شه او د پښتنو په اصطلاح د ملا عبدالرحمان نه يو ملنګ جوړ شه ، والي چې شپه او ورځ دی وُ او ژړا وه ترهسې چې يورې چې او سنکولي په ځ باندې لاړې جوړې کړې ، خدای ورله يو څو دوستان هم ورکړې وه چې ده به څه ويل هغوی به جمع کول او دا هغې يارانو برکت دی چې د عبدالرحمان د زړه قطرې په هره حجره کې په وېښو سرې پرتې دي..."

---

(91) مجنون په رحمان بابا پورې د تړل شوی فرضي معشوق نوم دی چې عجب خان يې په آب وتاب بيانوی او يوه اوږده کيسه ورته تړي ( وګورئ : سوانح عمري ملا عبدالرحمان ، دلاهور چاپ.)

... بیا هم دې قابل نه ؤ چې خپل اشعار یې جمع کړي وي دوستانو به جمع کول او دغه د مرګ نه وروسته یې دا دیوان جوړ کړ مګر بیا هم د عبدالرحمان ډېر اشعار ضایع شوي او اوس هم دغه په دیوان کې ډېر اختلاف دی، ډېرې غزلې دي چې په موجوده دیوان کې نشته مګر د پښتنو په مجلسونو کې ویلې کېږي ...»(۹۲)

تر ده وړاندې مېجر راورټي هم نظر ورکړی ؤ چې رحمان بابا به چې شعر ونه ویل نو دغو نقل به یې خپلو خاصو دوستانو ته واستاوه، دده دوستانو به دغه د ځان سره ټولول او ساتل خو دیوبل نه خبر نه وو هر اشنا به یې دا خیال کړو چې دده د مرګ نه پس به دغه یو ځای کړي، دده دوستانو هم دغسې وکړه، دده ځینې نیمګړو دوستانو په دې غرض د رحمان په کلام کې خپل کلام ګډ کړو چې دا معلومه شي چې له دوی څخه د رحمان د کلام ذخیره ترنورو زیاته ده، کلام به د دوی ؤ او کسر به یې پرې د رحمان وویلو دی: نتیجه دا شوه چې دده د دیوان دوه دفترې یا حصې جوړې شوې، دا ټکی بر ګی په وخت معلومه شوه کله چې د رحمان ځینې دوستان لا ژوندي وو او دغه ویلې اشعار یې پېژندل هم، دوی ډېر نه چاڼ کړه او سوچه کلام یې پاتې شو خو بیا هم په ډېرو نسخو کې اختلاف موجود دی ...(۹۳)

د راورټي دا نظر هم تر ډېره حده په فولکلوري روایاتو ولاړ بنکاري او د کوم باوري سند له مخې نه ټینګېږي.

## یوه بله رایه :

د رحمان بابا د دیوان غونډولو په باب یوه بله رایه د ارواښاد مولانا عبدالقادر ده:

(۹۲) دیوان عبدالرحمان، د پروفیسر عبدالمجید په سریزه، د لاهور چاپ.
(۹۳) دیوان عبدالرحمان، د مولانا عبدالقادر سریزه، "خ" او "د" مخ.

چې دنورو رایو په نتیجه کې یې ورکړې ده ، دی وایي چې : "داستغراق په دوره کې درحمان کلام دده دوستانو جمع کړی دی او چې کوم وخت بیا رحمان د دنیا ژوند ته په راګرځېدو مجبور شو او دده کلام کې د اولس او قوم په اخلاقو درای زنګه کیفیت پیدا شوی دی - نو شاید ده ته دا خیال پیدا شوی وي چې راشه دا دیوان راغونډ کړه دا بعید از قیاس نه ده ، دا هم ضروري نه ده چې شاعر چې څه ووایي نو ګڼې ټول دې هغه دده د حافظې په کتاب کې موجود وي، د بې حُله شاعر ته خپل کلام نه وي یاد ولې دوستانو شاګردانو یې یادرلی وي، کېدای شي چې د ترتیب په وخت هغه ټول خلک دده شا او خوا موجود نه وو او ځکه دده ډېرې غزلې په ملکو کې خورې وي ، ولې دیوان کې شاملې نه کړی شوې ... "(۹۴)

## مستند نظر :

لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي (۳۶) کاله پخوا په پښتانه شعراء کې وکښل :

" محققین مورخین دې خبرو ته اهمیت نه ورکوي ( دده د دیوان وروسته ټولول شي ) او وایي چې رحمان بابا خپل دیوان په خپل ژوند غونډ او مرتب کړی دی . لیکن دا موجوده دیوان د رحمان ټول اشعار نه دي ځکه چې د رحمان ډېر اشعار به دې دیوان کې نسته مګر د پښتنو په خولو کې جاري دي..."(۹۵)

د دې نظر په ملاتړ کې مونږ دوه ډوله ملاتړي شهادتونه لرو: یو په خپله هغه شهادتونه دي چې ځای په ځای دده په خپل دیوان کې موندل کېږي.

---

(۹۴) دیوان عبدالرحمان ، د مولانا عبدالقادر سریزه ، "د" او "ذ" مخونه.
(۹۵) پښتانه شعراء ، ۱۹٤/۱

او بیا هم د هغه وخت د معاصرو متنونو شمېر دتونه دی.
مونږ د رحمان بابا په دیوان کې داسې بیتونه مومو چې نه یوازې دا ښیي
چې ده خپل دیوان په خپله ټول کړی بلکه دا هم څرګندوي چې ده له خپلو شعرونو
سره ډېره مینه درلوده او په زیاته علاقه یې په غونډولو بوخت و او د دیوان
تر جوړېدلو مخکې یې د هغه بیاض پته هم راکوي چې ده به خپل شعرونه له ویلو سره
سم پکې ثبتول:

هسې زیب کا په بیاض د رحمان شعر
لکه زلفې د خوبانو په رخسار

د ده له خوا د خپلو شعرونو د لیکلو په برخه کې دا بیت مخې ته راځي:

د رحمان تر قلم مښک او عنبر اوري
چې آغاز یې کړه اشعار د تورو زلفو

له خپلو شعرونو سره د ده مینه له دې بیتونو څخه ښکاري:

د ګوهر په تله نه دي چا تللي
د رحمان شعر ګوهر دی خدای یې تولي

* * *

په غزل کې خو دوه بیته انتخاب وي
د رحمان تمام غزل دی انتخاب

* * *

لکه زه چې سخندان او هنرمند یم
بل به نه وي سخندان او هنرمند

* * *

هم نغمې کاندي هم رقص کا هم خاندي
د رحمان په شعر تُرکي د باګرام

او دا بیتونه خو یې ده غه وخت دي چې دی د بشپړ دیوان خاوند و :

یو کتاب په سر بن کې چا ونه کړ
لې رحمانه چې یې جوړ کړو دا کتاب

* * *

د رحمان و سوزان شعر ته حیران یم
چې یې او ربل شوي نه دي په دیوان

* * *

درست دیوان د رحمان زار تر دا غزل شه
چې بیان یې کړو کردار د دد ر وېښانو

* * *

زه رحمان په خپل اشعار شکر گوزار یم
چې دا هسې رنگ دیوان مې دی موندلی

د "کتاب جوړول" ، "درست دیوان" او "دیوان موندل" په خپله د دې معنی لري چې ده خپل دیوان په خپل ژوند ترتیب کړی او جوړ کړی دی.

د رحمان بابا په ژوند د ده د دیوان د ترتیبېدلو په باب یو بل دلیل دا هم دی چې دی لا ژوندی و چې دیوان یې په ټولو پښتنو کې خور شوی و او پښتنو د ده د ذېلوی ادبي قدرت په صله کې د "بابا" دروند لقب ورکړی و ، په ژوند کې یې د ده دیوان د پېښور او د ختیځ افغانستان ټولې سیمې فتحه کړې وې او ده ته په ژوند د ده لقب "بابا" سره د افغانستان لویدیځو سیمو ته ان ترکندهاره پورې رسېدلی ، خور شوی او منل شوی و او ورسره ورسره یې رحمان بابا د یوه لوی روحاني شخصیت په توګه خلکو ته وروپېژندلی و ، همدا سبب و چې د رحمان بابا تر مړینې خوشحال و راندې ملي مشر میرویس نیکه ده ته د ډېر عقیدت درلود لو

له مخې دده په دېوان پال نېسي او په خپل ملي (لوی) اقدام کې دده روحاني ملاتړ ترلاسه کوي او دی لومړی ځل ورته وایي :

زه مکتوب غوندې په پټه خوله گویا یم — خاموشي زما تېری کا تر غوغا زما
کښېنت دعشق په توده زمکه امان چېرې — سمندر بویه چې زلیست کا په صحرا زما

خو بیا بل ځل داسې مشوره ورکوي :

چې آسمان یې مخ پټ کړي په سحاب و — خدای و ما وته ښکاره کړ هغه لمر بیا
چې رقیب راته ترلي په زنځیر و — خپل حبیب را باندې پرانست هغه ور بیا

په وصال یې منت بار اوسه رحمانه
په صدف کې دخل نشته دگوهر بیا (۹۶)

او مېرویس نیکه هم د رحمان بابا مشوره خلکو ته ابلاغوي او په خپل ملي غورځنگ په ۱۱۱۹ هـ.ق. کال کې پیل کوي.

پدې سربېره دوخت دود هم داسې وو چې شاعرانو به خپل دېوانونه په خپل ژوند ترتیبول، مثلاً دخوشال خان ختک هغه دېوان چې دده له مړینې نه یو کال مخکې لیکل شوی ددې خبرې سند ثبوت دی (۹۷) دا چې هر شاعر به هڅه کوله چې د ټولو تورو پټۍ په خپل دېوان کې ولري به خپله ددې سند دی.

اکثرو شاعرانو چې خپل دېوانونه د "ي" تر ردیفه رسولي، بیا یې سره ټول کړي دېوان کړي یې دي او په خلکو کې خواره شوي، ددېوان له ترتیب نه وروسته یې چې کوم غزلونه ویلي هغه بیا دده یا نورو کسانو له خوا په خپل خپل ځای ددېوان په خنډو او یا هم د وروستیو نسخو په متن کې ورزیات شوي دي.

---

(۹۶) پټه خزانه (عکسي نسخه)، ۴۶ - ۴۷ مخونه.
(۹۷) دخوشال خان ختک ددېوان دا نسخه د پښتو ټولنې په کتابتون کې خوندي ده.

کله چې د رحمان بابا په ژوند دده د دېوان د ترتیبېدو او راغونډېدو په باب دومره کلک اسناد او دلایل لرو نو بیا په دې کې د هېڅ شک ځای نشي پاتې کېدلای چې ده دې خپل دېوان په خپله نه وي ترتیب کړی.

نو ځکه په نتیجه کې ویلای شو چې رحمان بابا خپل دېوان په خپل ژوند په خپله ترتیب کړی دی.

دا چې ځیني غزلې او بیتونه یې کم او زیات دي او یا یې د دېوان د نسخو ترمنځ زیات توپیرونه دي دا دې بېل ـ بېل عوامل دي یو دا چې سنايي ځیني غزلونه له ده نه د تدوین په وخت کې هېر شوي وي او یا یې نقل په لاس کې نه و، ځیني غزلونه یې سنايي تر تدوین وروسته ویلې وي، ځیني شعرونه یې متعصبینو د دېوان له نسخو څخه غورځولي لکه د "رقص" په ردیف غزل چې په یوازېنۍ نسخه کې را پاتې ده او د نسخو ترمنځ سره توپیرونه خو د "خطاطانو او کاتبانو خاصه لوبېينه (!) ده چې د هر چا او هر تالیف په حق کې یې لري او یوازې د رحمان بابا د دېوان یې نمونه نه دی.

یوه بله پوښتنه لا پاتې ده او هغه دا چې د رحمان بابا دېوان ولې په عنعنوي دول په دوو دفترونو کې را پاتې دی؟

دلته یو اټکل داسې هم کېدای شي چې سنايي په یوه دفتر کې د رحمان بابا د ژوند د لومړۍ برخې او په بل دفتر کې یې د ژوند د بلې برخې شعرونه ترديف او تدوین شوي وي. نو که دا اټکل و منو هم د لومړي دفتر شعرونه دده د ژوند د لومړۍ برخې نه دي ځکه په دې دفتر کې د رحمان بابا هغه نظمونه شته چې د ژوند له وروستۍ برخې سره یې اړه لري لکه د اورنګزیب مرثیه او د ګل خان او جمال خان کیسه، نو عجالتاً د خپل دې اټکل مانځه داسې ودانولای شو چې سنايي رحمان بابا د خپل ژوند د لومړۍ برخې شعرونه په یوه دفتر کې سره ټول کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تردیف کړي او ترهغه وروسته شعرونه یې په بل دفتر کې راغونډ کړي او تدوین کړي وي؛ څرنګه چې د دوهم برخې شعرونه یې په حمد، نعت او د دنیا په بې‌وفایۍ پیلیږي نو ځکه دوهم دفتر تر لومړي دفتر وړاندې شوی او یو دبل ځای یې نیولی دی چې دا موومنله نو باید دا هم ومنو چې په خلکو کې دده په ژوند باید دده د دیوان دوهم دفتر خور شوی وي او لومړی دفتر یې بیا وروسته خلکو ته رسیدلی وي خو کله چې هغو فالونو ته راوګرځو چې مېر ولیس ښکته د رحمان بابا په ژوند په ۱۱۱۹ هـ.ق. کال کې دده په دیوان اچولي نو بیا زمونږ دا تکل داماتوي هم وړاندې چې ځکه هغه دوازړې غزلې چې مېر ولیس ښکته فال پرې نیولی دده د دیوان په موجوده لومړي دفتر کې دي او په همدې دفتر کې د ګل خان او جمال خان دیپښې نظم هم شته چې تر دې فال نیونې پنځه کاله وروسته په ۱۱۲۳ هـ.ق. کال ویل شوی دی.

ځکه چې له دې بحث نه هم نتیجه نه تر لاسه کیږي نو دده د دیوان د دوه دفترونه جوړېدل تر اوسه کوم تاریخي اصالت او روایت تر شا نه لري.

ښاغلی کامل د دوو دفترونو سره ګډ وونکی استاد بېنوا بولي[۹۸]؛ خو داکار د بریښوا شوی او له ما سره د رحمان بابا د دیوان یوه زړه قلمي او یوه زړه چاپي نسخه شته چې متاسفانه دواړې نیمګړې دي او دلیکلو او چاپ کال نه لري، دا دواړې دیوه دفتر په اساس دي او د دواړو دفترو شعرونه یې سره یو ځای کړي او په یو ځلي تردیف کړي دي. همدا راز د بمبئ د ۱۸۸۳ ع. کال چاپ نسخه هم په یو دفتري ډول ده[۹۹] چې ښایي زما نیمګړې چاپي نسخه همدا نسخه وي.

---

(۹۸) رحمان بابا، ۷۰ مخ.
(۹۹) د برتانوي تاپوګانو په کتابتونو کې د پښتو قلمي نسخو کټلاګ، ډاکټر میکنزي، لندن، ۸۵ مخ.

## قلمي نسخې

**قلمي نسخې**: څرنګه چې رحمان بابا د پښتنو منلی شاعر دی نو ځکه دده د دیوان ډېرې نسخې لیکلې شوې او خورې شوې دي. پټه خزانه کا ږي: "چې ظل الله پادشاه جهان شاه حسین کاتبان واستول او له پېښوره يې د عبدالرحمان بابا علیه الرحمه د دیوان نقلونه راوړل او په قندهار کې علما او زهاد و کښېنل او اوس ډېر دي. فقرا او د خدای دوستان د عبدالرحمان بابا شعرونه ډېر لولي او خوښوي او عام خلق فالونه پرګوري. حتی چې ښځې هم دا کتاب ډېر وايي او خدای تعالی دده په وینا کې هسې برکت اېښی دی چې د هر خوږ من زړه دا روینه کا او هر غریب او محتاج مستغني کا."(100)

داروایت ښيي چې له ډېر پخوا څخه د رحمان بابا د دیوان د تکثیر او ډېر ښت له پاره کار پیل شوی او په پښتونخوا کې يې زیاتې نسخې خورې شوې دي.

د مېجر راورټي دا خبره چې په نظر کې ولرو چې ده د رحمان بابا دوینا د انتخاب په وخت کې له شپېتو نسخو څخه استفاده کړې(101) نو بیا د پښتو تر هر کتاب نه دده د دیوان د نسخو شمېره ډېره ده ان چې د اخون درویزه تر مخزن الاسلام نه يې هم د نسخو شمېره اوړي خو په موجود وخت کې د رحمان بابا د دیوان د قلمي نسخو د شمېر له مخې تر مخزن الاسلام را وروسته دوهم کتاب دی(102) او دهبوادا ونړۍ په ببلو- ببلو رسمي او شخصي کتابتونو کې يې نسخې شته.

د پښتو خطي نسخو په لاره کې زمانتون روان دی خو تر اوسه نه يې بریالی شوي چې په ټوله نړۍ کې د پښتو خطي نسخو شمېره تر لاسه کړو، په همدې توس

---

(100) پټه خزانه (عکسي چاپ)، ٤٥ مخ.

(101) دیوان عبدالرحمن، د مولانا عبدالقادر سریزه، "د" مخ. "دوران" مجله، پېښور ١٩٥٨ ع. (١٣، ١٤ ګڼه- د نومړي مولانا مقاله)

(102) رفیع، حبیب الله، "د پښتو قلمي نسخې" وږمه، ١٩ کال، ٤ ګڼه (١٣٥٤)، ٨٣ مخ.

د رحمان بابا د دېوان د ټولو نسخو شمېره هم زما په لاس کې نشته، خو تر کومه ځایه مې چې یا د د ښتو نه راغونډه کړي د رحمان بابا د دېوان دا لاندې نسخې راته معلومې دي:

**الف**: د برتانوي تاپوګانو په ښېلو ـ ښېلو کتابتونو کې د رحمان بابا د دېوان ۹ پوره او نیمګړې نسخې شته په دې ډول:

١ ـ برېتش موزیم: د سید غلام علي په قلم، ۱۳٤ پاڼې، کال نه لري.

۲ ـ د لینډ سیانا کتابتون: خطاط نلري، ۱۳۳ پاڼې، بې تاریخه.

۳ ـ د هند داري کتابتون: خطاط میا صدر الدین، ۱۵۳ پاڼې، د خطاطي کال ۱۲۷ هـ.ق.

٤ ـ برېتش موزیم: خطاط میرزا محمد اسماعیل، ۱۹٤ پاڼې، د ۱۲۷۷ هـ.ق.، ۱۸٦۱ ع. کال لیک.

۵ ـ برېتش موزیم: خطاط غلام جیلاني پېښوري، ۱۳۹ پاڼې، د ۱۸۷۲ ع. کال لیک.

٦ ـ د هند اداره: ۱۵۷ پاڼې، خطاط او د خطاطي کال نه لري.

۷ ـ د هند اداره: خطاط فاضل محمد د عبد الغني کاسي زوی، ۱۱۸۷ هـ.ق، ۹۳ پاڼې.

۸ ـ برېتش موزیم: خطاط سراج الدین، ۱۱۱ پاڼې، د ۱۲۷۱ کال لیک.

۹ ـ بودلیان: (د دېوان انتخاب)، ۸۵ پاڼې، د ۱۹۰۰ ع. کال شا او خوا لیکلی![۱۰۳]

**ب**: د لېننګراد په آسیایي موزیم کې د رحمان بابا د دېوان درې نسخې خوندي دي:

۱۰ ـ د ۱۸۱۰ ع. کال لیک.

۱۱ ـ د ۱۸۳۰ ع. کال لیک.

۱۲ ـ د ۱۸۳۷ ع. کال لیک.[۱۰٤]

**ج**: د هند په کتابتونو کې بیا لي د رحمان بابا د دېوان ډېرې نسخې وي، خو دا درې نسخې یې فهرست شوي:

۱۳ ـ د رامپور رضا لایبرېري: خطاط محمد شاه بلخي، د ۱۲۱۹ کال لیک، ٤۷۰ پاڼې، مصوره نسخه.[۱۰۵]

۱٤ ـ د بنګال د ایشیایي ټولنې کتابتون: د شاه ثناء الله په قلم.

---

د دې مخ د متن پاڼلیکونه په (۵۰) مخ کې وګورئ.

۱۵ ـ د ډيلي د پوهنتون کتابتون : د حافظ عبيدالله په قلم[۱۰۶].

ل : د پښتونستان په شخصي او رسمي کتابتونو کې د رحمان بابا د ديوان ډېرې نسخې شته خو متأسفانه د ټولو فهرست يې لاس ته نه دی راغلی، يوازې دا لاندې نسخې يې را ته معلومې دي:

۱۶ ـ د پېښور د اسلاميه کالج کتابتون[۱۰۷]

۱۷ ـ د پروفيسر ولي محمد خان سيال کاکړ کتابتون: د ملا ولي په قلم ، ۹۰ پاڼې.

۱۸ ـ د سيال کاکړ کتابتون : د ملا ولي په قلم ، ۱۷۹ پاڼې[۱۰۸]

هـ : په فرانسه کې د رحمان بابا د ديوان د دوو نسخو پته شته :

۱۹ ـ د فرانسې د ګيمي موزيم : د ۱۲۰۹ ق. کال ليک د ولي محمد په قلم .

۲۰ ـ د فرانسې د ګيمي موزيم : د ۱۷۹٤ کال ليک[۱۰۹]

و : په امريکا کې د يوې نسخې پته شته :

۲۱ ـ د پرنسټن د پوهنتون کتابتون[۱۱۰]

ز : د کابل د خطي نسخو په کتابتون کې د رحمان بابا د ديوان دا نسخې موجودې دي:

۲۲ ـ د ملا ولي په قلم چې ۳۲ انځورونه هم لري ، ۱۸٤ پاڼې .

۲۳ ـ په کشمير کې د ۱۲۲۷ کال ليک ، د ملا عبيدالله په قلم ، ۱۶۰ پاڼې.

۲٤ ـ بله نسخه ۱۱۹ پاڼې لري .

---

د ٤۹ مخ پايليکونه :

(۱۰۳) د برتانوي تاپوګانو په کتابتونو کې د پښتنو قلمي نسخو کتلاګ ، ډاکټر مکينزي ، ۱۹۶۵ع. له ۸۵ تر ۹۳ مخ.

(۱۰٤) هيواد (ورځپاڼه) ، ۱۳٤۶ کال ورځ ، د سنا غلي ربتين مقاله .

(۱۰۵) د خان غازي کابلي قلمي يادداشت ، د استاد بېنوا د کتابتون .

(۱۰۶) هيواد ، د سنا غلي ربتين مقاله .

(۱۰۷) همدا ورځپاڼه .

(۱۰۸) سيال کاکړ ، پروفيسر ولي محمد : "پښتو نسخې" ، قلمي .

(۱۰۹) هيواد ورځپاڼه ، ياده شوې مقاله .

(۱۱۰) همدا اخځ .

۲۵ ـ بله نسخه چې ۶۵ پاڼې لري.

۲۶ ـ بله نسخه چې ۱۷۴ پاڼې لري.

۲۷ ـ بله نسخه يې چې ۱۶۷ پاڼې لري او له ځينې شعرو سره يې دري ژباړه هم شته [۱۱۱]

ح : د جمهوري ارګ په کتابتون کې د رحمان بابا د ديوان دا نسخې شته:

۲۸ ـ يوه نفيسه نسخه ده چې ۱۲۰ پاڼې لري [۱۱۲]

ط : د هرات په موزيم کې:

۲۹ ـ خوشخطه نسخه ده چې ۱۸۲ پاڼې لري [۱۱۳]

ی : د کابل پوهنتون په کتابتون کې هم د رحمان بابا د ديوان دا لاندې نسخه ساتل کېږي:

۳۰ ـ د ملا ولي د زوی ملا کمال په ليک چې ۱۴۴ پاڼې لري [۱۱۴]

ك : د پښتو ټولنې په کتابتون کې د بابا د ديوان دا لاندې نسخې شته:

۳۱ ـ د شاه زمان د سلطنت په وخت کې ليکل شوې نسخه ده چې ۲۵۱ پاڼې لري خطاط يې وجه الدين او د خطاطۍ کال يې ۱۲۳۰ هـ . ق . دی.

۳۲ ـ د سرله خوا نيمګړې نسخه ده چې ۱۴۲ پاڼې يې پاتې دي.

۳۳ ـ د سر او پای دواړو له خوا نيمګړې نسخه ده چې ۱۳۱ پاڼې يې پاتې دي.

۳۴ ـ د ملا اختر بياض دی چې د رحمان بابا د اشعارو چاڼ پکې شته [۱۱۵]

ل : د محترم استاد پوهاند عبدالشکور رشاد په کتابتون کې د رحمان بابا د ديوان نسخې شته چې يوه هم نسخه يې دا ده:

۳۵ ـ د ۱۱۴۵ هـ . ق . کال ليک ده او کامګار خان ختک د نامدار خان زوی

---

(۱۱۱) "د پښتو قلمي نسخې" د ليکونکي اثر ، خطي .

(۱۱۲) د بورکوی د خطي نسخو فهرست ، ۱۹۶۴ ع . ۶۵ مخ .

(۱۱۳) همدا اثر ، ۳۲۹ مخ .

(۱۱۴) ستوده ، محمد ابراهيم او عبدالرحمن : "د پښتو د ۱۰۸ قلمي نسخو لنډه پېژندنه" ، ۱۳۵۴ ، ګستنري چاپ ، ۲۵ مخ .

(۱۱۵) "د پښتو قلمي نسخې" .

داشرف خان لمسي او دخوشال خان ختک کړوسي يوه مثنوي په خپل قلم پرې کښلې او مهر يې پرې لګولی دی.(۱۱۶)

**م:** دښاغلي عبدالقدوس نجيب په کتابتون کې يې دا نسخې شته:

۳۶ ـ د ۱۲۷۹ هـ. ق. کال ليک چې ۱۳۶ پاڼې يې پاتې دي او دپای پاڼې يې نشته.

۳۷ ـ يوه نيمګړې نسخه ده چې ۵۳ پاڼې يې پاتې دي(۱۱۷).

**ن:** دښاغلي محمد حليم سليمي په کتابتون کې هم درحمان بابا د ديوان دوې نسخې خوندي دي:

۳۸ ـ خطاط يې انعام نومېږي چې په ۱۱۷۶ هـ. ق. کال يې کښلې ده، دواړه دفترونه يې بېل ـ بېل ګڼهل شوي دي چې ټولې پاڼې يې ۱۳۴ دي.

۳۹ ـ د ۱۱۹۹ هـ. ق کال په شاوخوا کې کښل شوې، دپای لخوا نيمګړې ده او ۷۲ پاڼې يې پاتې دي(۱۱۸)

**س:** دښاغلي زلمي هېوادمل په کتابتون کې درحمان بابا د ديوان لاندېنۍ نسخې خوندي دي:

۴۰ ـ د ۱۲۱۲ هـ. ق کال ليک چې ۸۴ پاڼې لري.

۴۱ ـ يوه زړه بې تاريخه نسخه چې ۲۰۰ مخه لري.

۴۲ ـ درحمان بابا د شعرونو يوه انتخابي مجموعه چې ۱۶ پاڼې لري(۱۱۹)

**ع:** دليکوال په کتابتون کې درحمان بابا د ديوان دا لاندې نسخې خوندي دي:

۴۳ ـ دملا قمردين په خط ليکل شوې نسخه ده چې دسرخو پاڼې يې لوېدلې

---

(۱۱۶) دمحترم استاد، پوهاند عبدالشکور رشاد يادداشت چې په خاصه لورېنه يې راسپارلی دی.

(۱۱۷) "دپښتو قلمي نسخې" ښاغلي نجيب صاحب په ډېره مينه دخپل کتابتون نسخې دمعرفي په غرض راښودلې چې په دې وسيله مننه ترې کوم.

(۱۱۸) "پښتو قلمي نسخې" دښاغلي سليمي صاحب هغه سخاوتمندي چې دخپل ځاني کتابتون دنسخو په راښودلو کې يې کړې ده ډېره مننه ورڅه.

(۱۱۹) "پښتو قلمي نسخې". دګران ملګري ښاغلي زلمي هېوادمل لورېنه تر تعارف لوړه ده ځکه کتابونه مو داسې سره ګډ دي چې داسې وختونه هم پېښېږي چې يو دبل کتاب نه سره بېلوو.

اودپاې یوم ځ یې نښتــه موجودې پاڼې یې ۹۱ دي .

۴۴ - بله نسخه ده چې ځینې پاڼې یې ضایع شوې ، دا نسخه په یوه دفترګې ترتیب شوې ځو نوې غزلې هم لري چې پاتې پاڼې یې ۸۴ دي .

۴۵ - ددې نسخې هم ځینې پاڼې لوېدلې او ۹۶ پاڼې یې راپاتې دي .

۴۶ - ددې نسخې زیاتې پاڼې نیمه خواشوې او یوازې ۴۷ مخه ترې راپاتې دي .

۴۷ - دایوه زړه نسخه ده چې پنځوس پاڼې یې راپاتې دي .

۴۸ - دملا سنایسته خان جونګ چې درحمان بابا زیاتې غزلې پکې چاپ شوې او خوندي دي .[۱۲۰]

له دې سره - سره بیا هم دایو ترېنه احصائیه یوه دبره لنډه ګڼو او نیمګړې احصائیه ده ځکه دبابا ددیوان دېرې نورې نسخې هم شته چې علاقمندانو یې ساتلې دي ، ما دا تلو نکو احصائیو په هیله دا شمېره وړاندې کړه .

## چاپي نسخې :

لکه څرنګه چې درحمان بابا ددیوان قلمي نسخې دېرې دي همداراز ددې دیوان چاپونه هم له پخوا راهیسې روان دي او په لسهاو ځله خپور شوې دی .

ددې دیوان ترټولو زړه چاپي نسخه چې ما لیدلې ده په ۱۲۸۰ هـ.ق. کال کې دبمبي چاپ نسخه ده چې په سنه صحافت خپره شوې ده[۱۲۱]

او ترټولو نښه چاپي نسخه یې چې ډاکټر مکینزي او د"رحمان بابا" دکتاب پې نومه مؤلف درحمان بابا دددیوان لومړۍ چاپي نسخه ګڼلې ، هغه نسخه ده چې مولوي احمد

(۱۲۰) "دپښتو قلمي نسخې" په دې پنځو کې دوې نسخې ګران ملګري ښاغلي احسان الله آرینزي راښودلې چې کور ودانی ورته وایم .

(۱۲۱) دا نسخه د ښاغلي زلمي هیوادمل په کتابتون کې خوندي ده .

د تنګۍ د څو نسخو له مخې ترتیب کړې او په ۱۸۷۷ ع. کال په لاهور کې پادري هیوز چاپ کړې ده(۱۲۲)

د دې دیوان یوه بله زړه چاپي نسخه د حیدري مطبعې چاپ ده چې د قاضي فتح محمد په اهتمام خپره شوې، په ۱۸۸۳ کال کې یو ځل په بمبئي او دوه ځل په ډیلي کې چاپ شوی او تر هغه وروسته یې چاپونه له شمېره اوړي. یوه ډېره نفیسه نسخه یې چې په ښکلي خط کښل شوې په ۱۳۲۸ ش. کال پښتو ټولنې د استاد بېنوا په زیار خپره کړه او یو بل انتقادي متن یې د پېښور پښتو اکېډمۍ په ۱۹۶۳ ع. د ارواښاد مولانا عبدالقادر په سریزه خپور کړ او هم یې هم د دې اکېډمۍ له منظومې اردو ترجمې سره یو متن خپور کړ(۱۲۳).

## چاپي انتخاب:

د رحمان بابا د دیوان چاپي انتخاب د ده تر ټولو چاپي نسخو وړاندې دی ځکه لومړی ځل د ده غزلې آلماني ختیځ پوه دورن په خپل "خریستوماتیا" نومي کتاب کې چې د پښتنو ادبیاتو انتخابي مجموعه ده په ۱۸۴۷ ع. کال په پترزبورګ کې خپرې کړې(۱۲۴) بیا د ده غزلې انګریزي ختیځ پوه میجر راورټي په ۱۸۶۰ ع. کال په خپل "ګلشن روه" نومې مجموعه کې نشر کړې(۱۲۵) او بیا پادري هیوز په "کلید افغاني" کې د رحمان بابا د دیوان غزلې انتخاب کړې چې یو چاپ یې د ۱۸۷۲ ع. کال دی(۱۲۶).

همدارنګه په "جشن ونیروزي"، "ګلشن نوروزي"، "بهار ګلشن" او د قاضي میر احمد شاه رضواني په "بهارستان" او "شکرستان" کې هم د ده د دیوان انتخابات شوي او په دې سربېره په ډېرو پاتو مجموعو کې د رحمان بابا ملکوتي وینا وې خیستلې شوې او خپرې شوې دي.

---

(۱۲۲) د قلمي نسخو کتلاګ، ډاکټر میکنزي، ۸۵ مخ. رحمان بابا، ۲۲ مخ.
(۱۲۳) د رحمان بابا د یو شمېر چاپي نسخو د معرفي لپاره وګورئ: لیښتو کتاب سود، دلیکوالکي اثر.
(۱۲۴) وګورئ، خریستوماتي.
(۱۲۵) وګورئ: ګلشن روه ۱-۳۰ مخونه.
(۱۲۶) وګورئ: کلید افغاني.

# اخځونه


۱ ـ افضل خان ختک : "تاریخ مرصع"، مقابله ـ تصحیح او نوټونه د دوست محمد خان کامل مومند
۱۹۷٤ ع. یونیورسټی بک ایجنسی ـ پېښور .

۲ ـ حافظ رحمت خان : "خلاصة الانساب" د محمد نواز طائر دیباچه او ترجمه، ۱۹۷۳ ع.
پښتو اکېډمي ـ پېښور .

۳ ـ خواجه نعمت الله هروي : "تاریخ خان جهاني و مخزن افغاني"، تصحیح او تنقیح د
سید محمد امام الدین، ۱۹۶۰-٦۲ ع. ایشیاټک سوسائټي ډاکه (په دوو ټوکونو کې).

٤ ـ محمد هوتک : "پټه خزانه"، د استاد حبیبي سریزه او سمون، ۱۳۲۳ ش پښتو ټولنه کابل

۵ ـ محمد هوتک : "پټه خزانه" (عکسي چاپ)، د استاد حبیبي نوې سریزه، ۱۳۵٤،
د پښتو د پراختیا او پیاوړتیا آمریت، کابل.

۶ ـ سبایسته خان : "د ملا بنایسته خان جونګ"، د دوو لسمې پېړۍ لیک، لیکوالې کتابتون

۷ ـ حبیبي، پوهاند عبدالحي : "پښتانه شعراء" (لومړی ټوک)، ۱۳۲۰ ش، پښتو ټولنه، کابل

۸ ـ حبیبي، پوهاند عبدالحي : "افغانستان در عصر گورگاني هند" ۱۳٤۱، تاریخ ټولنه.

۹ ـ حبیبي، پوهاند عبدالحي : "د پښتو ادبیاتو تاریخ" (دوهم ټوک)، ۱۳٤۲، پښتو ټولنه ـ کابل

۱۰ ـ حبیبي، پوهاند، عبدالحي : "د افغانستان پېښلیک"، د ښهغي کتاب خپرولو موسسه، ۱۳۵۳ ش کابل

۱۱ ـ حافظ مرغزی : "شهنامهٔ احمد شاه ابدالی"، پښتو اکیډمی، ۱۹۶۵ع. پېښور.

۱۲ ـ کامل مومند : "رحمان بابا"، ادارهٔ اشاعت سرحد، ۱۹۵۸ ع. پېښور.

۱۳ ـ عبدالصمد خان : "رحمان بابا شاعر انسانیت"، داثر په سریزه، ۱۹۷۴ع. پېښور.

۱۴ ـ بې نومه مؤلف : "رحمان بابا" محکمهٔ نشر و اشاعت قبایل.

۱۵ ـ ظفر کاکاخیل، سید بهادر شاه : "پښتانه د تاریخ په رڼا کې" یونیورسټي بک اېجنسي پېښور ۱۹۶۵ع.

۱۶ ـ حبیبي، پوهاند عبدالحی (تصحیح او سریزه) : "د خوشحال خان ختک مرغلرې" طلوع افغان ۱۳۱۷ کندهار

۱۷ ـ کامل، دوست محمد (سریزه او سمون) : "کلیات خوشحال خان ختک"، ادارهٔ نشر و اشاعت سرحد، ۱۹۶۰ (دوهم چاپ) پېښور.

۱۸ ـ رښتیا، سید رسول (سریزه او ترتیب) : "ارمغان خوشال"، یونیورسټي بک اېجنسي، پېښور.

۱۹ ـ بېنوا، عبدالرؤف (سریزه او سمون) "د رحمان بابا دیوان"، پښتو ټولنه، ۱۳۲۸ کابل

۲۰ ـ عبدالقادر، مولانا (سریزه) : "دیوان عبدالرحمن"، پښتو اکیډمی ۱۹۶۳، پېښور.

۲۱ ـ عبدالمجید، پروفیسر (سریزه) : "دیوان عبدالرحمن مع رباعیات دیوان عبدالحمید"، صابر الکټرک پریس ـ لاهور.

۲۲ ـ غزوال، ښه نیار محمد عارف (سمون) : "د رحمان بابا دیوان" (همامتن) لاسکښلې نسخه

۲۳ ـ خادم، قیام الدین (ټولونکی) "رومی ګلونه"، پښتو ټولنه ۱۳۲۶ کابل.

۲۴ ـ حبیبي، پوهاند عبدالحی (سریزه او سمون) : "د عبدالقادر خان ختک دیوان"، طلوع افغان ۱۳۱۸ کندهار.

۲۵ ـ عظیم : "دیوان عظیم"، ۱۳۳۳ هـ.ق. مطبع اسلامیهٔ لاهور.

۲۶ ـ بخاری، خیال (ترتیب او تدوین) : "دیوان نجیب"، پښتو اکیډمی، ۱۹۷۲، پېښور.

۲۷ ـ دارمستتر : "د پښتنخوا د شعر هار و بهار"، د پاریس د ختیځ ټولنه، ۱۸۸۸ ع. پاریس.

۲۸ ـ همېش خلیل (ترتیب او سریزه) : "دیوان هجری" ۱۹۵۸ع. پېښور.

٢٩ - همیش خلیل (ترتیب او سریزه) : " دیوان عبدالقادر خان ختک " ، ١٩٧٢ ع . پېښور .

٣٠ - دیونس خیبري دیوان ، دارګ د کتابتون قلمي نسخه .

٣١ - عبدالقادر ، مولانا (سریزه) : " دیوان مصري خان ګګیاڼي ". پښتو اکېډمي پېښور

٣٢ - بخاري ، خیال (ترتیب او تدوین) : " دیوان معزالله خان مومند " ١٩٥٨ ع . پښتو اکېډمي پېښور

٣٣ - همیش خلیل (سریزه او ترتیب) : دیوان معزالله خان مومند " ، ١٩٦١ پېښور .

٣٤ - همیش خلیل (سریزه او ترتیب) : " دیوان کاظم خان شیدا " ، ١٩٦٥ ع . پېښور

٣٥ - بېنوا ، عبدالرؤف (سریزه او ترتیب) : " د کاظم خان شیدا دیوان " ١٣٣١ کابل .

٣٦ - همیش خلیل (سریزه او ترتیب) : " دیوان بېدل " ١٩٥٧ ع . پېښور

٣٧ - همیش خلیل : " ورکه خزانه " (لومړی ټوک) ، ١٩٦٠ ع . پېښور

٣٨ - بېنوا . عبدالرؤف (ترتیب او سریزه) : " د پیر محمد کاکړ دیوان " ، ١٣٢٥ ، پښتو ټولنه کابل

٣٩ - " د شمس الدین کاکړ دیوان " ١٣٣٣ ، پښتو ټولنه کابل .

٤٠ - " د حنان بارکزي دیوان " ١٣٣٦ ، پښتو ټولنه کابل .

٤١ - " د عبدالغفار هوتک دیوان " ، قلمي نسخه .

٤٢ - اثر ، عبدالحلیم : " تېر هېر شعران " ، ١٩٦٣ ع . پښتو اکېډمي ، پېښور .

٤٣ - همیش خلیل (سریزه او ترتیب) : " دیوان قنبر علي خان ".

٤٤ - دورن (ټولونکی) : " خرېسټو ماتیا " ، پترزبورګ ، ١٨٤٧ ع .

٤٥ - راورټي ، میجر (ټولونکی) : " ګلشن روه " ، ١٨٦٠ هرتفورډ .

٤٦ - هیوز ، پادري (ټولونکی) : " کلید افغاني " ، ١٨٧٢ ع . لاهور .

٤٧ - محمد آصف خان : " تاریخ ریاست سوات " ١٩٥٨ ع . سوات .

٤٨ - خان غازي کابل (قلمي یادداشت) : " کتابخانهٔ رضا " ، د استاد بېنوا کتابتون .

٤٩ - سیال کاکړ ، پروفیسر ولي محمد خان : " پښتو نسخې " ، د سیال کاکړ شخصي کتابتون د نسخو معرفي

لاسکښلې نسخه .

۵۰ - بورکوی : "د افغانستان خطي نسخې" ، ۱۹۶٤ ع .

۵۱ - میکنزی ، ډاکتر : "د برتانوی تاپوګانو په کتابتونو کې د خطي نسخو کتلاک" (د دې کتاب لښپېړ متن ګران ملګري عنایت الله محرابی راته ژباړلی) .

۵۲ - عبدالغنی ، دکتور : "احوال و آثار میرزا عبدالقادر بیدل" ژباړن میر محمد آصف انصاری ، کابل پوهنتون ، ۱۳۵۱ .

۵۳ - "کلیات بیدل" ، د پوهنې وزارت ، کابل .

۵٤ - تجدد ، مهین جهانبګلو : "سماع در سلسلهٔ هو" ۱۳۵۱ ، تهران .

۵۵ - اڅکزی ، محمد جعفر : "وندر" ۱۹۵۹ ع . کوټه .

۵۶ - عجب خان د چګکی : "سوانح عمری د ملا عبدالرحمن" (فولکلوری کیسه) ، لاهور .

۵۷ - رښتین ، صدیق الله : "د پښتو نسخو فهرست" ، هیواد (ورځپاڼه) ، ۱۳۵۶ ، اسد او سنبلې ګڼې .

۵۸ - ستوره ، محمد ابراهیم او عبدالرحمن : "د پښتو د ۱۰۸ قلمي نسخو لنډه پېژندنه" ۱۳۵٤ ، ګستنري چاپ د کابل پوهنتون کتابتون .

۵۹ - هیوادمل ، زلمی : "فرهنگ زبان و ادبیات پښتو" . لاسکښلې نسخه .

۶۰ - رفیع ، حبیب الله : "عبدالوهاب اڅکزی" زیری ، ۱۳۵۶ ، د جوزا ۱۳ ګڼه .

۶۱ - رفیع ، حبیب الله : "د پښتو پخوانۍ تذکرې" ، افغانستان اکاډمي ، د تاریخ او ادب ټولنه ۱۳۵۰ کال

۶۲ - رفیع ، حبیب الله : "ادبي ستوري" (لومړی ټوک) ، پښتو ټولنه ، ۱۳۵۳ ، کابل

۶۳ - رفیع ، حبیب الله : "د پښتو قلمي نسخې" ، وږمه ، نولسم کال ، لسمه ګڼه ، ۱۳۵٤ ش .

۶٤ - رفیع ، حبیب الله : "د پښتو خطي نسخې" (په نړۍ کې د پښتو خطي نسخو معرفي) ، قلمي .

۶۵ - رفیع ، حبیب الله : "د پښتو کتاب بنود" ، قلمي .

# د متن نسخې

## د رحمان بابا د دیوان د انتقادي متن په برابرولو کې له دغو چاپي او خطي نسخو څخه کار اخیستل شوی دی:

رحمان بابا د دیوان د دغه انتقادي متن په تیارولو کې له شلو چاپي نسخو، شپاړسو خطي نسخو، کرستوماتي یا د درېو مجموعو او د شوروي اتحاد څخه د راغوښتل شوي میکروفلم څخه کار اخیستل شوی دی. کوم څرګند توپیر چې په کومه نسخه کې په نظر راغلی یا کوم نوی غزل او نوی بیت موندل شوی دی په لمن لیک کې د هغې نسخې حواله ورکړل شوې ده. دغو نسخو ته مونږ مخفف نومونه ورکړي دي تر څو محققین او لوستونکي له زیاتو خنډونو سره مخامخ نه شي؛ مثلاً د پښتو ټولنې نسخې مو د "پ"، د اطلاعاتو او کلتور د خطي کتابخانې نسخې مو د "خ" نسخو په نامه او د پېښور چاپي نسخو ته مو د "پ.پ" یعنې پېښور کې چاپ، "ق.ک" یعنې قدیمي کتابخانې چاپ او "ق" یعنې قصه خوانۍ چاپ نومونه او د پښتو ټولنې د بېنوا صاحب له خوا چاپ شوي دیوان ته مو د "ب" چاپ نوم ورکړی دی. د دغه انتقادي متن مولکه د پښتو ټولنې له خوا د چاپ شوي دیوان غوندې په یوه دفتر کې ترتیب کړې او د پښتو ټولنې د مسلکي غړي او ځوان

خطاط ښاغلي نصير "هنر" پښتون له خوا خطاط شوی دی.

ددې دپاره چې رحمان بابا د دیوان د دغه انتقادي متن محترم لوستونکي له دغو چاپي او خطي نسخو سره ښه بلد شي هره نسخه په ځانګړې توګه معرفي کېږي:

**دکابل دپښتوټولنې چاپ:-** د دغې نسخې کچه ۱۵×۱۰ سانتي متره ده او په کوچنۍ قطع چاپ شوې ده دغې نسخې مصحح، مدون او مقابله کوونکي استاد بېنوا دی چې د ښاغلي عزیزالدين وکیلي له خوا خطاطي شوې او په ۱۳۲۸ کال کې د کابل دعمومي مطبعې په آفست کې چاپ شوې ده. مقدمه هم داستاد بېنوا له خوا پرې لیکل شوې چې د رحمان بابا د ژوند ګلوبه په باب خورا په زړه پورې مواد لري.

د دغه چاپي دیوان ټول "۲۶۰" مخونه دي چې (۱۳۰) پاڼې کېږي، په دغه دیوان کې (۳۳۸) پارچې راغلي دي او د ټولو بیتونو شمېر یې (۳۸۵۳) دی. دغه نسخه د رحمان بابا د نورو چاپي او خطي نسخو پر خلاف په یوه دفتر کې ترتیب او چاپ شوې ده.

**دپېښور پښتو اکېډمۍ چاپ:-** کچه یې ۲۰×۱۲ سانتي متره ده. دغه چاپي دیوان دلومړي ځل له پاره د ۱۹۶۳ع. کال دجولائي دمیاشتې په دېرشمه نېټه دهغه وخت د پښتو اکېډمي د مشر مولانا عبدالقادر په تمهید چې د ۱۳۶۸ هـ. کال د صفرالمظفر د میاشتې په ۱۸ نېټه چې د ۱۹۴۸ عیسوي کال د دسمبر له شلمې نېټې سره برابره ده کښلی، چاپ شوی دی د رحمان بابا دغه نسخه په دوو دفترونو کې چاپ شوې چې د مخونو شمېر یې (۲۸۵) ته رسېږي او مقدمه یې د الفبا په ترتیب ورسره چاپ شوې ده.

په دغه دیوان کې (۳۴۴) پارچې راغلي دي چې ټول (۳۷۰۰) بیته دي.

**د پېښور قدیمي کتابخانې چاپ :-** د رحمان بابا د دغه چاپي دیوان کچه ۲۴×۱۵ - سانتي متره ده، د پېښور د کالج د پروفیسر عبدالمجید او شاه افضل صاحب په سرېزو په (۱۷۷) مخونو کې د پېښور د قصه خوانۍ د تاجرانو حاجي فضل احمد او حاجي عبدالرحیم له خوا چاپ شوی دی. د چاپ نېټه یې نه ده معلومه، د پاڼو شمېر یې (۳۴۷) او د بیتونو شمېر یې (۳۷۹۴) دی، دغه نسخه هم په دوو دفترونو کې ترتیب او چاپ شوې ده.

**د پېښور قصه خوانۍ چاپ :-** د دغې چاپي نسخې کچه هم ۲۴×۱۵ سانتي متره ده چې په ۱۹۲۰ عیسوي کال کې چاپ شوې او د مخونو شمېر یې (۱۸۴) دی، په دغه نسخه کې ټول (۳۲۱) پاڼې راغلي او د بیتونو شمېر یې (۳۶۰۳) دی، د دغه چاپي دیوان هم په دوو دفترونو کې ترتیب او چاپ شوی دی.

**د پښتو ټولنې د کتابتون خطي نسخې :-** د پښتو ټولنې په کتابتون کې د رحمان بابا د دیوان درې خطي نسخې او یو قلمي جونګ چې د رحمان بابا یو شمېر غزلې هم پکې دي شته چې په هره نسخه په بېلا بېل ډول خبرې کېږي.

**د "پ" لومړۍ نسخه :-** د "پ" د کتابتون د لومړۍ نسخې کچه ۲۳×۱۳ سانتي متره ده دا نسخه د سر او پای له خوا بشپړه ده، د مخونو شمېر یې (۲۵۱) او د پاڼو شمېر یې (۳۱۴) دی، دغه نسخه د شاه زمان د سلطنت په مهال کې لیکل شوې ده.

**د "پ" دویمه نسخه :-** د "پ" په کتابتون کې د رحمان بابا بله نسخه هم شته چې د دویمې نسخې په نامه نومول شوې ده ، د دغې نسخې کچه ۲۶×۱۴ سانتي متره او د مخونو شمېر یې ۱۴۱ دی ، د خطاطي کال او د خطاط نوم یې نه ښکاري . دا نسخه نیمګړې ده او ټول ۲۴۹ پاڼې یې پکې راغلې دي .

**د "پ" دریمه نسخه :-** د "پ" د کتابتون دغه نسخه هم د سر او پای له خوا نیمګړې ده د مخونو شمېر یې ۱۳۱ او پاڼو شمېر یې ۱۵۲ ته رسېږي او کچه یې ۱۶×۱۴ سانتي متره ده .

**د کابل پوهنتون د کتابتون نسخه :-** د کابل پوهنتون په لوی کتابتون کې هم د رحمان بابا د دیوان یوه قلمي نسخه شته چې د دغه انتقادي متن په تیارولو کې استفاده ترې شوې ده ، د دغې نسخې کچه ۱۵×۷ انچه او د خطاطي کال یې نه دی معلوم خو د ملا کمال د ملاوولي د زوی له خوا لیکل شوې ده ټول مخونه یې طلايي او سره چوکاټونه لري . د پاڼو شمېر یې ۱۴۴ دی چې ټول ۲۸۸ مخونه کېږي .

**د اطلاعاتو او کلتور د خطي کتابتون خطي نسخې :-** د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په خطي کتابتون کې د رحمان بابا د دیوان پنځه قلمي نسخې شته چې د دغه انتقادي متن په تیارولو کې استفاده ترې شوې ده او په ترتیب سره څېړنې یې کېږي :

**د "خ" مصوره نسخه :-** د دغې نسخې کچه ۱۸×۱۲ سانتي متره ده د لیک ډول یې نَسخ دی د پاڼو شمېر یې ۱۸۳ ته رسېږي چې ټول ۳۶۶ مخونه کېږي ۲۹۸ غزلې او دوه مخمسه لري . پښتې یې کېږه ، (۳۲) ښکلي عکسونه او یو نیم مخ نقاشي لري ، په کشمیر کې د ملاولي په قلم لیکل شوې ده .

**د "خ" لومړۍ نسخه:-** د "خ" دغې نسخې کچه ۱۳X۱۹ سانتي متره او د لیک ډول یې نسخ دی، د څرمنې پښتۍ لري.

د پاڼو شمېر یې (۱۶۰) دی چې (۳۲۰) مخونه کېږي (۳۵٤) غزلې او دوه مخمسه لري.

دغه نسخه په ۱۳۲۷ کال په کشمیر کې لیکل شوې ده.

**د "خ" دویمه نسخه:-** د خطي کتابتون د دغې نسخې کچه ۲۱X۳۳ سانتي متره او د لیک ډول یې نستعلیق دی

د پاڼو شمېر یې (۱۱۹) دی چې ټول ۳۳۸ مخه کېږي ۳۰۸ پارچې او دوه مخمسه لري، پښتي نه لري او لیکونکی یې معلوم نه دی.

**د "خ" دریمه نیمګړې نسخه:-** د خطي کتابخانې د دغې نسخې لیکونکی نه دی معلوم. د سر او پای له خوا نیمګړې ده کچه یې ۱۷X۲٤ سانتي متره او کاغذي پښتي لري. د لیک ډول یې نسخ او ۵٦ پاڼې لري چې ۱۱۲ مخه کېږي او ټول (۱۸۰) پارچې پکې راغلې دي.

**د "خ" څلورمه نسخه:-** د خطي کتابتون د دغې نسخې لیکونکی هم نه دی معلوم. د لیک ډول یې نستعلیق او کچه یې ۱۳X۲۱ سانتي متره ده، پښتي یې کاغذي او د پاڼو شمېر یې ۱۷٤ دی چې ټول ۳٤۸ مخه کېږي، ۳۲۹ پارچې پکې راغلې دي یو مینا تور لري او د هر غزل له پیل سره د بېرسنګلې او په زړه پورې ګل کارۍ شوې ده.

**د زلمي هېوادمل نسخې:** له ښاغلي زلمي هېوادمل سره هم د رحمان بابا د دیوان دوې قلمي نسخې شته چې د دغه

انتقادي متن په تیارولو کې کار ترې اخیستل شوی دی او په لاندې توګه خبرې پرې کېږي:

**لومړۍ نسخه :-** د دغه نسخې کچه ۱۷X۱٤ سانتي متره ده، ټولې ۷٤ پاڼې لري چې ۱٤۸ مخه کېږي. خطاط یې نه دی معلوم او په ۱۲۱۲ هـ.ق. کې لیکل شوې ده.

**دویمه نسخه :-** دغه نسخه ډېره زړه ده (۲۰۰) مخه لري او په هر مخ کې یې معمولاً (۱۸) بیته لیکل شوي دي چې په دغه حساب یې ټول بیتونه ۳٦۰۰ ته رسېږي.

**د حبیب الله رفیع نسخې :-** د ښاغلي حبیب الله رفیع په شخصي کتابتون کې هم د رحمان بابا د دیوان خلور خطي نسخې شته چې په دغه انتقادي متن کې استفاده ترې شوې ده چې دوې نسخې د ښاغلي احسان الله آرینزي له خوا ورکړل شوي دي او په لاندې توګه خبرې پرې کېږي:

**لومړۍ نسخه :-** یوه زړه نسخه ده سرا و پای نه لري، د خطاط نوم او د لیکلو کال یې نه معلومېږي. د مخونو شمېر یې (۱۹۰) ته رسېږي، په هر مخ کې یې معمولاً پنځلس بیته راغلي دي د دوو دفترونو په ولیشر لیکل شوې ده او کچه یې ۱۷X۲۱ سانتي متره ده.

**دویمه نسخه :-** د ښاغلي رفیع د کتابتون دغه نسخه هم زړه ده. د سرا و پای پاڼې یې نشته. تر لاسه شوي مخونه یې ۱۷٤ دي. هر مخ یې ۱٤ بیتونه لري. ټول شعرونه یې په یوه دفتر کې راټول شوي

پنځم شپېتم

او د دوو دفترو وېش نه لري. ترټولو نسخو زیاتي غزلې لري او تقریباً یوه وتلې نسخه بلل کېدای شي. کچه یې ۱۷,۵ × ۲۱ سانتي متره ده.

**دریمه نسخه** :- د بناغلي رفیع د کتابخانې د دغې نسخې د سرخو پاڼې لوېدلې دي. خطاط یې د ملاحسن زوی ملا قمرالدین دی. مخونه یې ۱۸۲ دي. او په هر مخ کې یې ۱۹ بیتونه راغلي دي. دغه نسخه په دوو دفترونو کې ترتیب شوې ده. حینې زیات بیتونه هم لري او کچه یې ۱۵ × ۲۵ سانتي متره ده.

**د ملا شایسته خان جونګ** : د ښاغلي رفیع په کتابتونو کې د ملا شایسته خان یو قلمي جونګ هم شته چې د رحمان بابا حینې غزلې پکې راغلي دي او د دغه انتقادي متن په برابرولو کې استفاده ترې شوې ده.

**خېړنیار محمد عارف غزوال**

اووه شپیتم

# د پاړکو لارښود

## د لومړیو مسریو د لومړیو توریو له مخې

ترتیبوونکی: حبیب الله رفیع

د دې لپاره چې د رحمان بابا د دیوان عنعنوي دود هم ساتل شوی وي، په دې لارښود کې د هغو غزلو مسریو ته چې د دیوان په زړو چاپونو کې په دوهم دفتر کې راغلي دستوري (*) نښه شوې او په دې ترتیب د لومړي او دوهم دفتر ولیشر سره شوي او هغه غزلې چې نوې موندلې شوې له مسرې سره یې کوچنۍ دایره (٥) کښښله شوې ده چې نوې موندل شوې غزلې په نښه کړي.

## آ

مخ

آشنايي بده بلا ده آشنا مه شي ٢٤٢
آفرين دعاشقانو په همت ٤٠

## ا

اعتماد به په دنيا كوې ترك ومه ١٧٠
اورنگ زيب او شاجهان غونډي اشراف ٧٩
* اورنگ زيب چې آرايش د تخت وتاج كا ١٩
اوښكې نه لري حساب زما د سترگو ١٢٢
اومه كله دي پاخه والي واعظ ٧٦
○ اې د نفس او د حرص په هوا لېوه ٢٨٥
اې زما د زړه آرامه راشه راشه ١٥٥
اېښې مې په سر دې ستا د مخ د مينې گل ٨٨

## ب

بادشاهانو كه قمرونه كړل بنياد ٤٦
* بادشاهي لري هر يو غلام د ستا ١٢
* باره وتره هله كښت، زراعت كړه ١٥٢
بد اختر به نيك اختر نشي هرگز ٦٩
* بدلوې په دنيا دين او ايمان ولې؟ ٢٥٤
○ بلبلان كه له گلزاره مومي حظ ٧٧
* بوص تو مارا کجا ہاتھ ہے ٢٧٦

* بیا دې مخ دی جار و تلی خه بلا شوه ۱۷۷
* بیا دې نوې شراب خښلي دي پوهېږم ۹۷
بیا مې زړه د تورو زلفو مسخر شه ۱۵۸
* بېلتانه دې هسې خوار کړ زما دل ۴۱

# پ

* پاخه یو ځله سېراب د عشق په جام شه ۱۵۹
ه پټ پناه مې په خاطر لګی اوږونه ۱۷۵
* پس له مرګه که څوك ارت غواړې خپل ګور ۶۵
* پورته بدن را شکاره شو سنګستان ۵۶
* په امید د ګاندهٔ ورځ زړور مه شه ۱۶۰
ه په اول کی تا د عشق وهلې لاف ۲۴۵
* په بزرګه د هغه پاك پروردګار ۵۰
په پیریځه کې چې هوس دی ناب کړې ۲۱۷
په تنده چې آتش بل کړ مدام شمع ۷۷
* په حالت د عاشقانو نظر بویه ۱۷۹
* په ځوانی کې بد دماغه بدګمان یې ۲۷۱
* په خاطر باندې مې ستا د غم غبار دی ۱۸۸
* په خاطر مې غلبه شول ستا غمونه ۱۷۴
* په دنیا کې که څه کار دی خود دین دی ۲۰۰
* په دنیا کې که هر څو وبله پیوند وې ۲۶۲
* په دنیا کې له دنیا ګوښه کنار شه ۱۵۷

په دنيا کې مخ د يار دی نور څه نشته ۱۳۶
په دوران مې هسې رنګ دلبر پيدا شه ۱۵۵
په ښادۍ ښاد شوی نه يم د هېچا ۱۱
په ښايست زما د يار نه دي خبر څوک ۸۵
* په ښه خوی له بدخواهانو بې پروايم ۱۰۱
* په طلب د هر ويانو سرګردان دي زمارو ۴۳
په ظاهر صورت چې ستا د در ګدای دی ۲۰۹
* په لېمه کې مې مدام ۹۳
په نامه د هغه خدای مې دا بيان دی ۱۹۵
په نظر د بې بصر ۵۹
* په نور څه پسې بې خدايه ژاړې ولې؟ ۲۵۵
* په ورځ ناست يې بې طلبه ۱۲۸
* په هر ځای چې ستا ثنا شي شبوه ګرې ۲۱۲
* په هر زړه چې د يار مينه شي غالبه ۱۳۱
په يوه ذره به وږی يا به موړې ۲۷۰
په يوه غمزه د سترګو يې فنا شوم ۱۰۰

## ت

تا چې په دا تورو سترګو وکاته وماته ۱۳۱
تا چې رنګ د ميو ورکړ و لبانو ۱۲۴
تا چې مخ د پېری سترګې د آهو کړې ۲۲۴
* تا خو زده زما د زړه له احتياجه ۱۳۷

* تبسم مې د وګړي په روزګار شي ۲۳۰
* ترابده وځې پورې به جفا کړې ۲۱۷
ترحد تېره شوه په یار پسې ژړا زما ۲٤
ترهغه حده پورته بد سړی شوم ۱۰۰
* تل به نه وي شګفته ګلزار د حسن ۵۵
* تل دې ستا د خواب آلود وسترګو خواب وي ۲۵۹
○ تل ژړا فریاد کړم د دلبر پر آستانه ۱۷۲
* تورلمبه مې د فراق په ژړا سپین شول ۹۲
ته په هره ګړۍ غم د سیم وزر خورې ۲۱۵
ته چې خپله بې عقلي هوښیاري بولې ۲۵۵
ته چې ما ته وایې چې په چا باندې شیدا یې؟ ۲۶۷
* ته چې ما ته وایې چې په خندکو بې ژړا! ۱۰
* ته چې هسې ګاه یې ترش ګاه یې خندان ۱۱٤
* ته شما یې شکرلبه ۱۲۹
ته ناحق په ما کینه کړې کینه مکه ۱۰
تېر شو په دا طمع په درست عمر زما ۲۸۲
* تېر شو درست عمر زما په دا هوس ۷۱

## چ

چا چې کړې دنیا و ته اسرې دي ۲۱۱
* چا چې لمړي وي په خپلو ویو وللی ۲۲۷
* چې امید په عمارت د دې جهان کا ۲۲

* چې امید په عمارت د دې د نیا کا ۱۷
چې برهم کا عاشقي د چا مزاج ۴۲
چې پاۍ بند شو د لیلی په اشتیاق ۸۰
* چې پخته شي آشنایي ۲۹۷
* چې په ذره مې تورلحد شي د خپل خاك ۸۲
چې په رود ورسره نه يې برابر ۵۷
چې په سترگو کې يې خار وي خه به خوب کا ۱۸
* چې په مخ باندې د اوښکو یو رقم وي ۲۶۵
چې په نورخه پورې زړه تړي بې خدایه ۱۷۹
* چې په وخت د ځنکدن وکاږي زیره ۱۴۹
چې پیدا شوه ستا چشمان داهسې شوخ ۴۹
* چې تر سنگ او تر آهنه يې زړه سخت وي ۱۸۹
چې خبر شوم د ساقي د جام له راحه ۱۳۷
* چې خیمه يې د سیلاب په مخ شوه لکه ۱۶۷
* چې دارو د درد وغم د ی هغه می ۲۷۴
* چې داهسې لاس په لاس دنیا پرېښودي ۲۰۲
* چې د ځنگه مې دلبر په لاس کې جام دی ۱۹۴
○ چې دوې سنځې وي د چا ۴
چې دې زړه دی پرې ترلی استوار ۵۱
* چې رته د یار شو نه بې چې رته غم د دل وجان ۱۱۶
* چې سرې له بله بد واېي بد گوی شي ۲۴۴

| | | |
|---|---|---|
| | چې شهید د تورو سترګو په خنجر شي | ٢٣١ |
| ○ | چې سبکاره شو رانه راز دیار له پټه | ١٦٣ |
| | چې علاج کولی نه شي د قسمت څوک | ٨٤ |
| * | چې غبار د ستا له لارې په خوا ورشي | ٢٣٢ |
| | چې غرقاب شي تر و چشمان په یم د زړه | ١٥٠ |
| * | چې کوتلي وي په تیغ ستا د چشمانو | ١٢٤ |
| | چې له تا سره په سر کاندې سودا | ١٥ |
| * | چې له سترګو مې خوناب د زړه عیان شه | ١٦١ |
| * | چې له مرګه یې پروا یې په هر دم | ٩٨ |
| * | چې له نازه پوشیده لرې چشمان خپل | ٩١ |
| * | چې مجنون غوندې یو موټی استخوان شي | ٢٤١ |
| * | چې مدام د بل وعیب و ته نظر کړې | ٢١٨ |
| | چې مشغول نه وي د ترکو په جمال څوک | ٨٦ |
| * | چې مې مینه خدای په تا باندې پیدا کړه | ١٥١ |
| * | چې مې یار ولید په سیمه د اغیار ګډ | ٤٩ |
| | چې نصیب یې سینه چاکه زړه افګار شه | ١٥٦ |
| | چې نظر کړم په قسمت او په نصیب | ٣٨ |
| * | چې نظر کړم د خوبانو ورخسار ته | ١٣٢ |
| | چې واده یې که په ډول او په سرنا | ٢٨ |
| | چې وصال د خپل جانان مې دی موندلی | ٢٥٣ |
| | چې ویلي مې له تا دی دا حدیث | ٤٢ |

* ما د دهر غم وهلی دی په لته ۱۳۳
* ما دستا لمن ته اچولی دا خپل ځان دی ۱۹٤
* ما سره سبا لیدلی ؤ د چا مخ ٤٥
* ما وې زه به نه کړم په خوبانو باندې مینه ۱۷٦
* مخ ته که دې نمر وایم د نمر زلفې تار تار نشته ۱۳٥
* مخ د یار شمس و قمر دې وار یو دے ۲۰۱
* مدام ناست یم وچ ګوګل سترګې په نم کې ۲٤۹
○ مست د غمزه یم چې مستانې لرې سترګې ۲۸۷
* مغرور مه اوسه د عشق په کاروبار کې ۲٤۸
مه غوږ باسه د نااهلو قیل وقال ۹۰

ن

○ ن نګار وما ته راکړ د یاره خط ۷٦
* نه رسېږي ستا وحسن وته حوره ۱٤٥
* نه یم خوښ د سرو ګلونو په سایا زه ۱٥۳

و

* وخت د عیش و طرب تېر شو خزان راغی ۲٤٥
* وخت د نوبهار دی زه جدا له خپله یاره ۱٤۲
* وخوبانو وته ولې نظر نه کړې ۲۲٦
ورځ چې بده شي عاقل ودانا څه کا ۲۱
* ورځ دې تېره په شومه کړه شپه له خوابه ۱۲۸
ورقونه لټوم د هر مکتوب ۳۸

| | | |
|---|---|---|
| | خود به وران شي د دنیا بازاره ناره | ۱۴۹ |
| * | خو زما په ورمېږه ماتول شبې لي | ۲۶۹ |
| * | خوی که په داشان وي دل آزار ستا | ۱۳ |

## د

| | | |
|---|---|---|
| | داچې مست په میو راغی یار دچا دی | ۱۸٤ |
| | داخه مخ دی منور | ٥٤ |
| | دا دنیا ده بې وفا | ۱۱ |
| * | دا ژوندي چې معلومېږي واړه مړه دي | ۲۰۸ |
| * | داشنا له لاسه ناست یم په زړه سترې | ۲۲۰ |
| * | دا یو څو نګه ژوندون دی نه پوهېږم | ۹۷ |
| * | د بلبل له حاله زده کړه په خزان کې | ۲٥۰ |
| | د بې دردو همدمي به دې بې درد کا | ۱۹ |
| ○ | د پېږوان غمي دي زیب کا په لبانو | ۱۲۶ |
| | د خپل ځان له خاکسارۍ نه بلند شوم | ۲۸٤ |
| | د دلبرو په درګاه | ۱۲۷ |
| * | د دنیا د سود د پاره غمګین مه شه | ۱٥۹ |
| | د دنیا کاروونه واړه غولول دي | ۱۹۳ |
| * | درېغه ولېدی یو ځل هغه مخونه | ۱۷٥ |
| | د زړه حال و تا نه څه وایم په ژبه | ۲۸۸ |
| | د ساقي په لاس کې جام د میو ناب دی | ۱۸٥ |
| * | دستار د به په تمام جهان ورته کړم | ۹۷ |

| | | |
|---|---|---|
| * | د سکوت په تیغ چې ژبه بریده شي | ۲٤٤ |
| | د عاشق بې خپله یاره قرار نه شي | ۲٤۳ |
| | د عاشق نظر په خوړو په خواب نه دی | ۲۰٤ |
| | د عشق زخم څه د زخم په شان نه دی | ۲۰٤ |
| | دغه یار دی دا اغیار | ۵۳ |
| | دلربا که د خپل حسن مخ عیان کا | ۲۸۳ |
| | د لمر مخ چې ستا له مخه نه شرمیږي | ۲۲۷ |
| | دل و دین مې هغې ترکې کړ رها | ۲۹ |
| | دنیا دار د دنیا کار کا زه د دین | ۱۱۳ |
| | دنیا دار که مستغني په سیم و زر دی | ۱۹۰ |
| | دواړه سترګې مې کړې دستا په لوري | ۱۹۱ |
| * | دوباره دې راتله نشته په دنیا | ۲ |
| * | د وصال په هوا والوتې مرغه شوې | ۲۶٤ |
| * | د وصال شپه مې بدله په بېلتون شوه الغیاث | ٤۱ |
| | د هجران له درده غمه ولې نه مرم | ۹٤ |
| ○ | د هغو چې په هجران شي سینه داغه | ۱۶۳ |
| * | د هغو چې وبله عشق و محبت وي | ۲۶۰ |
| * | د هغې بنا چې لوم محنت آبادوي | ۲۶۱ |


## ډ


| | | |
|---|---|---|
| * | ډېر عمر مې تېر کړ بېهوده په زمانه | ۱۷۱ |
| | ډېر یاران وو د ګل خان او جمال خان | ۱۱۰ |

* د یري خولې زما په یاد شکر خوړې شوې ۲۷۵

## ر

را شه مه کوه له چا سره جفا ۷

* راکوی د بېلتون پېغور ونه ۱۷۳

## ز

○ زړه مدام را ته ویل چې ژاړه ژاړه ۱٤۸

* زړه مې بایلو ستا په مهر و محبت کې ۲٤۷

* زړه مې بې له خپل نګاره آرام نه کا ۲۲

زړه مې تراشي د بڼو په تېره نوک ۸۳

* زړه مې ډوب ډوب کېږي ستا د غم په غلبو کې ۲۵۱

* زړه مې ستا په ذکر و فکر ګلستان دی ۱۹۸

* زړه مې ورکړ و خود رای ۱۸۰

زغره واغونده ملا و تړه په جنګ ۸۷

* زلفې دې له ډېرې درازه په پای ترسر دی ۱۸۹

* زما او ښکې چې داهسې شست وشو کا ۲۱

* زه بلبل ستا د وصال یم بوستان خو دی ۲۰۲

* زه په سل رنګه راغب ۳۹

* زه تېر شوی یم ترسر ۵۶

زه داهسې دیوانه او مجنون چا کړم ۹۶

* زه د ستا له غمه ژاړم واره وینې ۲۷۲

* زه دیار په درد و غم کې ښادمان یم ۱۰۵

* زه دیاں په دردو غم کې غرقاب خوش یم ۱۰٤
زه عار نه لرم په عشق کې له پېغوره ۱٤٤
زه کړلافه د وفا کوم هر چند ٤٨
زه له دې جهانه تلونی په شتاب یم ۱۰۱
زه یودم دستا له غمه بې غم نه یم ۱۰٨

## ژ

ژوبل ژوبل د ترکانو په نګاه یم ۱۰٦
* ژوندي کاندې د دنیا کاروبار ونه ۱٧٤

## س

ساقي پورته شه د میو جام تیار کړه ۱٥۰
○ ساقي راکړه ته و ما ته جام د رقص ٧٤
* سپین رخسار و مشکین خال دي وبله ضم دي ۱۹٤
سپین مخونه تور کودی شي په پېرې کې ۲٥۲
ستا په خېر نه دي خوبان لېدلي ما ۲٧
* ستا په عشق کې د روغږن یم سرتر سره ۱٤۳
ستا په عشق کې هسې خلاص یم له شعوره ۱٤٧
* ستا په مخ کې چې حساب د جمال نشته ۱۳٤
* ستا جفا تر حده پهور ته ده صنمه ۲٧٨
ستا د تور و ستر ګو په یادداشت مې او سکي اوري ۲۱٤
ستا د عشق حرفونه تور نه دی ګلګون دي ۱۹۹
* ستا د مینې ګوهر نشته په هر آب کې ۲٤٦

* ستا دې خواب آلود وسترګو خواب راتخریوله ۹۴
ستا له رحمه به زه ولې نا امیدی کړم ۲۸۶
* ستا له غمه مې په سر کې هسې شور دی ۱۹۱
* ستا له غمه مې په مخ باندې ولې دي ۲۱۱
* ستا له لاسه په ماجور دی که داد دی ۱۸۷
* ستا وصال دی رابښلی زما روح ۴۴
* سر زما سامان زما، خارشه ترجانان زما ۲۶
ہ سر مې په کار نه دی چې یې ستا تر سر قربان کړم ۹۵
* سل ځله که وخوري ناصحان ځیګر زما ۲۵

## ش

ہ شمع د دلبر ستر ګی عاشق پرې پروانه ۱۷۰

## ښ

* ښخ مې ستا د ښو غمې په سینه دي ۲۰۳
ښه ده ښه ده دا د نیا ۵

## ص

* صبحدم چې هغه یار راباندې راشي ۲۲۸
* صبح وشام مې لاس ښولې دي دعا کړم ۹۶

## ط

طمع مه کړه په دنیا کې د نشاط ۷۵

## ع

* عاشقان د ناصحانو وینا نه کا ۲۳

## اتبایم


| | | |
|---|---|---|
| * | عاشقان دي په اور سوي دي که نه دي | ۲۰۷ |
| | عاشقي را باندې سوري کړې مرۍ | ۲۱۳ |
| | عاشقي مې لې په زړه وکړه گوزر بیا | ۳۰ |
| | عالمان دي روښنايي ددې د نیا | ۱۰ |

غ

| | | |
|---|---|---|
| * | غمخواري دا هسې چېرې وې غمخوری | ۲۱۵ |
| * | غم دې هسې غلبه شو په ما باندې | ۲۰۰ |
| | غواصان که گوهر غواړي گوهر دا دي | ۱۸٤ |

ف

| | | |
|---|---|---|
| * | فراموش مې دې دستا په مینه ځان | ۱۱۶ |

ک

| | | |
|---|---|---|
| * | کردگلو کړه چې سپمه دې گلزار شي | ۲۲۸ |
| * | کشکې زه خاورې ابر بې دستا دره وای | ۱۸۱ |
| * | کله شولا کله خړېدا رېم ستا د غم | ٤۵ |
| * | کمیني یو نا دره کار دی | ۱۸۹ |
| | که بې ځای په زړگي نه وسېکی آواز | ۶۹ |
| * | که پېڅوا تر آشنایي وی ببلتون | ۱۲۰ |
| | که په بخت کم بختان نه ولې خسته دل غوک | ۲۸۳،۸۷ |
| * | که په سر دهغه یار له لاسه سنگ خورم | ۹۵ |
| * | که په عقل پسې ولاړم په کار نه شه | ۱۶۲ |
| | که په قطع د تمام جهان ملک يې | ۲۸۷ |

یواتیایم


که په گنج د شاهي فخر شهریار کا ۲۰
* که په هجر کې خوك ما پوښتي له حاله ۱۶۸
٥ که تر ستوني دې شي گوټ له جام خاص ۷۳
* که ترې ولوښته شاهان او سلطانان ۱۱٤
که ته نه کړې په بل چا باندې غرض ۷٤
که خوك فخر کا په ننگ او په ناموس ۷۱
که خوك لاس له سوده وکاږي زیان نشته ۱۳۵
که خوك یار په جهان غواړي یار دې دا ۱٤
* که څه وایم له هجرانه وایم څه ۱۳۹
که خپل زړه غواړې له چا ۱۱
* که د خلقو و نظر ته آدمی دی ۲۱۰
* که د درستې دنیا غم مې په سر بار وي ۲۶۲
که د زړه و مهر و سر وي خوږ چې مړ شي ۲۳٤
* که د زړه په وینو رنگ د چا گوگل شي ۲٤۰
* که دستا د خاطر مینه په اغیارو یي ۲۶٤
که د عشق خبر یې تېر یې تر گلو کړې ۲۲۳
که د عشق لاره اغزنه ده هر گوره ۶٤
* که د عقل څه اثر لري و سر ته ۱۳۲
که دلدار په دلدارۍ زما قدم ږدي ۱۹۲
٥ که دې پرې کړه له وگړیو رښتیا طمع ۷۸
* که دې غم د درست جهان تر زړه چا پېر شي ۲۳۲

دوا تیایم


* که زما مینه په تا ده خطا نه ده ١٤٠
* که ستا خپله سیاه زولي نه وي دښمنه ١٧٦
* که سري دخپلي پوهې تقصیر نه کا ٢٣
* که سل ځله هم کنار وهم بغل شي ٢٣٩
که صورت د محمد نه وی پیدا ٢
که قاصد یې د مقصود ٤٧
○ که گوهر د عشق په لاس راکړی غواص ٧٣
* که له تا یې شرم نه کیدی مهرِیه ٢١٤
* که له دېره غمه دم د چا ختی ٢٧٤
* که له مخه یوه خوا کا حجابونه ١٧٢
* که ماښام ترستونې ښکته کړې حلوا ٢٩
* که مطلب و مدعا د سړي خدای دی ٢٠٩
که مې څوك په فقیرۍ شمېري فقیر یم ١٠٣
که مین یې په خپل یار باندې رښتیا ٣٠
که مې وشي له دلبره ملاقات ٣١
که مې ونمانځي ساقي په یوه جام ٩٤
○ که مې یار په دیدن سرغواړي عوض ٧٥
که نظر په ما تو گودو دروغ گار کړي ٢٢٥
که نظر کا څوك په کار د درویشانو ١٢٥
* که هزار ځله نژدې د زړه په یاد یم ١٠٣
* که هر څو په صحرا سر شوم هم په کلیو ١٢٦

* که یو ځل مې هغه یار ولیدی دریغه ۱۶٤

* که یې مهر و محبت که یې عناد دی ۱۸۷

## گ

گاه په غاړه سوځیږي رېړن دي په ساړه ۱٤٨

* گوره بیا به څوك ادا په زړه کا غونډه ۱٤۱

گوره څه بلند مقام دی د اخلاص ۷۲

گوره هسې کردګار دی رب زما ۱

* گېډه وتړه په پړی سره کلکه ۱۶۸

## ل

* لاس مې وتړې د زلفو په طناب ۳۷

لکه کاندې په کوش و نظر باز ۶۸

* له اغیاره خندا څه په کار نه ده ۱٤۰

٥ له چشمانو مې د غم اوښې اوریږي ۲۱۶

له دې کته له پوزیه خوبه ولاړ شي ۲۳۳

* له هغوسره به څه فکر د یار وي ۲۶۳

## م

* ما به ولې کړ فریاد او فغان دریغه ۱۶٤

ما په تا پسې د اسپینې جامې رنګ کړې ۲۲۲

* ما توبې مې خوله په سوك ۸۳

ما چې جور و جفا بیا مونده له یاره ۱٤۲

* ما چې سترګې وګلرخ ته وار ولې ۲٥۳

* چې هر چا لېدلی نه وي یار زما ۲۹
o چې هر دم له خپله ځانه ګریزان یم ۱۰۹
* چې یې نقش په زړه خیال شي د آشنا ۲۸
چې یې ولید د ستا حسن بې حسابه ۳۹

## ښ

* ښو به شمېرم زه غمونه د هجران ۱۱۷
* ښو به صبر په جفا د یار کوم ۹۹
o ښو به هسې آزادي په دا جهان کړې ۲۲۱
* ښو تر میانه ورانه نه کړې د تن پوله ۱۶۹
ښو جفا قبوله نه کړې د اغیار ۵۲
ښوک دې راکاندې قسم په کردګار ۵۳
* ښو یو ځل یې تاراج په جفا نه کا ۲۱
ښه شو که خاموش یم ستا د عشق له آه سړه ۱۳۹

## خ

* خان سلطان دې د جهان ۱۱۸
خبر نه یم چې یې راوستم له کومه ۱۶۹
* خدای دې وژغوره له هرې پرېشانۍ ۲۷۱
* خدایه ښه شوه هغه سنګلي سنګلي خلق ۸۲
خدایه زړه د رقیب نرم په احسان کړې ۲۲۱
* خدایه مه کړه نا امید هغه وګړي ۲۱۹
* خراب زړه مې د دلبر و هوا یووړ ۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library




ورك شه ورك شه بدكردار او بدسيري ٢٧٣

* وركه عاشقي شه هم يې نوم هم يې نښان ١١٨

* ولې تللې يې له ما مدام په خه ١٣٨

* ولې نه ګورې وما ته سم په خه ١٣٨

* ولې ولې وعاشق ته نظر نه كړې ٢٢٦

ومحمود وته نظر كوه مدام ٩٤

* وښنته سپين سترګې تاريكې غاښ كنډاس ٧٠

ه

○ هرچې خپلې مينې خوار كړ خوارې مړ كړه ٢٨٤

هرچې ستا په نخدان كې يې منزل شي ٢٣٩

* هرچې ستا كوڅه ما واكا ١٦

هرچې كښت يې په باران او په سيلاب وي ٢٥٧

هرچې نه وي خوار و زار ٥٤

* هرچې ويني په سترګو روې دستا ١٣

* هرساعت زما دغوږ په تا وولو ١٢٣

* هرساعت كه خه ګوزران دې بې مخلصه ١٦٢

هرګفتار دې ويناچې خوك عبس كا ٢٨٢

* هرمطرب چې غوږ دې تا وكا درباب ٣٧

هرنګار چې بې وفا دې نګار نه دې ٢٠٦

* هروګړي چې منصور غوندې په دار شي ٢٢٩

هريو ګل دستا دباغ، روښن تر دې تر چراغ ٧٨

| | | |
|---|---|---|
| * | هسې بې یاره خفه یم په جهان کې | ۲۵۰ |
| | هسې تله کاندې وګوره یاران ژړې | ۵۷ |
| | هسې تېز ده رومي د و ر ا ن | ۱۰۹ |
| | هسې خوښ یم ستا د در په خاکسارۍ کې | ۲۵۱ |
| * | هسې ډوب یم ستا د غم په دریاب تللی | ۲۵۶ |
| * | هسې رنګ نعمت راکړی خدای ومادی | ۱۸۳ |
| | هسې مست یم ستا د شونډو په شراب | ۳۵ |
| | هسې نه چې زما یار واره جفا که | ۱۶۷ |
| * | هسې یادې همیشه مدام زما | ۲۵ |
| | هسې یمه یاره ستا په غم تازه | ۱۵۳ |
| | هغو بیاموند سعادت په دا دنیا | ۳۱ |
| | هغه دم چې زړه ملال شي | ۲۳۴ |
| | هغه زړه چې خدای روښان کا جام د جم شي | ۲۴۰ |
| * | هغه زړه چې ستا د عشق په اور کباب کي | ۱۸۵ |
| | هغه ژوی چې بې خدایه محبت کا | ۱۹ |
| | هغه ژوی چې مین وي ښه به خوب کا | ۱۷ |
| | هغه یار چې بې وفا دی ښه یار نه دی | ۲۰۷ |
| * | هغه یار چې ښایسته دی تر آفتاب به | ۲۷۹ |
| | همیشه دې زما سر او ستا قدم وي | ۲۶۶ |
| | هوښیار مه ګڼه هوښیار د دې دنیا | ۳۳ |
| | هومره اوښکې مې بهېږي په رخسار | ۵۱ |

* هیڅ ثابت نه کړه چا دې دنیا وفا — ٤

هیڅ مې نه زده نه پوهېږم دا څه پېښه — ١٥٨

هیڅ مې نه کړه په دا عمر کې حاصل — ٨٩

هیڅوک مه شه ګرفتار د تورو زلفو — ١٢١

## ی

○ یاد استا چشم و ابرو وینم په خواب کې — ٢٨٦،٢٤٦

یادوې په خوله مکه او مدینه — ١٧٧

* یار یاري راسره نه کا الغیاث — ٤١

○ یو ځل ولیدې دیار پرېشانې زلفې — ٢٥٢

* یو یو داغ په تن راسي دهر چا دی — ١٨٢ .

بسم الله الرحمن الرحيم

وره هستي کردګار دی رب زما — چي صاحب د کل اختيار دی رب زما

همګي بزرګواران چي څوک يې وای — تر همه وو بزرګوار دی رب زما

نه يې هيڅ حاجت په چا باندي موقوف دی — نه د هيچا منت بار دی رب زما

له نيستي يې د هستي صورت پيدا کا — هسي رنګ پروردګار دی رب زما

هم صانع دی د جملو مصنوعاتو — هم سامع د هر ګفتار دی رب زما

چي يې هيڅ يې نه مثل نه مثال شته — د جملو عطر و عطار دی رب زما

هر تعمير چي د دنيا او د عقبی دی — د همه و معمار دی رب زما

خوانندهٔ د نانوشتو صحيفو دی — دانندهٔ د هر اسرار دی رب زما

که ظاهر دی که باطن دی که مابين دی — له همه و خبردار دی رب زما

که پيدا که پوشيده دی که اوسط دی — په همه و وقوف دار دی رب زما (۱)

شريک نه لري په خپله بادشاهي کي — بې شريکه شهريار دی رب زما

هسي نه چي واحد يې ياده له عجزه — په واحد وجود بسيار دی رب زما

څه حاجت دی چي ويل خواته يې غوارم (۲) — په خپل کور کي همکنار دی رب زما

حاجت نه لري د هيچا و ياري ته (۳) — له هغو سره چي يار دی رب زما

هيڅ تغير او تبديل نه لري دائم — تل تر تله برقرار دی رب زما

۱ — ۱۵

---

(۱) دا بيت د "ب" په قلمي نسخه او د کلتور وزارت په دوو قلمي نسخو کي نه دی راغلی.

(۲) قلمي نسخي: "څه حاجت دی چي يې بله خواته غوارم".

(۳) د "ب" په نسخه کي "حاجت نشته د نوره چا و ياري ته"، د "خ" په اوله نسخه کي "حاجت نه لري د نوره چا و ياري ته"، او په دوهم نسخه کي "حاجت نه لري د نورو و ياري ته" راغلی دی.

که صورت د محمد ﷺ نه وی پیدا
پیدا کړی به خدای نه وه دا دنیا
کل جهان د محمد په مخ پیدا شو
محمد دی د تمام جهان آبا
نبوت په محمد باندې تمام شو
نشته پس له محمده انبیا
نور هاله د محمد وُ پیدا شوی
چې نه عرش وُ نه کرسي وه نه سما
بوی هاله د محمد وُ په جهان کې
چې بوی نه وُ د آدم او د حوا (۱)
که صورت یې آخرین دی پیدا شوی (۲)
په معنی کې اولین دی تر هر چا
که نبي دی که ولي دی که عاصي دی
محمد دی د همه وارو پیښوا
چې یې دین د محمد دی قبول کړی (۳)
جنتي دی که فاسق دی که پارسا
محمد د ګمراهانو رهنما دی
محمد دی د ړندو د لاس عصا
که نه ده پیروي د محمد ده
ګنه نشته په جهان بله ړڼا
محمد د بیچاره وُ چاره ګر دی
محمد دی هر دردمند له دوا
خدای یې مه ګڼه بیشکه چې بنده دی
نور یې کل واړه صفات دی په رښتیا (۴)

۲
نه ده تاج د محمد د در خاکروب یم
که مې نه کا خدای له دې دره جدا (۵)

۲۸

دوباره دې راتلل نشته په دنیا
نن دې وخت دی که دروغ کړې که رښتیا (۶)
هر چا چې تر وخت تیر شي عنقا شي
عنقا نه دي په دام نښتي د هیچا
تر وخ تیرې اوبه بیرته نه جاروزي
نه جاروزي تیر ساعت په بیرته بیا
تیر ساعت په مثال مړی د لحد دی
مړ چا نه دی ژوندی کړی په ژړا (۷)
که مقصود لرې تلوار کړه وخت کوتاه دی (۸)
غره مه شه د دې عمر په بقا

---

(۱) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نه دی راغلی.
(۲) د "ب" په نسخه کې: "خه شو که صورت یې آخرین دی پیدا شوی". د "خ" په لومړۍ نسخه کې "که صورت یې آخرین وُ پیدا شوی"، په دوهمه نسخه کې: "په دا خه شو که صورت یې آخرین دی پیدا شوی"
د "ب" چاپ: "په صورت که آخرین دی پیدا شوی په معنی کې اولین دی له هر چا".
پېښور چاپ: "که صورت یې پیدا شوی آخرین دی په معنی کې اولین دی تر هر چا".
(۳) د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "چې چا دین د محمد دی قبول کړی".
(۴) د "ب" لومړۍ نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې: "نور محمد واړه صفات دی په رښتیا".
(۵) د "ب" چاپ: "که مې خدای نه کا له دې دره جدا".
(۶) دا غزل په مصوره نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه کې نشته، په چاپي دیوانونو کې د دوهمې مسرۍ د "وخت" پر ځای "وار" راغلی دی.
(۷) قلمي نسخې او د "ب" چاپ: "مړ چا نه دی ژوندی کړی په دنیا".
(۸) د "ق، ک" چاپ: "که مقصود لرې په ژړه کې وخت کوتاه دی".

هره نښه چې صحیح ګڼې په زړه کې — په غرور به د غه[1] نښه کړې خطا
په امید امیدې خلق نا امید کړل — د ایام له مکره مه شه بې پروا
چې د مرګ په تماچه دې شي خوله ماته — ترو به ماته خوله به ځرنګ کړې ثنا[2]
ویر ژړلي ارتینې چې وینا وایي[3] — تا ته وایي که پوهېږې دا وینا
هلاك ندي چې په زور دې خوك تعلیم کا — هم عاقل یې هم بالغ یې هم دانا
په حمل د نېك و بد و فهم[4] وکړه — چې په دا کې دې بهبود دی که په دا
سر د ننه په ګرېوان کړه ستر ګې رونې — ډېر په پورته پورته مه ځه سر هوا
سر هوا سر هوا مه ځه و آسمان ته — ته په اصل کې له ځمکې یې پیدا
د حمل په ځای به دا پوښتنه نه وي — چې ته زوی یې یا لمسی یې د فلانا[5]
په خپل ځان ښېګڼه وکړه غره مه شه — په ښېګڼه دادې او د بابا[6]
هغه ناوې چې په ځان ښایسته نه وي — څوك یې څه کاندي ښایست د مور و نیا[7]
دا خبره زه و ځان ته کړم ای یاره[8] — دلګیر مه شه که مې نوم واخیست دستا
نوم دستا او د بل اخلم ځان ته وایم — دا عیبونه دي همه واړه زما[9]
هر چې وایم همه واړه ځان ته وایم — نه مې کار نه مې غرض شته په نورو چا[10]
هر چې وایم همه واړه ځان ته وایم — دا عیبونه دي همه واړه زما[11]
که مې ځای د دې غمونو وي په زړه کې — ما به څه له کوله دا انشا

٣ — چې د مرګ سختي خوارۍ دا ستا په خوا دي[12]
ای رحمانه ولې نه مرې لا پخوا — ٥٠

---

(1) د "ب" له لومړي نسخې، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ نه پرته په نورو ټولو کې "هغه" راغلی دی.
(2) د "ب" چاپ، "ب پ" چاپ، "ق" چاپ او د "خ" "لومړۍ نسخه": "ترو به ماته خوله به څه کوې ثنا" ـ د "ق، ک" چاپ: "بیا به ماته خوله به څه وایې ثنا".
(3) د "خ" "لومړۍ او دوهمه نسخه او د "ب" لومړۍ او مختلط نسخه": "ویره ژړلي ارتینې چې وینا وایي".
(4) د "ب پ" چاپ کې د "فهم" پر ځای "عمل" راغلی دی.
(5) د "ق، ک" چاپ کې د لومړي مسرۍ "نه وي" پر ځای "نه شي" راغلی دی او دوهمه مسره یې داسې ده: "چې ته زوی یې د فلانی ... د فلانا".
(6) د "ب" لومړۍ نسخه: "په خپل ځان ښېګړه وکړه که مړه وې غره مه شه په ښېګړه دادې او د بابا". د "ق" چاپ: "چې ته خوی یې یا لمسی یې د فلانا".
(7) د "خ" لومړۍ نسخه: "څوك یې څه کاندي ښایست د مور و نیا". د "خ" دوهمه نسخه، "پ" چاپ، "ب" چاپ او د "ب" مختلط نسخه: "څوك یې څه کوي ښایست د مور و نیا".
(8) د "ق" چاپ: "دا خبره کړم ځان ته زه هو ښه یاره".
(9) چاپي دیوانونه: "نه مې کار نه مې غرض شته په بل چا".
(10) دا بیت په "ب" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته. د "ب پ" چاپ کې یې دوهمه مسره داسې ده: "نه مې کار شته مې غرض ده په نورو چا". د "خ" په لومړۍ نسخه کې "په بل چا" راغلي دي او د "خ" په دوهمه نسخه کې د لومړي مسرې د "همه واړه" پر ځای "همګي" راغلي دي.
(11) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نه دی راغلی.
(12) د "ب" لومړۍ نسخه: "چې د مرګ سختي خوارۍ دي په خوا دي". "ق" چاپ: "چې د مرګ سختي خوارۍ دې وي په خوا کې". د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه او د "ب" مختلط نسخه: "چې د مرګ سختي خوارۍ دې لا په خوا دي".

هېڅ ثابته نه کړه چا دې دنیا وفا — واړه میني کاندې بېهوده په دا دنیا (۱)
هر څوک چې دعوی په دا دنیا کا د خپلو ای — واړه باطل وایي دنیا نه ده د هېچا
دا فلك كلال دی سازول او ماتول کا — د بڼې ما و تا غوندې پیدا کړه هم فنا
هر سنګ و کلوخ چې څرګند بڼې دې د هم — واړه ګکړې دي څوک د شاه څوک د ګدا (۲)
دام دې هېڅوک نه بندي د دنیا و هګدی ته — سنګار به و کړي نه شي د سیمرغ او د عنقا (۳)
هر څوک چې لږ دې فاني نفس وابستګي کا — نه به شي تر لې په څنځیر سره هوا (٤)
ماه دی که آفتاب دی عاقبت واړه خراب دي — ګل که همېشه وي هسې نه تر ابدا (۵)

٤ — ٥٨

مد ره و مد تاح (نانه) په خلاف د دا نایانو
مینه د دنیا پسند لې نه ده هېڅ دانا

چې دوه ښځې وي د چا — هم سني وي هم پارسا (٦)
خدمت کړي د خښتن وي — په ښه خوی وي اراستا
تفاوت پکې حرام دی — که شري وي که خاصا
لازم دا دی وخښتن ته — تفاوت دې نه کا بیا
په خوراك هم په پوښاك کې — که ګنه وي که حدوا (۷)
او که دا هسې به نه کا — خپل عمل به کا بېدیا
یو دلې به مجنون و مري — بل هورې به شي ړنوي سیا
دا حدیث دی وارد شوی — که څوك فهم کا په دا
هغه څوك چې تفاوت کا — زه ویناړیم دی لړما
په مشکوة کې دي راغلي — ورشه وپوښته عاما

٥ — ٦٩

تاح (ان) ژغوري یوه خدایه
له عذابه له خطا

---

(۱) دا غزل د "خ" په دوهم نسخه کې نشته. په چاپي دیوانونو، د "خ" په لومړۍ او مصوره نسخه کې د "بېهوده" پر ځای "بې وفا" راغلی دی.
(۲) د "ب" لومړۍ نسخه: "واړه ګکړې دي څوك د شاه و د ګدا".
(۳) دا بیت او ورپسې بیتونه په مصوره نسخه کې نشته.
(٤) د "ق. ک" چاپ: "کله شي تر لې په څنځیر سره هوا".
(۵) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، د "ب" چاپ کې داسې دی: "ماه دی که آفتاب دی همګې واړه خراب شي ګل که همېشه وي هسې نه تر ابدا".
د "ب" لومړۍ نسخه: "ګل که همېشه وي هسې نه تر ابدا".
(٦) دا شعر د هغه دوران له مجموعې څخه چې په ۱۸٤٧ کال کې خپره شوې ده نقل شو او د "ب" په دریمه نیمګړې نسخه کې هم وروسته لاس ته راغی.
(۷) په اصل نسخه کې "خذوا" راغلی دی مګر معنی یې څرګنده نه شوه ځکه نو دلته د "حدوا" په شکل ونیول شو چې معنی یې "نال" دی.

ښه ده ښه ده دا دنیا — چې تو ښه ده د عقبا
مذمت د دنیا مه کړه — واوره پند کړه د اوینا
د دنیا په بازار کېږي — د هغه جهان سودا
په دنیا کې ډېر حکمت دی — پرې پوهېږي حکما[1]
که غلیم لره یې ورکړې — غلیم دوست کا په هوا
که ترسره یې صدقه کړې — رفع دفع کا بلا
که په اور باندې یې کېږدې — بوی د عود و کا پیدا
که یې تویه په صحرا کړې[2] — ښایسته کاندي صحرا
که یې نذر کړې و پیر ته[3] — خوشحال دي وي په خندا
څوک وندي وي په جهان کې — یاد وي یاد دي په دعا
د حاتم په خېر دي ستایي — خطاب درکا د سخا
سخي هر یو د خدای دوست دی — ولو کان فاسقا
هر بخیل د خدای دښمن دی — ولو کان زاهدا
دنیا کښت د آخرت دی — دا خبره ده رښتیا
د دنیا طالبان ډېر دي — که یې مومي څوک لږ چا
ولې مرد پکې هغه دی — چې سخي وي هم پارسا
په دنیا کې بدي نشته — که بدي نه وي له تا[4]
په دنیا کې خطا نشته — که له تا نه وي خطا[5]
دنیا بحر دی ښه پېژنې — ایینې غوندې صفا
خپل خپل مخ پکې لیده شي — که څوک زشت وي که زیبا
هم خطر پکې د سر شته — هم ګوهر دی بې بها
وفادار لره وفا شوه[6] — جفاکار لره جفا
له دیوه مخه یې درد وي — له بل مخه یې دوا[7]

---

(1) پېښور چاپ او قلمي نسخې: "ورشد وپوهښته حکما".
(2) د "پ" چاپ او "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "که یې توی کړې په صحرا کې".
(3) د "پ" لومړۍ نسخه: "که یې ورکړې وفقیر ته".
(4) د "پ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "که له تا نه وي خطا".
(5) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته.
(6) د "خ" دوهمه نسخه: "ویاکار لره و پاشوه".
(7) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی، د "خ" دوهمه نسخه او د "پ" نسخې: "له دیوه مخه دوا".

چې ته خوند کاندي د زهد      چې ته خوند کا د حلوا
کار هم واره موقوف دی      د سړي په مدعا
سالکان دي بي ننداره چې شي      د خپل ځان په تماشا
هیڅ کار هغه به مومي      دنیا ځای دی د جزا
لکه وي یا هسې به پاتې      که نادان وي که دانا
فتوی ونیسه په مخ کې      پسې مه کړه په تقوا
دنیا نه ده هغه دین دی      چې له هغې وي سېوا
وطاعت و ته ولاړ وي      همېشه ترې لې ملا
له حرامو یې پرهېز وي      هم مشغول په پنج بنا[1]
کلمه یې وي قبوله      هم په جهر هم خفا[2]
د دنیا د کار د پاره      فرض لونځ نه کاندي قضا[3]
هم صائم د رمضان وي[4]      هم زکوة کاندي ادا
که یې توان د حج رسېږي      حج هم وکا پسې بیا
دا پنځه بنا د دین دي      چې بیان یې وکړ ما
چې یې یون په دا طریق وي      هغه کس دی اولیا
کړې یې مال د دنیا ډېر دی      هیڅ دې نه کاندي پروا
دنیا بده د هغو ده      چې یې کسب وي ریا
یا یې کسب د ربا وي      یا یې وکړي په غلا[5]
یا یې تول له کا په ظلم      یا د خمر[6] په سودا
یا یې وکا په شراب      یا یې وکا په زنا

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه: "پای شپول پنج بنا"، د "ب" دوهمه نسخه: "بیایې شپول وي پنج بنا".
(۲) د "ب" چاپ کې "هم په جهر په اخفا"، په پېښور چاپ کې "هم په جهر هم خفا"، د "پ" په لومړۍ نسخه کې: "هم په جهر هم خفیا" د "خ" په لومړۍ نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه کې "هم په جهر هم په خفا" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "فرض لونځ نه کاندي قضا" راغلی دی.
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(٤) په پېښور چاپ کې "هم صایم وي د رمضان" او د "خ" لومړی نسخه "هم صایم به د رمضان وي" راغلی دی.
(۵) دا بیت د "ب" چاپ کې نه دی راغلی
(٦) په چاپي دیوانونو کې او د "ب" په دوهمه نسخه کې "خمر و" راغلی دی.

یا ناحق خونونه کا ندي — یا مالونه خوري د چا
عبادت کا په ځان فرض — د باد شاه د امرا (۱)
حق باطل کا، باطل حق کا — په سبب د روي ریا (۲)
نه یې ویره شي (۳) له خدایه — نه یې شرم نه حیا
دیوې ګیډې د پاره — هزار خونې کا بېدیا (۴)
همېشه یې له ستمه — خلقه وي په غوغا (۵)
ګوش او هوش یې هرګز نه وي — د مظلومو په ژړا
د فرعون په څېر به (۶) ناستوي — بې پروا او کبریا
بتخانې وته یې مخ وي — و مسجد وته یې شا
اختلاط کا له بدانو — له نېکانو وي جلا (۷)
هېڅ یې نه وي په خاطر کې — تولا و تبرا

و

۶

۱۲٤

ته پېښنه مه کړه (۸)

خدای په هسې رنګ بلا

را شه مه کوه له چا سره جفا — لر ژوندون دې ضایع کېږي بېوفا
په دنیا کې هېڅوک نه دي پاتې شوني — واړه تلوني دي کډنن دي که سبا
د یاران چې نن وتا وته جلوه کا — په دوه ورځې پس به واړه شي فنا (۹)
که دیدن دې د دوی خوښ وي وته ګوره (۱۰) — چې فنا شي بیا به کله شي پیدا
د خزان پاڼې چې بېلې شي له ښاخه — په حکمت به یې پیوند نه کا حکما
چې په ځمکه څاڅکي پرېوځي له آسمانه — بیا له ځمکې ختې نه شي په سما
ګومان مه کړه چې بیا ستر ګوله وړشي (۱۱) — هغه اوښکې چې له ستر ګو شي جدا

(۱) د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلي ده: "د باد شاه او د ګدا". د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلي ده: "د بادشاه وامراء" د "پ" لومړي نسخه: "د بادشاهانو د امرا".

(۲) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نه دی راغلی.

(۳) په چاپي دیوان کې د "شي" پر ځای "وي" راغلی دی.

(٤) د "پ" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړي نسخه کې د "بېدیا" پر ځای "پیدا" راغلی دی.

(۵) په چاپي دیوان کې "واړه خلګ وي په غوغا" او د "خ" په دوارو قلمي نسخو کې "خلقه دي په غوغا". او د پښتو ټولنې په دوهمه نسخه کې "خلقې وي په غوغا" راغلی دی.

(۶) د "خ" په دوارو نسخو او د "پ" په دوهمه نسخه کې "به" نه دی راغلی.

(۷) د "پ" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کې "سیوا" راغلی دی.

(۸) د پېښور چاپ: "ما رحمان ته پېښنه مه کړې".

(۹) د "پ" په لومړي او په دوهمه نسخه کې "په دوه ورځې پسې به واړه شي فنا". او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلي ده: "په دوه ورځو پس به واړه شي فنا".

(۱۰) دا مسره د "خ" په لومړي او دوهمو نسخو کې "که دیدن دې د چا خوښ وي ور ته ګوره". او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلي ده: "که دیدن دې حبیب خوښ وي ور ته ګوره".

(۱۱) د "پ" لومړي نسخه "ګومان مه کړه چې به ستر ګوله بیا ور شي". د "پ" په دوهمه او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلي ده: "ګومان مه کړه چې بیا ستر ګوله ور شي". او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلي ده: "ګومان مه کړه چې نه ستر ګوله ور شي".

دا په هره ورځ چې خېږي بېل بېل نعم دي — هر چې پرېوځي هغه نه شي خټني بيا
که جنت په زهد نه دی بې کرمه (۱) — هر سړي دې خپله غاړه کا ادا
که د نفس (۲) د پاره سل محنته وکړي — يو محنت به دې په کار نه شي فردا
که تمام جهان په خپله ګېډه وخوري — ياد به نه شي په درود او په دعا
که يوه دانه (۳) دوږي په لاس ورکړي — هم دغه به دې توښه شي د عقبا (۴)
که يو څاڅکی اوبه ترږي لره ورکړي — د دوزخ او ستا ترمیان به شي دريا
که يو ځله سر د خدای د پاره (۵) ټيټ کړې — په قيامت به سربلند شې تر هر چا
بازار دا دی که څوک سودا وسودا کاندي — په هغه جهان نه سود شته نه سودا
آشنايان که څوک (۶) پوهيږي نن يې وخت دی — چې زاريږي يو آشنا تر بل آشنا
که ژوندون دی څوږ هم دادی په جهان کې — چې له چا سره تېرېږي په خندا (۷)
خدای امان دا کړه له هسې زندګۍ (۸) — چې ته بد وايې له بله، بل له تا
زړه ښه دی که په صلح او په صلاح وي — نه شکرې په فتنه او په غوغا
نس په خاورو په خس ډک ښه دی بې غمه (۹) — نه غم په خار و خس پخه حلوا
ما ته ملا په مشقت په محنت ښه ده (۱۰) — نه حرام همیانۍ د چا تر ملا
ړوند بهتر دی چې څه نه ويني په سترګو — نه چې سترګي په پردي حرام کا وا (۱۱)
ګونګ بهتر دی چې بې کام بې زبان وي — نه چې ژبه شي په بد ويل ګويا (۱۲)
کوڼ بهتر دی چې څه نه اوري په غوږو — نه چې غوږ کاندي په بد ويل شنوا (۱۳)
ديوال ودکه په خوا درشي خو بهتر دی — خدای دې بد سړی درنه ولي په خوا (۱۴)

---

(۱) په چاپي ديوانونو کې "بې له فضله" راغلي دي. او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مصرع داسې راغلې ده: "که جنت په زاهدي نه دی چا موندلی".
(۲) په "پ" چاپ کې د "نفس" پر ځای "نس" راغلی دی.
(۳) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "يوه دانه" پر ځای "يو ذره" راغلی دی.
(۴) د "پ" په دوهمه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "عقبا" پر ځای "بقا" راغلی دی.
(۵) په پېښور چاپ، د "پ" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "دپاره" پر ځای "په لوري" راغلی دی.
(۶) د "پ" لومړۍ نسخه: "آشنايان که څو پوهيږي نن يې وخت دی". او په پېښور چاپ کې داسې راغلې ده: "آشنايان که څه پوهيږي دا يې وخت دی".
(۷) دا بيت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۸) د "پ" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "خدایه امان وکړې له هسې زندګيه". د "خ" په دوهمه نسخه کې: خدای امان وکړې له هسې ژوندګسه.
(۹) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۱۰) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۱۱) دا مصرع د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "نه چې سترګي په پردي ده دنيا نوا" او همدا بيت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۱۲) دا بيت په پېښور چاپ کې: "ګونګي ښه دي چې بې کامه وبې زبان وي ـ نه چې ژبه شي په بد ويل ګويا". د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې: "ګونګ بهتر دی چې بې کامه بې زبان دی ـ نه چې ژبه شي په بد ويل ګويا". او د "پ" په دوهمه نسخه کې: "ګونګ بهتر دی چې مکام سرپاند دی نه چې ژبه شي په بد ويل ګويا" راغلی دی.
(۱۳) دا بيت د "پ" په چاپ، د "پ" دوهمه نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی.
(۱۴) دا بيت د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "ديو دده که پخوا درشي بهتر وی که له چا سره همدمه دی اژدها". او د "خ" په دوهمه نسخه کې يې لومړۍ مسره داسې راغلې ده: "ديو لېوه که پخوا درشي بهتر دی."

د جاهل تر همدمۍ نه به بهتر وي — که له چا سره همدم مروي اژدها (۱)
که مشکل دي خو دنړۍ نو رغول دي — سهل کار دی سودا و زيان د دې دنيا
سودا او زيان د دنيا واړه سهل کار دی — خرابې دې نه کا څوك په سهل کار سودا (۲)
چې د ورور او د عزيز زړه پرې آزار شي (۳) — حاصل مه شه هغه خپله مدعا
ښه خواره چې يوې خورې بل ورته ګوري — خواره نه دي هغه زهر دي ګويا
ګاه د نورو رضا بويه ګهې خپله — په کار نه ده همېشه خپله رضا (۴)
چې بنا دي لې يو زمان وې غم تر تله — دغه هسې چارې نه کا نه دي دانا (۵)
لکه ځان هسې و بل و ته نظر کړه — لکه ستا دی هسې ځان دی د هر چا
منصفانو لره بويه چې انصاف کا — نه چې نغوته کا د حرص او د هوا
د سړي په خاطر هر څه هر څه کړ ځي — هسې نه چې واړه وګڼي روا (۶)
دين داران دې و خپل دين و ته نظر کا — څوك فکر وند د صواب دي څوك خطا (۷)
خرابې دې نه کاندي خطا د چا له لاسه — څه نسبت دی د خطا و د عطا (۸)
هسې نه چې سړي واړه سره سم دي — څوك عالي (۹) دي څوك اوسط دي څوك ادنا
د هر چا حرمت په خپله اندازه دی — نه چې ځای مومي نفر د امرا (۱۰)

زه رحمان له چا شکوه شکايت نکړم (۱۱)
نشته بل دوست او دښمن زما بې تا

۷ — ۱۹۴

---

(۱) دا بيت د "پ" په دواړو نسخو کې نه دی راغلی.
(۲) دا بيت د "خ" په دواړو نسخو کې نه دی راغلی.
(۳) پېښور چاپ: "چې د ورور او د عزيز پرې زړه آزار شي". د "پ" دويمه نسخه: "چې د ورور عزيز زړه پرې آزار يږي".
د "خ" لومړۍ او دويمه نسخه: ا- لومړۍ نسخه: "چې د ورور د عزيز زړه پرې آزار يږي". په دويمه نسخه کې د "آزار يږي" پر ځای "زهير يږي" راغلی دی.
(٤) دا بيت د "پ" په دواړو نسخو کې نه دی راغلی.
(۵) دا بيت د "خ" په دواړو نسخو کې نه دی راغلی.
(۶) د "پ" لومړۍ نسخه: "نه چې هم واړه وګڼي روا". او د "خ" په دواړو او د "پ" په دويمه نسخه کې داسې راغلی دی: "نه چې وګڼي هم واړه روا".
(۷) دا مسره په "پ" چاپ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده "څوك فکر وند د صواب څوك د خطا" په پېښور چاپ کې داسې راغلې ده:
"څوك فکر وند د ثواب کا څوك خطا". د "پ" په دويمه نسخه کې "څوك فکر وند د ثواب وي څوك خطا". او د "خ" په
دويمه نسخه کې "څوك پکر وند د عطا دی څوك خطا" راغلی دی.
(۸) دا بيت د "خ" په دواړو نسخو کې نه دی راغلی.
(۹) د "پ" چاپ، پېښور چاپ، او د "خ" په دواړو نسخو کې د "عالي" پر ځای "اعلى" راغلی دی.
(۱۰) دا مسره په پېښور چاپ، "پ" چاپ، او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "نه چې مومي کفر ځای د امرا".
(۱۱) د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "رحمان شکر شکايت له هيچا نکړم — نشته بل دوست دښمن ځما بې تا".
د "خ" په دويمه نسخه کې: "زه رحمان شکر شکايت له چا نه کړم — نشته په جهان کې بل دوست دښمن ځما".
او د "پ" په دويمه نسخه کې: "رحمان شکوه شکايت له هيچا نکړم — نشته بل دوست دښمن ځما بې ما".

ته چې ماته والې چې په څه کوې ژړا — نه در معلومیږي دغه (۱) خپل جور و جفا
ته جور و جفا کړې زه ژړا کوم دلبره — ستا که دغه نه وي دا به هم نه وي زما (۲)
څه بنادي به کاندي طایفه د عاشقانو — رسم د بتانو (۳) که هم دا وي لکه ستا
دا خصلت چې ستا دی که هم تل په دغه شان وي — نه را معلومیږي دد رد منو زړو دوا (٤)
یو د ستا ماڼي شو بل غورځي (۵) د رقیبانو — وار په وار مې وژني کله هغه کله دا
هر چې عاشقي کا که په قطع افلاطون وي — زه خو یې مجنون ګڼم که نن وي که سبا
سپی هم په عذاب د جدایي د وژلو ندی — زه خو ګونډې ستا د کوڅې سپی شوم په دنیا (۶)

۸ — ۱۷۲

هیڅ مې په کار نه دی رحمان تا غواړم دلبره (۷)
زه په دا راضي یم باقي هر څه ستا رضا

عالمان دي روښنایي د دې دنیا — عالمان دي د تمام جهان پېښوا
که څوك لار غواړي و خدای هم و رسول ته — عالمان دي د دې لارې رهنما
کیمیاګر که د کیمیا په طلب ګرځي — همه مې د عالمانو ده کیمیا
په مجلس د عالمانو به سره زر شي — که څوك کاڼي وي که لوټه د صحرا (۸)
جاهلان دي په مثال د مړدګانو — عالمان دي په مثال د مسیحا (۹)
چې مړه یې له نفسه ژوندي کړي — عالمان دي واړه هسې اولیا (۱۰)
هر سړی چې رتبه نه لري د علم — سړی نه دی خالي نقش دی ګویا

۹ — ۱۸۰

زه رحمان حلقه بګوش د هر عالم یم (۱۱)
که اعلی دی که اوسط دی که ادنا

---

(۱) د "پ" په لومړي نسخه کې "هغه" راغلی دی.
(۲) د "غ" دوهمه نسخه: ته جور و جفا کړې زه ملامې افسوس ژړا کوم — ستا که دغه نه وای دا به هم نه وو زما. د "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې "له ما" راغلی دی او د "پ" په چاپ کې "دا به هم نه وو زما" راغلی دی.
(۳) د "غ" لومړي نسخه کې د "بتانو" پرځای "خوبانو" راغلی دی.
(٤) چاپي دیوانونه: "نه را معلومیږي دد رد من درد په دوا". مصوره نسخه کې لومړی مسری: "دا خصلت چې ستا دی که بل هم په دغه شان وي".
د "غ" دوهمه نسخه: "که دې جور وستم درست په دغه شان دی."
(۵) چاپي دیوانونه: "هر روز" او د "غ" لومړي نسخه کې: "غور زنګ" راغلی دی.
(۶) دا بیت د "غ" په لومړي او دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې نشته، "ق، ک" چاپ کې داسې دی:
سپی هم په عذاب سره دې خدای چېرې مړ نه کا — زه خو ګونډې ستا د کوڅې سپی یم په دنیا
د "ق" چاپ: سپی هم په عذاب د خدای د وژلو یاره نه دی — زه خو ګونډې ستا د کوڅې سپی شوم په دنیا
(۷) چاپي دیوانونه: "هیڅ یې په کار نه دی رحمان تا غواړي دلبره — دا نه ما رضا ده باقي هر چې ستا رضا".
مصوره نسخه: "هیڅ یې په کار نه دی رحمان تا غواړي دلبره — زه په دا راضي یم باقي هر چې ستا رضا".
(۸) "میا، پ" چاپ: "که څوك کاڼي وي یا بوټي د صحرا". د "غ" لومړي نسخه: "که څوك کاڼي څوك لوټي د صحرا".
د "پ" لومړي نسخه: "که څوك کاڼي وي که څوك لوټه د صحرا".
(۹) د "پ" دوهمه نسخه: "عالمان دي واړه هسې اولیا"
(۱۰) د "غ" دوهمه نسخه: "چې مړه یې په نفس سره ژوندي کیږي — عالمان دي واړه هسې اولیا".
(۱۱) د "پ" دوهمه نسخه: "زه رحمان د عالمانو خاك پای یم".

که خیل زړه غواړې له چا — ځان صیاد کړه د عنقا
دحباب کلاه په سر کړه — سوړ په آس شه د هوا
لکه خضر هسې پا څه — اوبه و څښه د بقا
له زمینه قدم کېږده — په آسمان لکه عیسا
دهغه استاد شاګرد شه — چې دې وښيي کیمیا(۱)
دا چې ما درته بیان کړه — که حاصل کړې واړه دا

۱۰ — هالطمع کړه — ۱۸۷
له خوبانو د وفا

دا دنیا ده بې وفا — بې وفا ده بې بقا
نه یې مخ شته نه یې شته — لکه لوټه د صحرا
په یوه ګړی یې مخ وي — په یوه ګړی یې شا
په یوه ګړی دستا شي — په یوه ګړی زما
په یوه ګړی یې درد وي — په یوه ګړی دوا
په یوه ګړی یې خوف وي — په یوه ګړی رجا
په ساعت کې یې بقا وي — په ساعت کې یې فنا
په ساعت کې یې سکوت وي — په ساعت کې یې غوغا
په ساعت کې یې خنداوي — په ساعت کې یې ژړا
په ساعت کې یې وفا وي — په ساعت کې یې جفا
په ساعت کې یې افلاس وي — په ساعت کې یې غنا
چې نه شان لري نه شکل — کله داشی کله دا

۱۱ — خدای څوک پېښ مه کړه — ۲۰۰
په داهسې رنګ بلا

په سبا دی ښاد شوی نه یم د هیچا — تور تپ شوی یم په غم د هر آشنا(۲)
که زړه طمع توقع له بله نه کړه — د بل طمع توقع کېږي له ما

---

(۱) دا بیت د "پ پ" چاپ کښ نشته.
(۲) دا مسری د "خ" په لومړي نسخه کښ داسې راغلی ده: "نه وریت شوی یم په غم د هر آشنا".

که مې ورور که مې عزیز دی که مې یار دی(۱) | واړه غواړي خپله خپله مدعا
په هر کور کې ښځوان راته زګیروي کا (۲) | لاس مې نه رسي د هېچا په دوا
د دنیا خبرې واړه په دنیا شي | ما به څه کا څوك چې نه لرم دنیا(۳)
که په کلي کې مې کور دی زه ګومان کړم(٤) | چې کور نه دی دا مې کور دی په صحرا
چې څه کار پرې نه پوره وي نه نیمګړی(۵) | څوك به څه کا له هغو سره خندا
چې یې بند توبند و بله سره نه شي(۶) | تر هغه آشنا بهتر دی نا آشنا

۱۲ — ۲۰۹

په تود ه څمکه استوګنه ده مشکله
خو به زیست شي له ... سره دچا

با د شاهي لري هر یو غلام دستا | د خاصانو په ځای ناست وي عام دستا
پخته کله وي چې لاف د پختګي کا | پختګان دي په داخم کې خام دستا
خو هم هومره یې په ننګ و نام نظر وي(۷) | چا چې نه وي اوریدلی نام دستا
همیشه به له مقامه بې مقام وي | هغه څوك چې لتوي مقام دستا
څو په خپلو وینو ګل غوندې غرق نه شي(۸) | و به نه وینې رخسار ګلفام دستا
صبح و شام په هغو خلقو باندې یو وي | چې آزار و لري هر صبح و شام دستا
بل کلام یې په زړه کله اثر کاندي(۹) | چې تر غوږ یې شي شیرین کلام دستا
فراموش کاندي هغه(۱۰) نور یې مستي | هر چې نوش کاندي باده په جام دستا
دام دستا د تورو زلفو عالم ګیر دی(۱۱) | تنها نه یم نښتی زه په دام دستا

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې دا مسری داسې راغلی ده: "که مې ورور که مې عزیز که مې فرزند دی". د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی ده: "که مې ورور که مې عزیز دی که مې یار وي". د "خ" په دوهمه نسخه کې: "که مې ورور که مې عزیز که مې څه یار دی". راغلی ده.

(۲) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نه دی راغلی او په نورو ټولو کې د "زګیروي کا" پر ځای "پراته دي" راغلی دي.

(۳) د "پ" لومړي نسخه: "ما به څوك څه کا ندي چې نه لرم دنیا".

(٤) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "ګومان کړم" پر ځای "یو عزم" راغلی دی.

(۵) د "خ" لومړي نسخه کې "چې دی نه پرې څه پوره وي نه نیمګړی" په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "چې پرې نه وي څه پوره او نه نیمګړی". د "خ" په لومړي نسخه کې "چې دې نه پر څه پوره وي که نه نیمګړی" او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: "چې دې نه پرې څه نیمګړی نه پوره وي".

(۶) د "پ" لومړي نسخه: "چې یې هېڅ بند توبند و بله نه شي".

(۷) چاپي دیوانونه: "خو هم هومره یې نظر په ننګ و نام وي".

(۸) چاپي دیوانونه: "چې په خپلو وینو ګل غوندې غرق نه وي".

(۹) د "خ" دوهمه نسخه: "بل کلام به یې په زړه کله اثر کړه".

(۱۰) د "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ: "هغه" او نور مسری د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "فراموش که هغه نور جامونه واړه".

(۱۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. د "پ" په لومړي او دوهمه نسخه کې: "دام دستا د زلفو عالم ګیر دی". په "ق" او "ق،ک" چاپ کې داسې ده: "دام د زلفو دې د دنیا کې عالم ګیر دی". او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "بوی دستا د تورو زلفو عالم ګیر دی".

**۱۳** — **۳۱۹**

زه رحمان دعا سلام په هغه وايم (۱)
هر چي مال ره راوړي سلام (۲) دستا

هر چي ويني په ستر ګو روی دستا (۳) — مخ يې کوږ وي همېشه په سوی دستا

بې دماغه به ترسره و ماله تېر شي — چي يې تېر شي ترد ماغه بوی دستا

که لوئي کړي بخه بې ځايه خوئي نه کړي — چي په دا رنګه قامت دی لوی (٤) دستا

نوبهار شو عالم سير د بوستان کا (٥) — خدای وماوته بوستان کړ کوی دستا

د عيسیٰ له دمه دم وهلی نه شم — چي خوله بېرته شي په ګفتګوی دستا (۶)

هم په دامی له چشمانو نو (۷) ښکېږي — چي ياد ېږي مي قامت د لجوی دستا

همېشه يې زړه په اور باندي سپند وي — وهغه ته چي څرګند شي (۸) خوی دستا

دلېر لا شه يې مات وي په زړه کي — چي يې نقش وي په زړه ابروی دستا

وځنځير وته يې څه له را کاږي — ليونيو له بس وي موی دستا

وګړ نګ وته پخپله ځان پري باسي — چي وزړه وته پري باسي (۹) روی دستا

که ته سل ځله زمايي زه دستا يم (۱۰) — تلوني نه دی له ما جستجوی دستا

**۱٤** — **۲۳۱**

ګل لمبه شو د بلبل په آه رحمان (۱۱)
نه ګوري بي يار په هاي وهوی دستا

خوی که په داشان وی دل آزار ستا — څه سبادی به کاندي طلبګار ستا

حيف چي اوريده شي ليده نه شي (۱۲) — حسن ولطافت دی پرېوار (۱۳) ستا

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه : "رحمان تل دوعا سلام په هغو وايم".
(۲) د "خ" لومړی نسخه : "پيغام".
(۳) د "خ" لومړی نسخه : "پيار".
(٤) دا بيت د "خ" په لومړی نسخه کي نشته، په دوهمه نسخه کي د "لوی" پر ځای "دلجوی" راغلی دی.
(٥) چاپي ديوانونه، د "خ" دوهمه او مصوره نسخه : "نوبهار دی عالم سيل د بوستان کا".
د "خ" لومړی نسخه : "نوبهار به عالم سير د بوستان کا".
(۶) دا بيت په مصوره نسخه کي نشته.
(۷) چاپي ديوانونه : "رود" او د "خ" دري واړه نسخې : "جوی".
(۸) د "خ" په دري واړه قلمي نسخو کي د "شي" پر ځای "وي" راغلی دی.
(۹) دا بيت په "ق،ک" کي نشته. د "خ" په لومړی نسخه کي د "روی" پر ځای "موی" راغلی دی. او د "خ" په دوهمه نسخه کي "بوی"
او په "ق" چاپ کي د "ګړ نګ" پر ځای "ځنځير" او د "روی" پر ځای "موی" راغلی دی.
(۱۰) د "خ" دري واړه نسخې : "که سل ځله زه دستا يم ته څما يې".
(۱۱) د "خ" لومړی نسخه : "ګل که سر لمبه شي د بلبل په آه رحمانه".
(۱۲) د "خ" لومړی نسخه : "حيف چي اوريدی شي ليدی نه شي په جهان کي".
(۱۳) د "خ" دوهمه نسخه : "په هر لوري".

(c) kotabon.com The Digital Library



بیا دوباره نه گوري وبل ته (١)  هرچا چې لیدلی وي رخسار ستا
خدای زده چې ته یار د کوم یوه یې  هرطرف یاران دي صدهزار ستا (٢)
ځای د پښوایښودو مونده نه شي  هومره عاشقان دي په دربار ستا (٣)
بل به هسې نه وي که یې خدای کا (٤)  ما غوندې خاکسار وهوادار ستا
بل گومان په ما باندې ومه کړه  عمر واره زه او انتظار ستا (٥)
عشق له حسنه حسن دی له عشقه  ته نگار زما یې زه نگار ستا
ته زما مطلوب یې زه طالب یم  ته زما طبیب یې زه بیمار ستا (٦)
ته که تازه گل د نوبهار یې  زه یم عندلیب په لاله زار ستا
جور که جفا ده که ستم دی  واره مې منلي دي یکبار ستا
جور وجفا خوك په بها پلوري (٧)  زه یم د جور ونو خریدار ستا
یو تار که ضایع شي ستا د زلفو  ځان به صدقه کړم تر (٨) هر تار ستا
سل ارمېښتونه دې راوکړه  حیف دی چې لا نه شي اعتبار ستا (٩)

١٥  ٢٤٦

تېر یم زه ... ترنوره (١٠) کاره
اوس مې ملا تړلې ده په کار ستا

که خوك یار په جهان غواړي یار دی دا  یار دی دا، که د جهان سینگار دی دا؟ (١١)
خیال د زلفو یې زما تر زړه چاپېر شو  یا ترگنجه چاپېر شوی مار دی دا؟
دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی (١٢)  د جملهٔ مخلوقاتو پلار دی دا

---

(١) د "خ" لومړی نسخه : "بیا به دوباره ونه گوري بل مخ ته".
(٢) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(٣) د "خ" لومړی نسخه : "په هغه ځای باندې چې تول دی عاشقان ستا".
(٤) د "خ" لومړی نسخه : "بل به هسې خوك نه وي که خدای کا".
(٥) "ق.ک" چاپ : "عمر واره زه یم په انتظار ستا".
مصوره نسخه : "عمر واره زه یم انتظار ستا". د "خ" لومړی نسخه : "عمر واره او زه او انتظار ستا".
(٦) د "خ" لومړی نسخه : "ته زما نگار یې زه افگار ستا".
(٧) دا بیت په "ق.ک" چاپ کې نشته. قلمي نسخې : "جور د جفا خوك په بها پېري".
(٨) په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې د "تر" پر ځای "په" راغلی دی.
(٩) د "خ" دوهمه نسخه : "باری حیف دی چې لا نه شي اعتبار ستا".
(١٠) په چاپي دیوانونو کې "له هره کاره" راغلی دی.
(١١) دا مسری د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلې ده : "یار دی دا که تمام جهان سینگار دی دا".
(١٢) دا مسری د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده :
"دا جهان دی خدای په عشق کې پیدا کړ".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا بیت بېخي نه دی راغلی.

ترعشق وار د کار بل په جهان نشته — ترحمه کار و نو وار د کار دی دا (۱)

بل بلبل به د گل نوم اخستی نه وُ — که خبر وی چې گل نه دی خار دی دا (۲)

بیا را تله دې جهان ته بل وار نشته — بل وار نشته بل وار نشته وار دی دا

د حباب عمر دې وګوري چې څو دی ؟ (۳) — که څوک شمار کاندې د عمر شمار دی دا

د مجنون صورت په زړه کړه رحمانه ګوره (۴)

ستا په عشق کې هسې خوار و زار دی دا

۱۶ — ۲۵۴

چې له تا سره په سر کاندې سودا — بل به نه وي هسې ماغوندې شیدا (۵)

نه به ما غوندې شیدا وي په جهان کې — نه به تا غوندې دلبر شي بل پیدا (۶)

ما د ستا جور و جفا دې قبول کړې (۷) — ولې نه شي د زړه په ځای خندا

بې د ستا له مخه کون و که مکان دی — بنه تو بنه مې نه په دا شي نه په دا

جدایي به دې هیڅ رنګ قبوله نه کړم — خومې نه دی روح کالبوت سره (۸) جدا

لکه ورستو مقتدیان وراندې امام وي — ما په تا پسې ده کړې اقتدا (۹)

زه یې وینم درست جهان په تا مین دی — که بادشاه دی د دې دور که ګدا (۱۰)

کاشکې خط د امانې وما دا کړې (۱۱) — چې له ما سره وعده کړې د فردا

زه چې نه په تا نه یم مین شوی — ستا له لوري په ما شوې ده نه دا

زه په تا باندې مین یم له ازله — نه چې کړې می نن ورځ ده ابتدا

---

(۱) دا بیت په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "ترعشق غوره بل څه کار په جهان نشته — ترحمه کار و نو غوره کار دی دا". په "پ پ" چاپ کې "ترعشق غوره بل هیڅ کار په جهان نشته". د "خ" په لومړي نسخه کې: "ترعشق غوره کار بل په جهان نشته — ترحمه کار و نو غوره کار دی دا". د "خ" په دوهمه نسخه کې "ترعشق غوره کار بل په جهان نشته" او د "پ" په دوهمه نسخه کې په عین شکل راغلی دی.

(۲) په "پ پ" چاپ کې "یو بلبل به د گل نوم اخستی نه وُ"، د "خ" په دوهمه نسخه کې "لو مړ د گل به بلبلان اخستی نه وُ". او د "پ" په دوهمه نسخه کې دا بیت نه دی راغلی.

(۳) دا مسرۍ په "پ پ" چاپ او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "د حباب عمر ته وګوره چې څه دی ؟" په "پ" چاپ کې "د حباب عمر دې وګوري چې څه دی". د "پ" په دوهمه نسخه کې "د حباب عمر ته وګوره چې څو دی" راغلې ده او دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۴) دا مسرۍ د "خ" په دوهمه او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "د مجنون صورت په زړه کړه اې رحمانه".

(۵) دا مسرۍ د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "بل به تا غوندې دلبر شي را پیدا".

(۶) د "پ" لومړي نسخه: "نه به تا غوندې دلبره شي پیدا"، د "پ" په دوهمه نسخه او "پ پ" چاپ کې "نه به تا غوندې دلبر شي را پیدا". او د "خ" په دوهمه نسخه کې "نه به تا غوندې دلبر شي بیا پیدا" راغلې ده.

(۷) دا مسرۍ د "خ" په لومړي نسخه کې "ما به صبر ستا په جور و جفا وکړ" او د "خ" دوهمه او د "پ" په دوهمه نسخه کې "ما به صبر ستا په جور په جفا کړ" راغلې ده.

(۸) د "خ" په لومړي نسخه کې "وبله" او په دوهمه نسخه کې "حُبله" راغلی دی.

(۹) دا مسرۍ په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "هسې ما تا پسې کړې اقتدا".

(۱۰) دا بیت په "پ" او "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "زه یو نه یم درست جهان په تا مین دی — که بادشاه دی د دې دهر که ګدا". او ورستنۍ مسرۍ یې د "خ" په دوهمه نسخه کې "که بادشاه د دې دهر که ګدا". د "خ" په مصوره نسخه کې داسې راغلې ده: "که بادشاه دی که وزیر دی که ګدا".

(۱۱) دا مسرۍ په "پ" او "پ پ" چاپ کې "کاشکې خط د امانې وما لره دا کړې" راغلې ده.

چې د ستا د عاشقۍ په تېغ شهید شي — د رحمان غاړه به هاله شي ا د ا

**١٧** — **٢٦٦**

د زاهد وژېړي رنګ وته نظر کړه
چې مدام په تا پسې کاندي ژړا (١)

هر چې ستا کوخه ما وا کا — ځای یې برشي ترافلاکا (٢)
ځان هاله ورته بادشاه شي — چې یې ستا د در ګدا کا (٣)
چې د ستا د در ګدا شي (٤) — بادشاهي وته نور شا کا
نظر یې د ستا له رویه — نه په ارض نه په سما کا
مینه یې د ستا له مخه — نه په دین نه په دنیا کا
ستا په مهر و محبت کې — ځان جهان واړه فنا کا
د دنیا کور و وګړي (٥) — ستا په مینه کې تالا کا
رضا ستا په رضا (٦) کړې دي — ترکه خپله مدعا کا
و هر خوا ته چې ستا مخ شي (٧) — دی هم مخ په هغه خوا کا
که له چا سره جفا کړي — له هغه سره جفا کا
که له چا سره وفا کړي — له هغه سره وفا کا
که په عمر چېرې ژاړي — خو په تا پسې ژړا کا
که په عمر چېرې خاندي — خوله تا سره خندا کا
که مطلب یې د دیدار وي — ستا د حسن تماشا کا
که مطلب یې د ګفتار وي — ستا په ذکر مشغولا کا
د رښتینو مقام دا دی — که څوک مینه په رښتیا کا (٨)

**١٨** — **٢٨٣**

عاشقان په عاشقۍ کې
چې زاهد وایي هم دا کا

---

(١) دا بیت د "خ" لومړۍ او د "پ" دوهمه نسخه کې نشته.
(٢) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته او د "خ" په دوهمه نسخه کې دوهم مسرۍ داسې ده: "ځای یې رسي ترافلاکه".
(٣) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې: "چې ځان ستا د در ګدا کړه".
(٤) "ق، ک" چاپ: "څوک چې ستا د در ګدا شي"، او دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٥) د "خ" لومړۍ نسخه: "د دنیا کور و کوټ"، او د "خ" نیمګړې نسخه: "د دنیا کور او محلونه".
(٦) د "پ" چاپ کې "قضا" راغلې دی.
(٧) د "خ" قلمي نسخه: "هرې خوا ته چې ستا مخ وي". د "پ" لومړۍ نسخه: "په هره خوا چې د ستا مخ وي".
(٨) په "ق، ک" چاپ کې او هم د "ق" په چاپ کې د "رښتیا" پر ځای "رضا" راغلې دی.

چې امید په عمارت د دې دنیا کا | د کاغذ په کشتۍ سیر د دریا کا(۱)
د آسمان توسن هیڅ ځاند دی تېز لې | خولۀ به څرنګه سورلي د باد په شا کا
نه لیوه په آدمیت اموخته کېږي | نه امید د مروت شي له افلاکا
له فلکه د وفا امید باطل دی | کله د یوله آدمزاد سره وفا کا
زمانه په اسلام کفر سره ګډ شي | فرق د تور و د سپین کله نابینا کا
ما د دهر علامت په ستر ګو ولید | په هر دم هزار پیدا هزار فنا کا
هیڅ امید مې د ایام په ګردش نه شي | چې فرصت به په خپل دور و مدارا کا
په خپل عمر به هیڅ البدلی نه وي | هغه چارې چې دی هر ساعت په ما کا
که د ګلو غوټې کېږدم په دستار کې | شوم طالع مې حلقه خار ځنې پیدا کا
که وزرو وته لاس کړم خاورې کېږي | که د خاورو په ارزو شم استغنا کا
جدایي د خدای بلا شوه نه توانېږم | خوشې زړه مې په دیدن پسې ژړا کا(۲)
هومره صبر دی عاشق سره لکومه | چې د دن وعده موقوفه په سبا کا
که د اور جامې را واغوندې دلبره | په نظر زما جلوه لکه دیبا کا
په خپل عشق کې(۳) که څوک بد را باندې وايي | زه ګومان کړم چې حمد زما ثنا کا
ملامت په عاشق ښايي دا دستور دی | چې روغ خلق په ړندو پورې خندا کا
عاشقي ننګ و ناموس دي و بله لرې | په روښانه ورځ به څرنګه څوک غلا کا
که زه طمع کړم د ګلو له طالع نه | ما عاجز له د ګل په ځای خار را کا(۴)
که زه ځان ژغورم په عشق کې له عالم | زمانه مې په جهان باندې رسوا کا
همېشه به په عالم کې وي سرخرویه | چې ثنا لکه بلبل د خپل آشنا کا

۱۹

دا ځواب رباعي هغه کا چې دو وي

"که دلبر د دیدن مې پیاپې را کا"(۵)

۳۰۳

هغه ژوی چې مین وي ښه به خوب کا | چې مجنون غوندې کړم ورځې شپې به خوب کا(۶)

(۱) دا غزل د "پ" په لومړي، دوهم او مصوره نسخه کې نشته. د "پ" چاپ کې د "سیر" پر ځای "سیل" را غلی دی.
(۲) د "غ" په لومړي او دوهمه قلمي نسخه کې د "ژړا" پر ځای "بلا" را غلی دی.
(۳) په "ق" چاپ او "ق ک" چاپ کې "ستا په عشق کې" را غلی دی.
(۴) دا بیت او ورپسې دوه بیتونه په قلمي نسخو کې نشته. دري بیت لومړی متري، په "ق ک" چاپ کې راغلی دی: "که زه طمع کړم د ګلو له خپل بخته"
(۵) د "غ" دوهمه نسخه: "که دلبر د دیدن مسته پیاله را که". د دولت دیوان: "که دلبر د دیدن مې پیاپې را کا" ۱۴۳ مخ، پښتو ټولنه، ۱۳۵۳
(۶) دا مسره په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "چې فرهاد غوندې کوه کن دی ښه به خوب کا"، په مصوره نسخه او د "غ" لومړۍ نسخه کې داسې ده: "چې مجنون او کوه کن وئي ښه به خوب کا" د "غ" دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې مجنون او کوه کن دی ښه به خوب کا" او د "پ" دوهمه قلمي نسخه کې داسې ده: "چې مجنون او دیا کوه کن دی ښه به خوب کا"، او د پېښور چاپي دیوانونو کې د "ژوی" پر ځای "زدی" را غلی دی.

۲۰ — ۳۱۱

هر نفس د سري تله دي له جهانه (۱) — چې يې هر نفس رفتن وي ښه به خوب کا
چې سبا له خپله ياره جدا کېږي — که د سلو شپو کړمن وي ښه به خوب کا
عاشقي ده خدای له اوره پيدا کړې — که په اور کې يې وطن وي ښه به خوب کا (۲)
داو بو تږی هم خوب کولی نه شي — څوک چې تږی د ديدن وي ښه به خوب کا (۳)
د رقيب له جوره خوب د عاشق نه شي — د هغو چې د ليو (۴) دښمن وي ښه به خوب کا
د مجاز بندي خو خوب کولی نه شي — چې يې زلفې طوق رسن وي ښه به خوب کا (۵)

خوب خندا له بې غمۍ شي خوشحاله (۶)
څوک چې ستا په خبر غمن وي ښه به خوب کا

۲۱ — ۳۲۰

چې په سترګو کې يې خار وي ښه به خوب کا — چې په زړه يې غم د يار وي ښه به خوب کا
خوب له ياره سره هم د عاشق نه شي — چې يې يار په بل ديار وي ښه به خوب کا
په دنيا کې خوب هغه کا چې نادان وي — هغه زوی چې هوښيار وي ښه به خوب کا (۷)
کوم طالب مطلوب نيولی (۸) دی په خوب کې — هغه څوک چې طلبګار وي ښه به خوب کا
د بيدار ندي چا په پټو سترګو کړي — چې مطلب د چا ديدار وي ښه به خوب کا
بلا لار د مرګ تر لارې ګرانه نشته — چې په خوا يې هسې لار وي ښه به خوب کا
هر نګاه د دلبرانو ذوالفقار دی — هر چې غوڅ په ذوالفقار وي ښه به خوب کا
دلبر چې چلي خوب کولی نه شي — چې خوړلی تور بنامار وي ښه به خوب کا

زه خوشحال د يار بنده هم خدمتګار يم
چې بنده او خدمتګار وي ښه به خوب کا

---

(۱) دا مسری په مصوره نسخه کې داسې ده: "هر نفس سری په تله دی له جهانه".
(۲) د "پ" د لومړۍ نسخې په پرته په ټولو کې "چېه" راغلی ده.
(۳) دا بيت په چاپي ديوانونو او مصوره نسخه کې نشته، دوهمه مسری يې د "غ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې به تږی د ديدن دی ښه به خوب کا".
(۴) په چاپي ديوانونو او د "پ" په دوهمه نسخه کې د "ديو" پر ځای "يار" راغلی دی.
(۶) په "پ" او "ب، پ" چاپ کې: "خوب خندا په بې غمۍ کېږي رحمانه هر چې تا غوندې غمجن دی ښه به خوب کا".
د پېښور "ق، ک" چاپ: "هر چې ما غوندې غمجن دی ښه به خوب کا". د "غ" لومړۍ نسخه: "څوک چې تا غوندې درد من دی ښه به خوب کا".
د "غ" دوهمه نسخه: "څوک چې ستا په ښار درد من دی ښه به خوب کا"، مصوره نسخه: "څوک چې ستا په ښار غمجن دی ښه به خوب کا".
او د "پ" دوهمه نسخه کې داسې ده: "څوک چې تا غوندې غمجن دی ښه به خوب کا".
(۵) دا بيت په چاپي ديوانونو او نورو قلمي نسخو کې نشته د "غ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو چې ورستۍ مسری يې په اصل نسخه کې داسې ده "چې يې زلفې په ګردن کړ طوق رسن دی ښه به خوب کا".
(۷) دا مسری د "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "هغه زوی چې دانا دی ښه به خوب کا". او په دواړو چاپي ديوانو کې د "زوی" پر ځای "زوی" راغلی دی.
(۸) د "پ" د لومړۍ نسخې په پرته په نورو ټولو کې "موندلی" راغلی دی. او هم نوموړی بيت د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته.
يادونه: لاندې بيت يوازې او يوازې د "غ" په دوهمه نسخه کې راغلی دی، او د اس لاندې نورو نسخو او ديوانونو کې نشته.
دلبر په چلی خوب کولی نه شي
چې خوړلی تور بنامار وي ښه به خوب کا

هغه ژوی چې بې خدایه(۱) محبت کا — همګي واړه بې ځایه محبت کا
محبت بې خدایه واړه د زړه رنځ دی — که مدام له چنګ و نایه محبت کا
خرخاري ده چې بې یو ځبله(۲) کاندي — هر خودرای چې له خود رایه محبت کا
نتیجه یې ریش کنده جامه پاره وي — آدم زاد چې له چارپایه محبت کا(۳)
هغه سرای لره به تله وربانده ګران وي — هر سړی چې له دې سرایه محبت کا(۴)
بوالهوس به نه پتنګ نه پروانه شي — د مګس په څېر له ورایه محبت کا(۵)
چې د تورو زلفو سیوري یې په چا وشي — هغه کا له همایه محبت کا

۲۲ — رحمان ځکه دریار متابعت کړم(۶) — ۳۲۸
چې هر وله رهنمایه محبت کا

اورنګ زیب چې آرایش د تخت و تاج کا — تخت و تاج به یې مرګي تاخت و تاراج کا(۷)
په جهان کې به یې پاتې ښه بد نوم شي — دی که چارې د کسرې که د حجاج کا
او به ستر ګولړه لاړې او د زړه شو — خوک به څه شکل ژوندون په دا مزاج کا
جدا یې زما په زړه کا هسې چارې — لکه بازي یې په تارو او په دراج کا
زما او ښکلي چې پیدا د زړه له یم شوي — لکه اوري له کبابه نم اخراج کا
زه غمجن د عید په جشن خبر نه شوم — که نور خلق هوی و های ته احتیاج کا

۲۳ — هر ناوک چې د قضاله شسته خیږي — ۳۳۵
زمانه د رحمان زړه ورته آماج کا(۸)

د بې درد و همدمي(۹) به دې بې درد کا — د نامرد و همدمي به دې نامرد کا
صحبت بې تاثیره نه دی دا حدیث دی — ګنګو نمړي هم په څېر د ګنګو زرد کا(۱۰)

---

(۱) د "پ پ" چاپیکړ د "بې خدایه" پر ځای "بې پیاره" راغلي دي.
(۲) په چاپي دیوانونو کې "یو له بله" راغلي دي، او دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته او د لومړۍ مسرې د "ریش کنده" کلمه د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "ریش کندن" په شکل راغلې ده.
(۴) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۵) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته. په "پ" چاپ او "پ، پ" چاپ کې یې لومړۍ مسره داسې ده: "بلهوس به نه پتنګ و پروانه شي".
(۶) دا مسره په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "رحمان ځکه دربیار متابعت کا"، د "خ" لومړۍ نسخه: "زه رحمان ځکه دیاره محبت کړم".
(۷) دا غزل په مصوره نسخه، د "خ" په لومړۍ نسخه او "ق ک" چاپ کې نشته.
(۸) د "خ" دوهمه قلمي نسخه کې "امواج" راغلي دي.
(۹) په مصوره نسخه د "خ" لومړۍ او د "پ" په دوهمه نسخه کې "همراهي" او د پېښور "ق ک" چاپیکړ "همدردي" راغلې ده.
(۱۰) دا مسره په "پ" نسخه او هم په "خ" نسخه کې داسې ده: "ګنګو نمړی د ګنګو په څېر د زرد کا".

هر کالي چې څوك په ځمكه باندې كېږدي — هغه ځمكه يې له جنسه د خپل گرد كا

په مجلس د ويږ ژليو(۱) څوك ور مه شه — كه صحيح وسلامت وي آ به يې سرد كا

۲٤ — ۳٤٠

چې دوي له ميانه لرې شي رحمانه(۲)

معشوقې عاشق پخپله ناز پرورد كا

كه په گنج د شاهي فخر شهريار كا — عاشقان يې د دلبرو په رخسار كا

خرقه پوشو په خرقه كې دى موندلى — هغه حظ(۳) چې په دنيا كې دنيادار كا

پتنگانو له وركړ خداى په اور كې — هغه عيش چې بلبله په گلزار كا (٤)

نېك ساعت(۵) په بد بدل د هجران مه شه — په وصال كې غم د هجر ور دوخار كا

نس(٦) د گور او د مور يو دى په معنى كې — خوب په چاپې تور لحد په چابازار كا

د بېړۍ په دو بېړو چې خداى راضي شي — يگانگي د زړونو هلته كله كار كا (۷)

هغه مخ چې مادرزاد بشايسته نه وي — مشقت د مشاطې وار ه مردار كا

يار د نازله خوبه پاڅي پسې گرځي — چې فلك د عاشقانو بخت بېدار كا (۸)

بې له تانه مدام سوزي دا يې حال دى — لكه شمع چې څوك بله په مزار كا (۹)

د مستۍ د هوښيارۍ يون څرگند وي — په هر چا كې چې خدوي هغه رفتار كا (۱۰)

د بلبلو نغمه زاغ كولى نه شي — هر سرود آواز په طور د خپل تار كا (۱۱)

۲۵ — ۳۵۲

رحمانه هسې بې وقوف سوداگر نه دى

چې د دين متاع بدله په دينار كا (۱۲)

---

(۱) په قلمي نسخو كې "ويږ ژ ليو" راغلى دى.

(۲) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه كې نشته، د "خ" په دوهمه نسخه كې د "دوي" پر ځاى "دوهې" او په مصوره نسخه كې "دودى" راغلى دى.

(۳) د "خ" په دوهمه نسخه كې "خوند" راغلى دى.

(٤) د "پ" لومړۍ نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه: "هغه عيش چې بلبلې په گلزار كا"

(۵) په مصوره نسخه كې "نېك عمل" راغلى دى.

(٦) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه كې نشته، په قلمي نسخو كې "نس" پر ځاى "نفس" راغلى دى. په "ق. ك" چاپ كې د "بازار" پر ځاى "گلزار" راغلى دى.

(۷) دا مسرۍ په چاپي ديوانونو كې داسې ده: "بيا ملاح د زړونو كله هلته كار كا" په مصوره نسخه كې داسې ده: "يگانگي د ملاحانو كله كار كا".

(۸) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه كې داسې راغلى دى: "يار زما له خوبه پاڅي پسې گرځي چې فلك د عاشقانو محنت بيدار كا".

(۹) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه كې نشته، لومړۍ مسرۍ يې په "پ" او "پ پ" چاپ كې داسې ده: "نيمې شپې يې يار تر سره پورې كيني". د "ق. ك" چاپ كې د "يې" پر ځاى "مې" راغلى دى. په مصوره نسخه كې دا مسرۍ داسې ده: "نيمې شپې مې تر سرويه دې پورې كيني"

(۱۰) دا بيت په "پ" نسخو او د "خ" نسخو كې داسې دى: "د مستۍ د هوښيارۍ يون څرگند دى په هر چا كې چې خدوي هسې رفتار كا". "ق. ك" كې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "د مستۍ د هوښيارۍ يون سند څرگند دى" او د "خ" په لومړۍ نسخه كې دا بيت داسې دى: "د مستۍ د هوښيارۍ يون سره څرگند دى په هر چا كې چې خدى يون هسې رفتار كا".

(۱۱) په "پ" چاپ كې د "تار" پر ځاى "كار" راغلى دى.

(۱۲) د "پ" په دوهمه نسخه كې "دنيا" راغلى دى.

ورځ چې بده شي عاقل و دانا څه کا — چې قضا شي ورد و ښاره حکما څه کا (۱)
مور و پلار خوښيږ فرزند له خدايه غواړي — چې بد بخت شي اديې څه کا بابا څه کا (۲)
يار له ياره په لوی لاس کله بېليږي (۳) — چې لاس نه رسي يار څه کا آشنا څه کا
په ښېرو په دعا څه شي کم و نې خدای دی — چې خدای نه کا ښېرې څه کا دعا څه کا
بخت په زور او په زر نه دی چا خپل کړی (۴) — په دا کار کې ناتوان څه کا توانا څه کا

۳۵۸ — ۲۶

اې [signature] پتنګ ولې شه چې وسو (۵)
نور د شمع خندا څه کا ژړا څه کا

زما او ښکې چې دا هسې شست و شو کا — دا محنت واړه زما د مخ په ولو کا (۶)
تل يې مخ وي تر خوبانو پورې وللی — عاشقي چې د چا او ښکې په شپېو کا
د عاشق د سينې چاک به ورځ ګند شي — که ښوک سر و خپل ګرېوان وته فرو کا
د عشق اور چې شمع خود په سر قبول کړي — پروانه به څه حجت د ځان په سو کا
ګل څه نه وايي چې غرق په وينو ناست وي — بلبل څه لره بې ځايه ګفتګو کا
زه که مرګ غواړم بې ياره ګرم خو نه يم — جدايي سرې په ځان پورې پکو کا

۳۶۵ — ۲۷

معشوقې په محنت نه دي چا موندلي
مګر خدای يې په [signature] باندې پېرزو کا

خولو ځله يې تاراج په جفا نه کا — يار له هيچا (۷) سره مهر و وفا نه کا
که يې سر په بوسه ور کړم زه پوهيږم — چې قبول به دغه عجز زما نه کا
چې په خپله رضا تللی مادرزاد وي — هغه هيڅ پېرې د نورو رضا نه کا
خولې خپله مدعا حاصله نه شي — مهرويان په خوله د خضر سودا نه کا
که يې سل ځله دعا کوم په عمر — ګوش و هوش د دعا ګوی په دعا نه کا
که آهونه آتشين پسې وکاږم — لکه سرو له خزانه پروا نه کا

---

(۱) دا غزل د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۲) د "پ، پ" چاپ کې دا مسری داسې ده: "چې بخت بد شي اديې څه کا بابا څه کا".
(۳) د "خ" په دويمه نسخه کې "خپليږي" راغلی دی.
(۴) دا مسری په مصوره نسخه او د "خ" دويمه نسخه کې داسې ده: "بخت په زور و زاری نه دی چا خپل کړی". د "پ" په دويمه نسخه کې داسې ده: "بخت په زور و په زر نه دی چا موندلی" او د پېښور "ق ک" چاپ کې داسې ده: "محبت په زور چا نه دی حاصل کړی".
(۵) د "پ" او "پ پ" چاپ کې "عذر شه" او د "ق ک" چاپ کې "او شو" راغلی دی.
(۶) په چاپي ديوانونو کې "د مخ ابرو کا" راغلی دی.
(۷) په چاپي ديوانونو کې "که د ياره" راغلی دی.

## ۲۸ — ۳۷۲

که آرام غواړې ترک په عاشقي کې
دغه واړه ناروا کار روا نه کا

زړه مې بې له خپل نګاره(۱) آرام نه کا — کامراني راڅخه غواړي نا کام نه کا
بې نا کامه زیست محال دی په دنیا کې — د کوم آس په خوله کې ذل لګام نه کا(۲)
د آسمان ماڼي به هم په قرار نه وي — سالک ځکه قصد د قصر و د بام نه کا(۳)
ګاه یې کښېنوي په تخت کله په خاورو — زمانه رضا د هیچا مدام نه کا
بې له سروي چې آزاده خدای پیدا کړه — ترکي ځکه و هیچا ته سلام نه کا(٤)
کوه و دشت هم د خزان له غمه زبړ دي — ځکه زرکه و چمن ته خرام نه کا
چا چې سر دی په سجده و یار ته ایښی — دوباره له دې سجوده قیام نه کا(۵)
چې یې کړه ده دیدار په لوړي لوښتي(۶) — لکه بحر هسې دروي مقام نه کا
نشستن د عاشق نشته لکه شمع — خو صورت د عشق په اور کې تمام نه کا
چې محظوظ وي په تش بوی د ګلرویانو — هغه فکر د بوسې د پیغام نه کا
چې لذت یې د سرو شونډو وي موندلی — نوره مینه د شرابو په جام نه کا
په هغو د لعلو لبو مې حرام دی — خو د انور لذت په خپس حرام نه کا

## ۲۹ — ۳۸۵

ترک هسې و خپل یار ته بې حجت دی(۷)
لکه عذر چې صاحب ته غلام نه کا

چا امید په عمارت د دې جهان کا — لکه کړ شه په اوبو هسې نښان کا
د اوبو په مخ د کړ بنې بقا نشته — په نابود باندې ناحق د بود ګومان کا(۸)
نادانانو هسې دین په دنیا بایلود — لکه ووړ کې دُر بدل په پارچه نان کا
د دنیا د دین نسبت(۹) و بل ته نه شي — اور او اوبو سره استوګه په څه شان کا

---

(۱) په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې "یار" راغلی دی.
(۲) د "پ" په لومړي نسخه او د "خ" په لومړي نسخه کې "لغام" راغلی دی.
(۳) له دې بیت نه وروسته بیتونه او څلېر دا بیت د "پ" په لومړي نسخه کې نشته.
(٤) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۵) د "خ" دوهمه نسخه: "دوباره یې له سجوده قیام نه کا"
(۶) د "خ" دوهمه نسخه: "چې بې ذره دې تل دیار په لوري تللی"؛ د "خ" په لومړي نسخه کې د "لوښتي" پر ځای "ایښی" راغلی دی.
(۷) د "خ" په دوهمه نسخه کې "لاجواب دی" راغلی دی.
(۸) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۹) د "خ" په لومړي نسخه کې "نښسته" راغلی دی.

عشق د نفس له خاصیته منزه دی    کار د سترګو به خوك څرنګ په دهان کا
لکه چشم و ګوش په کار کې وبله بېل وي(١)    هسې دین و دنیا حکم ځان په ځان کا
په پیرۍ کې د ځوانۍ خیال دی هسې    لکه څوك چې د باغ سیر په خزان کا
بې درګاهي بل ځای د رحمان نشته    په سفر استوګه څو مسافران کا

٣٠ — ٣٩٣

عاشقان د ناصحانو وینا نه کا    مست هاتي د مهوتانو پروا نه کا
واره جور د دې دور(٢) مې قبول دی    که خدای ماله خپله یاره جدا نه کا
چې د ګلو پریشاني شوه ورڅرګنده    غوټۍ چې سر په زانو کښېنو د خندا نه کا
و سیلاب ته د پونډ وکې څه استاد(٣) وي    زړه چې ژاړي سترګې څرنګ ژړا نه کا
دنیا کل په احمقانو ده ودانه    دانا ځکه وابستګي د دنیا نه کا
چې یې زړه دی په هوا پورې تړلی    د حباب عمارت ځکه بقا نه کا
بې هنر دي چې څوك دین په دنیا پلوري    هنرمند سړی دا هسې سودا نه کا
که څوك والي هوښیار کوم دی وایه دادی    چې بې خدایه نوره مینه په چا نه کا
ګدایي که ورپسې بې دالي ځای دی    هر بادشاه چې دلجویي د ګدا نه کا (٤)
چې بې دل یې په یوه نګاه رغېږي    څه انصاف دی چې دلبرې دوانه کا
هر چې زړه یې وي په یار باندې بایللی    نوره مینه په چا بې له آشنا نه کا(٥)
چې تر غوږ یې وي وینا د آشنا شوې    هغه غوږ هرګز په نوره وینا نه کا
وبه نه رسي د یار تر بلند بامه    چې د زړه غولی روښن په ژړا(٦) نه کا
زه رحمان د هغه یار په جفا خوښ یم    که اغیار مې خدای له میانه پیدا نه کا(٧)

٣١ — ٤٠٧

که سړی د خپلې پوهې تقصیر نه کا    د خدای کړه به څوك په پوهه تغییر نه کا
خواه ناخواه به د تقدیر شوي(٨) ورپسې شي    که څوك هیڅېري نظر په تقدیر نه کا

(١) "پ" چاپ او د پېښور لور چاپي دیوانونه : "لکه کار د ګوش و چشم سره بېل دی."
(٢) په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې "دهر" راغلی دی.
(٣) په چاپي دیوانونو کې "حاجت" راغلی دی.
(٤) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٥) دا بیت او ورپسې دوه نور بیتونه په قلمي نسخو کې نشته.
(٦) په "ق،ك" چاپ کې "ژړا" راغلی ده.
(٧) "ق" چاپ او "ق،ك" چاپ : "چې اغیار مې خدای له میانه جدا نه کا" د "خ" لومړۍ نسخه او د مصورې نسخه : "که اغیار مې تر د امیانه پیدا نه کا".
(٨) د پېښور په چاپي دیوانونو کې "کښېلي" راغلی دی.

PROPERTY OF ACKU 4499

دهغو چي بخت بيدار شو غم يې نشته — که هيڅ يري بيداري وشبګير نه کا
دالد خپلي کم فهمي مونږ خه وايو — چي فلاني سړى تالاش وتدبير نه کا (١)
دلګيري او خوشحالي که په خپل لاس وي — په خپل لاس به خپل سر هيڅوك دلګير نه کا
معرفت دخداى څرګند دى په هر شه کي — سترګي وخوره چي څوك هومره نظير نه کا
دالنفس په مثال برق صورت فانوس دى — برق به هيڅوك په فانوس کي اسير نه کا
ددنيا سړي هم واره دړ ماند دى — كوم بادشاه دى چي منت دوزير نه کا
كوم واده كوم كوژدن ده په جهان كي — چي فلك يي وآخرته په وير نه کا
په خوله هر يو سړي اسم د پير اخلي — باري خه به کار چي نغوته د پير نه کا
خه نسبي دقيامت نه دي لوړ خه دي — چي دپلار و يل په زويو تأثير نه کا
هسي چاري له ناصحو واقع کيږي — چي له شرمه يي هيڅ غل وكاسير نه کا
په مرده پسي تكبير وكاروان شي — هيڅ ګومان په ځان دهسي تكبير نه کا
په دنيا پسي دړهست عمر زهير يږي — ځان يو دم دخداى دپاره زهير نه کا
دعيال دپاره تير ترسر ومال شي — دلجوئي په لوه تهوك دفقير نه کا

٣٢ — ٤٢٣

ګږم دي چي ناري دهجران اوري
وآشنا وته کا ته په څير څير نه کا

ترحد تيره شوه په يار پسي ژړا زما — نه ګروهيږي په ژړا سره آشنا زما (٢)
که مي هره وينا دُر يا مرغلر شي — لا دغوږ لايقه نه ګڼي وينا زما (٣)
په نارو به ما بيدار کړ که اوده وي — باري ولېښ راته اوده شو دلربا زما (٤)
زه مکتوب غوندي چي په پټه خوله ګويا يم — خاموشي زما تيري کا تر غوغا زما (٥)
کښت دعشق په توده ځمکه آسان نه دى — سمند ربويه چي زيست کا په صحرا زما (٦)

---

(١) دابيت په مصوره نسخه کي نشته.
(٢) دابيت په "پ" چاپ کي داسي راغلى دى: "دبره شوه به يار پسي ژړا زما — نه ګروهيږي به ژړا آشنا زما". او د پيښور چاپ د "خ" په دوهمه او "پ" په دوهمه قسمه کي نه يوازي دابيت بلکه دوي رديف لول بيتونه نه دي راغلي.
(٣) دابيت د "خ" لومړي نسخه کي داسي راغلى دى: "که مي هره وينا دُر شي مرغلري — لايقت دغوږ ونه کړي وينا زما". او د "پ" چاپ کي داسي راغلى دى: "که مي هره وينا دُر شي يا ګوهر شي — ستا دغوږ نه ده لايق وينا زما".
(٤) د "خ" په لومړي نسخه کي: "په نارو به ما بيدا که خوب دى وري — ولي ولېښي رانه اوده شه دلربا ځما".
(٥) "پ" چاپ: "زه مکتوب غوندي په پټه خوله ګويا يم — لاندي کړله خاموشي غوغا زما".
(٦) د "خ" لومړي نسخه: "کښت دعشق به توده زمکه اسمان نکه — سمندر لو يه چي زيست کا په صحرا زما". او "پ" چاپ کي: "کښت دعشق به توده زمکه اسان نه دى — سمندر بويه به دي صحرا زمـــا".

دا یار نه دی چې هجران له ما نه بېل کړ — روح زما دی چې له تنه دی جدا زما (۱)

زه رحمان بې خپله یاره هېڅ نه غواړم (۲)
که قبوله وي د خدای په دربار دعا زما

۳۳ — ۴۳۰

سل ځله که وخوري نا حقه ځیګر زما — بل به ځبله نه کا در دستا او سر زما (۳)

صبر ستا په عشق کې دا خبره خوک او زه — نشته دی چارې توان یو موی قدر زما (۴)

ستا له محبته جار واته وما ته عار دي (۵) — ولې خاورې نه شي په دا لار بشر زما

واره معشوقې د عاشقانو خبر اخلي — بې له تا چې نه اخلي یو دم خبر زما

هېڅ اندوه مې نشته بې دستا له جدایه — نور اندوه به څه دوي تر دغه بتر زما

خوب د کور و کلي په نار و زما بر هم شو — څه چل دی (۶) چې نه شي ستا په زړه اثر زما

درست جهان که واره ما رحمان له ره دلبر شي (۷)
چېرې دی دلبره بې تا بل دلبر زما

۳۴ — ۴۳۷

هسې یاد دې همېشه مدام زما — چې اوراد مې په هر صبح و شام زما

هر کلام چې بې دستا له یاده وکړم — سل توبې دي په هغه کلام زما

زه که بې له تا له زړه آرام کړم په سل رنګه — نه شي نه شي په هېڅ رنګ آرام زما (۸)

ننګ و نام که ستا په مینه له ما درومي — زار شه ستا تر مینې ننګ و نام زما

چې قایم شوم په مقام د عاشقۍ — هېر شو دلته واړه بل مقام زما (۹)

څو د عشق په خم خانه مې داخل نه کړه — پخته نه شو دغه عقل خام زما (۱۰)

نن دې وخت دی که مې آه و فریاد اوري — څو چې خاورې نه دي هر اندام زما (۱۱)

---

(۱) د "خ" لومړۍ نسخه : " دا یاران چې دی هجران له ما بېل کړی — روح زما دی چې له تنه دی جدا زما ".
"پ" چاپ : " دا یار نه دی چې هجران له ما نه بېل کړ — دغه روح له تنه شه جدا زما ".
(۲) "پ" چاپ : " زه رحمان بې خپله یاره هېڅ نه غواړم — که قبوله خدای نه وي دعا زما ".
(۳) دا غزل د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۴) په "ق" او "ق ک" چاپ کې د "موی" پر ځای "جو" راغلی دی.
(۵) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړۍ نسخه : " جار واته زما دروغ دی ". مصوره نسخه : " جار واته زما غلط دی ".
(۶) قلمي نسخې " څه چاره ده ".
(۷) چاپي دیوانونه : " کل واره جهان که ما رحمان لره دلبر شي ".
(۸) د "پ" نسخې : " بې له تا که زړه آرام کړم په سل رنګه — نه شي نه شي یاره په هېڅ رنګ آرام زما
د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه : " که بې تا د زړه آرام کړم په سل رنګه — نه شي نه شي په هېڅ رنګ آرام زما
(۹) قلمي نسخه : " هېر شو دلې وته بل مقام زما ".
(۱۰) چاپي دیوانونه : " څو د عشق په خم خانه لې داخل نه کړم — پخته نه دی دغه عقل خام زما ".
(۱۱) د "پ" لومړۍ نسخه : " څو تر خاورو نه دی لاندې هر اندام زما ". د "خ" لومړۍ نسخه : " څو چې لاندې شي تر خاورو هر اندام زما ".
د "خ" دوهمه نسخه : " بیا به څوک درسوي پیغام زما ". مصوره نسخه : " څو لاندې تر خاورو هر اندام زما ".

هزار جام د صراحي دي فلک مات کړل — خو به ګرځي په دا دور جام زما

**٣٥** — **٤٤٦**

زه رحمان به دانا کام کوم تر کومه
وایه (۱) کله به حاصل کړي (۲) کام زما

چې هر چا لیدلی نه وي یار زما — خبر دی دا که والي بد په کار زما (۳)
هر څه چې وي دلبر زما لیدلی (۴) — نه به کا انشاء الله انکار زما
سر زما در ګاه د هغه یار عزیز وي — بې له دې لار نشته بله لار زما (۵)
ما بې عشقه بل څه خبر زده کړی نه دی — چې څه دی هم دا دی واړه کار زما (۶)
خدای دې هیڅوک یو ځل بله ازار نه کا — اې دلبره مه اخله ته ازار زما (۷)
یاره ستا په جدایی او په هر غم کې (۸) — سیند دا وښکو دي وې په رخسار زما
لوی دی که هلاک دی واړه ستا خبرې کاندي — بل ګفتګوی نشته په دیار زما (۹)

**٣٦** — **٤٥٤**

زه رحمان به لاف په عشق کې څه وهم
خود به ځان څرګند کا انتظار زما

سر زما سامان زما زار شه تر جانان زما — زار شه تر جانان زما سر زما سامان زما
زیان زما نقصان زما واړه دیار هجر دی — واړه دیار هجر دی زیان زما نقصان زما
ګل زما ریحان زما ستا رخسار و زلفې دي — ستا رخسار و زلفې دي ګل زما ریحان زما (۱۰)
مښک زما زعفران زما ستا د کوڅې خاوري دي — ستا د کوڅې خاوري دي مښک زما زعفران زما
فکر زما توان زما ستا په غم کې نه رسي — ستا په غم کې نه رسي فکر زما توان زما
آه زما فغان زما هیڅ په تا اثر نه کا — هیڅ په تا اثر نه کا آه زما فغان زما (۱۱)

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه : "خدایه".
(۲) "پ" چاپ ، "ق" چاپ ، او "ق ک" چاپ : "شي".
(۳) قلمي نسخه : "چې هر چا لیدلی نه وي یار زما — خبر دی دا که والي بد په کار زما".
د "خ" دوهمه نسخه : "چا لیدلی نه دی په جهان کې یار زما — څه شوه که بد والي په کار و بار زما".
(۴) قلمي نسخه : "هر چا چې زما دلبر لیدلی دی". د "خ" دوهمه نسخه : "هر چا چې یې لیدلی مهر و دلبري وي — نه به که انشاء الله انکار په کار زما".
(۵) چاپي دیوانونه : "سر زما در ګاه د هغه یار عزیز وي — بې له دې نه نشته بله لار زما".
(۶) قلمي نسخه : "ما بې عشقه هیڅ نه دی نور زده کړي — هر چې دی هم دغه دي واړه کار زما".
د "خ" لومړی نسخه : "خود به ځان څرګند کا انتظار زما" دوهمه نسخه : "ما په عاشقۍ کې نور څه نه زده که باور کړی — هر چې دی دغه دی واړه کار زما".
(۷) قلمي نسخه : "هیڅوک دې خدای یو له بله ازار نه کا — اې دلبره مه اخله هرګز ازار زما".
(۸) قلمي نسخه : "یاره ستا د جدایي په غمونو کې". او دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۹) "پ" چاپ او د "پ ، پ" چاپ : "لوی هلاک کړي همه واړه ستا خبرې — ګفتګوی نشته بل په دیار زما".
"ق" چاپ او "ق ک" چاپ : "لوی واړه کړي همه واړه ستا خبرې — ګفتګو نشته بل څه په دیار زما".
مصوره نسخه : "لوی هلاک واړه ستا خبرې که". د "خ" دوهمه نسخه : "لوی هلاک همه واړه ستا خبرې که دلبره". او دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(۱۰) د پېښور "پ پ" چاپ او د "خ" قلمي نسخه : "ګل زما ریحان زما ستا د رخسار زلفې دی — ستا د رخسار زلفې دی ګل زما ریحان زما".
(۱۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

دا پیران شیخان زما ستا په غم کې نه رسي ستا په غم کې نه رسي دا پیران شیخان زما (۱)
زړه زما چشمان زما بې تا هیڅ حال نه لري بې تا هیڅ حال نه لري زړه زما چشمان زما
باغ زما بوستان زما بې تا میوه نه نیسي بې تا میوه نه نیسي باغ زما بوستان زما

۳۷ — ۴۶۴

وصل هم هجران زما ای رحمانه خیر دی
ای رحمانه خیر دی وصل هم هجران زما (۲)

ستا په خبر نه دي خوبان لیدلي ما نه په غوږ وچیږي اوریدلي ما (۳)
هیڅ وفا له عاشقانو سره نه کا دلبران دي واړه ازمایلي ما (۴)
چې مې ستا وښکلي مخ ته دي کتلي بل یو مخ ته نه دي بیا کتلي ما (۵)
د زړه غولي مې نیولي ستا غمونو نور غمونه دي له زړه ویستلي ما (۶)
چې مې کار د عاشقي په لاس کې واخیست دي له بله کاره لاس وکښلي ما (۷)
نور غمونه مې له زړه نه دي وتلي ستا غمونه دي پکې کرلي ما (۸)
که جفا کوي که جور واړه ځای لري د ستا جور وجفا واړه دي منلي ما (۹)

۳۸ — ۴۷۲

زه رحمان بې یاره خوب وخندا نه کړم
بې ده نه دي خوب خندا پسندلي ما (۱۰)

---

(۱) په نورو قلمي نسخو کې دا بیت نشته او د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی:
"پیران شیخان زما ستا په غم را نه رسي ستا په غم را نه رسي پیران شیخان زما".

(۲) قلمي نسخې: "وصال زما هجران زما رحمانه واړه خیر دی رحمانه واړه خیر دی وصل هم هجران زما".

(۳) دا بیت په قلمي نسخو کې داسې راغلی دی: "نور خوبان د ستا په خبر نه دي لیدلي ما نه لیدلي نه په غوږ دا وریدلي ما".

(۴) قلمي نسخې: "دلبران دي زمانې دي ازمایلي ما".

(۵) د "پ" لومړۍ نسخه: "چې مې ستا کښلي مخ وته کتلي دي نور کاروند دي له لاسه غورځولي ما".
په "پ ب" چاپ کې: "چې مې ستا دي ښکلي مخ ته دي کتلي بل یو مخ ته نه دي بیا کتلي ما".
د "خ" لومړۍ نسخه: "چې مې ستا وښکلي مخ وته کتلي دي نور بیا نه دي وبل مخونو ته کتلي ما".
د "ب" په دوهمه نسخه کې دا بیت نه دی راغلی او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا ردیف بېخي نه دی راغلی.

(۶) قلمي نسخې: "د زړه غولي مې نیولي ستا غمو نو دي نور غمونه دي له خاطره ایستلي ما".

(۷) قلمي نسخې: "چې مې کار د عاشقۍ په لاس اخیستي دي نور کاروند دي له لاسه اچولي ما".

(۸) قلمي نسخې: "هم په داې نور غمونه له زړه دواته چې په زړه کې ستا غمونه دي کرلي ما".

(۹) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته.

(۱۰) قلمي نسخې: "زه رحمان بې یاره خوب وخندا نه کړم
خوب خندا بې یاره کله دي پسندلي ما".

د "خ" لومړۍ نسخه:
زه رحمان بې یاره خوب وخندا نه کړم
خوب خندا بې یاره کله پسندلي ما".

چې واده يې کا په ډول او په سرنا (۱) — بيا پرې والي زما نه دوير وينا

کـه مې هرڅو دلبري او دلجويي کا — زه پوهېږم دخپل يار په استغنا (۲)

په يوه ګړۍ مې يار هم مې آشنا شي (۳) — بيا مې بلـه ګړۍ نـه ګڼي آشنا

دا زه خپله تسلي کوم يار بولم (۴) — څه ياري ده د ناتوان او د توانا

يو زمان يودم او بې خپله صنمه (۵) — زه بهتره تر بقا ګڼم فنا

هر سړی په يوې چارې خدای مشغول کړ — زه مشغول کړم خدای د ترکو په ثنا

ما لې عشقه بل هنر نه زده ناصحه — په خندا (۶) شه که نادان يې که دانا

چې مې غوږ په نارو نه باسې حيران يم — پروانه لرې که وور وي که برنا (۷)

۳۹

بې د يار له سره د بد نه دې خدای نه کا
د ربّ (ژان) په زړه کې بله تمنا

۴۸۱

چې يې نقش په زړه خيال شي د آشنا — صدقه يې سر و مال شي د آشنا

پس له مرګه يې تېغ هسې مخ روښان وي — چې آشنا په تېغ حلال شي د آشنا (۸)

په آسمان د آشنايه به يې مکان وي — چې زمين غوندې پايمال شي د آشنا (۹)

خوشحالي زما د زړه په هغه دم وي — په هر دم چې زړه خوشحال شي د آشنا

روح هغه ساعت داخل ګڼم په تن کې — چې مې (۱۰) دخل په وصال شي د آشنا

هم هغه يوه ګړۍ را بانديې کال وي (۱۱) — چې يوه ګړۍ محال شي د آشنا

نور د هيچا قيل و قال مې په کار نه دي — چې تر غوږ مې قيل و قال شي د آشنا

زړغونه کاندي دانه زما د عيش (۱۲) — چې په زړه مې زړغون خال شي د آشنا

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه : "چې واده وي په ټول په سرنا — بيا پرې زمانه دوير وينا". د "خ" دوهمه نسخه : "چې واده يې وي په ډول و په سرنا — بيا پرې والي زمانه دوير وينا".
(۲) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی : "که يې هرڅو دلبري او دلجويي کړم — زه پوهېږم دخپل يار په استغنا".
(۳) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "شي" پر ځای "وی" راغلی دی.
(۴) د "پ" او "پ پ" چاپ : "دا زه خپلې تسلي کړم يار يې بولم".
(۵) د "خ" لومړی نسخه "يو زمان يو دم بې خپله دلبره". او دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۶) په ټولو قلمي نسخو او ديوانونو کې د "په خندا" پر ځای "بخشنده" راغلی دی.
(۷) په چاپي ديوانونو کې دا مسرې داسې راغلې ده : "پروانه لرې واره دی که برنا" د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی : "پروانه لرې که زوړ وي که برنا". او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا بيت نه دی راغلی.
(۸) مصوره نسخه : "چې زمين غوندې پايمال شي د آشنا".
(۹) دا بيت په مصوره نسخه کې نشته.
(۱۰) چاپي ديوانونه : "چې يې دخل په وصال شي د آشنا".
(۱۱) د "خ" لومړی نسخه : "هم يوه ګړۍ وريځ را باندې کال وي".
(۱۲) مصوره نسخه : "عشق".

نه بل څوك زما طبيب بې آشنا شته دى(۱) — نه بل څوك به په مثال شي د آشنا

د رحمان نظر په هيڅا باندې نه وي
چې نظر يې په جمال شي د آشنا

۴۹۱

۴۰

كه ما ښام تر ستوني سكته كړې حلوا — سبا خواست كوي له خدايه د سنوروا
په هيڅ حال كې دې قرار و صبر نه شي — لېوني كړې د ډېر حرص د ډېرې هوا
تمامې عمر تر يار تر عزيز پورې — لوبې ګېډې(۲) مختورن كړې هم رسوا
چې په خپله رسوايي دې پروا نه شي — نور به څه كړې په جهان د چا پروا
چې د نفس د پاره لاس و خدای ته نيسي(۳) — دا رحمت له خدايه غواړې كه دوا
نفس بې شماره عالم پر پوست و كوهي ته — خداى دې نه كا نابينا د چا پيشوا(۴)
په روا په ناروا كله پوهيږي — وچارپاى ته څه روا څه ناروا
چارپايان كه غوږ و سترګي لري څه شو — په معنى كې نابينا دي ناشنوا

زه رحمان له هغه علمه(۵) پناه غواړم
چې له دينه له مذهبه وي سيوا

۵۰۰

۴۱

دل و دين مې هغې ترك كړه ها(۶) — لا يې نه حسابوي د ځان بها
د ښايست صفت يې څو كوم حيران يم — په هيڅ رنګ يې موندنه نه شي انتها
د صورت له عيبه هسې پاكيزه دى — لكه ذات د ويښته نشته دى پنها(۷)
كه يې مخ په زلفو پټ وي باك يې نشته — تل په ګنج باندې پراته وي اژدها
لكه نمر هسې جلوه كا په شفق كې — چې په سر كاندې اوړنۍ د سوها(۸)
نه پوهيږم چې په كوم لاره درومم — چپ و راست مې رقيبان دي هزارها
خداى دې هسې تنها نه كا څوك په غم كې — لكه زه يم ستا په غم كې يك تنها (۹)

---

(۱) د "خ" لومړي او دوهمې او مصوره نسخه : "نه بل څوك زما طبيب نه مې اشنا شته".
"ق" چاپي او "ق ك" چاپ : "نه بل څوك زما طبيب او اشنا شته دى".
(۲) چاپي ديوانونه : "لوبې ګېډې"
(۳) " " : "وچانه نيسي"
(۴) "ق" چاپ : "اشنا"
(۵) مصوره نسخه : "زه رحمان له هغه خلكه پناه غواړم".
(۶) چاپي ديوانونه : "دل و دين مې په هغه ترك كړ فدا"
(۷) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه كې نشته.
(۸) دا بيت د "خ" " " كې نشته.
(۹) د "خ" لومړۍ نسخه : "خداى هسې رنګ تنها په غم څوك نه كا لكه زه ديار په غم كې يم تنها".

۴۲ ۵۰۱

## همېشه د بېلتانه په غم کې لولم
## زه رحمان نعوذ بالله منها (۱)

که مين يې په خپل يار باندې رښتيا — اواره کړه اول دين، پسې دنيا
په وفا د دلبرانو غلط مه شه — دغه قوم دی بې وفا او کبريا
د خوبانو طايفه ده هسې شوخه — چې غوڅ زړه باسي د چاپه واويلا (۲)
د دې برناز او د دې بر کبر له سببه — عمل نه کا په گفتار د اوليا
زړه و دين په نيم نگاه د سترگې يوسي — نه يې وېره له چا لرې نه حيا
بل به هسې سرگردان په جهان نه وي — يا عاشق دی يا آسمان دی يا آسيا
ته چې ژغورې سر و مال په عاشقي کې — عاشقي دا هسې چېرې وي وېريا (۳)
د جنت تر حور و تېر شه که يار غواړې — خدای دې نقد د چا نه کاندې نسيا (۴)
د ساقي له لاسه هسې باده نوش کړه — چې دې غوڅ کا د زړه خيرې دريا
چې يې کسب عاشقي شي د دلبرو (۵) — نظر نه کاندې په کسب د کيميا
يو گفتار ورله بس کاندې رحمان — خدای به هر ساعت پوښتنه کړي بيا بيا

۴۳ ۵۱۹

عاشقي مې يې په زړه وکړه گذر بيا (۶) — بېلتانه مې لمبې بلې کړې په سر بيا
که دفتر د خپل قسمت مې په خپل لاس وي — ما به ستا له غمه (۷) وران کا دا دفتر بيا
ما لالانو د آشنايي اخستي نه و — جدايي يې راته جمع کړ لښکر بيا (۸)
پس له مرگه به يې بيا ترتا قربان کړم (۹) — که صورت مې خدای پيدا کړ په محشر بيا
د هجران محنت مې واړه له زړه هېر شو — چې مې وليده په سترگو ستا بشر بيا

---

(۱) د "خ" دريواړه نسخو: "زه رحمان اعوذ بالله منها".
(۲) دا بيت د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "د خوبانو طايفې دی هسې شوخې چې غوڅ زړه باسي د چاپه واويلا". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "واويلا" پر ځای "انگولا" راغلی دی.
(۳) دا مسرۍ په مصوره نسخه کې او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "عاشقي دا هسې چېرې ده وېريا".
(۴) دا مسرۍ په "پ" نسخه کې داسې راغلې ده: "خدای دې نقد د چا ونه کاندی نسيا".
(۵) دا مسرۍ په چاپي ديوانونو کې او هم د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "چې يې کسب عاشقي شوه د دلبرو". او د "پ" په دوهمه او د "خ" په مصوره نسخه کې د "شوه" پر ځای "ده" راغلی دی.
(۶) د "پ" لومړۍ نسخه: "عاشقي مې يې په زړه وکړ اثر بيا". د "پ" مې چاپ کړي لومړۍ مسرۍ داسې راغلې ده: "عاشقي مې په زړه او کړ لوگذر بيا".
(۷) د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې "له غمه" پر ځای "له لاسه" راغلی دی.
(۸) دا مسرۍ په چاپي ديوانو کې داسې راغلې ده: "جدايي دې راته جمع کړ لښکر بيا". او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "بېلتانه يې راته جمع کړ لښکر بيا".
(۹) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "کړم" پر ځای "شوم" راغلی دی.

چې آسمان یې مخ پټ کړي په سحاب و(۱) — خدای وماوته خرګند کړ هغه نمر بیا

چې رقیب راته تر لې په څنځیر و — خپل حبیب راباندې پرانت هغه ور بیا(۲)

په یوه نظر یې زړه را تخته یو وړ — خدای دې خیر کا چې لا وکا بل نظر بیا(۳)

۴۴ — ۵۲۸

په وصال یې منت بار او وسه
په صدف کې دخل نه وي د ګوهر بیا

هغو بیا مونده سعادت په داد نیا — چې یې وکړ قناعت په دا د نیا(۴)

نه ملکونه د سلیمان په هزار کاله — نه یوه ګړۍ طاعت په دا د نیا

یو نفس د خدای په یاد و اولې تر دی — نه د درست جهان دولت په دا د نیا

په دنیا کې لوټ هغو عالمو وکړ(۵) — چې یې وکړ عبادت په دا د نیا

که نعمت دی خو طاعت او عبادت دی — ګنه نشته بل نعمت په دا د نیا

که محنت که مشقت دی خو د دین دی — په کار نه دی بل محنت په دا د نیا

بې له خدایه هر چې دي هم فاني دي(۶) — که لذت دی که زینت په دا د نیا

که بادشاه دی آخر خاورو له درومي — څه عزت دی څه قربت په دا د نیا

تر هغه به بل نادان په جهان نه وي(۷) — هر چې غواړي فراغت په دا د نیا

نه چې څو وخته فرصت په دنیا غواړي(۸) — چا موندلی دی فرصت په دا د نیا

عمارت په سر د ریګو روان کاندي(۹) — هر چې کاندي عمارت په دا د نیا

د مستانو تر لغزش څه کم نه دی — د سرې استقامت په دا د نیا

هر ژوندی چې د مړ ده په قبر ور شي — بس دی هو مره نصیحت په دا د نیا(۱۰)

په روانو او بو ور شه عمر ګوره — د بر دی هو مره اشارت په دا د نیا

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کښې نه دی راغلی.
(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ او د "پ" په دوهمه نسخه کښې داسې راغلی دی: "خپل مین راباندې پرانت هغه در بیا".
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کښې نه دی راغلی، د "پ" چاپ کښې ورو ستنی مسره داسې راغلې ده: "خدای دې خیر کا چې لا بل دکړي نظر بیا".
او د "خ" په لومړۍ نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کښې داسې راغلې ده: تر دې وګوره که لا وکا نظر بیا".
(۴) د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کښې دا غزل نه دی راغلی.
(۵) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کښې "په دنیا کې لوټ هغو زلمیو وکړ".
(۶) دا مسره د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کښې او هم د "پ" چاپ کښې داسې راغلې ده: "بې له خدایه هر چې دی واړه فاني دی".
(۷) دا مسره په "پ" چاپ کښې داسې راغلې ده: "له هغه به زیات نادان په جهان نه وي".
(۸) دا مسره په قلمي نسخو کښې داسې راغلې ده: "ته چې چند ګاه فرصت په دنیا غواړې".
(۹) دا مسره په "پ" چاپ کښې "عمارت په سر د ریګ روان کاندي". او په "پ پ" چاپ کښې "عمارت په سر د ریګ به روان کاندي" راغلې ده.
(۱۰) قلمي نسخو کښې "بسکه ..." راغلی دی.

دا پا خه پا خه سرا یو نه محلونه — خو به وران شي عاقبت په دا دنیا
ورېږي ستر ګي د آسمان څه هسي نه دي (۱) — چي څوك پرېږدي سلامت په دا دنیا
هر چي راشي هم واړه ځني درومي — مسافر دی هر صورت په دا دنیا
ریاضت په قیامت نه شي مرد هغه دی — چي یې وکړ ریاضت په دا دنیا
هم په دا خوی و خصلت به سبا پا څي (۲) — خدای څوك مکره بد خصلت په دا دنیا
هم هغه به یې خرمن وي پس له مرګه — هر چي کاندي زراعت په دا دنیا
که هغه جهان په دا کي لیده نه شي — زه یې وینم علامت په دا دنیا
په قیامت به بند توښه ځبله نه شي — مالبدلی دی قیامت په دا دنیا
امانت به د لحد په میان کي پروت وي — هر چي اوسي امانت په دا دنیا
نېك عمل حضور جنت دی طاعت بویه (۳) — چي حاصل کا څوك جنت په دا دنیا
نېك کردار هم نېك عمل هم نېك خویونه — هم جنت دی هم راحت په دا دنیا (۴)
ضدیت د سړي عمر په عذاب کا — په کار نه دی ضدیت په دا دنیا
لاس په سر په سینه ایښی وهر چا ته — هم دغه دی شرافت په دا دنیا
که بلند مرتبه د چا په کار وي — لوی مقام دی عدالت په دا دنیا
بل ارمان به له جهانه یو وړنه شي (۵) — مګر مهر محبت په دا دنیا
د هغه جهان سودا واړه دلي ده (۶) — که څوك کاندي تجارت په دا دنیا
که طالع د سړي نه وي چاره تلي — هیڅ پټ نه دی حقیقت په دا دنیا
نېك له نېکو سره بویه بد له بدو — که څوك غواړي ولایت په دا دنیا
ولایت دی خدای هغه له ورکړي — چي یې وراندې کړ سکونت په دا دنیا
که تمام دنیا واړه سره یو شي — نور به نه کا خپل قسمت په دا دنیا
که څوك (۷) مرد دی خو هغه دی په دنیا کي — هر چي نه لري حاجت په دا دنیا

---

(۱) د "ب" نسخه او د "ق" لومړی نسخه: " ورېږي ستر ګي د آسمان څه هومره نه دي."
(۲) قلمي نسخه: " هم په دا خوی و خصلت به پاڅا وه شي."
(۳) په قلمي نسخه کي "طالع" راغلی دی.
(۴) دا بیت د "پ" په نسخه کي نه دی راغلی، د "ق" په دوهمه قلمي نسخه کي "نېك کردار له نېك عمله سره بویه" راغلی دی.
(۵) "ب" په "چاپ" "بل ارمان به له جهانه یورد نه شي".
(۶) "پ" چاپ " د هغي جهان سودا واړه دلي شي.
(۷) په قلمي نسخه کي "که څه" راغلی دی.

چې رغبت یې د جمله بلاؤ سر دی — څوک به څه کا ناز یې رغبت په دا دنیا (۱)

۴۵ — په ناصح باندې دا غم هسې تېر شو
لکه تېر شو یو ساعت په دا دنیا — ۵۶۵

هوښیار مه ګڼه هوښیار د دې دنیا — بې وقوف دی و قوف له د دې دنیا
روښنايي په هغو زړونو ده حرامه (۲) — چې پرې کېني ګرد د غبار د دې دنیا
پوچ ګويي ده چې یې اهل د دنیا کا (۳) — هر کلام او هر ګفتار د دې دنیا
د طفلانو په څېر واړه خاکبازي کا — هر چې کاندې کاروبار د دې دنیا
واړه ږکي خولې د پیو هلکان دي — کار دیده او پخته کار د دې دنیا
همېشه به بې وقوف او بې شعور وي — چې مخمور وي په خمار د دې دنیا
د شرابو هم لا هومره مستي نه وي — لکه مست وي غم خوار د دې دنیا
هر بیمار له دارو په جهان شته دي — دارو نه لري بیمار د دې دنیا
د هر سوي علاج وشي په جهان کې — مګر سوی په شرار د دې دنیا
هر چې اچوي وا ورته واړه سوځي — موړ به نه شي طلبګار د دې دنیا
ګرفتار به همېشه په غم کې ډوب وي — هیڅوک مه شه ګرفتار د دې دنیا
تل به پروت وي په ظلمت او په تورتم کې — چې اسیر وي په کفار (۴) د دې دنیا
په مسلمو کې خاصه مسلم هغه دی — چې یې وشلاوه زنار د دې دنیا
څه و بت وته سجده څه و دنیا ته — بت پرست دی پرستار د دې دنیا
تن یې پاتو شي بې سره، سر یې لا رشي — سردار کله دی سردار د دې دنیا (۵)
زوی او لونه یتیمان کا څني درومي (۶) — بې وفا دي مور او پلار د دې دنیا
همېشه به یې یو پېڅ د غم په سر وي — چې په سر یې وي دستار د دې دنیا (۷)
واړه غم دی که یې پېرې که یې (۸) پلوري — نور څه نشته په بازار د دې دنیا

---

(۱) دا بیت په "پ" چاپ کې نشته.
(۲) د "خ" په دواړو نسخو کې "روښنايي ده په هغو زړونو حرامه". راغلی دی.
(۳) د "خ" په دواړو نسخو او "پ، پ" چاپ کې "پوچ ګويي ده چې یې حل د دنیا کاندي" راغلی دی
(۴) د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې "ګفتار" راغلی دی.
(۵) دا بیت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نه دی راغلی.
(۶) په "پ، پ" چاپ کې: "زامن لونه یتیمان که څني درومي".
(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې نه دی راغلی.
(۸) د "پ" په نسخه کې "یا یې" راغلی دی.

همګي واړه ټګان دي ټګي کاندي
فروشنده او خريدار ددې دنيا (۱)

په دنيا به مينه نه کاندي هيڅېرې
چې خبر وي په اضرار (۲) ددې دنيا

چې نظر د چا په دين او په ايمان وي
هغه نه کا انتظار ددې دنيا (۳)

چې وېرېږي له کوهي او له ګرنګه (٤)
هغه نه دړومي په لار ددې دنيا

آشنايان ئې همه واړه مکاران دي
څه وېساده په مکار ددې دنيا

لوى، هلاک ئې، همه واړه اغياران دي
يار دې څېرې په ديار ددې دنيا

چې پيدا شي همګي واړه فنا شي
راشه وګوره ناتار ددې دنيا

هر سړي لره چې ورشي ځني دړومي
ماليدلي دي رفتار ددې دنيا

په يوه ګړۍ بهار وي بيا خزان شي
بقا نه لري بهار ددې دنيا

که هزار هزار پښتي ورته ته کېږدې (٥)
بې بنياده دى ديوار ددې دنيا

که دا وسپنو حصار ترځان چاپېر کړې
سېبسه وګڼه حصار ددې دنيا (٦)

لکه سيورى د آفتاب په مخ کې ګرځي
نشته هيڅېر ته قرار ددې دنيا

هيڅ ګومان د بهترۍ ورباندې مکړه (۷)
بهتري ده وار په وار ددې دنيا

بې مقراضه غوځوي د سړي عمر
هم دا ليل او هم نهار ددې دنيا

پس له مرګه به حساب له سړي غوښتن شي
په اندازه او په مقدار ددې دنيا

عاقبت خوبه يو موټي شي د خاورو
ګلعذار او ګل رخسار ددې دنيا

برابر به له ګدا سره پاڅي
شهزاده او شهريار ددې دنيا (۸)

پاس به داغ وي د لئيم په سينه باندې
هر درم او هر دينار ددې دنيا (۹)

د قانع تر قناعته صدقه شه
هم دنيا او هم دينار ددې دنيا (۱۰)

پس له مرګه به همه واړه مظلوم وي
ظالمان او ستمګار ددې دنيا

تر قيامت به د غه شل او د غه لس وي (۱۱)
پوره نه کړ هيچا شمار ددې دنيا

---

(۱) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دى راغلى او د "ب پ" چاپ کې داسې راغلى دى: "همه واړه يې ټګان دي ټګي کاندي".
(۲) په چاپي نسخو کې "اسرار" راغلى دى.
(۳) د "ب" نسخه: "هغه نه لري نظر په کار ددې دنيا". د "خ" دوهمه نسخه: "هغه نه لري هيڅ کار ددې دنيا".
(٤) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې: "چې يې وېره شي له کوهه له ګرنګه".
(٥) قلمي نسخه: "که هزار هزار پښتي ورته کېږدې".
(٦) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې: "بې بنې وګڼه حصار ددې دنيا"، د "ب پ" چاپ کې: "سېبسه وګڼه ديوار ددې دنيا".
(۷) قلمي نسخه: "هيڅ ګومان د بهترۍ پرې مه کړه".
(۸) دا مسره د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "شهزاده او شهسوار ددې دنيا". (۹) دا بيت د "خ" په نسخو کې نه دى راغلى.
(۱۰) دا بيت په "ب پ" چاپ کې نه دى راغلى.
(۱۱) دا مسره په چاپي ديوانو کې داسې راغلې ده: "تر قيامته د غه لس او د غه شل دى".

چې ايام پرې د کفن او غسل ور شي — بې پردې شي پرده دار د دې دنيا
په تخته باندې بيرون شي له حجابه — شرمناك او شرمسار د دې دنيا (۱)
تو هر چا به پيغمبر ځخه وه ډېره — که څه قرب وی یا وقار د دې دنيا

۴۶ — ۶۰۸

يو فساد به لې بيان په رحمان نه شي (۲)
فساد ونه دي بسيار د دې دنيا



سپی مست يم ستا د شونډو په شراب (۳) — چې به نه وي بل دا هسې مست خراب
لاس دستا په مينه اچوم و گل ته — لکه بوټي ته لاس اچوي غرقاب
دا سرخي او سفيدي دستا د مخ ده — که زما په مخ باران دی د خوناب (۴)
خدای اثر به زما او ښکي په تا کاندي — لا تازه شي اور په او ښکو د کباب
عاشقان دې ستر گې روڼې کا په عشق کې — دا خواب نه دی دا منزل دی د سيلاب (۵)
ما چې خال دستا د ورځو په ميان وليد — نه بل هسې رنگ امام شته نه محراب (۶)
ښا پيرې چې لباه نه شي سبب دا دی — مخ دستا له شرمه نغاړي په حجاب (۷)

(۱) دا مسرۍ د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې داسې راغلې ده : " شرمناك و شرمدار د دې دنيا ".
(۲) د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې : " يو فساد به لې بيان تر رحمان نه شي ".
(۳) دا مسرۍ په پېښور چاپ کې داسې راغلې ده : " هسې مست يمه د شونډو وېه شراب "
(۴) دا بيت په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی : " دا سرخي او سفيدي ده ستا په مخ کې — که زما په مخ باران دی د سحاب ".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی : " دا سرخي او سفيدي چې ستا د مخ ده — دا زما په مخ باران دی که سيلاب ".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی : " دا سرخي او سفيدي خو ستا د مخ ده — که زما په مخ باران دی د خوناب ".
د "پ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی : " دا سرخي او سفيدي چې ستا د مخ ده — که زما د مخ باران دی د خوناب "
(۵) دا مسرۍ په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده : " دا خواب نه دی منزل گاه دی د سيلاب ".
(۶) دا مسرۍ په "پ" پېښور چاپ کې داسې راغلې ده : " نه بل هسې رنگ امام شته د محراب ".
د "پ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده : " نه بل هسې رنگ امام شته په محراب ".
(۷) دا مسرۍ په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده : " مخ دستا له غمه نغاړي په حجاب ".

چې سبا شي ستا ترمخ پورې شرمېږي / ځکه زيست په توره شپه کاندي مهتاب
حجاب واخله مخ کړه تور د هغو خلقو / چې تحسين کا ستا په دور د آفتاب
هسې نه چې زه دلبر وايم وتا ته / خداى دې تا له درکړى دا خطاب
ستا د مخ په ورق باندې خط وخال دي / د مصحف په صحيفو باندې اعراب
ستا د حسن حساب هيڅ په ګمان نه شي / هم په دا چې بې حساب دى بې حساب

۶۲۱ — ۴۷

يو کتاب په سربن کې چاوند کړ (۱)
بې رحمانه چې يې وکړ دا کتاب

چې يې وليد د ستا حسن بې حساب / لدې قصده تا وپيدا شوله آفتاب (۲)
ستا له غم مې سترغلي سرې ناخې شوې / يا خيې د سياه پوش سره طناب (۳)
په آرزو دې د نرګس سترګې خلور شوې / غونچه سره د زړه په وينو شوه غرقاب (۴)
که دې زلفي په مخ پېچو تاب شوې بنايي (۵) / وسپينته طاقت لرې دا ورله تاب
زه چې خداى د ستا له غم سره آشنا کړم / خوشحالي مې نور نايابه شوه ناياب
سترغلي مې د فراق په ژړا سره شوه / د سبزي اثر يې پاخېده له آب (۶)
مه، خورشيد چې دې بنايست پورې شرمېږي / ځکه مخ پناه کوي تر کوه قاب (۷)
زه دې پېژنم په اصل کې خاکي سړى / ځان به خوشحنې په ګوتي له تراب (۸)
خو دې خيال د آشنا کړي چې په لېمه کې / خبر زده کړه ته دا وښکو له سيلاب (۹)

۶۳۱ — ۴۸

د رحمان بخت به هالله خوب ويښ شي
که ته سترګې ورته پورته کړې له خواب (۱۰)

---

(۱) دا مسره په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "بې رحمانه چې يې جوړ کړو دا کتاب". او ددې بيت لومړى مسره د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې داسې راغلې ده:
"يو کتاب په سربند لې چاوند کړ".

(۲) ددې بيت رديف په "پ" چاپ کې نه دى راغلى او دا بيت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلى دى: "چې مې وليد ستا حسن بې حساب لدې قصده تا و پيدا شو د آفتاب".

(۳) دا بيت په "پ" چاپ کې داسې راغلى دى: "ستا په غم مې سترغلي سرې ناخې شوې يا خيې دى سيه پوش سره طناب" خو په لومړۍ قلمي نسخه او "پ" چاپ کې دا بيت نه دى راغلى.

(۴) دا بيت په "پ" چاپ کې داسې راغلى دى: "په ارمان دې د نرګس سترګې خلور شوې غنچه سره د زړه په وينو شوه غرقاب".
د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلى دى: "په ارمان د نرګس دوې سترګې خلور شوې غنچه سره د زړه په وينو شوه غرقاب".
د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې داسې راغلى دى: "په ارمان وې د نرګس سترګې خلور شوې غنچه شوه د زړه په وينو کې غرقاب".
د "پ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلى دى: "په ارمان ود نرګس سترګې خلور شوې غنچه سره د زړه په وينو کې غرقاب".

(۵) دا مسره د "خ" په لومړۍ نسخه کې (قلمي نسخه کې) داسې راغلې: "که دې زلفي په مخ پېچ، پېچ دى بنايي".

(۶) دا مسره د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې داسې راغلې ده: "سترغلي مې د فراق په ژړا سپين شو". او د "پ" په دوهمه نسخه کې د "سپين" او د "سره" پر ځاى "شنه" راغلى دى.

(۷) دا بيت د "خ" په دواړو قلمي نسخو او د "پ" په دواړو قلمي نسخو کې نه دى راغلى.

(۸) ددې بيت دوهمه مسره د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده "ځان به خوشحنې په ګوتو له تراب". مګر په لوړو ټولو قلمي نسخو او "پ" چاپ کې نه دى راغلى.

(۹) دا بيت يوازې له "پ" چاپ نخه په لوړو نسخو کې نه دى راغلى.

(۱۰) دا مسره د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "که ته سترګې ورته پورته کړې له خواب".

لاس مې وتړي د زلفو په طناب — بیا مې وپلوري دسترګو په قصاب[(۱)]
هسې آب یې دی د دووسترګو په تیغ کې — چې بې سره په سر نه لري حباب
چې توسن د فلك زین کاندي له نازه — دا هلال یې په ځای راوشي د رکاب[(۲)]
په درګاه یې درو بزه کاندي د حسن — کنه ولې په لاس سپوږمۍ هم آفتاب[(۳)]
چې رایادې یې سرې شونډې سورې پړوان کړم — تر چشمانو مې بهیږي سره شهاب
چې د مخ د آب وتاب ته یې نظر کړم — راته هیڅ شي دګلونو آب وتاب[(۵)]
چې نسیم یې د زلفینو راپیدا شي — درست مې ډوب کاندې په مشکو په ګلاب
چې د سپي اوازیې واورم هسې خوښ شم — لکه څوك په نغمه خوښ وي د رباب
ماوې ګوندې مخ یې ووینم په خوب کې — باري چېرې شي بې یاره دچا خواب[(۶)]

په غزل کې خو دوه بیته انتخاب وي[(۷)]

٤٩ — د رحمان تمام غزل دی انتخاب — ٦٤١

هر مطرب چې غوږ تاوکا د رباب — په داناوکې زما زړه کاندې خراب[(۸)]
چې سامع یې په نغمه په ترانه شم — دېوانه شم ګریوان څیرې مست خراب
هم یې تار هم یې ګفتار هسې اثر کا — چې هیڅوك یې نه طاقت لري نه تاب
بویې ساز بل یې اواز دی دلبستیو — دریم شعر یې آغاز کا انتخاب
څلورم یې یو ساقي د ځنګه ناسته وي[(۹)] — چې مخ یې نه آفتاب وي نه مهتاب
دا څلور واړه فتنې په څلور کنجه — او پنځم یې صراحي د میو ناب
شپږم وخت د نوبهار او وم ځوانې د — اتم شغل د کتاب نهم رباب[(۱۰)]
چې دا هوم آفتونه سره ټول شي — تر وڅوك څرنګ ځنې کاندي اجتناب

---

(۱) دا دې غزل شپږم بیته په مصوره نسخه کې نشته. په چاپي دیوانونو کې د "ویلوری" پر ځای "وسپاری" راغلی دی.
(۲) قلمي نسخې : "داهلال په ځای راوشي د رکاب". د "خ" دوهمه نسخه : "دهلال پر ځای یې ونښلي رکاب".
(۳) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ : "کنه ولې په لاس نیولی دی مهتاب". د "خ" دوهمه نسخه : "کنه ولې په لاس سپوږمۍ هم د آفتاب".
(٤) چاپي دیوانونه : "چې په یاد کې مې سرې شونډې سپین رخسار دی".
(۵) "ق" او "ق، ک" چاپ : "راته هیڅ شي دګلونو آب وتاب".
(۶) چاپي دیوانونه : "ماوې مخ یې ګوندې ووینم په خوب کې باړې چېرې شي بې یاره خورد وخواب".
(۷) د "خ" لومړی نسخه : "په غزل کې یو دوه بیته انتخاب دي".
(۸) په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې د "خراب" پر ځای "کباب" راغلی دی.
(۹) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړی نسخه : "څلورم یې یو ساقي تر ځنګه کښیني"
(۱۰) قلمي نسخې : "شپږم وخت د نوبهار او د ځوانۍ اووم شغل د بیاض ود کتاب"

چې د اهسې دلبران پرې اثر نه کا — یا به دیو وي یا دیوال وي یا دواب
راڅرګند به شي پرهېز د پرهېزګارو — که قادر شي په شاهد او په شراب (۱)

(۵۰)
۶۵۲
زه ځان له ریا زهده (۲) پناه غواړم
د ریا زهد عذاب دی هم عتاب

ورقونه لټوم ده مکتوب — پکې غواړم خال وخط د خپل مطلوب (۳)
یا تنور دی یا دکان د آهنګرو — چې په عشق کې تصور کړم خپل قلوب
په خندا خندا ځان اچوي واورته — خدای خوک مه کړه په جذبه د عشق مجذوب (۴)
زه چې غم ده هرو یا نو را په زړه کړم — له دې غمه ولاړ شي زړه راځنې ډوب
ګوره څرنګ عشق آسان کړه و عاشق ته — دا مشکل مشقتونه د ایوب (۵)
په ژړا ژړا ترهسې حده راغی — چې ځان ړوند کړ په یوسف پسې یعقوب
عشق دی دا چې معشوقه شوه و عاشق ته — نه د رخسار ده هرو یا نو په اسلوب (۶)
هغه څه پوهېږي له هجره له وصاله — چې په خپله هم محب شي هم محبوب

(۵۱)
۶۶۱
چې نظر یې له صورته په معنو کړم (۷)
و ځان وته یکسان شو زشت و خوب

چې نظر کړم په قسمت او په نصیب — راته هیڅ شي خپل تالاش و خپل ترتیب (۸)
مګر خود په خپله خدای د چا طبیب شي — ګنې نشته په جهان کې بل طبیب
راڅرګند دی په سود او زیان د رقیبانو — که خدای نه کا ندی خپل یار د چا رقیب (۹)
چې خپل یار د چا رقیب شي دلیل دا دی — لکه څوک چې په وطن کې شي غریب (۱۰)
چې غریب شي په وطن کې فرق یې نه وي — که فرسنګ یې وي تر میانه که جریب
ما په عشق کې هیڅ حاصل نه کړه بې غمه — هر چې والي واره (۱۱) بنه والي ادیب

---

(۱) مصوره نسخه: "که قادر شي څوک په شهد و په شراب" (۲) په "ق" چاپ او د "خ" لومړۍ نسخه کې "پرهېز" او په "ق ک" چاپ کې "امان" راغلی دی.
(۳) دا مسری په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی ده: "پکې غواړم خال وخط د خپل محبوب". د "خ" لومړۍ نسخه: "او پکې غواړم څو خال ده هم مطلوب".
(٤) دا بیت د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "په خند اخند ا ځان اچوم واورته خدای څوک مه کړه په جذبه د عشق مجذوب". خو په لومړۍ قلمي نسخه کې د "مجذوب" پر ځای "میزوب" راغلی دی. په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "په خند اخند ا ځان اچوي بل اورته خدای چې څوک کړي په جذبه د عشق مجذوب".
(۵) چاپي دیوانونه: "ګوره عشق څرنګ اسان کړه د عاشق ته دا مشکل مشقتونه دا یوب". د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "ایوب" پر ځای "وعیوب" راغلی دی.
(٦) دا بیت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نشته، د دې بیت په لومړۍ مسره کې د "شو" پر ځای، په "پ" چاپ کې "شنه" په "پ" چاپ کې "شوه"، د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې "شي" او د "پ" په دوهمه نسخه کې "واه" راغلی دی.
(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "چې نظر یې له صورته په معنو کړم ورځان وته یکسان شي زشت و خوب".
(۸) د دې ردیف اول بیتونه د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نه دي راغلي (۹) دا بیت په "پ" چاپ کې داسې دی: "راڅرګند دی سود و زیان د رقیبانو که خدای دې نه کاندې خپل یار د چا رقیب". په "پ" چاپ کې: "راڅرګند دی سود و زیان د رقیبانو که خدای نه کاندې خپل یار د چا طبیب". د "خ" لومړۍ قلمي نسخه کې: "راڅرګند دی پسورا واز د رقیبانو که خدای نه کا ندی خپل یار د چا رقیب".
(۱۰) دا بیت په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "چې خپل یار د چا طبیب شي مثال دا دی لکه څوک چې په وطن کې شي غریب". ګرد "خ" لومړۍ نسخه کې یې دوهمه مسره داسې راغلې ده: "لکه څوک چې خپل وطن کې شي غریب".
(۱۱) په "پ" چاپ کې د "واره" پر ځای "هغه" راغلی دی او دوهمه مسره یې د "پ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "هر چې والي واره به دا والي ادیب".

دښمن هم د سړي کله کله دوست شي
دوستي نه کا له (ږاخ) سره حبیب

۵۲ — ۶۶۸

زه په سل رنګه راغب ته په سل رنګه غایب
دا به څرنګ شي دلبره چې زه مست یم ته تایب
که له جوره دې فریاد کړم داهم نه دی مناسب
که څه وایم نه مې رسي زه مغلوب یم ته غالب
څه سیالي برابري ده د مطلوب او د طالب(۱)
داستا مهر و محبت کړو خدای په ما باندې واجب
درد و غم دې هومره نه دی چې یې وکښم په کاتب
جدایي ده ډېره سخته دارواح او د قالب
چې مجنون په څنګندن شو(۲) زه یې پرېښودم نایب
وصیت یې راته وکړو په څو رنګه(۳) عجایب
چې روزي دې شه (ږاخ) ته
زما واړه مراتب

۵۳ — ۶۷۹

که مې وشي له دلبره ملاقات بیا به نه ځم له دې دره په حیات (٤)
پس له دې مې دې استوګنه خدای نصیب کا په دا درګې که حیات وي که ممات

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" دوهمه نسخه: "چې مجنون له دې جهان ته".
(۳) "ق" او "ق، ک" چاپ: "په سل رنګه"
(٤) دا مسری په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "یا به نه ستم له دې دره په حیات".

ځای لري که زه و یار وته سجده کړم (۱) — هغه یار زما قبله دی دحاجات (۲)
دخپل یار تر لعلو لبو به یې زار کړم — که شکرې وي که قند وي که نبات
دا زما د یار جلوه ده چې لیده شي — لکه لمر په صومعه د سومنات (۳)
تر ما لا په دلبرانو د بر مین دي — چې خبرې کا د کشف او کرامات
دریاله زاهدي زما توبه ده — چې یې کاندي خوك په رسم او په عادات
په ورځ پند او نصیحت والي و بل ته — په شپه ناست وي د مغان په خرابات
دین یې دام وي د دنیا په لار کې ایښی — پرې را ا روي وحشیان د مخلوقات (٤)
د هغو په لور یې سترګې وي ختلي — چې په لاس یې سر سایه وي یا زکات
زه رحمان له هسې اهله پناه غواړم (٥) — هر چې لاف کا په خلاف د مقامات

٥٤ — ٦٨٨

آفرین د عاشقانو په همت — چې په عشق کې یك انداز وي یك جهت
نه یې هیڅ بې تغیر نه یې تبدیل وي — که تمام جهان پرې والي ملامت
که خوك سل نصیحتونه ورته کاندي — غوږ یې نه وي د هیچا په نصیحت
چې په یار پسې ترځان ترجهان تېر شي — خوك کولی شي د اهسې مشقت
که تمام عمر یې یار په سترګو ناست وي (٦) — تمام عمر ورسکار بېږي یو ساعت
که یو دم شي هغه یار ورته لرې — هغه دم شي ورته عمر د قیامت
که دوزخ لره د یار په مینه درومي — دوزخ هم ورته جلوه (۷) کا د جنت
د عشق لار د توکل په پښو غوځېږي — نه په پښو د ریاضت او دیانت (۸)
په تدبیر او په تالاش کله موندہ شي — چې موقوف وي هغه کار په عنایت

---

په چاپي دیوانونو کې د "ځای لري" پر ځای "ښایي دا" راغلی دی.
دامسری د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی ده: "هغه یار که قبول که دعاحاجات". "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "هغه یار زما قبله دی هم حاجات".
دامسری په "پښ" چاپ کې داسې راغلی ده: "لکه لمر په صومعه او په سومنات". په "پ" چاپ کې داسې راغلی ده: "لکه لمر په صومعه وسومنات".
دابیت د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "ایښی دام وي د دنیا په لار کې نیسي — پرې را اړوي وحشیان او مخلوقات".
دابیت د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "زه رحمان له هسې علم پناه غواړم — هر چې لاف کا په خلاف د مقامات".
د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "زه رحمان حال پناه غواړم و خدای ته — هر چې لاف کا په خلاف د مقامات".
دامسری د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی ده: "که تمام عمر مې یار په عبرت کې ناست وي".
مسری د "پ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی ده:
"دوزخ هم ورته کوڅه کا د جنت".
د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلی ده: "نه په پښو د ریاضت دوانیت".

دعاشق خاطر له غیرو پاکیزه دی — د دریاب په مخ کې نه وي نجاست

۵۸ — ۶۹۹

خدای چي زړه د مطلوب کاني کړ رحمانه[1]
کاني پریوځي د طالب په عمارت

وصال شپه مي بار له په بیلتون شوه الغیاث — د قیامت خواري راپیښه په ژوندون شوه الغیاث

ما الطمع د وصال نعمتونو تري کوله — ناګهان کاسه[2] نسکوره د ګردون شوه الغیاث

هغه چارچي مي په لاس وه زه پري نه وم پوهیدلی[3] — او س چي پوه شوم له اختیاره مي بیرون شوه الغیاث

د وصال په طمع طوق د جدایی شو را په غاړه — هغه طمع چي زما وه او س طاعون شوه الغیاث[4]

په حکمت په عقل پیچي د عشق اخستي خوک نه شي[5] — په دا کار کي ماته ملا د افلاطون شوه الغیاث

ما رحمان دیار وصال په اساني موندلی نه دی[6]
زرد رویي مي سرخ رویي په ځګر خون شوه الغیاث

۵۹ — ۷۰۵

یار یاري راسره نه کړه الغیاث — نه یي ترس شي نه یي کړه الغیاث

سر و مال واړه زما و دلارام ته — نه ار زیږي په کنځله الغیاث

په حملو حملو مي زړه وړي نه پوهیږم[7] — افریدی ده که ختکه الغیاث

بیلتانه یي پیښور راته تنور کړ و — له خیبره تر اټکه الغیاث

---

(۱) وابیت د "خ" په قلمي نسخه کي داسي راغلي دی: "چي خدای زړه د مطلوب نرم کړ رحمانه کاني بوتي پروت طالب په عمارت".
او ددي بیت دوهمه مسره د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کي داسي راغلي ده: "کاني پروت وی د طالب په عمارت".

(۲) په چاپي دیوانونو کي "پیاله" راغلي ده.

(۳) د "خ" دوهمه نسخه: "زه پري هیڅ نه پوهیدلم".

(٤) دابیت په مصوره نسخه کي نشته.

(۵) مصوره نسخه: "په حکمت په عقل کله څوک په عشق پوهیږي".

(۶) د "خ" لومړی نسخه: "مادحمان مثال په اساني موندلی نه دی." د "پ پ" چاپ کي د "اساني" پرځای "اشنایي" راغلي ده.

(۷) د "خ" لومړی نسخه: "په حملو حملو یي زړه راتښتیوو ړ".

خو چې راکاږي چوګان په مخ د زلفو — ګوی زما د اخراب زړه کړه الغیاث
هېڅ سبب مې لیده نه شي جفا کاندي — نه پوهېږم چې پڅه کړه الغیاث
په اخلاص و په راستۍ ورته ولاړیم — یار جفا هوم په څه کړه الغیاث (۱)
سل خبري کړه له صدقه ورته وکړم — یار یوه راسره نه کړه الغیاث
چې مې وینې له رقیبه سره خاندي — په ژړا مې لېمه سره کړه الغیاث

۵۷ — زه رحمان مدام د یار په رضا درومم
یار په خپله رضا تله کړه (۲) الغیاث — ۷۱۵

چې ولې مې له تا دی دا حدیث — سرنامه د هر انشاء (۳) دی دا حدیث
چې آغاز مې کړ په مدحه د خوبانو (٤) — ځکه ګنج بې بها دی دا حدیث
په ثنا د دل پسند و دلربا (۵) — دل پسند او دلربا دی دا حدیث
لکه باد د صبا دم چې غوټۍ وا کا — هسې رنګه دلکشا دی دا حدیث
چې اوصاف مې د سرو شونډو وکړ راوړه — خوږ تر قند و تر حلوا دی دا حدیث
نه پوهېږم چې او به دي د حیا تو — که نفس د مسیحا دی دا حدیث
د غونډ ژبو شاعرانو خولې نه دي — ځکه هسې رنګ صفا دی دا حدیث
ستا و مخ ته که شوک شمس و قمر وایي — دروغ نه دي په رښتیا دی دا حدیث

۵۸ — که شوک وایي چې چا کړی دا حدیث دی
رحمان وایي چې زما دی دا حدیث — ۷۲٤

ج

بې برهم کا عاشقي د چا مزاج — حکیمان بې درمانده شي په علاج
په آشنا پسې تل ژاړي په دوه سترګو (٦) — داوبو په ځای خوناب کاندي اخراج

---

(۱) دا بیت او ورپسې دوه نور بیتونه په قلمي نسخو کې نشته . "ق، ک" چاپ : " یار د وفا راسره نه کا الغیاث "
(۲) د "خ" لومړۍ نسخه کې د " تله کړه " پر ځای " نه کړه " راغلی دی.
(۳) د "خ" دواړو قلمي نسخو او د "ب" په دوهمه نسخه کې : " سرنامه د هر اشنا دی دا حدیث ".
(٤) د "خ" دوهمه قلمي نسخه : " چې آغازه بې کړه مدح د خوبانو ".
(۵) د "ب" دوهمه او د "خ" لومړۍ قلمي نسخه : " په ثنا د دل پسند و دلبرانو ".
(٦) دا مسرۍ د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې داسې راغلې ده : " په اشنا پسې تل ژاړه د دواړو سترګو ".

دواړه لاس یې وي له دواړو کونو وللي
ډوب وي تل د عاشقۍ په لوی امواج (١)

په هغو کې چې څه بوی د عاشقۍ وي
پکې نه وي بوی د رسم او د رواج

ابراهیم ادهم څه هسې نادان نه ؤ
چې نظر یې یا په تخت ؤ یا په تاج (٢)

مجنون هسې رنګ مین په لیلی نه ؤ
چې په نورو یې موقوف وي احتیاج (٣)

لېونتوب له لېونیو تلونی نه دی
کړې راج په خونه ورشي که تاراج

کړې سر لکه منصور غوندې په دار شي
دغه دار دی و رحمان وته معراج

٥٩ — ٧٣٢

پـه طلب دې هر و یانو سرګردان دی زما روح
لکه باد د ګل په بوی پسې پرېشان دی زما روح

ستا د حسن و آفتاب ته ځان سپاری په تبسم کې (٤)
لکه صبح د ژړا په ځای خندان دی زما روح

چې مې ولیده د ستا د جمال عکس په خپل ځان کې
هم په داد آیینې په خبر روښان دی زما روح (٥)

ستا د مخ د آیینې له برکته زما جانه
همېشه لکه توتي هسې ګویان دی زما روح

---

(١) دا مصرع په "ب" چاپ او د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلې ده : " ډوب وي تل د عاشقۍ په امواج ".

(٢) دا بيت د "ب" په دوهم او د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلی دی : " ابراهيم ادهم هسې نادان نه دی چې نظر يې يا په تخت دی يا په تاج ".

(٣) دا بيت د "ب" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی : " مجنون هسې رنګ مين په ليلی نه دی چې په نورو يې موقوف دی احتياج ".

د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې دا بيت داسې راغلی دی " مجنون هسې رنګ مين په ليلی نه دی چې له نوره يې موقوف وی احتياج ".

(٤) چاپي ديوانونه : " ستا د حسن و آفتاب ته چې سپارلی ځان شبنم دی ". د "خ" لومړۍ نسخه : " ستا د حسن آفتاب ته ځان سپارلی د شبنم کې ".

مصوره نسخه : " ستا د حسن و آفتاب ته ځان سپارم په شبنم کې ".

(٥) چاپي ديوانونه : " چې مې ستا د جمال عکس دی ليدلی په خپل ځان کې هم په داد آيينې په خبر حيران دی زما روح ".

د "خ" لومړۍ نسخه کې لومړۍ مسره داسې ده : " چې مې وليد د ستا د جمال عکس په ځنپله ".

لکه رنګ د میو نابو چې لیده شي په شیشه کې
هسې رنګ په ضعیف تن کې نمایان دی زما روح

منتظر دې د وصال د ګلستان یم تل تر تله
سر تر پایه د شبنم په څېر چشمان (١) دی زما روح

چې حاصله مې له حسنه روښنائي شوه په طلب کې
شپه او ورځ لکه آفتاب په لار روان دی زما روح (٢)

ستا په زلفو په رخسار پسې رحمان (٣) یم بې وطنه
مسافر د هندوستان خراسان دی زما روح

٦٠ — ٧٤٠

ستا وصال دی رابښلی زما روح
ستا هجران دی رانیولی (٤) زما روح

ستا په مخ پسې یې مخ وینو راهي شو (٥)
له صورته دی وتلی زما روح

چې هرګز ملك الموت پرې نه پوهېږي
هسې شان دی تا وکښلی زما روح

ځان یې هسې ستا په مینه پسې ورك کړ
چې هیچا نه دی لیدلی (٦) زما روح

که وي هم به نا څرګند وي کډې خدای کا
نه دی بلې خواته تللی زما روح

بلبل نه دی دا چې الوځي په ګلو
ستا په لور دی الوتلی زما روح

چې یې خاورې کړ ما صورت د ستا په در کې
سر تر عرشه دی وکښلی زما روح

ته یې پېژنې چې څه دی یا څه نه دی
نور چا نه دی پېژندلی زما روح (٧)

زه رحمان له خپله ځانه خبر نه یم (٨)
چې په څه رنګ دی وکښلی زما روح

٦١ — ٧٤٩

---

(١) "ق، ک" چاپ کې "ګریبان" راغلی دی.
(٢) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(٣) په چاپي دیوانونو کې د "یم" پر ځای "شو" راغلی دی.
(٤) په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړۍ او مصوره نسخه کې "پېړودلی" راغلی دی.
(٥) چاپي دیوانونه: "ستا په مخ پسې مې درست وجود راهي شو". د "خ" لومړۍ نسخه: "ستا په مخ پسې مې وینې راهي شوې". د "خ" دوهمه نسخه: "ستا په مخ پسې مجنون غوندې راهي شو" او مصوره نسخه: "ستا په مخ پسې مخ وینو چې راهي شو".
(٦) په چاپي دیوانونو کې "موندلی" راغلی دی.
(٧) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٨) چاپي دیوانونه: "زه رحمان له خپله یاره خبر نه یم چې یې څه شان دی کوتلی زما روح". د "خ" دوهمه نسخه: "چې په څه رنګ دی وتلی زما روح".

ا سحرسبا لېدلی ؤ دچا مخ ۔۔۔ چې مې د رسته ورځ ونه لیده دا ستا مخ
داخو مخ زما وتا وته خدای هیڅ کړ ۔۔۔ ګنه هر یو آشنا ګوري د آشنا مخ
د پر مخ ونه د جفا دې راڅرګند کړه ل ۔۔۔ لا به کله راڅرګند کړې د وفا مخ
خو د مرګ په تما چه او ښتی نه دی ۔۔۔ او ښتونی له تاند دی دا زما مخ[1]
زه په تا پسې راغلی په داغ یم ۔۔۔ کړ ته نه وی ما به څه کول په دا مخ
ما به څه لره په تا پسې ژړا کړه ۔۔۔ که مونده شوی بل د ستا په څېر زیبا مخ
د رقیب طمع مې نه وه ستا په در کې ۔۔۔ رادې وښود په جنت کې د بلا مخ (۲)
زه به څرنګ د رقیب و مخ ته ګورم ۔۔۔ کله اهل سنت ګوري د ترسا مخ
د چکنا چکنی ببلتون په نیمه شپه وې ۔۔۔ ستا زما په حال غماز شو د سبا مخ[3]

62 ۔۔۔ 759

رحمان ستا په مخ داورانه دنیا ګوري
خدای بې تا راڅرګند مه کړه د دنیا مخ (٤)

کله شوله کله خریدار یم ستا د مخ ۔۔۔ تېر تر سر و ماله په بازار یم ستا د مخ (٥)
بې د ستا له مخه نور مې هیڅ په مخ کې نشته ۔۔۔ هسې رنګ نتلی په ناتار[6] یم ستا د مخ
هیڅ په ستر ګو نه ویم دا خپل صورت چې کوم دی ۔۔۔ د وب تر هسې حده په انوار یم ستا د مخ (۷)
درد و آه و کار م بهانه د تماکو کړم[8] ۔۔۔ سوی لوغړن مدام په نار یم ستا د مخ
نور و ګړي وار ه هګي د دنیا کار کا ۔۔۔ زه همیشه غرق په انتظار یم ستا د مخ

---

(١) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړي او دوهم نسخه : " او ښتونی له تا مه ګڼه زما مخ ".
(٢) "ق، ک" چاپ : " په جنت کې خدای را وښود د بلا مخ ". نور چاپي دیوانونه او د "خ" دوهم نسخه کې : " په جنت کې دې راوښود د بلا مخ ".
(٣) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(٤) چاپي دیوانونه : "خدای بې تا ورڅرګند مه کړه د دنیا مخ ".
(٥) دا غزل د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(٦) په مصوره نسخه کې د " ناتار " پر ځای " انتظار " راغلی دی.
(٧) د "خ" دوهمه نسخه : "سوی لوغړن یم زه په نار د ستا د مخ "
(٨) قلمي نسخې : " درد و آه د کار م بهانه د تماکو " . او دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

شکر چې يې خلاص کړم د نورخلقو له منته — سر په سجده ايښی منت بار يم ستا د مخ

٦٣ — ٧٦٦

هره خواچې دروم زه رحمان د زړه په سيل (١)
بل مطلب مې نشته طلبگار يم ستا د مخ

چې پيدا شوه ستا چشمان داهسې شوخ — نور به نه وي مردمان داهسې شوخ
کږې زلفې کږ ابرو لکه چې ستا دي (٢) — نه لړم شته نه ماران داهسې شوخ
د بړغمونه شوخ شوخ شته په دادنيا کې (٣) — ولې نه لکه هجران داهسې شوخ
مگر ديو وي چې بې غم وي په هجران کې — گنهه نه به وي انسان داهسې شوخ
دافتنې او فسادونه به وو چيرې — چې پيدا نه وي آسمان داهسې شوخ
داشنا له غمه زړه د آشنا نه چوي — آفريده کړه خدای جهان داهسې شوخ (٤)
چې يوسف يې د دنيا په مطاع ورکړه (٥) — پيدا امده شه بل کاروان داهسې شوخ

٦٤ — ٧٧٤

چې بوسه له ياره غواړي بې ادبه
خدای دی نه کاندې رحمان داهسې شوخ

---

بادشاهانو که قصرونه کړل بنياد — ما د عشق عمارتونه کړل آباد (٦)
نوم د کوم يو بادشاه سې يادېږي — لکه نوم چې د مجنون او د فرهاد (٧)

---

(١) "ق ک" چاپ کې د (سيل) پر ځای "مينه" راغلی ده. (٢) دا مسری په "پ" چاپ کی داسې راغلی ده: "کږې زلفان کږ ابروان لکه چې ستا دي". د "پ" لومړی نسخه: "لکه کږې زلف کږ ابرو دستا کږ سج دی". او د "پ" په دوهم قلمی نسخه او د "خ" په دوارو قلمی نسخو کی دا مسری داسې راغلی ده: "لکه کږې زلف کږ ابروی ستا دی".

(٣) دا مسری په "پ" چاپ کی داسې راغلی ده: "د بړغمونه شوخ شوخ شته په جهان کی". په "پ پ" چاپ او د "خ" په لومړی نسخه کی داسې راغلی ده: "د بړغمونه شوخ شوخ شته دی په جهان کی". د "پ" په دوهم نسخه کې: "د بړغمونه شوخ شوخ شته په دا جهان کې". او د "خ" په دوهم قلمی نسخه کی داسې راغلی ده: "د بړغمونه شوخا شوخ شته په دنيا کی".

(٤) دا بيت د "خ" په دوهم قلمی نسخه کی نه دی راغلی او د "خ" په لومړی قلمی نسخه کی داسې راغلی دی: "داشنا له هجره زړه داشنا چوي افريده کا خدای جهان داهسې شوخ".

(٥) دا مسری د "خ" په لومړی نسخه کی داسې راغلی ده: "چې يوسف غوندې د دنيا په مطاع پلوري". د "پ" دوهم نسخه کی: "چې يوسف د دنيا په متاع پلوري" راغلی دی.

(٦) دا بيت په چاپی ديوانونو او د "پ" په دوهم قلمی نسخه او د "خ" په لومړی قلمی نسخه کی داسې راغلی دی: "بادشاهانو که قصرونه کړل آباد ما د عشق عمارتونه کړل بنياد". او د "خ" په دوهم قلمی نسخه کی دا بيت داسې راغلی دی: "بادشاهانو خو قصرونه کړه آباد ما د عشق عمارتونه کړه آباد".

(٧) دا مسری په "پ" چاپ او د "خ" په قلمی لومړی نسخه کی داسې راغلی ده: "لکه نوم دی د مجنون او د فرهاد".

عشق عاشق لره یو هسې پیر استاد دی — چې به ندوي بل دا هسې پیر استاد (۱)

دغه واړه کرامات د عاشقی دي — چې څوك قطب کا څوك غوث کا څوك اوتاد (۲)

د دنیا چارې همه واړه فاني دي — څوك په څه کا په دا چارو اعتماد (۳)

لکه سیوری چې دلمر په مخ کې ګرځي — نه استوګنه چیرته کاندي نه استاد

هیڅ وفا یې له هیچا سره ونه کړه — که جمشید و که بهمن و که قباد

که جمشید و که بهمن و که قباد و — که نمرود و که فرعون و که شداد (۴)

رسولي یې ترمراده هیڅوك نه دي — همه واړه هسې پاتې شو نامراد

نه چاختم نه دعا ورپسې وکړه — که یې آل که یې عیال و که اولاد (۵)

٦٥

زه (خ) د زماني له جوره در ومم
خپل صاحب له په داد او په فریاد

٧٨٥

که قاصد یې د مقصود — اوره کړه زیان او (٦) سود

هر چې درشي ستا په مخ کې (۷) — واړه وګڼه بهبود

هر چې وي سیوا له خدایه — واړه وګڼه نابود (۸)

رضا پاسله وقضا ته (۹) — مدام خوښ اوسه خوشنود

وهستی وته جلوه کا (۱۰) — لکه ابر هسې دود

ته وځان وته نظر کړه — چې قبول یې که مردود

نن دا ر چې دخپل صورت شه — چې مسلم یې که جهود

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې نه دی راغلی.

(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې نه دی راغلی او په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې یې لومړی مسری داسې راغلې ده: "دغه واړه کرامت د عاشقی دی".

(۳) دا مسری په چاپي دیوانونو او د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې داسې راغلې ده: "څوك به څه کا په دا چارو اعتماد".

(٤) دا بیت د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې نه دی راغلی او لومړی مسری یې په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "که جمشید و که بهمن که کیقباد و".

(۵) دا بیت د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې نه دی راغلی.

(٦) یوازې په "پ پ" چاپ کې "او" راغلی دی په نورو ټولو قلمي نسخو او "پ" چاپ کې "و" راغلی دی.

(۷) دا مسری په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "پ" چاپ :- "هر چې درشي ستا په وړاندې". د "پ" لومړۍ نسخه: "هر چې درشي په مخکښې" او د "خ" په دوهمه نسخه کې: "هر چې دربه شي په مخ کې".

(۸) دا بیت په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "هر چې دی بغیر له خدایه همه وشمېره نابود".
لومړی مسری یې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "هر چې درشي له خدایه" په "پ" چاپ او د "پ" په دوهمه نسخه کې دویم مسري د "هر چې وي" پرځای "هر چې دی" راغلی دی.

(۹) دا مسری په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "رضا وسپاره قضا ته". او د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "رضا پاسوله قضات".

(۱۰) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "جلوه کا" پرځای "نظر کړه" راغلی دی. او دا مسری د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې داسې راغلې ده:
"وهستی وه جلوه کړه".

اُمتي دابراهيم شه — تابع مه شه د نمرود

دغفلت له خوبه پا څه — خوبه اوسې خواب آلود

مُقيد(١) اومشغول اوسه — په دعا او په درود

آسمان طوره په رکوع شه — زمين طوره په سجود

هر(٢) اشيا دحق ثناکا — په نغمه لکه داود

که بيدارشي خودبه اورې — په هر لوري داسرود(٣)

که آيازشې بندګی کې(٤) — نوربه نازکړې په محمود

هر(٥) اسباب د بنودبد و — مُهيا دی هم موجود

که دانايي وبله بېل کړه — فرمودهٔ ونافرمود(٦)

چې سپند نه شې په اور کې(٧) — نه وي خوند دبوی دعود(٨)

ځان له غشه(٩) پاک بېزه کړه — لکه بحر نامعدود

هلاک څکه شو رحمانه — چې بې پاک نه شو وجود(١٠)

٦٦ — ح — بې دیار له ذکره — نه زده بل گفت وشنود — ٨٠٥

زه که لافه دوفا کوم هرچند(١١) — هغه يار مې باورنه کا په سوګند

زه بې ياره هسې زيست کړم پېچهانکې — لکه زيست وي(١٢) په مجمر کې دسپند

---

(١) يوازې د "پ" په لومړي نسخه کې "متعبد" راغلی دی په نورو ټولو کې "مقيد" راغلی دی.

(٢) په "پ" چاپ کې د "هر" پر ځای "ټول" راغلی دی.

(٣) دابيت د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې نه دی راغلی او لومړي مسری يې په چاپي ديوانونو کې داسې راغلې ده: "که بيدارشې خودبه واورې".
اود "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې دامسری داسې راغلې ده: "که بيدارشې دابه اورې".

(٤) دامسری په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "کهايازغوندې بنده شې". په "پ" لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "که ايازشې په بندګی کې".
اود "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داټول بيت داسې راغلی دی: "له ايازشه په بندګي کې نوربه نازکړه په محمود".

(٥) په "پ" چاپ کې د "هر" پرځای "ټول" راغلی دی. اودابيت د "خ" په لومړي نسخه کې نه دی راغلی.

(٦) دابيت د "خ" په لومړي او "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی او لومړي مسری يې په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "هردانايي وبله بېل کړه".

(٧) په "پ" چاپ کې د "چې" پرځای "څو" راغلی دی.

(٨) دامسری د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې داسې راغلې ده: "نوی خوند بوی دعود". د "پ" په دوهمه نسخه کې: "نوی خوند ولوی دعود".
او په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "نه وي خوند اوبوی دعود".

(٩) په "پ پ" چاپ، "پ" چاپ، د "پ" په دوهمه نسخه اود "خ" په لومړي نسخه کې د "غشه" پرځای "خبثه" اود "خ" په دوهمه نسخه کې "غلوغشه" راغلی دی.

(١٠) دابيت د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې نه دی راغلی. په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "هلاک څکه شې رحمانه چې پاک نه شې داوجود".
په "پ پ" چاپ کې دابيت داسې دی: "هلاک څکه شه رحمانه چې پاک نه شه داوجود".
د "پ" په دوهمه نسخه کې دابيت داسې راغلی دی: "هلاک څکه شه رحمانه چې پاک نه شه داوجود".

(١١) مسری په چاپي ديوانونو کې داسې راغلې ده: "زه که لافې دوفا کړم هرچند". د "خ" په لومړي نسخه کې د "کړم" پرځای "کوم" اود "خ" په دوهمه نسخه کې "وهم" راغلی دی.

(١٢) د "خ" په لومړي نسخه کې د "وي" پرځای "دی" راغلی دی.

آبرو يې د طالبانو خپل مطلب[۱] وي — آبرو يې د غلامانو خپل خاوند
لکه يار مې سربلند دی په جهان کې — په تأثير يې هسې زه شوم[۲] سربلند
چې مې مدحه د خوبانو کړه آغازه — هر کلام مې دل پذير شو[۳] دل پسند
لکه خوند لري زما خوږې خبرې — په شکرو کې هم نشته هسې خوند
هغه قند چې خدای زما په خوله کې کېښود — حلوايانو ته نشته هسې قند
لکه زه چې سخندان وهنرمند يم — بل به نه وي سخندان وهنرمند[٤]
په اشعارکی قوت ناك لکه مزری يم — ولې نه يم د مزري په څېر ګزند
هم په مدح بند پوهېږم هم په هجوه — ولې نه يم په داچارو دبر خورسند[۵]
بې له عشقه که مې عيب که مې هنر دی — ما فروغ کړی دی له ځانه بل پيوند
زه عاشق يم سروکار مې دی له درده[۶] — نه خليل نه داود زی يم نه مهمند
چې وما ته نصيحت کا څوك په عشق کې — ګويا پلار ته نصيحت کاندي فرزند
هر سړی چې آيينه په لاس کې خاندي — ګويا کاندي په خپل ځان پورې ريشخند

رنګ ريزان دي اول خپلې ږيرې رنګ کا — بيا هالدی ورته خلق ته وايي پند[۷]

۹۷ — ۸۲۰

---

چې مي يار وليد په سپيره د اغيار ګلې — له غيرته مي ليمه شوه په خونبار ګلې[۸]
د غه حق د بلبلانو په جانب دی — خدای دې نه کا مبنګيرك په لاله زار ګلې[۹]

---

(۱) د "خ" په لومړي نسخه کی د "مطلب دی" پرځای "مطلب دی" راغلی او د "خ" په دوهمه نسخه کی "محبوب دی" او د "پ" په دوهمه نسخه کی "مطلوب دی" راغلی دی.
(۲) په چاپي ديوانونو، د "خ" په لومړي نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کی د "شوم" پرځای "يم" راغلی دی.
(۳) په "پ" چاپ کی د "شو" پرځای "دی" راغلی دی.
(٤) دابيت د "خ" په لومړي قلمي نسخه کی داسی راغلی دی: "لکه زه چې سخندان هنرمند يم بل به نه دی سخندان هنرمند".
(۵) دابيت د "خ" په لومړي قلمي نسخه کی نه دی راغلی او په چاپي ديوانونو او د "پ" په دوهمه نسخه کی يې لومړی مسری داسی راغلی ده: "هم په ملح هم په هجو بند پوهېږم". خو د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کی دا مسری داسی راغلی ده: "هم په مدح بند پوهېږم هم په پوچو".
(۶) دا مسری په چاپي ديوانونو کی داسی راغلی ده: "زه عاشق يم سروکار مې دی له عشقه". د "خ" په دواړو او د "پ" په قلمي نسخو کی د "سروکار" پرځای "سربيکار" راغلی دی.
(۷) دا مسری په "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "نور بيا هالدی رحمان ته وايي پند"
(۸) مصوره نسخه: "خدای دی نه که مبنګيرك په لاله زار ګلې".
(۹) دابيت په مصوره نسخه کی نشته.

زه په وصل کې هجران هسې پېژنمه (۱) لکه غوک چې خالي لاس وي په بازار ګډ

زړه مې بې خپله نګاره آرام نه کا که هر څو يې کړم په نقش و په نګار ګډ (۲)

په امېد د زلفو ونښتم په دام کې روهيلي وم ساده دل په هندوبار ګډ

د دېدن په ګدايي کې مې ننګ نه شي دروېزه کړم د بتانو په ديار ګډ (۳)

د وفا د ګلو پاڼې پکې نشته کاشکي مه وی ددې هم په ګلزار ګډ

که څو تر آشنايي بېلتون لېدی شوی هېڅ بنده به د خدای نه وُ په دا کار ګډ

٦٨

زه رحمان يې د فردوس له غمه خلاص کړم چې په کلي په کوڅه شوم د خپل يار ګډ

٨٢٩

په بزرګۍ (۴) هغه پاک پروردګار موقوف مه شه په سړي د سړي کار

په سړي چې د سړي غرض موقوف شي نور بې آبه بې حرمته شي روزګار

احتياج هسې بلا دی په جهان کې چې پلار زوی کا د زوی او زوی پلار

که د پير په خپل مريد بانده غرض وي هېڅ يې نه وي په مريد بانده وقار (۵)

زمانه هسې په څه ده بې رويه چې غالب کا په اسلام بانده کفار (۶)

په ساعت کې شاه ګدای کا ګدای شاه کا دا فلک ځکه باله شي کج رفتار (۷)

چې هم عمر يې تاج وي په سر ابښی ور په سر کاندې ګېډې د خس و خار (۸)

---

(۱) د "خ" په دوهمه نسخه کې "خراب کړم" راغلی دی.

(۲) دا بيت په مصوره نسخه کې نشته.

(۳) چاپي ديوانونه، د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه: "دروېزګرېم د بوتانو په بازار ګډ".

(٤) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "په پاکۍ" راغلی دی.

(۵) دا بيت په چاپي ديوانونو کې نشته.

(۶) دا بيت په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې نشته.

(۷) د "خ" دوهمه نسخه: "دا فلک ځکه پيدا شو کج رفتار".

(۸) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

چې قادر نه په درهم و په دینار وي — په هغو باندې ګنجونه کا انبار

**۶۹** — **۸۳۸**

زماني د رحمان زړه دی کباب کړی
له احواله یې څوک نه دي خبردار

هومره اوښکې مې بهیږي په رخسار (۱) — چې غرقاب مې هم ګریوان دی هم کنار
هغه یار مې هسې ناست د زړه په سر دی — لکه ایښې چې (۲) چا ګل وي په دستار
که څوک والي چې مار کله په کټ خیژي — زه خوړلی یم په کټ د زلفو مار (۳)
خو د یار بیمارې سترګې خدای خونې کړې — ګنه خون کله کولی شي بیمار (٤)
که په دار شم زه د یار له لاسه خوښ یم — سروقد دی زما یار او زما دار (۵)
بسکه (۶) دا چې زه په یار پسې غوښ غوښ یم — خدای دې نه کا لکه زه یم هسې یار
هومره جور لکه یار له ما سره کا (۷) — یاد مې نه دی هومره جور دا غیار
دلبران کو دې جادو کړي زړونه اخلي — هغه وایه چې بې کوړ ووي دلبدار (۸)
چې د زړونو له نماڅلو بې پروا دي (۹) — تر وکه زړه د سړي یوسي څه په کار

**۷۰** — **۸٤۸**

په ګریبان یې تل دا وښکو باران اوري (۱۰)
نه وریږي د رحمان د زړه غبار

چې دې زړه پورې ترلی استوار — دا جهان دې د نیکه دی که د پلار (۱۱)
ته خپل پلار او نیکه وګوره چې څه شول — هسې ستا دی په هغو پسې رفتار (۱۲)

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه او د "خ" لومړی نسخه : "هسې سرې اوښکې مې بهیږي په رخسار".
(۲) په "پ" چاپ ، د "پ" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کې د "چې" پر ځای "د" راغلی دی.
(۳) دا مسرۍ د "خ" په لومړی او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده : "زه خوړ خوړ یم په کټ د زلفو مار".
(٤) دا مسرۍ د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلې ده : "ګنه خون کله کولی شي په بیمار".
(۵) دا مسرۍ په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده : "سروقد دی زما یار زما دلدار". د "خ" په لومړی نسخه کې : "سروقد دی زما یار هم زما یار". په دوهمه نسخه کې "سروقد دی زما یار دی دغه دار". او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده : "سروقد دی زما یار هم زما دار".
(۶) په "پ" چاپ کې د "بسکه" پر ځای "بس کړه" راغلی دی.
(۷) دا مسرۍ په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده : "هومره جور لکه یار چې ما سره کا". په "پ پ" چاپ کې "هومره جور لکه چې یار ما سره وکړه" د "خ" په لومړی نسخه کې "هومره جور لکه یار را سره کاندی". په دوهمه نسخه کې "هومره جور لکه یار چې له ما سره کړه". او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده : "هومره جور لکه یار سره وکړ".
(۸) د "پ" په لومړی او د "خ" په دوهمه نسخه کې : "دلبرې او دلجویي خوکو د ګرکړې ده د کوډ ګرو هغه وایه چې دلبرشي هم دلدار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې : "دلبرې خو کوډ ګرهم په کوډ و وکا هغه وایې چې دلبرشي هم دلدار".
د "خ" په لومړی نسخه کې : "دلبرې خو کوډ ګرهم په کوډ و وکا هغه وایې چې دلبرشي هم دلدار".
(۹) د "پ" لومړی نسخه : "چې د زړونو له نماڅلو بې پروا یې".
(۱۰) دا بیت د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې داسې راغلی دی : "په ګریوان مې تل دا وښو باران ووري نه وریږي د رحمان د زړه غبار".
(۱۱) د دې غزل د "خ" په مصوره نسخه کې لومړی نیم بیتونه نه دي راغلي او هم نوموړی غزل د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې نشته.
(۱۲) دا مسرۍ په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده : "هسې ستا دی هم په دوی پسې رفتار".

تل د مینې دوروستي پل دې پرې تېرېږي | کړې نه دی چا په پل باندې قرار

هسې نه چې زه تنها(۱) وتا ته وایم | راغله لاره ستا په طور صد هزار

دعوه مه کړه په ناحق بدېې خپل نه کړې | پردی شهر، پردی ملك، پردی دیار (۲)

چې استوګه په پردي وطن کې کاندي | هغه نه لري د هیڅ واك واختیار (۳)

که هزار قسمه وخوري په یو کار کې | نه کا خوك په مسافر و اعتبار (۴)

چې په صبح شګفته شي په شام رژي | خدا امید دی د ګلونو په ګلزار (۵)

که دې ورور که دې عزیز دی که دې یار (۶) | مه یې ورور مه یې عزیز ګڼه مه یار

۷۱ — ۸۵۸

چې پیدا شي هګې واړه فنا شي
اې رحمانه دا جهان دی دا یې کار

خو جفا قبوله نه کړې د اغیار | وبه نه وینې په سترګو مخ د یار

چې اول یې خار زرغون شي په پهلو کې (۷) | غوټه هاله شګفته شي په ګلزار

جنت چا په ریاضت موندلی نه دی | ولې بویه هر بنده لره خپل کار (۸)

که مونده شوې خوشخويي په خوشبویه | پروت به نه وو په چندن باندې سامار (۹)

آب تر لعلو د لاله ګلونو (۱۰) ډېر دی | بخت دی دا چې خوك عزیز کاندي خوك خوار

۷۲ — ۸۶۴

هسې زیب کا په بیاض د رحمان شعر
لکه زلفې د خوبانو په رخسار

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې د "تنها" پرځای "یوازې" راغلی دی.

(۲) د "پ" لومړۍ نسخه او د "خ" نسخې: "دعوه مه کړه په ناحق په خپل نه کړې     پردی ملك، پردی شهر، پردی دیار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلي دي: "دعوی مه کړه په تحقیق بدېې خپل نه کړې     پردی شهر، پردی ملك، پردی دیار".

(۳) د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه: "هغه نه لري هیڅ واك واختیار". او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلي ده: "هغه نه کړي هیڅ واك وخپل اختیار". د "پ" په ګډه نسخه کې ددې بیت دلومړي مسرې د "استوګنه" پرځای "استوزه" راغلي دي.

(۴) د "پ" لومړۍ نسخه او د "خ" نسخې: "که هزار قسمه وخورې په مامله کې     نه کا خوك په مسافرو اعتبار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلي دي: "که هزار قسمه وخورم په مال کې     نه کا خوك په مسافر واعتبار". او دا بیت په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.

(۵) دا بیت په "پ" چاپ کې داسې راغلي دي: "چې سبا شګفته کېږي ماښام رژي     خدا امید دی په ګلونو د ګلزار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې یې لومړۍ مسرې داسې راغلي ده: "چې په صبح شګفته کېږي په شام رژي".

(۶) دا مسرې په "پ" چاپ کې داسې راغلي ده: "که دې ورور که دې عزیز وي که دې یار وي".
په "پاپ" چاپ کې داسې راغلي ده: "که دې ورور که دې عزیز او که دې یار وي".

(۷) دا مسرې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلي ده: "چې اول د خار زرغون په بهار کې".

(۸) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلي دي: "جنت چا په زاهدۍ موندلی نه دی     ګڼه بویه هر بنده لره اختیار"

(۹) دا بیت د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلي دي: "که مونده شوې خوشبويي په خوشبویه     پروت به نه وو په چندن د پاسه مار".
په "پ پ" چاپ کې داسې راغلي دي: "که موندې شوې خوشبويي په خوشحالۍ کې     پروت به نه وو په چندن باندې سامار".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلي دي: "که موندې شوې خوشخويي له خوشبويي     پروت به نه وو د چندن د پاسه مار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلي دي: "که موندې شوې خوشخويي له خوشبويي     پروت به نه وو په چندن د پاسه مار".
په مصوره نسخه کې داسې راغلي دي: "که مونده شوې خوشبويي بې خوشبويي     پروت به نه وو په چندن باندې سامار".

(۱۰) د پېښور په چاپي دیوانونو، د "خ" په لومړۍ، دوهمه نسخه او د "پ" په نسخو کې د "ګلونو" پر ځای "ګلونه" راغلي دي.

خوك دې را كاندې قسم په كردگار — كه درم لرم په كوركې يا دينار (۱)

نه دينار او درم نه لرم په كوركې — ولې نور عالم مې بولي د نيا دار

هم په دا چې نه لدځايه چېرته خوځم (۲) — نه د هېڅ يوه مخلوق يم منت بار

نه مې ښكته ملك لېدلى دى نه پورته — خبر نه يم په يمين او په يسار

آب وخور لكه آسيا په ځاى رارسي — په خپل كوركې مې سكون دى هم رفتار (۳)

لكه ونه مستقيم په خپل مكان (٤) يم — كه خزان راباندې راشي كه بهار

توكل مې لاس پښې سره كړل په نكريزو — چې په ځاى يې كېښولې يم قرار (۵)

چې زما په باب دې ښكلى دي رارسي — كه راحت دى كه زحمت دى وار په وار (٦)

چې هر د هزار قومونه يې پېدا كړل — مربي مې دى هغه پروردگار (۷)

كار همه په اراده دخداى موقوف دى — هېڅ موقوف نه دى دچا په اختيار (۸)

۷۳ — ۸۷۵

غم به هېچېرې ونه كا په دنيا كې
كه خه كبرې د رحمان په اختيار (۹)

دغه يار دى دا اغيار — دغه گل دى دغه خار (۱۰)

دغه گل دى دغه خار دى (۱۱) — دا منصور دى دغه دار (۱۲)

---

(۱) دا بيت د "پ" په دوهمه نسخه كې نه دى راغلى او لومړى مسرى يې په مصوره نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه كې داسې راغلې ده: "كه خوك دا كاندې قسم په كردگار".

(۲) د "پ" په لومړى نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه كې "د روم" راغلى دى.

(۳) دا بيت د "پ" په لومړى نسخه او د "خ" په لومړى نسخه كې داسې دى: "آب وخور لكه آسيا په ځاى رارسي — په خپل كوركې هم سكون دى هم رفتار".
د "خ" په لومړى نسخه كې داسې راغلى دى: "آب خوراك مې هم په ځاى رارسېږي — په خپل كوركې مې سكون دى هم رفتار".

(٤) د "پ پ" په چاپي ديوانونو، د "خ" په نسخو او د "پ" په لومړى نسخه كې "مقام" راغلى دى.

(۵) د "پ" لومړى نسخه: "توكل مې لاس اوپښې كړه په نكريزو — چې په ځاى كې يې ښولې يم قرار".

(٦) دا بيت په مصوره نسخه كې نه دى راغلى، په "پ" چاپ كې داسې راغلى دى:
"چې څما په باب كې كسبلى دى رارسي — كه رحمت دى كه زحمت دى وار په وار".
"پ پ" چاپ: "چې زما په باب خه ښكلى دى رارسي — كه رحمت دى كه زحمت دى وار په وار".
د "خ" لومړى نسخه: "چې زما په باب كې دې هغه رسېږي — كه راحت دى كه زحمت دى وار په وار".
د "پ" دوهمه نسخه: "چې زما په باب يې ښكلي وماړ سي — كه راحت وى كه زحمت وي وار په وار".

(۷) د "پ" لومړى نسخه: "مربي يې دى هغه پروردگار".
د "خ" لومړى نسخه: "مربي مې وه يې هغه پروردگار".
د "خ" دوهمه نسخه: "منزه دى هغه پاك پروردگار". لومړى بيت په مصوره نسخه كې نه دى راغلى.

(۸) دا بيت په مصوره نسخه كې نه دى راغلى، د "خ" په لومړى نسخه كې داسې راغلى دى: "كار هغه په اراده دخداى موقوف دى — هېڅ موقوف نه دى زما په انتظار".
د "پ" دوهمه نسخه: "كار كاجه په اراده لوى موقوف دى — هېڅ موقوف نه دى دچا په انتظار". د "پ" په لومړى نسخه كې يې دوهمه مسرى داسې راغلې ده:
"هېڅ موقوف نه دى زما په اختيار". د "خ" په دوهمه نسخه كې دا مسرى داسې راغلې ده: "هېڅ موقوف نه دى زما په اختيار".

(۹) دا بيت په مصوره نسخه كې نه دى راغلى او د "خ" په لومړى نسخه كې دا بيت داسې دى: "غم يې هېچېرې ونه كړه په دنيا كې — كه خه كبرې د رحمان په اختيار".
د "پ" لومړى، دوهمه او د "خ" دوهمه نسخه: "كه خوك كبرې د رحمان په اختيار".

(۱۰) دا غزل په مصوره نسخه او د "خ" په لومړى نسخه كې نه دى راغلى. د دې بيت دوهمه مسرى د "خ" په دوهمه نسخه كې داسې راغلې ده: "دغه گنج دى دغه مار"!

(۱۱) په چاپي ديوانونو او د "پ" په دوهمه نسخه كې د "دى" كلمه نه ده راغلې

(۱۲) دا مسرى د "خ" په دوهمه نسخه كې داسې راغلې ده: "دغه ... مار".

دا رقیب دی د احبیب دی | دغه ګنج دی دغه مار (۱)
دغه عشق دی دغه عقل | دغه غم دی دا غمخوار
دا هجران دی دا وصال دی | دا خزان دی دا بهار (۲)
دا طاعت دا معصیت دی | دغه نور دی دغه نار
دا عالم دی دا جاهل دی (۳) | دا خفته دی دا بیدار

۷۴ دا رحمان دی دا جانان دی (٤) ۸۸۳
دا طبیب دی دا بیمار

هر چې نه وي خوار و زار | په طلب د خپل دلدار (۵)
ترپړوني يې صدقه شه | د هغه عاشق دستار
هزار حیف دی هزار حیف دی | هزار ځله لا صد هزار
چې عاشق په عاشقۍ کې | نه حلال وي نه مردار
نه پتنګ د خپل چراغ وي | نه بلبل د خپل ګلزار
نه مجنون غوندې رسوا وي | نه منصور غوندې په دار

۷۵ دواړه نه کړې رحمانه ۸۹۰
یا به یار شې یا بېزار

دا څه مخ دی منور | چې هم شمس دی هم قمر (۶)
دا څه زلفې دي مشکینې | چې هم مشک دي هم عنبر
دا څه پیوسته ابرو دي (۷) | چې هم نېش دي هم نشتر
دا څه سترګې دي قاتلې | چې هم سیف دي هم خنجر
دا څه شونډې دي مې ګونې | چې هم مې دي هم شکر

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: " دا رقیب دی دا حبیب دا طبیب دی دا بیمار ".
او دا دی بیت لومړی مسرې په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "دا رقیب دی دا حبیب".

(۲) دا بیت اوله دی نه وروسته بیتونه د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دي راغلي او دا دی بیت لومړی مسرې په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: " دا هجران دی دا وصال ".

(۳) په "پ" چاپ کې د "دی" کلمه نه ده راغلې.

(٤) په "پ" چاپ کې "دی" نه دی راغلی.

(۵) دا غزل په مصوره نسخه د "خ" په لومړۍ نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(۶) دا غزل د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه او مصوره نسخه کې نه دی راغلی.

(۷) دا مسرې په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده "دا ابرو څه پیوسته دي ".

داخه سپین سپېځلي غـــابن دي — چې هم دُر دي هم گـــوهر

داخه سپب زنخـــــدان دی — چې هم سیم دی هم ثمـــر

داخه قد او خه قـــامت دی — چې هم گل دی هم عـــرعر

داخه ملا ده باریك وضـــع — چې هم موی دی هم کمـــر

داخه زړه دی د خوبـــانو — چې هم موم دی هم حجـــر

داخه یار دی نه پوهـــېږم — چې هم دل دی هم دلـــبر

داخه بت دی زمـــاربه(۱) — چې هم بت دی هم بشـــر

داخـــه شعر د رحمـــان دی(۲)

۹۰۳ — ۷۶

چې هـــم گنج دی هـــم هنر

تل به نه وي شگفته گلزار د عمر — نه به جوړ وي همیشه بازار د عمر(۳)

لکه سیند دا باسیند په غورځي(٤) دروي — هسې یون دی په تلوار تلوار د عمر

لکه برق چې مخ ځرگند کاندي بیا نه وي — هسې تېز دی بې سکون رفتار د عمر(۵)

سرکشي لـري ترهسې حده پوري(۶) — چې نیوی نه شي هېڅوك(۷) مهار د عمر

چې سمند يې نه جلب لري نه واگي — خود به پرېوځي عاقبت شهسوار د عمر(۸)

په ساعت د سلو کالو یاري پرې کا — بې وفا دی هسې یار د عمـــر(۹)

خپل صورت به د حباب په سترگو گوري(۱۰) — که څوك وکاندي په زړه کې شمار د عمر

نه له کوره چېرته ځم نه سفر کړم(۱۱) — بې سفره مې غوځېږي لار د عمر

عاقبت به د اجل په مقراض غوځ شي — پیوسته به مدام نه وي تار د عمر

بیا یې وار په دا دنیا نشته رحمـــانه(۱۲)

۹۱۳ — ۷۷

په هر چا باندې چې تېر شو وار د عمر

---

(۱) د "پ" په دو څمه نسخه کې دا مسری داسې راغلی ده : " داخه یار دی نه پوهېږم".

(۲) دا مسری په چاپي دیوانونو او د "خ" په دو څمه نسخه کې داسې راغلی ده : " داخه شعر دی رحمانه".

(۳) "ق" چاپ : " تل به نه دی شگفته بهار د عمر — نه به جوړ وی همیشه گلزار د عمر".

د "پ پ" چاپ : تل به نه وی شگفته بازار د عمر — نه به جوړ وي همیشه بهار د عمر".

(٤) د پښتو په چاپي دیوانو کې " غورځنگ" راغلی دی. (۵) قلمي نسخې : "هسې تیز دی په سکون رفتار د عمر".

(۶) د "خ" لومړۍ نسخه : "سرکشي نه دی ترهسې حده پورې ". (۷) په " ق ، ک " چاپ کې "هرگز" راغلی دی.

(۸) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته . (۹) چاپي دیوانونه : " بې وفا په هسې رنگ دی یار د عمر".

(۱۰) پښتو په چاپي دیوانونو کې " په خېر د گوری " راغلی دی.

(۱۱) د "پ" نسخې او د "خ" دو څمه او مصوره نسخه : " نه د ځم چېرته له کوره نه سفر کړم". د "خ" لومړۍ نسخه : " نه سفر کړم نه له کوره چېرته ځمه".

(۱۲) د "پ پ" چاپ او د "خ" دو څمه نسخه : " بیا یې وار په دنیا نشته دی رحمانه ".

زه تېر شوی یم تر سر
په طلب د خپل دلبر

خوږ وندی یم په دنیا کې
پرې به ندر د مر د غدر

د آشنا په طلب ګرځم
وچې شونډې لیمه تر⁽¹⁾

یو قدم مې دی په بحر
بل قدم مې دی په بر

دواړه لاس مې دي نیولي
هم په شام هم په سحر

مناجات مې دی وخدای ته
که یې وینم بشر

همېشه له خپله بخته
ګله من یم مرور

چې په مالې پېر زونه کړم⁽²⁾
د خوبانو یو نظر

هم یې ونه سود ومات ته
بې له عشقه بل هنر

عاشقي مې خدای رسوا کړه
په جهان کې لکه نمر

نصیحت را باندې نه کا
لکه موی هومره اثر

واوره غوږ باسه ناصحه
کوتاه وایم مختصر

په مولا مې دي سوګند وي
هم په روح د پیغمبر

جار واته مې بېرته نشته
چې عالم ⁽³⁾ شو راخبر

ترمینه به یې زار کړم
که مې سیم دی که مې زر

که مې سیم دی که مسي زر دی
که مې دُر دی که ګوهر⁽⁴⁾

۷۸

زه رحمان تر هر څه تېر یم
تېر به نه شم تر دلبر

۹۳۰

پورته بدر را ښکاره شو ښکته نمر
ښکته پورته واړه څخ دی د دلبر

نمر سپوږمۍ مې د پالنګ د پاسه رغړي⁽⁵⁾
چې مې یار په بالښت ولګوي سر

په سرو سپینو درو لعلو یې غوږ ډک شي
چې مې غوږ کاندي داو ښکو په در در⁽⁶⁾

---

(۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(۲) د "پ" لومړی نسخه : "چې په مال پېر زوونه کړم".

(۳) د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کې د "عالم" پر ځای "جهان" راغلی دی.

(۴) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړی نسخه کې دوهمه مسری داسې ده : "که مې دُر که مې ګوهر".

(۵) د "خ" دوهمه نسخه : "نمر سپوږمۍ مې یې پر پالنګ د پاسه رغړي".

(۶) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

چې دې ووینم(۱) په مخ مې اوښکې د رومي — لکه موم چې په آفتاب شي برابر
بل مذکور د سخنګو یو ستر ګو نه زده — بې له دې ذکره چې الله اکبر
ضد دی او ر واوبه بې دیار له شونډو — چې هم اور دی هم اوبه دي د کوثر(۲)
په شرابو کې خوند نشته د شکرو — دیار شونډې چې هم شراب دي هم شکر
که سل ځله پټ تر شونډو لاندې خاندې — نه پټیږي آب د لعل ود ګوهر
دا خو ما له ره خدای راکړه ګنه نشته — هسې بت په بتخانه کې د آذر
پس له دې به یې په نام د ملک(۳) بولم — هم په دا چې نشته دا رنګه بشر

که رحمان صاحب نظر باله شي بنایي
چې مدام دیار په مخ لري نظر

۷۹ — ۹۴۱

هسې تله کاندې وګوره یاران ژر ژر — لکه تله کا وخیل کورته کاروان ژر ژر(۴)
هسې ژر ژر مرګ په موړه شتابي کا — لکه لو د پاخه کښت کا دهقان ژر ژر(۵)
هسې ژر ژر دا دنیا وبله اوړي(۶) — لکه اوړي وبله ریګ روان ژر ژر(۷)
هسې ژر ژر صورتونه دي نړیږي(۸) — لکه رژي لاله زار په خزان ژر ژر
هسې ژر ژر دا شیرین عمر تیریږي — لکه بحر چې بهیږي روان ژر ژر

هسې ژر ژر ځنبول د بنونه وي(۹)
لکه درومي له جهانه رحمان ژر ژر

۸۰ — ۹۴۷

چې په زور ورسره نه یې برابر — د هغو تر ځنګه مه کښېنه زړور(۱۰)
زورور اور او اوبه دي فهم وکړه — چې ډوب نه شې یا ونه سېزې بشر(۱۱)

---

(۱) په "ق، ک" چاپ، "ق" چاپ او قلمي نسخو کې "چې یې ووینم" راغلی دی.
(۲) دا بیت په "ب" چاپ، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته
(۳) د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کې د "ملک" پر ځای "فرښتو" راغلی دی.
(۴) دا غزل په مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته، دوهمه مسرۍ یې په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "لکه تله کاندي خپل کورته کاروان ژر ژر". په "ب" چاپ کې "لکه درومي چې خپل کورته کاروان ژر ژر". په مختلط نسخه کې "لکه تله کاندي وکورته کاروان ژر ژر". او د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلې ده: "لکه درومي وخپل کورته کاروان ژر ژر".
(۵) دوهمه مسرۍ د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلې ده: "لکه لور چې په کښت ګډ کا دهقان ژر ژر". او په "پ" چاپ کې د "پاخه" پر ځای "پاسه" راغلی دی.
(۶) دوهمه مسرۍ د "خ" په دوهمه نسخه او د "پ" په مختلط نسخه کې داسې راغلې ده: "هسې ژر ژر دا دنیا وبله نه اوړي".
(۷) دوهمه مسرۍ د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلې ده: "لکه اوړي وبله ریګ د بیابان ژر ژر".
(۸) دوهمه مسرۍ د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلې ده: "هسې ژر ژر صورتونه وبله ړنګیږي".
(۹) په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "د بنو ځنبول هم هسې ژر ژر نه وي". د "خ" په لومړی نسخه کې "د بنو وبله ول هم هسې ژر نه وي". د "خ" په دوهمه نسخه کې "دا د بنو ځنبول هم هسې ژر ژر نه وي" او د "پ" په مختلط نسخه کې داسې راغلې ده: "د بنو ځنبول هم هسې ژر نه وي". د "پ" لومړی نسخه: "د بنو ځنبول هم هسې ژر ژر نه وي".
(۱۰) دا غزل په مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۱۱) دا بیت په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "زور آور خو اور او اوبه دي فهم وکړه چې ډوب نه شې یا وریت نه شې په شمار".

زندګي که بې او بو بې او ره نه شي ‌‌ ‌ تل هم اېښې هېڅانه دي په تمتر (۱)

خدای ورمه وله سېلاب دڅاپه خونه (۲) ‌ ‌ که په قطع (۳) هم اوبه وي د کوثر

ودې نه ګلګېږي اوږ په کورد هېڅا (۴) ‌ ‌ که رڼا یې وي د شمس او د قمر

چې یې درست صورت غلبل شي په اغزیو (۵) ‌ ‌ وخوړ مه شه دهغې ونې ثمر

دهغه دېوال په سیوري څوك کېمنه (۶) ‌ ‌ چې ولاړ وي که زوړند څاود ګمر

چې په ګېډه یې دې څوخبرې مځ لې ورك شه (۷) ‌ ‌ که د سروزرو چاړه وي یا خنجر

ودریاب ته اچاوه نه شي ځان خوږ وي (۸) ‌ ‌ ګنه ډېر دي په دریاب کې دُر ګوهر

ناکړده سودونه ډېر دي په جهان کې ‌ ‌ سودهغه دي چې د خېر وي نه د شر (۹)

چې له آبه له حرمته سره نه وي ‌ ‌ خدای ورمه کړه وچاهسې سیم و زر (۱۰)

زوروکه رسوي وچاته فېض ‌ ‌ له دې فېضه سره وکنه ضرر

په یارۍ د زورورو غلط مه شه ‌ ‌ مګر داچې تر ده ، نه یې زورور

په هرګاه چې دې مغلوب وي نه غالب یې (۱۱) ‌ ‌ تروهاله یې قدمونه ږده په سر

یاخوداچې که قدم یې په درنه ږدي ‌ ‌ دغه پسه یې ځان وګنه پدر (۱۲)

٨١

چې هنر ګڼې یارې د زورورو
بول وکړمه زه رحمان په داهنر (۱۳)

۹۶۳

---

(۱) دابیت په "پپ" چاپ کې داسې راغلی دی: "زندګي که بې له اوره او بو نه شي ‌ تل هم نه دي هېڅا اېښې پرې تمتر". د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "ناب هم اېښې هېڅانه دي په تمتر". او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "تل هم اېښې هېڅا نه دي پرې تمتر".

(۲) دامسرۍ د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "خدای دې ورنه ولی سېلاب دڅا په خونه".

(۳) په قلمي نسخه کې د "هم" پرځای "یې" راغلی دی.

(۴) دامسرۍ په "پپ" چاپ، د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: "ودې نه ګلګېږه او ردڅا په خونه". او د "پ" په لومړۍ نسخه کې دامسرۍ داسې راغلی ده: "ودې نه ګلګېږي اور په کوږ دڅا".

(۵) دامسرۍ د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی ده: "چې درست صورت غلبل کا په اغزیو" په "پپ" چاپ کې داسې راغلی ده: "چې یې ټول صورت غلبل شي په اغزیو". د "خ" په لومړۍ نسخه کې "چې دې درست صورت غوځېږي په اغزیو". او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: "چې یې درست صورت زخمي شي په اغزیو".

(۶) د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "دهغې دېوال په سوري څوك مه کېنېنه" او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: "دهغه دېوال په سوري کېناست مړ شي".

(۷) دامسرۍ د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی ده: "چې په ګېډه دې څوخبرې مځ یې تور شه". په "پپ" چاپ کې: "چې په ګېډه دې خبرې مځ یې ورك شه". د "خ" په لومړۍ نسخه کې "چې په ګېډه کې خرخبرې رنګ یې ورك شه". او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: "چې په ګېډه دې خرخبرې مځ یې ورك شه".

(۸) د "پ" لومړۍ نسخه: "واوبو ته اچاوه نه شي ځان خوخوږ دی". د "خ" په لومړۍ نسخه کې "واوبو اچاوه نه شي ځان خوږ دی". او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: "ځان شیرین دی ودریاب ته اچول نه شي".

(۹) دامسرۍ د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی ده: "سودهغه دی چې یې خېر دی له شر".

(۱۰) "پپ" چاپ: "خدای ورمه کړه چاته هسې سیم وزر".

(۱۱) دامسرۍ په "پ" چاپ کې داسې راغلی ده: "په هر وقت چې ته غالب ودی مغلوب وی". د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "په هرګا چې دی غالب وی ته مغلوب یې" او د "خ" په دوهمه نسخه کې دابیت داسې راغلی دی: "په هر کار چې ته غالب یې دی مغلوب وی ‌ تروهاله یې قدمونه ږده په سر".

(۱۲) چاپي دیوانونه: "یاخوداچې ته قدم یې په در نه ږدي ‌ هله پسه یې ځان وګڼه پیدر".

(۱۳) دامسرۍ په چاپي دیوانو کې داسې راغلی ده: "زه رحمان کومه بول په داهنر". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی ده: "بول وکړم زه رحمان په داهنر".

په نظر دې بصر ... لکه شام هسې سحر(۱)
لکه شام هسې سحر ... لکه سنګ هسې ګوهر(۲)
لکه سنګ هسې ګوهر ... لکه خاورې هسې (۳)
لکه خاورې هسې زر ... لکه خیر هسې شر
په نظر یې معلومېږي ... هم واړه برابر
که څوك ښه ورسره وکا ... تربدې یې وي بتر(۳)
که څوك بد ورسره وکا ... ترښکې یې وي بهتر(۴)
نه په بد ویل زهیر وي ... نه پرښه وي دچا زبر(۵)
په ثواب او په خطا یې(۶) ... نه دلیل وي نه نظر
نه آګاه په خپل بهبود وي ... نه آګاه په خپل ضرر
نه په عیب څه پوهېږي(۷) ... نه پوهېږي په هنر
لکه روند او کوڼ چې ګوري(۸) ... هسې هېڅ نه وي خبر
له طاعته له ګناهه ... څه خبر وي ځناور(۹)
ځناور و نور څه نه زده ... یا یې رغبت(۱۰) وي یا یې خر
دا خو ته یې زما نفسه ... چې دې زړه کړم کوز و کر
تمام ووتې(۱۱) له عقله ... په دنیا پسې اوتر

---

(۱) دا غزل په مصوره نسخه کې نه دی راغلی او همدا "پ" په دوهمه نسخه کې یې د سر بیتونه نه دي راغلي.
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "لکه سنګ هسې ګوهر لکه شام هسې سحر".
(۳) دا بیت د "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "که څوك ښه ورسره کاندي تربدې یې دی بتر".
په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "که څوك ښه ورسره کاندی تربدې وي لا بتر".
(۴) دا بیت په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "که څوك بد ورسره کاندی ترښکې یې وي بهتر".
په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "که څوك بد ورسره کاندی ترښکې وي لا بهتر".
(۵) دا بیت په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "نه په بد ونه هېرېږي نه پرې ښه وي د چا زبر".
په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "نه په بد ویل زهېرېږي نه په ښو د چا زر و ر".
د "خ" په لمړي نسخه کې: "نه په بد ویل زهیرېږي نه پرښه وي دچا بر".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "نه په بد ویل زهیر دي نه پرښه یې دچا زوبر".
(۶) دا مسرۍ په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "په ثواب او په خدایې سېې".
(۷) دا مسرۍ په چاپي دیوانو کې داسې راغلې ده: "نه په عیب باندې پوهېږي". او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "نه په عیبو څه پوهېږي".
(۸) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "ګوري" پر ځای "ګرځي" راغلی دی.
(۹) د "خ" په لومړي نسخه کې د "ځناور" پر ځای "ښناور" راغلی دی.
(۱۰) په چاپي دیوانونو او ټولو قلمي نسخو کې، پرته د "پ" له لومړي نسخې څخه د "رغبت" پر ځای "خوب" راغلی دی.
(۱۱) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "ووتې" پر ځای "ووتم" راغلی دی.

نه دې فرض د خدای ادا کړه  نه سنت د پیغمبر

نه دې مرګ په زړه کې یاد وي[1]  نه خواړې دې د محشر

او ده په روت بې دا دې نه زړه  چې په خوا الرم سفر

په هر دم دې غنه د وومي  که پوه یې دا بشر

هغه تور و پښته دې خر شول؟  چې هم مشک و وهم عنبر

هغه قد دې مجنون بید شو[2]  چې چنار و هم[3] نښتر

تن دې درست زیر و زبر شو  زړه دې نه شول روبر

تر پنجاوشسته تېر شوې  ته لا څان بولې پسر[4]

نه دې ترسي نه دې ویره  نه په زړه باندې اثر[5]

بل بد نه وي لکه ته یې  هسې شوخ او څیلګر

په غفلت دې عمر تېر کړ  نه رهړ وشوې نه رهبر

عبادت دې په ریا شو  لکه ډک په لا کوزر

لکه قلب[6] ناسره همر  پټ په زړو کې حجر[7]

لکه زړې په میوه کې  درون سنګ بېرون ثمر

لکه پټ وي په دانه کې  سل اغزي په د شجر[8]

لکه سحر چې برپای کا  سحر ګر او جادوګر

لکه تش صورت بې روح[9]  چې تصویر کا مصور

لکه تش که وي بې مغزه  میان خالي وي تن پررو

---

(١) دا مسرۍ په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "نه دې مرګ په زړه یادېږي". اود "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "نه دې مرګ په زړه کې یاد وي".

(٢) دا مسرۍ په "پ" چاپ او "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "هغه قد دې مجنون بید شه". د "خ" په لومړي نسخه کې "هغه قد د مجنون خر شو". او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "هغه قد دې مجنون بید شی".

(٣) په "پ" چاپ کې د "همه" پر ځای "یا" راغلې دي.

(٤) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نه دی راغلی لومړي مسرۍ یې په "پ پ" چاپ کې "تر پنجاه و پنځه تېر شوې"، په "پ" چاپ کې "تر پنځوس - تر پنځه تېر شوی"، د "خ" په دوهمه نسخه کې: "تر پنجاه تر پنجاه تېر شوی". اود "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "تر پنجه تر پنجاه تېر شوی".

(٥) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(٦) په "پ پ" چاپ کې د "قلب" پر ځای "کلپ" راغلې دي.

(٧) د "پ" په دوهمه نسخه کې د "حجر" پر ځای "خنجر" راغلی دی.

(٨) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(٩) دا مسرۍ د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "لکه تش صورت په دوح کې".

کلکه بې لاسه لستوني / سر تر پایه پای تر سر
کلکه تنګ او د غبرګ بازوي / په مرغانو کې دګر (١)
کلکه بې تمله ناوي / چې په سر کاندي میزر (٢)
ترمیز رالاندې چاڅه زده / چې دختر دی (٣) که مادر
نه بې حسن نه جمال وي / غولوي خلق په زبور
هسې له هسې فریبانو (٤) / لکه زورند چادوګر
نیم په مځکه کې د ننه / نیم په سر وي لکه نغر (٥)
په دستار کې بې مسواک وي / تر بغل لاندې خنجر
په ایرو کې پټ بخري / په وینو کې پټ ثور (٦)
په شپه وینې د مظلوم خوري (٧) / سبا کېني په ممبر
په زړه تور لکه تبې (٨) روي / په مخ سپین لکه قمر
د دنیا په طلب ګرځي / خپل ځان بولي قلندر (٩)
کلیمه په ژبه وایي / په زړه نه لري باور
په مثال د منافقو (١٠) / نه مسلم وي نه کافر
نه مسلم وي نه کافر وي / نه بخلا نه مر
پریشان ګرځي سر وهلي / کوي په کوي او در په در
همیشه رفت و آمد کا (١١) / د زردارو په ګذر
په کوخه د دنیا دارو / ګوخورګي کا لکه خر
اورنګ زیب هم یو فقیر وو / چې توپې یې وه په سر
وته وي وته یې شاګرد / چې قادر شو په افسر (١٢)

---

(١) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "دګر" پر ځای "دیګر" راغلی دی. (٢) په "پ پ" چاپ کې "خادر" راغلی دی.

(٣) په "پ" چاپ او د "پ" په دوهمه نسخه کې "دی" راغلی دی. (٤) د "پ" په لومړۍ نسخه کې "هې هې له هسې فریبانو"، په "پ پ" چاپ کې "هې توبه له فریبانو"، او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: "هې توبه له هسې فریبه".

(٥) دا بیت په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی دی: "نیم په زمکه کې د ننه نیم بر سبره لکه ..."، د "خ" په لومړۍ نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې یې دوهمه مسرۍ داسې راغلې ده: "نیم بر سبره لکه نفر" او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "نیم په سر وي لکه نغر".

(٦) دا بیت د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې نه دی راغلی او د "پ" په دوهمه نسخه کې د "ثور" پر ځای "ژادر" راغلی دی.

(٧) دا مسرۍ د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "په شپه مال د مظلوم وخوري". (٨) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "کودې" راغلی دی.

(٩) په "پ پ" چاپ کې "بولي ځان په قلندر"، د "خ" په لومړۍ نسخه کې "خسرو بولي قلندر"، د "خ" په دوهمه نسخه کې "خپل سر بولي قلندر"، او د "پ" لومړۍ نسخه کې "ځان بولي قلندر" راغلی دی.

(١٠) په قلمي نسخو کې "منافقانو" راغلی دی.

(١١) دا مسرۍ د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "همیشه یې رفت امد دی" (١٢) دا بیت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نه دی راغلی.

خوبي هومره فقيري وه — چې څه نه وو میسر

چې فلك يې ياري وكړه — نور يې ملك كړ مسخر

گوره څه چاري يې وكړې — په عيال (1) دخپل پدر

وار په وار يې تر تيغ تېر كړ — دخوږم تمام تبر

يو تبر دخوږم څه وُ — دېر عالم يې كړ دبر

تمامي جهان يې ونغرد (2) — چې يې لاس شو باندې بر

په فريب فريب يې خپل كړ — بيجاپور او بهانگر (3)

بيجاپور او بهانگر څه وو — لاجنجي او جنجاور (4)

هم يې هند په ډكه واخيست (5) — هم كابل هم (6) پېښور

بيا يې ذكر شو په زړه كې — بادشاهي د هفت كشور (7)

له حده ورته هيڅ شوه — هم دارا هم سكندر (8)

خيال يې داوُ په خاطر كې — چې به خپل كړم بحر و بر

باري ورځ ور تخنه (9) لاړه — وخت پرې راغى ماز ديگر (10)

نه يې مراد د زړه حاصل شو — نه يې يخ كړ خپل تهتر

همگي شوه ځني پاتې — كه يې ملك وُ كه لښكر

خالي لاس له دنيا ووت — لكه عين د روېزگر

---

(1) د "خ" په لومړي نسخه كې د "د" پر ځاى "په" راغلى دى.

(2) د "پ" لومړى، دوهمه او د "خ" لومړۍ نسخه: "تمامي جهان يې ونغښه" او د "خ" په لومړۍ نسخه كې داسې راغلى ده: "تمامي عالم يې ونغښت".

(3) دا مسرۍ په "پاپ" چاپ كې داسې راغلى ده: "بيجاپور او بهاگ نگر".
د "خ" په لومړۍ نسخه كې: "پنجاب پور او بهاگ نگر".
د "خ" په دوهمه نسخه كې: "پنجاپور بها نه گر".
او د "پا" په دوهمه نسخه كې: "پنجاپور و بهاك نگر".
او په مصوره نسخه كې: "بيجاپوره و بهاك نگر". راغلى ده.

(4) دا بيت په "پ" چاپ كې داسې راغلى دى: "بيجاپور بهان گر څه وو لاچينجا و چينجاور".
"پاپ" چاپ: "بيجاپور بهاگ نگر څه وو لاجنجي او جنجاور".
لومړى مسرۍ يې په مصوره نسخه كې: "بيجاپور د بهاك نگر څه ده". د "خ" لومړى نسخه كې دا بيت داسې راغلى دى: "پنجاب پور بهان نگر څه وو لاچنجي چنچاور".
د "خ" په دوهمه نسخه كې: "پنجاپور بهان گر څه وو لاچنجا و دچنجاور". او نوموړى بيت د "پ" په دوهمه نسخه كې نه دى راغلى.

(5) په "پ پ" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه كې دا مسرۍ داسې راغلى ده: "هم يې هند په ډگه واخست"
او د "خ" په لومړۍ نسخه كې داسې راغلى ده: "هسې هند په ډكه واخست".

(6) په چاپي ديوانونو كې د "هم" پر ځاى "او" راغلى دى.

(7) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه كې داسې راغلى دى: "بيا يې ذكر شو په زړه كې هم دارا هم سكندر".

(8) دا بيت او له دى نه وروسته بيتونه په مصوره نسخه كې نه دي راغلي او هم نوموړى بيت د "خ" په لومړۍ نسخه كې نشته.

(9) په چاپي ديوانونو كې د "ور تخنه" پر ځاى "در تخنې" راغلى دى. (10) په قلمي نسخو كې "نماز ديگر" راغلى دى.

لـــــه دنیایي هیڅ یونه وړه ‏— مگر شوې یو ښـــــادر[1]

خـــــوار حیران په څمکه پریووت ‏— بې بالین او بې بســـــتر[2]

نـــــه پوزې شو تري دلاندې[3] ‏— نه تر لاندې شو تغـــــر

د بنـــــې[4] په خبر خفیف شو ‏— چې ثقیل وُ لکه غـــــر

د سیـــــلاب په مخ کې لاړ شو[5] ‏— لکه خس او[6] یـــــاوزر

حـــــق یې پاتې په گردن شو ‏— د سپاهي او د چاکـــــر

اوس یـــــې زه په روح دعا کړم ‏— که یې خدای کا بهـــــرور

حـــــق تعالی یې په نصیب کړه ‏— شیرین حوض د کوثـــــر[7]

د جنـــــت په خوشبو لیې[8] ‏— خدای دماغ کړه معطـــــر

پـــــه دربست هند باندې یې حق وُ[9] ‏— هند یو شپه وه دی یو لمـــــر[10]

دې لمـــــر په روښنا لیده[11] ‏— تمام هنـــــد وُ منـــــور

پـــــه رڼایي خلقو[12] زیست کړ ‏— نه څه خوف وُ نه خطـــــر

خو چـــــې مخ یې په غروب کړ ‏— نور پیدا شو شور و شـــــر[13]

چـــــې په نام[14] د اورنگ زیب وُ ‏— وخوړ گاوه غه دفتـــــر

اوس نـــــوبت د شاه عالم دی ‏— د ور طور شو دیگـــــر[15]

---

(۱) دا مسرې په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "مگر شیرې یو ښادر" او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مسرې داسې راغلې ده: "مگر د شو یو ښادر".

(۲) په چاپي دیوانونو کې دا بیت داسې راغلی دی: "خوار حیران په څمکه پریووت بې بالینه و بې بستر".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "خوار حیران په څمکه پروت وُ بې بالینه بې بستر".
د "خ" په دوهمه نسخه کې یې دوهمه مسرې داسې راغلې ده: "بې بالښته بې بستر".

(۳) دا مسرې په "پ پ" چاپ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "نه شو تر ده لاندې".

(۴) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "بنې" پر ځای "بنو" راغلی دی.

(۵) په "پ پ" چاپ کې "لاړو" راغلی دی.

(۶) په چاپي دیوانونو، د "خ" په لومړۍ نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې د "او" پر ځای "وي" راغلی دی.

(۷) په "پ پ" چاپ کې: "حق تعالی که یې نصیب کا هغه شیرین حوض کوثر". راغلی دی.
په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "حق تعالی که یې نصیب کا هغه شیرین حوض کوثر".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې یې لومړۍ مسرې داسې راغلې ده: "حق تعالی یې پرې نصیب کړه".

(۸) دا مسرې په قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "د جنت په خوشبو لیده".

(۹) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "وُ" پر ځای "دی" راغلی دی.

(۱۰) دا مسرې په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "هند یو شپه وه دی وُ نمر". د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "هند شپه وه دی لمر".

(۱۱) دا مسرې د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "د ده نمر په روښنا لیده"
او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "د دې لمر تر روښنا لیده".

(۱۲) په چاپي دیوانونو، د "خ" په دوهمه نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې د "خلق" پر ځای "خلکو" راغلی دی.

(۱۳) دا بیت په "پ پ" چاپ کې نه دی راغلی.

(۱۴) په چاپي دیوانونو کې "نوم" راغلی دی.

(۱۵) دا مسرې په "پ پ" ... کې ... ده: "د ور او طور یې شو دیگر"، او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "د ور نور و شه دیگر".

خدای زده خه بازي شي پېښه — چې عاشق شي که اختر (۱)
رنګارنګه بازي کاندي (۲) — د آسمان دی بازیګر
ګهي تلخ شي لکه زهر — ګاه شیرین لکه شکر (۳)
چې شي شوه هغه وشوه — لا به کېږي مقدر (٤)
ما خو نوم د اورنګ واخست — د احوال دی دهر
هر سړی د خپلې خوني — هم بادشاه دی هم سرور
هر چې اهل د دنیا دي — واړه هسې دي اکثر

دابیان دورودراز وه (۵)
رحمان وکړ مختصر

٨٢ — ١٠٥٦

که د عشق لاره اغزنه ده هر ګور — د عاشق په پښو خپلې دي داور (٦)
که دیدن د ګلعذار په انتظار شي (۷) — زما سترګې دی شبنم غوندې خلور
تیغ د اوسپني محتاج د نرم آب دی — قرب وحلم یو په سل دی زیات تر زور (۸)
له لوی له سرکښی زما توبه ده (۹) — خدای خولک مه کړه د آسمان په څېر نسکور
خدای زده خه سودا به پېښه په بازار شي — د بازار خبري نه شي په خپل کور (۱۰)
د احمد واړه عاشق له پیدا شوه (۱۱) — که تهمت که ملامت دی که پېغور
جفا جورناز وکبر د خوبانو (۱۲) — ما په ځان دي قبول کړي لکه پور

---

(۱) دابیت د "خ" په دوهم نسخه کی داسی راغلی دی: "خدای زده خه چارې شي پېښې — چې عاشور شي که اختر".
د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی دی: "خدای زده خه بازي پېښه — چې عاشور شي یا اختر".
او په چاپي دیوانونو کی دوهمه مسری داسی راغلی ده: "عاشورا شي که اختر".
(۲) دا مسری په "پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "رنګارنګ بازیه کاندي". "پ، پ" چاپ: "رنګارنګې بازي کاندي".
د "خ" په لومړی او دوهم نسخه کی او د "پ" په دوهم نسخه کی داسی راغلی ده: "رنګارنګ بازي کاندي".
(۳) دابیت په "پ" چاپ کی داسی راغلی دی: "ګهي تلخ شي لکه زهر — ګه شیرین لکه شکر".
په "پ پ" چاپ کی: "ګاهي تلخ شي لکه زهر — ګاه شیرین لکه شکر".
د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی دی: "ګهي تلخ شي ګاهي زهر — ګاه شیرین لکه شکر".
د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی دی: "ګهي تریخ شي لکه زهر — ګاهي شیرین لکه شکر".
او د "پ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی دی: "ګاه تریخ شته لکه زهر — ګاه شیرین لکه شکر".
(٤) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کی نه دی راغلی. لومړی مسری یې په قلمي نسخو کی داسی راغلی ده: "چې وشوه هغه وشوه".
(۵) د "پ" دوهمه نسخه: "دابیان دراود دراز ه".
(٦) داغزل په مصوره نسخه کی نه دی راغلی او ددی بیت دوهمه مسری په "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "د عاشق په پښو کې دی خپلې داور".
(۷) دا مسری په چاپي دیوانونو کی داسی راغلی ده: "که دیدن د یار موندہ په انتظار شي."
(۸) دابیت د "خ" په لومړی او د "پ" په دوهمه نسخه کی نه دی راغلی او ددی بیت دوهمه مسری د "پ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده: "قرب وحلم یو په سل دې تر زور".
(۹) دا مسری د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده: "که لویي ده که سرکښي زما توبه ده". او د "خ" په دریمه نسخه کی داسی راغلی ده: "له لویي له سرکښۍ مې توبه ده".
(۱۰) دابیت په قلمي نسخو کی نه دی راغلی.
(۱۱) په "پ" چاپ کی د "شوه" پر ځای "دی" راغلی دی.
(۱۲) دا مسری په "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "ناز وجور وکبر د خوبانو". او په "پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "جفا ناز وجور وکبر د خوبانو".

راحت بې زحمته نه دی چا موندلی(۱) — غم بنا دي دې ددې دهر خورا و ورور

رحمان هسې په خپل يار پسې غوښ غوښ يم(۲)

۸۳ — ۱۰۶۵

لکه غوښ په خپل اولاد وي پلار او مور

پس له مرګه که څوک ارت غواړي خپل ګور — که حق وايم هومره ارت دې بويه کور(۳)

تر ځان زيات که چارځه په کار نه ده — ځان په لو پښت کړه چې دې خودي او نه سور

چې جامه د چا کوتاه يا اوږده شي — ورکاوه شي هنرمند لره پېغور

هر سړي چې په حساب کې تېر و بېر شي — ملامت پرې وايه کېږي لور د لور

چې لايق د ملامت او د تهمت شي — ځای لري که بې عزت شي هم سرتور

چې عزت حرمت يې نه وي په جهان کې — هغه هسې ژوندون وسوزه په اور

بې عزت سړی به خوښ د هيچا نه وي — مګر هسې بې عزت وي ځيني نور(۴)

خپل مجلس يې تر جمله مجلسه خوښ وي — په هر ځای چې سره جمع شي خمسور(۵)

هر همجنس له خپله جنسه سره خوښ وي(۶) — زېب کاهره کښېده په خپل اخور

نابينا په خپله سيمه کې بينا وي — بېنايان په پردی ملک شي کرو کور

که ته نه يې بدکرداره بد ملنه — کښېنه مه بدکردار سړی په غور(۷)

درست صورت د ديوه نوک په درد دردمند شي(۸) — وران شي ښهر د يوه سړي په تور

چې يو غاښ په خوله کې زوږن شي يا وځي — درسته خوله پرې بد نمايه شي هر ګور(۹)

---

(۱) دا مسری د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی ده: " راحت نه دی بې زحمته چا موندلی ".
د "پ" په دوهمه نسخه کې نو موړی مسری داسې راغلی ده: " راحت نه دی چا موندلی بې زحمته ".

(۲) دا مسری په "پ" چاپ، د "خ" په لومړي نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: " رحمان هسې په خپل يار پسې غوښ غوښ ذی ".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: " زه رحمان هسې په خپل يار بانديې غوښ غوښ يم ".
د "پ" لومړي نسخه: " زه رحمان هسې په خپل يار پسې غوښ غوښ يم ".

(۳) د "پ" لومړي نسخه: " پس له مرګه که ارت څوک ګڼي خپل ګور — که حق وايم هومره ارت بويه کور ".
په مصوره نسخه کې لومړی مسری داسې ده: " پس له مرګه که غواړت کوي خپل ګور ".

(٤) "ق" چاپ: " بې غيرت سړی به خوښ د هيچا نه وي — مګر هسې بې غيرت وي ځيني لوړ ".
د "خ" په لومړي نسخه کې د "ځيني لوړ" پر ځای "خم خوړ" راغلی ذی.

(۵) د "خ" لومړي نسخه: " په هر ځای چې سره ورېښتي خلوړ ". د "پ" لومړي نسخه: " په هر ځای چې وبله ورشي خمسور ".

(۶) دا بيت او ورپسې ټول غزله په مصوره نسخه کې نشته، چاپي ديوانونو کې لومړی مسری داسې ده: " هر همجنس له خپل هم جنس سره جوړه دی ".
د "خ" لومړي او دوهمه نسخه: " هر همجنس له خپله جنسه سره جوړ وي ".

(۷) دا بيت په "پ" چاپ، "ق" چاپ او د "خ" په لومړي نسخه کې نشته. د "پ" په لومړي نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې " که ته نه يې بدکردار و بدکردار کا کښېنې دی منه بدکردار سړي په غور ". او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا بيت داسې دی: " که ته نه يې بدکرداره بدعمله — کېدی مه بدکردار سړي په کور ".

(۸) دا مسری د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.

(۹) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.

یوسړی چې په کوړمه کې دچا کرم شي — واړه ګرم کا که پنځه دي که څلوړ (۱)

بدکړ داړه زوی پیدا مشه له موره — ابتر کاندي ناموس دپلار ومور

هرڅوك خپله خوشحالي له خدایه غواړي — باري (۲) نه شي دغه کار په زرو زور

خدای په خپل قدرت څوك لوی وڅوك هلاك کړه — نه چې هر بنیمر دپیلی شي یالاهور

دتنګو پوروند هرڅوك وبله کاندي — بخت هیچا ورکړی نه دی ځبله پور

دچا تاج په سر زرین خنجر تر ملا وي — دچا پنډ په سر په ملا تومبلی لور

څوك په آس د پاسه سور وي توغ دوراندې — څوك زیرکلی ګرځاوه شي په خره سور

ای رحمانه دخدای نوم به چا وانخست — که دخدای چارې په پلار شوې یا په مور

۸۴ ۱۰۸۶

بتادي خواب آلود وسترګو خوا را یو وړ — لبودې (۳) لذت د میوناب راښخه یو وړ

نه مې او ښکې پاتې شوې نه صبر په صورت کې — دېرې بې صبرۍ دمخ آب راښخه یو وړ (۴)

زړه مې په نغمو نغمو سوری کړ مطربانو — عقل ساقیانو په شراب راښخه یو وړ (۵)

یو ساقي بل یار دریم مطرب سره یوځای شول — زړه یې له ګوګله په شتاب راښخه یو وړ

څه شو که یې یووړ خراب (۶) دل مې تر یې قربان شه — نور چاوړی نه دی خپل احباب راښخه یو وړ (۷)

(۱) چاپي دیوانونه : "یوسړی چې په کوړمه کې دچا بد شي . واړه بد شي که پنځه دي که څلور".
(۲) د "خ" دوهمه نسخه کې "مونده نه شي" راغلی دی.
(۳) په چاپي دیوانونو کې "شونډو د" راغلی دی.
(۴) "ق ، ک" چاپ : "دېرې بې صبرۍ مې د زړه آب راښخه یو وړ".
"ق" چاپ : "دېرې بې صبرۍ مې دمخ آب راښخه یو وړ".
"پ ، پ" چاپ : "دېرې بې صبرۍ دې دمخ آب راښخه یو وړ".
(۵) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته . "پ ، پ" چاپ کې لومړی مسری داسې ده : "زړه مې په نغمو مره سوری کړ مطربانو". "ق" چاپ : "زړه مې په نغمو سوری سوری کړ مطربانو".
(۶) په چاپي دیوانونو کې "خسته" راغلی دی (۷) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کې نشته.

خط دې تور حرفونه مخ دې پاڼې د کتاب کړې[۱] — شغل د کتاب دې بل کتاب راغځه یو وړ[۲]
هر اسباب چې ماغځه د زهد د پرهیز وُ[۳] — واړه تا د حسن په اسباب راغځه یو وړ[۴]

۸۵ — کړې مار رحمان په زړه کې نقش د محراب وُ
ستا آبرو یو نقش د محراب راغځه یو وړ — ۱۰۹۴

خراب زړه[۵] مې د دلبر و هوا یو وړ — د هواله ور یو چا زده چې چا یو وړ
ګوښې ګوښې ښایسته مې زړه وکاږي — زه وکوم یوه ته وایم چې تا یو وړ[۶]
چې مې زړه لره د تورو زلفو ځای غوښت[۷] — هغه زړه راغځه د بړې ژړا یو وړ
د سېلاب په مخ کې کله د چا خوب شي — شېرین خواب راغځه د بړې ژړا یو وړ
هغه رخت چې مې د صبر د سکون وُ — هیڅ رانه کړ هوشانو وبړیا یو وړ
هغه عقل چې یې لاف د خود رایې کړې — په یوه پیاله د میو مینا یو وړ[۸]
که یې یو وړ خسته دل مې ترې قربان شه — نا آشنا وُ وړې نه دی آشنا یو وړ[۹]

۸۶ — هیڅ ناحق پرې شوی نه دی که حق وایم
معشوقې د رحمان زړه په رضا یو وړ — ۱۱۰۲

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې "دی" او د "خ" په درې واړو نسخو کې "شوی" راغلی دی.
(۲) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ :
"شغل د کتاب دې خورد و خواب راغځه یو وړ".
(۳) د "خ" لومړی نسخه : "د شرم یاد ننګ وُ"
او د "خ" په دوهمه او مصوره نسخه کې د "زهد د تقوی" راغلی دی.
(۴) "ق، ک" چاپ : "واړه ستا د حسن دې سېلاب راغځه یو وړ".
(۵) په قلمي نسخو کې "دل" راغلی دی.
(۶) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۷) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، په "ق، ک" چاپ کې لومړی مسری داسې ده :
"چې مې زړه مینه په تورو زلفو کړله".
(۸) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، په چاپي دیوانونو کې داسې دی :
"هغه عقل چې یې لاف د خود رایي کړې — په یوه پیاله یې واړه لدما یو وړ".
د "خ" لومړی نسخه : "هغه عقل چې یې لافې د خودۍ کړې".
(۹) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

لکه کاندي په کوترو نظرباز — هسې زه یم د دلبرو نظرباز

زه و نور چا ته خبرې دراز نه کړم(۱) — بې هغو چې موی(۲) مژګان لري دراز

بل بادشاه له ره محال دی د ملك د زړونو — مګر مخ د چا محمود شي خال ایاز(۳)

ستا تر(۴) زنې ترسیب پورې راښکاریږي — نورې زنې د خوبانو لکه پیاز(۵)

د تصویر له ګلو طمع د بوی مه کړه — بې وفا دي واړه ترکې د مجاز(۶)

هغه یار که په خپل ناز خوښ و خرم دی(۷) — زه هم خوښ یم همیشه دیار په ناز

همیشه مې لاس نیولی دی دعا(۸) کرم — چې مدام دې دیار ناز وي زما نیاز

که څوك آه و فریاد نه کړي په عشق کې(۹) — زه په عشق کې د غم کار کړم هم غماز

ښادي هرچیرې د غم په اندازه وي — هسې غم دی د ښادۍ په انداز(۱۰)

نیستی واړه(۱۱) د هستی په دنبال ګرځي — نه پوهیږي په اوبو کې تش جهاز

دا قاعده ده لکه لوړ هومره ژور وي(۱۲) — یو صورت دی هم نشیب شي هم فراز

۸۷

چې یکسان ګورې هم شاه وهم ګدا ته(۱۳)
هسې یار دی د رحمان غریب نواز

۱۱۱۴

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې دا مسرۍ داسې راغلې ده: "زه و نور چا وته دراز خبرې نه کړم". (۲) د "پ" په دوهمه نسخه کې "دوی" راغلی دی.

(۳) د "خ" لومړۍ نسخه کې دا مسرۍ داسې راغلې ده: "مګر مخ د چا محمود حال دا یاز" او په څلورمې مسرۍ کې د "شي" پر ځای د پېښور په چاپي دیوانونو، مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې "وي" راغلی دی.

(۴) د "پ" له لومړۍ نسخې او مصورې نسخې نه پرته په ټولو نورو کې د "تر" پر ځای "د" راغلی دی.

(۵) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "ستا د زنې ترسیب پورې ښکاریږي — نورې ترکې او خوباني لکه پیاز".

(۶) دا مسرۍ په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "له منقوشو مرغو نه خبرېږي آواز". (۷) د "پ" له لومړۍ نسخې نه پرته په ټولو نورو کې د "وي" پر ځای "دی" راغلی دی.

(۸) په مصوره نسخه، د "خ" لومړۍ نسخه، د "پ" دوهمه نسخه، په "پ" چاپ او "پ پ" چاپ کې د "دعا" پر ځای "خواست" او "ق ك" چاپ کې "سوال" راغلی دی.

(۹) دا مسرۍ د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "که څوك آه و فریاد و نه کړي په عشق کې". (۱۰) دا مسرۍ په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "هسې غم د دې دنیا دی په انداز".

(۱۱) د "پ" په لومړۍ نسخه کې د "واړه" پر ځای "هرچیرې" راغلی دی. (۱۲) دا مسرۍ د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "دا قاعده ده لکه لوړ هومره په ځوړ وي".

(۱۳) دا مسرۍ د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "چې یکسان ګورې وشاه وهم ګدای ته". په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "چې یکسان ګورې هم شاه ته هم ګدا ته".

که بې ځایه زړکې نه وښکې آواز ۔ نه صیاد ځنې خبر وُ نه شهباز (۱)
سکه له دې خبرې هسې معلومېږي ۔ خپل صورت دی هر سړي لره غماز (۲)
د منصور و حال ته گوره حال یې څه شو (۳) ۔ خدای دې فاش د هیچا نه کاندي پټ راز
د رېږه د رېږه که ورسوتی عقل روږی وي ۔ د انجام خبرې نه شي په آغاز
نېك عمل د عالمانو (۴) نېك فرزند دی ۔ خدای خوك مه کړه شراب خور او قمارباز
چې فرزند یې شراب خور او قمارباز شي (۵) ۔ نور یې کاڼي شي د پلار په خونه ساز
خدای له هسې زاهو زاده امان راکړه (۶) ۔ چې بې دین بې دیانت شي بې نماز

۸۸ ۔ چې منکر پرې اعتراض کولی نه شي
دادې شعر دی رحمان که اعجاز ۔ ۱۱۲۲

بد اختر به نېك اختر نه شي هرگز ۔ مرغ چوچه به در گوهر نه شي هرگز (۷)
که مکان یې په آسمان دی (۸) غزا وشوه ۔ ستاره به شمس و قمر نه شي هرگز
که یې اصل له یوې ځمکې وي څه شو ۔ بېد به سرو صنوبر نه شي هرگز
که همه عمر باران ور باندې ووري ۔ خس به گل د پیغمبر نه شي هرگز (۹)
له نااهلو د وفا طمع و مه کړه (۱۰) ۔ گنده نل به نیشکر نه شي هرگز
که تورغر له ځایه خوزي و به خوزي (۱۱) ۔ ولې نور به مقدر نه شي هرگز

۸۹ ۔ د رحمان په باب چې وشوه هغه وشوه
مکرر (۱۲) به دا دفتر نه شي هرگز ۔ ۱۱۲۹

---

(۱) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته.
(۲) دا بیت په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی دی: "هم له دې خبرې هسې معلومېږي خپل آواز دی هر سړي لره غماز".
او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی دی: "لحکه له دې خبرې هسې معلومېږي چې خپل صورت دی هر سړي له غماز".
(۳) د "پ پ" چاپ کې د "څه شو" پر ځای "څه دی" راغلی دی.
(۴) په چاپي دیوانونو او د "پ" په لومړي نسخه کې د "عالمانو" پر ځای "عاملانو" راغلی دی.
(۵) په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړي نسخه کې د "شي" پر ځای "وي" راغلی دی.
(۶) دا مسرې په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "خدای له هسې زاوزاده امان وکړه".
(۷) دا غزل په مصوره نسخه کې نه دی راغلی او د دې بیت دوهمې مسرې "مرغ چوچه" په چاپي دیوانونو کې "مرغ چچ"، د "خ" لومړي نسخه کې "مرغچې" او د "خ" په
دوهمه نسخه کې "مرغ بچه" او د "پ" په دوهمه نسخه کې هم "مرغ چچ" راغلی دی.
(۸) په "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې د "دی" پر ځای "وي" راغلی دی.
(۹) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نه دی راغلی، دوهمه مسرې یې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "خس به گل صنوبر نه شي هرگز". او لومړۍ مسرې
یې د "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "که همه عمر باران ور باندې وشي".
(۱۰) په "ونه کړې" راغلی دی.
(۱۱) دا مسرې د "پ" په لومړي، دوهمه او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "که تورغر له ځایه کوزي و به کوزي".
دا ټول بیت د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی دی "که تورغر له ځایه گرځي و به گرځي ولې تور به مقدر نه شي هرگز".
(۱۲) د "سپ" په دواړو نسخو کې د "مکرر" پر ځای "مکدر" راغلی دی.

پښته سپين سترگی تاريکې غابن کنډاس     نه وکاږي د د نيا له چارو لاس
په هر لوري (۱) چې يې موږې پسې درومي     نه په چپ لوري صرفه کړي نه په راس
يو وښته د عقيدې دي په تن نشته     سر تر پايه هسې ډوب (۲) يي په وسواس
خدای رازق بولي او رزق بولې له کسبه     په داشناخت وځان ته والي حق شناس
هسې رنگ په بد صفت يي موصوف شوی     چې هيڅ نه پوهېږم ناس يي که خناس (۳)
په دولچه کې به ورنه شي تر توحيده     که پېشوا کړي مهتر خضر مهتر الياس (۴)
واړه زهر وقاتل نغري که پوهېږي     که سيوا له خدايه نغرې هر انفاس
امر دادی چې له نهې لاس کوتاه کړې     او که نه وي خپسر وگنه مواس (۵)
خير دادی چې له شره وجار وځې     په داچارو کې هيڅ نشته کوزوپاس (۶)
که زما ويل دروغ يا کوزوپاس وي     ته يې څپله په خپل زړه وکړه قياس (۷)
له سره يې غرض واړه سړی توب دی     نه چې پټ وي د سرو زرو په لباس (۸)
څه په دابه عراقي او ترکي نه شي     که په خره باندې څوك سور شي که په آس (۹)

---

(۱) په قلمي نسخو کې "په هرطور" راغلی دی.
(۲) د "ب" په لومړۍ نسخه کې "ډوب يم" راغلی دی.
(۳) دا بيت په "ق ،ک" چاپ ، او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته ، په نورو چاپي ديوانونو کې داسې دی :
"هسې رنگ په مذبذب صفت موصوف شوې     نه پوهېږ مه چې ناس يې که خناس".
د "ب" په لومړۍ نسخه کې يې دوهمه مسره داسې ده : "چې هيڅ نه پوهېږم ناس يې که خناس"
(٤) له دې بيت نه وروسته بيتونه په "ق ،ک" چاپ کې نشته.
(۵) د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا بيت نشته.
(۶) د "خ" لومړۍ نسخه : "امر دادی چې له نهی وجار وزې     په داچارې کې هيڅ نشته کوزوپاس".
(۷) د پېښور چاپي ديوانونه او قلمي نسخې : " ته يې څپله په خپل زړه کې وکړه قياس".
(۸) د "خ" لومړۍ نسخه : "له سره يې غرض واړه سړی خوی دی     نه چې پټ وي زر د مسو په لباس".
د "ب" لومړۍ نسخه : "له سره يې غرض واړه سړي هوس دی     نه چې پټ وي مس د زرو په لباس".
د "پ پ" چاپ : "که سړی يې غرض واړه سړی هوش کا     نه چې پټ وي د سرو زرو په لباس".
(۹) د "خ" لومړۍ نسخه : "که د خره په سر سوری وی د آس".
د "ب" په لومړۍ نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې : "که د خره په سر سور يې کړې د آس".
مصوره نسخه : "که د خره په سر سړی سور شي که د آس".

دتشنه خوله او بو سره مطلب وي — نه تش ایښې یې او بو د زر و طاس (۱)

هر زاهد چې په ریا زهد نازېږي — د خر ښت ګومان یې کېږي په اماس

دا زما عاجز امید دی که رب کاندي — په قیامت به مې شفیع شي خیر الناس (۲)

اې رحمان تاله که څه کار دی خو د دین دی (۳)

نور کارونه بې وفا دي بې اساس

٩٠ — ١١٤٥

تېر شو درست عمر زما په داهوس — که مې و پوښتې چې څوک یې یا څه کس (٤)

یو پرسش د هغه یار ما لره بس کا — چې څه کس وي خو یې یوه وېناوي بس (٥)

هزار حیف دی چې په هر نفس ترې تېښتم — هغه لور ته چې مې تل دي هر نفس

چې یې زه په هر نفس له خدایه غوارم — هغه کله وینم په د بر پس (٦)

که یو خس وي په محتاجو لکه ګوروشي (٧) — خدای دې نه کا څوک محتاج دیوه خس

هر مرغه په خپله جاله کې همای دی — که کارغه که مېنګېرک دی که ققنس

که شهباز لره سینه ده د تنزري — عنکبوت لره سینه ده د مګس (٨)

خو چې خاورو لره ورشي برابر شي — که چا غوندي وي اغوستي که اطلس (٩)

هم هغه یې ژړوي چې خندوي یې (١٠)

نور څوک نشته د رحمان فریاد رس

٩١ — ١١٥٤

که څوک فخر کا په ننګ او په ناموس — دا په عشق کې نه ارزېږي یو فلوس (١١)

که اغوستي یې زري جامې وي څه شو — ګنه یا مرغ زرین دی یا طاؤس (١٢)

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه : " نه تش یې او بو د سیمو زر و طاس".
مصوره نسخه : " نه چې تش کټوري د سیم وزر و طاس".

(۲) دا بیت د "ق" چاپ نه نقل شو.

(۳) د "خ" په نسخه کې د "دین" پر ځای "خدای" راغلی دی.

(٤) دا غزل په "ق ،ک" چاپ کې نشته.

(٥) "پ" چاپ : " که څه کس وي خو یو ویه ورلره بس".
د "پ پ" چاپ : " که څه کس وي خو یو واروی ورله بس".
"ق" چاپ : " که څه کس وي خو یو حرف ورلره بس".
د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه : " چې څه کس وي خو هم یو دې دی بس".
د "خ" دوهمه نسخه : " چې څه کس وي خو یې یو ویلی دی بس".

(٦) د "خ" لومړی نسخه : " هغه کله وینمه په د بر پس".

(٧) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته ، په چاپي دیوانونو کې لومړی مسری داسې ده : " که یو خس وي په محتاجو کله غرانیشی".

(٨) د "خ" لومړی نسخه : " که شهباز لره تا به ده د تنزري عنکبوت لره تا به ده د مګس".

(٩) په "پ" چاپ کې "چا اطلس" ، او د "پ" په لومړی نسخه کې "یا اطلس" راغلی دی.

(١٠) چاپي دیوانونه : "هم هغه مې خندوي چې ژړوي مې بل څوک نشته د رحمان فریاد رس" او د "پ" په لومړی نسخه کې "لو څه نشته" راغلی دی.

(١١) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(١٢) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته ، او لومړی مسری یې د پېښور په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده : " که اغوستي یې زرین لباس وي څه شو".

کېږي تاج وي په سر اېښي غزا وشوه — په نظر زما هد هد دی یا خروس (۱)

نه يې فهم او فراست وي نه يې عِلم — خالي نقش لکه عکس د معکـوس (۲)

نه يې مغز نه دانه وي په خرمن کې — عبث هسې په سر لوني وار ه بوس (۳)

د مجاز له اهله طمع د خیر مه کړه — تمامي شر او شدت دی د الـوس (٤)

ودانۍ يې همه واړه ویراني ده — راشه وګوره ماڼۍ د کیکاوس (٥)

که زما په ګفتګوی کې زیات و کم وي — غوږ دې ګډ کا په دا ښهر کې جاسوس (٦)

ساقي جام او باده راوړه چې بې خود شم — خدای غوږ مه کړه په خودۍ کې محبوس (۷)

که غوږ و غوړي تمام د دنیا واړه — زما یار غوندې به نه وي بل عروس (۸)

رحمان حسن د یار وینم په پرده کې (۹) — نه پټېږي نور د شمع په فانوس

۹۲ ۱۱۶۵

# ص

ګوره څه بلند مقام دی د اخلاص — چې جهان واړه غلام دی د اخلاص (۱۰)

که له ځمکې و آسمان ته خاته ګران دي (۱۱) — دا سفر په یوه ګام دی د اخلاص

(۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. (۲) دا بیت په مصوره نسخه او د "پ" په مختلط نسخه کې نشته، لومړی مسری يې په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "نه يې فهم فراست دی نه يې عقل". او د "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "نه يې نقش او فراست دی نه يې عقل".

(۳) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، دوهمه مسری يې په "پ" چاپ کې داسې ده: "عبث هسې خالي لوني په سر بوس".

(٤) دا بیت په مصوره نسخه او د "پ" په مختلط نسخه کې نشته، د "پ پ" چاپ کې دا بیت داسې راغلی دی:

"د مجاز له یاره طمع د خیر مه کړه — تمامي شر او شدت دی یا سالوس"

د "پ" لومړی نسخه: "د مجاز له یاره طمع د خیر مه کړه — تمامي شر او شدت د ټوله او الوس".

او د "خ" په لومړۍ نسخه کې يې لومړی مسری داسې راغلې ده: "د مجاز له اهل د له طمع مه کړه".

(۵) په چاپي دیوانونو کې د "کیکاوس" پر ځای "قیانوس" راغلی دی، او دا بیت په مصوره نسخه او د "پ" په مختلط نسخه کې نه دی راغلی.

(۶) دا بیت په مصوره نسخه او د "پ" په مختلط نسخه کې نشته او دوهمه مسری يې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "غوږ دې وکه په دا ښهر کې جاسوس".

(۷) دا بیت د "پ" په مختلط نسخه کې نه دی راغلی، دا بیت په "پ" چاپ او مصوره نسخه کې داسې راغلی دی: "ساقي جام د باده راوړه چې بېخود شم — خدای غوږ مه کړه په خودۍ کې محبوس".

په "ق ک" چاپ کې: "ساقي جام د میو راکړه چې بېخود شم — خدای غوږ مه کړه په خودۍ کې محبوس". په "پ پ" چاپ کې: "ساقي جام د میو راکړه چې بې خود شم —

خدای دې مه کړه په خودۍ کې محبوس غوږ". د "خ" په لومړۍ نسخه کې لومړی مسری داسې راغلې ده: "ساقي جام د بادې راوړه چې په خود شم".

(۸) دا بیت د "پ" په مختلط نسخه کې نشته، د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "بل عروس" پر ځای "یک عروس" راغلی دی (۹) د پېښور په چاپي دیوانونو او د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې دا مسری داسې راغلې ده: "رحمان حسن د یار وینې په پرده کې".

(۱۰) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته، په "پ" چاپ او د "پ" په لومړۍ نسخه کې دا بیت داسې راغلی دی: "څه عجب بلند مقام دی د اخلاص — چې جهان واړه امام دی د اخلاص".

او د "پ" په دوهمه نسخه کې د "مقام" پر ځای "مکان" راغلی دی. (۱۱) دا مسری د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "له دې ځمکې و آسمان ته خانه ګران دی".

چې خبر کا مخلصان له غیبه علمه[1] — داهم واره الهام[2] دی داخلاص

د رواج او رسم عمر مدام نه وي — لکه عمر[3] چې مدام دی داخلاص

بې اخلاصه د اسلام حلاوت نشته — که اسلام دی خو اسلام دی داخلاص[4]

څه عجب دی که مستان ترې چاپېر ناوي — هر ساقي څخه چې جام دی داخلاص[5]

څه عجب دی که همائي په دام نښلي — هر صیاد څخه چې دام دی داخلاص

پس له مرګه به داهم واخلاص نه وي — که اخلاص کړې نن هنګام دی داخلاص[6]

۹۳ — ۱۱۷٤

د خوشحال کلام په دا سبب شیرین دی
چې یې هر کلام ، کلام دی داخلاص

که ترستوني دې شي ګوټ له جام خاص — هغه دم به شي دغم له شپېو خلاص[7]

تر په سپینه جامه تکې بد لیده شي — تر داعامې چارې مه کړه خاص الخاص

که دوړې نهنګ ځان ته یو لقمه کړې — زر به راوړې په تحقیق سره غواص

په لباس به دې آسان په صورت ګران شي — مشکلات به دې آسان شي له اخلاص

که نغمه د محبت په غوږ واورې — په فلک به شي زهره غوندې رقاص

معنوي صورت پیدا کړه که میره یې — فایده څه ده د بوتانو له اشخاص

د بل خیر په خاصیت به هغه ګوري — چې خبر نه وي د مینې له خواص

۹٤ — ۱۱۸۲

چې تارچه ورځینې رخت د مینې نکه
فهم دار او سه خوشحاله له رصاص

که ګوهر د عشق په لاس راکړې غواص — بیا هاله یې دی له ما سره اخلاص[8]

په کاله به د رقیب غمونه زور شي — که مې یار کاندې حساب له خاص الخاص

---

(۱) دا مسرې په چاپي دیوانونو او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : " چې خبر کا مخلصان له علم غیبه ".
(۲) د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې " اعلام " راغلی دی .
(۳) په قلمي نسخو کې "لکه" راغلی دی .
(٤) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته . په چاپي دیوانونو کې یې لومړۍ مسرۍ داسې ده : " بې اخلاصه حلاوت د اسلام نشته ".
او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده : " بې اسلامه د اخلاص حلاوت نشته ".
(۵) دا بیت د "پ" په دواړو نسخو او د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته او لومړۍ مسرۍ یې په "پ" چاپ کې داسې ده : " څه عجب دی که مستان وی ترې چاپېره ". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده : " څه عجب دی که مستي یې دی له جوره ".
(٦) دا بیت د "ق ، ک" چاپ او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته. څو لومړۍ مسرۍ یې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده : " پس له مرګه چې داهم اخلاص نه دي .
(۷) دا غزل پوازې او پوازې د "خ" په دوهمه نسخه کې راغلی دی ، په نورو قلمي نسخو او چاپي دیوانونو کې نشته .
(۸) دا دواړه پوازې او پوازې د "خ" په دوهمه نسخه کې راغلي دي ، په نورو قلمي نسخو او چاپي دیوانونو کې نشته .

پہ کمند د مستۍ میني د خوبانو بندي مه کړي خدای د چشمه پورې خلاص

۹۵ په رحمان باندې نظر د کرم وکړې ۱۱۸۶
اې چې يې د پاك الله په دربار خاص

ساقي راکړه ته وما ته جام د رقص زه آرزو په زړه لرم مدام د رقص
ده وي اوس به د خوښۍ ساعت په تاشي مغني راکړه وما پيغام د رقص
مسقي (۱) علم خپل استاد را ته تعليم کړه رانمايې کړه هر تار مقام د رقص
سر يې پاس تر نهه فلکه خرګند بړي چې په چاوشي ارشاد اعلام د رقص
چې جلوه پرې د محبوب له لوري کيږي هرګز نشته په هغه اشام د رقص
لياقت يې هر وګړي ځنه نشته په لايقو باندې وي انعام د رقص

۹۶ ځو يې سا په وجود شته عبدالرحمانه ۱۱۹۳
حقيقت به هو مبرې نه کړه تام د رقص

ض

که ته نه کړې په بل چا باندې غرض بل به هم نه کا په تا باندې غرض (۲)
که ګدای د بل په غولي غرض (۳) نه کړي سپى به نه کا په ګدا باندې غرض
په ساحل کشتۍ د هيڅ اندو وېرې که خوك نه کا په دريا باندې غرض
خلوتيان په خپل خلوت کې فراغت دي د رسوا دي په رسوا باندې غرض
دا دنيا په احمقانو ده ودانه دانا نه کا په دنيا باندې غرض

۹۷ زه رحمان د عشق په درد کې هسې خوښ يم (۴) ۱۱۹۹
چې مې نشته په دوا باندې غرض (۵)

---

(۱) په اصل نسخه کې په هجري د دال ليکل شوي ده. (۲) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته. د دوهمه مسرۍ په "ب" چاپ او "ق" نسخه چاپ کې داسې راغلې ده: "بل به نه کاندې په تا باندې غرض". (۳) د "خ" په لومړۍ نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې "ګدا" راغلی دی. (۴) دا مسرۍ د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "زه رحمان به د دانا کام کوم تو تومه". (۵) دا مسرۍ د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې مې نشته په بل چا باندې غرض".

په دربار کو مرد ښکلي دلبر عرض — په هر دم په هر ساعت مقرر عرض[۱]
که قبول شي د مولا په پاک دربار کې — دا په روی د شاه نبي پیغمبر عرض
په مانند د ګړیال په پنځه وخته — په شورش د غم له خوفه د سقر عرض
بې خاونده د کار (و) کله خه کېږي — خه که کار ته همېشه کا قلندر عرض

۹۸ — دا رحمان بې نبي کله د ځښتن ته — شوی کولی د بل نکار سراسر عرض — ۱۲۰۴

که مې یار په دیدن سر غواړي عوض — ور قربان شه چې دلبر غواړي عوض
چې هستي وار په نیستي کاندي واصل شي — ګنده کچکول دې قلندر غواړي عوض
د دوهمه په اور به خه حاجت موقوف وي — عاشقي ترې خاکستر غواړي عوض
خپل صورت ورته نافه کړه ته د مشکو — یار مجمر لره عمبر غواړي عوض
د لباس له ښکلیو طمع بوسه مه کړه — د بوسې په درکړه زر غواړي عوض
د دې دهر له تنګۍ وېره وکړه — د کمترۍ په ځای بهتر غواړي عوض
د عشق د رخه په اسانه لوسته نه شي — په دا ځای کې زیر و زور غواړي عوض

۹۹ — په یو ځله به ترې خلاص نه شې رحمانه — سر و مال دې مقرر غواړي عوض — ۱۲۱۲

---

طمع مه کړه په دنیا کې د نشاط — بیا به نه مومې نشاط په د ابساط[۲]
لکه راغلې بیا به هسې ځنې درومې — دا جهان دی د رهرو یو رباط[۳]
تر هر ګام لاندې کوهې دی د دې دهر — اینبې بویه هر قدم په احتیاط

---

(۱) دا دواړه غزلې د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شوي.
(۲) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته.
(۳) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "لکه راغلې بیا به هسې ځنې درومې — دا جهان د رهروانو دی رباط".

ودانا وته په دا جهان ښکاریږي — هم جنت او هم دوزخ او هم صراط
په عاشق به هیڅ دهشت د رقیبانو — که یې نه کړي له خوبانو اختلاط
له کم ذات بې دیانته بې نمازه — طمعه مه کړه د نیکۍ د یو قیراط(۱)

۱۰۰ — غم د ترکو تر رحمان هسې چاپېر شو(۲) — ۱۲۱۹
لکه وسکښي جامه په چا خیاط

نن نګار وما ته راکړ د یارۍ خط — وې یې واخله دا مې دی د دلدارۍ خط(۳)
د غمازله دوراهۍ تراهي وکړه — ځای به بیایې د مکار په جوارۍ خط
چېرې نه وي چې یې خېرې په غفلت کړي — تل یې اوله په تمیز په هوښیارۍ خط
په مدت سره به ستا انجام ته رسي — اسان کله دی د استاد د یارۍ خط
د غفلت له خوبه پاخه بېداري کړه — تل وتاته سپارلی د بېدارۍ خط
برابر د خط په حکم قدم کېږده — که ته غواړې په عقبۍ د نامدارۍ خط

۱۰۱ — له میزانه که امان غواړې رحمانه — ۱۲۲۶
تل خو اوله په ډېر عجز په زارۍ خط

---

# ظ

وه مه کله دي، پاخه والي واعظ — هر چې والي واره ښه والي واعظ(۴)
چې دې ماله خپله یاره لرې باسي — نور به څه ورته اومه والي واعظ(۵)
جار واته زما له یاره ډېر مشکل دي — زیاتي ښله د وباره والي واعظ

---

(۱) دا بیت د "پ" په دواړو نسخو او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته او لومړی مسری یې د پېښور په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی ده:
"له کم اصله بې دیانته بې نمازه" او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی ده: "له کم اصلو بې دیانتو بې نمازو"

(۲) دا مسری په "ق، ک" چاپ کې داسې ده "غم د ترکو د رحمان هسې چاپېر دی". (۳) دا غزل د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو. (۴) دا غزل په مصوره نسخه، د "پ" په دواړو نسخو او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته. (۵) دا بیت په "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې داسې راغلی دی. "دې چې ماله خپله یاره لرې باسي نور به څه راته اومه والي واعظ". د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "چې ته ماله خپله یاره لرې باسې زه به څه درته وایم والي واعظ".

په خوبو پستو خبرو يې غلط شوي*(۱)     دا خواره خواره تراخه والي واعظ
څوك به څه باور د ده په نصيحت كا     چې له ياره جار واته والي واعظ
زه بې عشقه بل يو كار كولى نه شم     د بېر له عشقه تښتېده والي واعظ
اعتبار يې په نرمي په گرمي مه كړه(۲)     دا تاو ده تاو ده ساړه والي واعظ
اوريدو نكى يې رحمان د ويل نه يم(۳)     بهتر دادى چې نور نه والي واعظ

۱۰۲     ۱۲۳٤

بلبلان كه له گلزاره مومي حظ     مشتاقان له خپله ياره مومي حظ(٤)
زه د عشق له تاوه اوره بهره مند يم     سمندر له سره انگاره مومي حظ
د چمن غوټۍ واز سحر باد كا     عاشقان خوله ديداره مومي حظ
په طلب يې نفع مند شوم له هر چا نه     تل ښكاري له خپله ښكاره مومي حظ
مجنون بيامونده خوښي په بيابان كې     هر منصور له تېره داره مومي حظ
څو چې ملك د جهان زير و قدم نكا     په خپل ځاى به څوك قراره مومي حظ
شگفته چې د غوټۍ غوندې سحر وي     هغه ژمى به بې شماره مومي حظ
په ښندل د سر مې سر د وصل بيامونده     و ياري تل له و ياره مومي حظ
چې نيولى يې خپل ځان د غم واورته     رحمان څكه له انواره مومي حظ

۱۰۳     ۱۱٤۳

په تندي چې آتش بل كړ مدام شمع     ځكه بيامونده له خلقو اكرام(۵) شمع(۶)
په انوار يې منور اهل البصار شو(۷)     لا به كله شي ښكاره د انعام شمع

* . د دې مخ د متن پاتې برخه په (۷۸) مخ كې ولوستل شي .

پتنګان يې لوړ په لوړ ترمخ خرخېږي(۱) – ځکه(۲) نه کوي په سوال کې آرام شمع

وسېزه ته ځان زما په شعله باندې – کړه پتنګ ته په رموز کې کلام شمع(۳)

۱۰۴ ستا مجلس د خاصو خاصو(۴) سرفرازو

د رحمان په خبر نه مومي هر عام شمع ۱۲۴۸

ځکه دې پرې کړه له وګړیو رښتیا طمع – نور بادشاهي هرګز مه کړه له چا طمع(۵)

زړې رنګ د آشنايي مبدل شي – پيدا مه شه د آشنا له آشنا طمع

چې له سنګليو دې دهر وفا غواړي – د نادان په خبر يې شي د کيميا طمع

چې مراد غواړي د زړه له مهرويانو – ستا په دام کې نيوای شي د عنقا طمع

خدای د عقل جواهر ورته بخښلي – له نادانو به څه شان کا دانا طمع

ځکه سپي د فقير پښې او لمن نيسي – چې د خدای له دره پرې کا ګدا طمع

۱۰۵ له د غد رنځ يې طاعون، تبه بهتر دی

ای رحمانه! خدای دې مه کړه پيدا طمع ۱۲۵۵

---

## غ

هر يو ګل د ستا د باغ روښن تر دی تر چراغ – روښن تر دی تر چراغ هر يو ګل د ستا د باغ(۶)

ستا د باغ و د بن زاغ په نظر زما هماي دی – په نظر زما هماي دی ستا د باغ و د بن زاغ(۷)

---

(۱) د پېښور چاپي ديوانونو او د "پ" لومړی نسخه: پتنګان دی لوړ په لوړ ترمخ خرخېږي". د "خ" دوهمه نسخه: "پتنګان يې لوړ په لوړ ترمخ تير يږي". (۲) "ق، ک" چاپ کې "هغه نه کوي" راغلی دی. (۳) دابيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی په عوض يې دابيت راغلی دی: "لوړ د لوړه جهان وا ړه که روښنانه چې شي بله په هر ځای په مقام شمع".

(۴) د "خ" په دوهمه نسخه، "پ" چاپ او د "ق، ک" چاپ کې د "خاصو خاصو" پر ځای "خاص الخاصو" راغلی دی.

(۵) دا غزل د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو.

(۶) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته (۷) دابيت په قلمي نسخو کې داسې راغلی دی { "ستا د باغ د بنو زاغ په نظر زما هماي دی / په نظر زما هماي دی ستا د باغ د بنو زاغ".

اود "پ" په چاپ کې د "هماي دی" پر ځای "هماي ده" راغلی ده.

د (۷۷) غ د متن مربوط پاليکونه:-

(۱) دا مسرې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "په خوږو پستو خبرو غلط مه شه". (۲) دا مسرې په چاپي ديوانونو او د "پ" په لومړی نسخه کې داسې ده: "اعتبار يې د بنه والي په ګرځه مه کړه". او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "اعتبار د نرځه په ګرځه مه کړه". (۳) دا مسرې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "او ريدلي يې ځان دو بل نه دی".

(۴) دا غزل د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو. (۵) په "پ" چاپ کې "آرام" راغلی دی (۶) دا غزل په مصوره نسخه، د "پ" په دواړو نسخو او د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

(۷) دا مسرې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "په اقوال د چې منو اهل ابصار شوه".

د درد منو په دماغ ستا د درخاوري عنبر دي — ستا د درخاوري عنبر دي د درد منو په دماغ

د عاشق د تهتر داغ په آسمان دعشق آفتاب دی — په آسمان دعشق آفتاب دی دعاشق د تهتر داغ (۱)

درحمان د زړه فراغ نه شي نه شي بې خوبانو (۲)

نه شي نه شي بې خوبانو د رحمان د زړه فراغ

۱۰۶ — ۱۲۶۰

## ف

ورنګ زيب او شاهجهان غوندي اشراف — صدقه شه تر منصور غوندي نداف (۳)

که دي تن په لويي لوی دئ بې خه کړي (۴) — مه کړه خدای چې کوه طور شي کوه قاف

بوالهوس دي عاشقي ته هوس نه کا — دا دروغ دي چې زردوز شي بوريا باف (۵)

دمکې په بزرګۍ کې هيڅ شک نشته (۶) — ولې خر به حاجي نشي په طواف (۷)

که په سل دريابه غسل دځان وکا (۸) — ګومان مه کړه چې به سپی شي پاک وصاف

کشتۍ هم چې ډېره ډکه شي ډوبېږي — د مسرف بلا په ځان شي خپل اسراف (۹)

صابرانو صبر پرېښو حريصان شول — نه څه عدل شته په ځان کې نه انصاف (۱۰)

---

(۱) دا بيت د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "د عاشق د تهتر په اسمان باندې افتاب دی — په اسمان باندې افتاب دی مل دعاشق د تهتر داغ".

(۲) د "خ" لومړۍ نسخه: "د رحمان د زړه فراغ به په نه شي بې خوبانو — په به نه شي بې خوبانو د رحمان د زړه فراغ".

د "خ" دوهمه نسخه: "د رحمان د زړه فراغ نه شي بې خوبانو — نه شي بې خوبانو د رحمان د زړه فراغ".

(۳) دا غزل په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.

(۴) په چاپي ديوانونو کې: "که يې تن په لويي لوی وی نه به يې خه کړي".

په "ب" چاپ کې داسې ده: "که دې تن په لويي لوی دی نه بې خه کړي".

د "خ" لومړۍ نسخه: "که دې تن په لويه وه دی نه بې خه کړي".

د "خ" دوهمه نسخه: "که دې تن په لويه لوی وی نه نه بې خه کړي".

(۵) د "خ" لومړۍ نسخه: "بوالهوس دې عاشقۍ ته نظر نه کا — دا دروغ چې زوروز شي بوريا باف".

(۶) د "خ" لومړۍ نسخه کې داسې دی: "دمکې په بزرګۍ کې شک نشته".

(۷) د "ب" لومړي قلمي نسخه: "ولې خر به حاجي نشي په طواف".

(۸) د "ب" په نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې: "که په سل دريابه غسل وځان وکا".

(۹) د "ب" لومړۍ نسخې نيرته په نورو قولونو کې داسې دی: "د مسرف به ځان بلا شه خپل اسراف".

(۱۰) په د لومړۍ نسخې نيرته په نورو قولونو کې داسې دی: "نه څه عدل شته به ځانکې نه انصاف".

داخلو مذهب واړه سره یو دي (۱) ‏— ما او تا پکې پیدا کړ اختلاف

د هم واړه و ملکو نو خښتن یو دی (۲) ‏— که دوزخ دی که جنت دی که اعراف

شهیدان نه دي هغه خون فروشان دي (۳) ‏— که (۴) خوني ته خون بها نه کا معاف

د کاذب ژبه په خوله کې وچه سنه ده ‏— لکه توره دلرګیو په غلاف (۵)

د دیوال په سر به شو ځغلي ترکومه ‏— دروغژن چې په دروغو کاندي لاف (۶)

آب و تاب د ناکره هر وي شو مره ‏— خو نظر پرې شوی نه دی د صراف (۷)

د دنیا په دولت ناز مکړه رحمانه ‏— دا یو موی دی په نظر د موی شګاف (۸)

۱۰۷

مدحه او هجوه د حبیب او د رقیب کړم (۹)

راځ نه زده بله هجوه بله لاف

۱۲۷۵

---

چې پای بند شو د لیلی په اشتیاق ‏— مجنون و اچاوه (۱۰) ونورو ته طلاق

چې د میو د مطرب په خوند خبر شو (۱۱) ‏— فراموش کړه صوفي نفل د اشراق

جام د میو دی یا رقص د خوبانو ‏— په هر ځای چې وبله جمع شي عشاق (۱۲)

په نسیا و نظر نه کاندي بې نقده (۱۳) ‏— که خوک حوري ورته ستایي که براق

چې حاصله د دلبر یګانګي شي (۱۴) ‏— د دولې خبرې نه کاندي مشتاق

---

(۱) په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مسری داسې ده: "داخلو واړه مذهبه سره یو دي".

(۲) دا مسری د "خ" په لومړی نسخه کې داسې ده: "دا هم واړه ملکونه د خښتن دي. او په دریو واړو چاپي دیوانونو کې د "یو دی" پر ځای "خدای دی" راغلی دی.

(۳) د "پ" لومړی نسخه: "شهیدان نه دي هغه خود فروشان دي". د "خ" لومړی نسخه: "شهیدان نه دي هغه خود خون فروشان دي" او د "خ" دوهمه نسخه: "شهیدان نه دي هغه واړه خون فروشان دي".

(۴) د "پ" له لومړی نسخې نه پرته په نورو ټولو کې د "که" پر ځای "چې" راغلی دی.

(۵) په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "لکه توره دلرګي وي په غلاف". (۶) په "پ" چاپ کې دا مسری داسې ده: "دروغژن چې په دروغو وهلی لاف". د "ق، ک" چاپ او د "خ" په لومړی نسخه کې دا مسری داسې ده: "دروغژن به چې په دروغو کاندي لاف" (۷) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته دی. بیت لومړی مسری د "پ" په لومړی نسخه کې داسې ده: "آب و تاب د ناسره هر وي هو مره". د "پ پ" چاپ کې داسې راغلی ده: "آب و تاب د ناکرده هر وي هومره". او د "خ" په لومړی نسخه کې داسې ده "آب و تاب د ناسره مهر د خوی هومره". (د پایلیک پاتې په ۸۱ مخ کې)

حرکت له ځایه نه کا لکه شمع — کړې اورد عشق(۱) بلېږي په تاراق(۲)

هسې خوښ وي ځېل یار په درد غم کې — نه به والي چې بادشاه دی د آفاق

هسې محوه وي د عشق په میوناب کې(۳) — چې خبر نه وي په وصل(۴) په فراق

لا ظاهر په صورت وي په معنی نه وي — لکه کښلی د "لا" لفظ وي په اوراق(۵)

خوږي تن په کارو(۶) زار کې فنا نه شي — نه جار باسي څ آسونه د عراق

د عراق آسونه کار په اشارت کا — په کوتل په وهل کار کوي اولاق(۷)

چې خدای پوه کړ(۸) د بنو په ځنبل پوه شو — چې پوه نه شو نه پوهېږي په شلاق

که یې سر ځي که یې مال ځي خدای دې نه کا(۹) — د طالب اود مطلوب ترمیان نفاق

د قسمت پاسي(۱۰) په لاس نیولی ناست یم — نه پوهېږم چې به جفت شي که به طاق

ته چې پند وایې ناصحه وراځه ته
کاشکې نورکړې هغه کښلی د میثاق(۱۱)

۱۰۸

۱۲۹۰

---

د (۸۰) مخ د پاملیک پاته:

(۸) ددې بیت لومړی مسری د "خ" په لومړی نسخه کې داسې ده: "په دنیا او په دولت نازمه کړه رحمانه" په "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ او د "ب" په دوهمه نسخه کې "موشګاف" راغلی دی.

(۹) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته خو دا بیت په "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې داسې دی: "مدح وهجو د حبیب و د رقیب کړه رحمان نه زده بله هجو لوز اوصاف".
د "پ پ" چاپ کې دوهمه مسری داسې ده: "د رحمان نه زده بله هجوه بل اوصاف".
د "خ" په لومړی نسخه کې دا بیت داسې راغلی دی: "مدح خوبه د رقیب و د حبیب کړه رحمان نه زده بل سخن و بل اوصاف".

(۱۰) دا مسری په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "مجنون واچوه لون و نسخو ته طلاق". د "ب" په نسخو او د "خ" په لومړی نسخه کې "واچول" راغلی دی.

(۱۱) "پ" چاپ: "چې دمه ود طرب په خوند خبرشه". د "خ" لومړی نسخه: "چې دمیو د مطرب له خوند خبرشه".

(۱۲) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. د دوهمې مسری د "وبله" پر ځای، په "ق، ک" چاپ کې "سره" او د "خ" په لومړی نسخه کې "خپله" راغلی دی.

(۱۳) د "خ" په دواړو نسخو کې "نقد و" راغلی دی.

(۱۴) د "پ" لومړی نسخه: "چې حاصلیږي د دلبرو یګانګي شي". په "ق، ک" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې حاصلیږي د دلبر یګانګي شي". د "خ" لومړی نسخه کې داسې ده: "چې حاصل یګانګي شي د دلبرو" او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې حاصل یې یکایکي شي د دلبرو".

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې د "عشق" پر ځای "په سر" راغلی دی.

(۲) په "ق، ک" چاپ کې "براق"، د "خ" په دوهمه نسخه کې "په تاراق"، او د "پ" په دوهمه نسخه کې "بلاق" دی.

(۳) د "خ" لومړی او د "پ" په دوهمه نسخه کې دا مسری داسې ده: "هسې محوه دی د عشق په میوناب".

(۴) د "خ" په لومړی نسخه کې "وی" راغلی دی.

(۵) دا بیت په "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "که ظاهر په صورت وی په معنی نه وی که کښلی د "لا" لفظ وی په اوراق".
په همدې ترتیب یې لومړی مسری په "ق، ک" چاپ او د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه کې په پوره توګه راغلی ده. لومړی مسری یې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "دا ظاهر په صورت وی په معنی نه وی". او په "ق، ک" چاپ کې یې دوهمه مسری داسې راغلی ده: "لکه لیک وی د "لا" لفظ په اوراق".

(۶) د "پ" په دوهمه نسخه کې "کاروبار" راغلی دی. (۷) دا بیت په مصوره نسخه کې نه دی راغلی، دوهمه مسری یې په "ب" چاپ او "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "په وهل په کوتل کار وی د اېلاق". په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "په وهل په لاسنکل کار وی د اېلاق". د "خ" په لومړی نسخه کې داسې ده: "په وهلو په کوتلو وی د الاق". او لومړی بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "د عراق کاروند کار په اشارت کا په وهل په کوتل کار وی د علاق".

(۸) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته. په لومړی مسری کې یې د "پوه کړه" او په چاپي دیوانونو کې "پوه کړل" راغلی دی. (۹) دا مسری د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "که یې سر ځي که یې مال دی خدای دې نه کا". په چاپي دیوانونو کې ددې بیت د دوهمې مسری د "میان" پر ځای "منځ" راغلی دی. (۱۰) په "ب" چاپ او "پ، پ" چاپ کې "پاسې" او "ق، ک" چاپ کې "بانړه" راغلی دی. (۱۱) دا مسری په مصوره نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کې داسې ده: "کاشکې لوزکړي هغه شوی د میثاق".

خدایه څه شوه هغه ښکلي ښکلي خلق — په ظاهر په باطن سپین سپېڅلي خلق

هېڅ خندا مې له دې خلقه سره نه شي — ژړوي مې هغه تللي تللي خلق

خبر نه یم چې وکومې خواته لاړ شوه — لېده نه شي هغه مالېدلي خلق

لکه ځنګ چې داوبو په مخکې درومي (۱) — هسې درومي په جهان راغلي خلق

دریغه یو ځله خو بیا په جهان راغلی — له جهانه په ارمان وتلي خلق

هزار حیف دی چې په خاورو کې لاړه شي (۲) — په چووا په چندن لړلي خلق

رحمان هسې ګوښه خوند له خلقه بیا موند — چې هرګز نه دی د اخوند موندلي خلق

۱۰۹ — ۱۲۹۷

چي په زړه مې تور لحد شي ځپل خاك — بې مزې شي هم مې خوب هم مې خوراك

چې د خوب او د خوراك مزه شي ورکه — نور له مرګه برابر شي هغه ژواك

غلط والي چې خوك عمر ورته والي — هغه عمر چې تېرېږي په پخساك

تن سپېره په خاورو دکه خوله بېترېم — چې آخر مې دا خوراك دی دا پوشاك

ځای لري که ځان ژوندی په حمکه خښوم — چې مې پس له مرګه ځای دی یو مغاك

ګویا شوي دې هغه چې شډني دي — زه پخوا تر هلاکت یمه هلاك

زړه چې روغ وي ګرېوان کاله خیراوه شي — له ګرېوانه معلومېږي د زړه چاك

تن وځای وجامه پاك هله په کار دي (۳) — چې روښې شي دچا زړه له غیره پاك

سړی بویه چې دروڼ بېرون یې یو وي — نه هغه چې بېرون زروي دروڼ لاك

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه ، د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه : " لکه نغر چې داوبو په زمله درومي ". او د "خ" دوهمه نسخه : " لکه نغر چې داوبو په مخکې درومي ".
(۲) په " ق " چاپ کې " ګنده " راغلی دی.
(۳) " ق " چاپ او " ق ، ک " چاپ : " تن وځای وجامه کله په کار بېږي ". د " خ " لومړی نسخه : " تن وځای جامه هاله دچا په کار وي ".

له سره یې غرض واړه سر نیتو ب[1] دی — کۀ په سر کې یې طره وي یا مسواک
د دنیا چارې همه واړه فاني دي — څوک یو دوه ورځې خوشحال وي څوک غمناک
په ساعت کې څوک خوشحال کا څوک ملال کا — دا خوبونه لرغوني دي د افلاک[2]

۱۱۰ ۱۳۱۰

چې څه کاندي واړه خدای دی نور څوک نشته
رحمان څه دی څه یې واک دی د څه ادراک[3]

ما تویې مې خوله په سولک — خراشي مې زړه په نولک[4]
کۀ ناري وهم کۀ ژاړم — پروا نۀ لري[5] یو چولک
راشئ ګورئ منصفانو — د دلبرو دا سلوک
لکه ګل په لاس د طفل — زما زړه کا شوک په شوک[6]
د چشمانو په غمزه سېي — ژوبل ژوبل یم توک توک
په توسن د فلک سور شي — دستار کېږدي په سر هولک
هیڅ اثر ورباندې نۀ کا — د دردمنو درد و دوک[7]

۱۱۱ ۱۳۱۸

ای رحمانه چې عاشق شي
ځان دې ژاړي کوک په کوک

زړه مې تراشي د بڼو په تېره نولک[8] — ماته وي مې دو دبرش غابن واړه په سوک
په غمزو د توروسترګو یم وژلی[9] — ژوبل ژوبل پرو کي پرو کي یم توک توک[10]
کۀ ناري وهم کۀ خاوري په سر لوړم[11] — ناروا شه کۀ پروا لري یو چولک[12]
لکه ګل چې څوک د طفل په لاس ورکا — هسې رنګ دي زما زړه کړ شوک په شوک[13]

---

(۱) په "پ" چاپ او قلمي نسخو کې "سري هو" راغلی دی.
(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته په چاپي دیوانونو کې واېي دی: "په ساعت کې څوک خوشال کا څوک غمناک کا دا خوبونه همېشه دي د افلاک".
(۳) د "خ" دوهمه نسخه: "چې څه کاندي واړه خدای کا ندي رحمانه سرې څه دی څه یې واک څه یې ادراک".
(۴) دا غزل د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته.
(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "لوم" راغلی دی.
(۶) "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ: "زما زړه یې کړو شوک په شوک".
(۷) د "خ" په دوهمه نسخه کې "د زړو دوک" راغلی دی.
(۸) دا غزل د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته، او په پېښور "ق،ک" چاپ کې د "نولک" پر ځای "څوک" راغلی دی.
(۹) د "پ" لومړۍ نسخه کې: "په غمزو د توروسترګو مې وروژلی". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې په دې شکل ده: "په غمزو د توروزلفو مې وروژنی".
(۱۰) دا مسرۍ په "پ" چاپ کې داسې ده: "ژوبل ژوبل وکې پر یم توک توک".
(۱۱) د "پ"، "پ" چاپ او "ق،ک" چاپ کې "نولم" راغلی دی.
(۱۲) په "پ" نسخو او د "خ" په لومړۍ او مصوره نسخه کې "څوک" راغلی دی.
(۱۳) د "پ" لومړۍ نسخه: "هسې رنګه زما زړه کا شوک په شوک". "ق،ک" چاپ: "هسې رنګه دې زما زړه کړو شوک شوک". د "ق" چاپ: "هسې رنګه دې کړ زړه زما شوک شوک". او د "خ" دوهمه نسخه: "هسې رنګ یې زما زړه کړ شوک په شوک".

که له ډېره درده وغمه مې زړه وچوي ورنه هېڅ دي زما درد و زما د واک (۱)

درست جهان یې په غم ډوب کړ سرتر پایه (۲) که ګدای دی د دې دهر که ماوک

د آسمان په نیلي سور لکه آفتاب شي د زرېفتو دستار کېږدي په سر هوک

که انصاف لرې په زړه کې منصفانو (۳) راشئ ګورئ د دلبرو دا سلوک

زه به ولې د خپل یار ثنا نه وایم چې سحر سحر ناري وهي تل غوک (٤)

۱۱۲ چې عاشق د دلبرانو په جمال شي (۵) ۱۳۲۸

اې رحمانه ځان دې ژاړي ګوک په ګوک

چې علاج کولی نه شي د قسمت خوک تر و به څه والي وچا ته نصیحت خوک (٦)

هغه چارې چې موقوفې په تقدیر دي (۷) کړی یې نه شي په محنت په مشقت څوک

که نظر کا وقضا وهم رضا ته (۸) په هېچا باندې دې نه کا ملامت څوک (۹)

د مطلوب جفا وفا واړه هنر دی چې پوهېږي د حکماو د حکمت څوک (۱۰)

غم په ځان د چا پېرزو دی باري څه کا (۱۱) چې د خدای په کړو کې نه لري قدرت څوک (۱۲)

د ابلیس و ریاضت ته دې نظر کا څه غرور کا په طاعت په ریاضت څوک (۱۳)

علت لا رشي عادت نه ځي له سرې نه خدای دې نه کاندي په باد چار عادت څوک (۱٤)

۱۱۳ زه رحمان د بلبلانه سېلاب یم وړی ۱۳۳٦

که لاس را کاندي د خدای په محبت څوک

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته. د "خ" په دوهمه نسخه کې یې لومړی مسرۍ داسې ده: "که له ډېره درده وغمه مې زړه چوي".
په مصوره نسخه کې داسې ده: "که له ډېره غمه مې زړه چوي".

(۲) دا مسرۍ د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "درست جهان یې سره ډوب کړ سرتر پایه". او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده:
"درست جهان په غم کې ډوب دی سرتر پایه".

(۳) دا مسرۍ په "ق" چاپ کې داسې ده: "که انصاف لرئ په زړه د منصفانو".

(٤) دا بیت د "ب" په لومړۍ نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته. په "ق، ک" چاپ کې یې دوهمه مسرۍ داسې ده:
"چې سحر سحر ناري وکا هم غوك".

(۵) دا بیت په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی دی: "چې مین د دلبرانو په جمال شوې اې رحمانه ځان وژاړه کوك په کوك". او هم یې وروستۍ مسرۍ
د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "اې رحمانه ځان وژاړه کوك په کوك".

(٦) دا غزل د "ب" په دوهمه نسخه کې نشته او دوهمه مسرۍ یې په "ق، ک" چاپ کې داسې راغلې ده: "تر و به څه والي و ماته نصیحت څوك".

(۷) دا مسرۍ په "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې داسې ده: "هغه چاره چې موقوفه په تقدیر دي".

(۸) د "ب" لومړۍ نسخه: "که نظر کا د قضا و رضا ته". "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "که نظر کا هم قضا او هم رضا ته".

(۹) مصوره نسخه او د "خ" دواړه نسخې، "ق، ک" او "ق" چاپ: "په هېچا باندې به نه کا ملامت څوك".

(۱۰) په ټولو چاپي دیوانونو، مصوره نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مسرۍ داسې ده: "څه پوهېږي د حکماو په حکمت څوك".

(۱۱) دا مسرۍ په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "غم د چا په ځان پېرزو دی باري څه کړ". په مصوره نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "غم د چا په ځان
پېرزو دی ولې څه کړ" او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "غم پر ځان د چا پېرزو نه دی باري څه کړ".

(۱۲) د "ب" چاپ او "ق، ک" چاپ کې د "قدرت" پر ځای "طاقت" راغلی دی.

(پاتې په (۸۵) مخ کې)

په ښایست زما د یار نه دي خبر څوک ... که خبر شي پرې به نه ږدي دغه در څوک[1]

د دنیا چارې همه واړه فاني دي ... نر ناحقه خاورې لوني په خپل سر څوک[2]

چې قبول شي په درگاه د مهرویانو[3] ... د هغه[4] په څېر به نه وي بختور څوک

که زما د یار په مخ د چا نظر شي ... وبه نه کا وبل مخ وته نظر څوک[5]

که هر څو دلبران ډېر دي[6] په جهان کې ... بل به نه وي زما یار غوندې دلبر څوک

د دیدن طاقت یې هېچا سره نشته ... و آفتاب ته کتی نه شي برابر څوک

عاشقي یوه پایه ده چا یې سه ... دغه کار کولی نه شي هم هر هر څوک[7]

له هجرانه بله سخته بلا نشته ... خدای دې نه کاندي زخمي په دا نښتر څوک[8]

مخ یې بل خواته هرگز ونه جار باسي ... چې شي ستا په خمار و ستر گو ابتر څوک

وبه نه رسېږي تا ته په آسانه ... ستا په غم چې خاورې نه کاندي په سر څوک

ارمانونه به کوي زار زار به ژاړي[9] ... چې حاصله گونټه نه کا په ششدر څوک

هو مره نوم د عاشقۍ ورباندې مه ږده ... چې د یار په غم کې نه شي قلندر څوک

هغه نه کاندي نظر و سیم و زر ته ... چې په لورد خپل آشنا کاندي نظر څوک

په گلونو د گلزار به میل نه کاندي[10] ... چې خوبونه کا د یار په خاکستر څوک

---

د (۸۴) مخ پاته :

(۱۳) په "ب" چاپ، "پ پ" چاپ، "ق" چاپ، مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه کې دا مسرۍ داسې ده : "چې غرور کا په طاعت په ریاضت څوک"
په "ق ،ک" چاپ کې د "چې" پر ځای "که" راغلی دی او د "خ" په دوهمه نسخه کې د "ریاضت" پر ځای "عبادت" راغلی دی.

(۱۴) د "پ" لومړۍ نسخه : "علت لار شي عادت نه حُی له سره یه ... خدای دې نه کا په بد ه چاره عادت څوک".
"ق" چاپ : "خدای دې نه کاندي په بدچاره عادت څوک".
په مصوره نسخه کې دوهمه مسرۍ داسې ده : "خدای دې نه کاندي په بده چاره عادت څوک".
د "خ" په دوهمه نسخه کې لومړی بیت داسې دی : "علت لار شي له سري نه عادت نه حُی ـ خدای دې نه کاندي په بدو چارو عادت څوک".

---

(۱) دا غزل د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته .

(۲) د "پ" لومړۍ نسخه : "نر ناحق خاورې خه لوني په سر څوک".
په "ق ،ک" چاپ کې داسې ده : "نه ناحقه خاورې لوني په خپل سر څوک".
په "ق" چاپ کې : "د دنیا چارې فاني واړه فاني دي ... نر ناحقه خاورې لوني په خپل سر څوک".
مصوره نسخه : "پر ناحقه خاورې لوني په خپل سر څوک"
د "خ" دوهمه نسخه : "ترو ناحقه خاورې لوني پر سر څوک".

(۳) دا مسرۍ د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده : "چې قبول شي په درگاه د خوبرویانو".

(۴) د "خ" په دواړو نسخو او مصوره نسخه کې د "هغه" پر ځای "هغوی" راغلی دی.

(۵) دا مسرۍ په چاپي دیوانونو کې داسې ده : "وبه نه کاندي بل خوا وته نظر څوک".

(۶) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "دي" پر ځای "شي" راغلی دی.

(۷) په قلمي نسخو کې د "هر هر څوک" پر ځای "هر څوک هر څوک" راغلی دی.

(۸) دا بیت او په دې بیت پسې شپږ نور بیتونه په موجوده قلمي نسخو کې نشته .

(۹) دا مسرۍ په "ق" چاپ کې داسې ده : "ارمانونه به کوي په زار زار ژاړي".

(۱۰) دا بیت په "ق ،ک" چاپ کې داسې دی : "په گلونو د گلزار یې مینه نه وي".

بې رهبره يون دعشق په لارې ګران دی — دلته بويه چې پيدا کاندي رهبر خوک(1)

چې بېلتون په سترګو وينې آشنايي کا(2)

١١٤ — ١٣٥٢

د رحمان په خبر به نه وي بې هنر خوک

چې مشغول نه وي د ترکو په جمال خوک — نور به څه کا په جهان کې اشتغال خوک(3)

د بل خط په عبارت به څه نظر کا — چې نظر کاندي دستا په خط و خال خوک(4)

نور خوبان دستا تر مخ پورې دي هسې(5) — لکه بل کا د آفتاب په مخ مثال خوک(6)

چې عنقا شو اهل دل په دا دنيا کې — تر و به څه والي وچا وته احوال خوک(7)

که عاشق په عشق کې ژاړي هيڅ ګرم نه دی — په دا هسې دهر دکې نه لري مجال خوک(8)

چې يې قيل وقال له ياره سره و شي(9) — له نور چا سره به څه(10) کا قيل وقال خوک

چې په اصل کې خداى نه دي پيدا کړي — تر و به څه غواړي دستا دمخ مثال خوک(11)

سرخروي دهر سړي په ځيګر خون ده — نه هغه چې په سرا چوي سور شال خوک(12)

مخ روښي دی دعاشق(13) په خپلو اوښو — په دانه شي چې يې مږي په رومال خوک

---

(1) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کې داسې دی: "بې ريباره يون دعشق په لار کې ګران دی — دلته بويه چې بيدا کاندي رهبر خوک".
لومړی مسره يې د "پ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "بې رهبره يون په لار دهرچا ګران دی". خو مصوره نسخه کې د (ی) پر ځای "کښې" راغلی.
او هم دا مسره د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "بې ريباره رسيده وياره ته ګران دی".

(2) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کې داسې دی: "چې بېلتون وينې په سترګو آشنايي کا — د رحمان په خبر بل نه دی رهبر خوک".
لومړی مسره يې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې رقيب په سترګو وينې آشنايي کا".

(3) دا غزل د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(4) دا بيت په "پ" چاپ، "پ،پ" چاپ او "ق،ک" چاپ کې داسې راغلی دی: "د بل خط په عبارت به نظر نه کا — چې نظر وکاندي ستا په خط و خال خوک".
او لومړی مسره يې په "ق" چاپ کې داسې ده: "بيا بل خط وعبارت ته نظر نه کا" او دا مسره د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده:
"د بل خط په عبارت به نظر نه کا".

(5) دا مسره په چاپي ديوانونو کې داسې ده: "نور خوبان دې ستا تر مخه پورې هسې".
د "خ" لومړی نسخه: "نور خوبان دستا تر مخه پورې هيڅ دي".

(6) دا مسره په "ق،ک" چاپ کې داسې ده: "لکه بل کا د آفتاب مخ کې مثال خوک".

(7) دا مسره په "ق،ک" چاپ کې داسې ده: "نور به څه وايي وچا ته د زړه حال خوک".
په "ق" چاپ کې داسې ده: "نو به څه وايي وچا ته د زړه حال خوک". ګر په لومړي مسره کې د "چې" پر ځای "که" راغلی دی.
او د "خ" په دوهمه نسخه کې په لومړي مسره کې د "عنقاشو" پر ځای "عنقا شي" راغلی دی.

(8) ددې بيت لومړی مسره په "ق،ک" چاپ کې داسې ده: "چې په اصل کې ژاړي هيڅ ګرم نه دی".
لومړی مسره يې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "که عاشق په عاشقۍ کې ژړا کاندي هيڅ ګرم نه دی".
په مصوره نسخه کې يې، په دوهمه مسره کې د "په دا هسې" پر ځای "بيا داهسې" راغلی دی.

(9) په چاپي ديوانونو کې "نه دی" راغلی دی.

(10) په مصوره نسخه کې د "څه" پر ځای "نه" راغلی دی.

(11) دا بيت په "ق،ک" چاپ او مصوره نسخه کې نشته.

(12) دا مسره د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "پيدا نه شي چې په سر کاندي سور شال خوک".
د "پ" لومړي نسخه "نه هغه چې په سر کاندي سور شال خوک".
په "پ" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کې د "کاندي" پر ځای "واچوي" راغلی دی.

(13) د "پ" په لومړي نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې د "عاشق" پر ځای "دهرچا" راغلی دی.

د دنیا چارې فاني دي مرد هغه دی[1] | چې نظر کا په حرام او په حلال څوك
هر چې کړ کا ذوربشو غنم غواړي | له خاطره دې بېرون کا دغه[2] خیال څوك
سړی بویه چې په نېك عمل نازېږي[3] | نه چې ناز کا د دنیا په ملك و مال څوك

۱۱۵ — ۱۳۶۵
که یې شعر د رحمان مومند ترغوږ شي[4]
غوږ به نه باسي په شعر د خوشحال څوك

که په بخت کم بختان نه وي خسته دل څوك | په حضور به لړ تا ولې بېلېدل څوك[5]
وديدن وته دې هر څه رضا کېږي | ولې حکم بې له تا نه لري بل څوك
بې له لاس د خدای په چارو رسېدلی | بې مقصوده به یو دم نه سمېدل څوك
د ایو سړی ما د استا شکرانه کړی | بې ناحق مې وېروې په سرودل څوك
د اهمه شومیت زما دی چې را رسي | ګنه ته او د چا زړونه بدول څوك
که په مینه دلیلی مبتلا نه وای | خوار مجنون په دې بېدیا غرونه ځنګل څوك

۱۱۶ — ۱۳۷۲
مین هره بلا کاندي که باور کړې
ګنه زه عبدالرحمن هو مره ویل څوك

---

# ګ

غره واغونده ملا و تړه په جنګ | دغه پس د (۹) معرکه لوه د [illegible]نګ
و بې ننګ وته د ننګ خبرې مه کړه[7] | یا ځان وګڼه په خپلو وینو رنګ

---

(۱) دا مسرۍ د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "د دنیا چارې همه داره فاني دي".
(۲) په مصوره نسخه کې د "دغه" پر ځای "هغه" راغلی دی.
(۳) په "ق،ک" چاپ او "ق" چاپ کې د "نازېږي" پر ځای "یادېږي" راغلی دی.
(٤) دا مسرۍ د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "که یې شعر د محمند رحمان ترغوږ شي". په "ق،ک" چاپ کې د "تر" پر ځای "پر" راغلی دی.
(۵) دا غزل د "خ" له دویمې قلمي نسخې څخه نقل شو.
(۶) د "خ" په لومړي نسخه کې "معرکې" راغلی ده او د "خ" په دویمه نسخه کې "مورکې" راغلی دی.
(۷) دا مسرۍ په مصوره نسخه کې داسې ده: "و بې ننګ وته د ننګ خبره مه کړه".

تنګیالي چې یو ځل مخ کا په یو لوري(۱) نور هیڅ نه ویني کوهي وي که ګړنګ(۲)

هیڅ له ځانه له جهانه خبر نه وي چې چراغ په نظر کښېوځي د پتنګ(۳)

د بلبلو و چمن وته پرواز وي داور پښتي و آتش وته غورزنګ(۴)

که جهان و بې هنر وته فراخ وي(۵) یو لحد دی هنرمند و لره تنګ

هغه ښهر جوهري لره زندان دی(۶) چې یکسان وي پکې لعل و مردار سنګ

آسمان ځمکه د واړه ژامي(۷) د نهنګ دي خه(۸) به زیست کا څوک په خوله کې د نهنګ

په ښادي لې هیڅ ښاد مه شه که دانا یې غم ښادي دي(۹) د دې ډم ځنګ په ځنګ

که رحمان د هغو تللیو وصال مومي(۱۰)
تېر به نه کا په داد ورکې یو درنګ

۱۱۱ ۱۳۸۲

١

ښېښې مي په سر دی ستا د مخ د مینې ګل بیا مي تور لیمه دي ستا د زلفو تور سنبل(۱۱)

ته چې آینه په لاس کې واخلې حیرانېږي(۱۲) زه له کومه راوړم صبوري او تحمل(۱۳)

(۱) دا مسری په قلمي نسخه کې داسې ده : " تنګیالي چې یو ځل مخ په هغه لوري کا ".

(۲) دا مسری د " خ " په لومړي نسخه کې داسې ده : " نور بې هیڅ نه ويني که کوهي دي که ګړنګ ".

(۳) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته .

(۴) دا مسری په چاپي دیوانونو کې داسې ده : " سمندر کا مدام اور وته آهنګ ". د " خ " په دوهم نسخه کې داسې ده : " داور پرستو و آتش وته غورځنګ ". او دا بیت په مصوره نسخه کې نشته ، په " پ ، ب " چاپ کې د " وته " پر ځای " ورته " راغلی دی .

(۵) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته . د " پ " په لومړي نسخه کې : " که جهان و بې هنر وته فراخ دی ". په " ق ، ک " چاپ کې د " که " پر ځای " دا " راغلی دی او دا مسری د " خ " په دوهم نسخه کې داسې ده : که جهان مې بې هنر وته فراخ دی ".

(۶) په چاپي دیوانونو او د " خ " لومړي نسخه کې " دي " راغلی دی . (۷) په " ق " چاپ کې " حامنې " او د " خ " په لومړي نسخه کې " چامې " راغلی دی .

(۸) د " خ " په دوهم نسخه کې د " خه " پر ځای " خو " راغلی ده . (۹) د " خ " په لومړي او دوهم نسخه کې " ده " راغلی ده .

(۱۰) دا مسری په " ق ، ک " چاپ کې داسې ده : " که رحمان د هغې سنګلو وصال غواړي ". په " ق " چاپ کې هم د " هغو " پر ځای " هغې " راغلی دی .

(۱۱) دا غزل د " پ " په دوهم نسخه کې نشته ، د " پ " په لومړي نسخه کې د " لیمه دي " پر ځای " لیمه مې " او په مصوره نسخه کې " لیمه شو " راغلی دی .

(۱۲) دا مسری په مصوره نسخه کې داسې ده : " ته چې آئینه واخلې وړه ته حیرانېږي ". او د " خ " په لومړي نسخه کې داسې ده : " ته چې آئینې واخلې ځان ګورې حیرانېږي ".

(۱۳) دا بیت په " ق ، ک " چاپ کې داسې دی : " ته چې آئینه په لاس کې واخلې حیرانېږم زه له کومه راپیدا کړم صبوري او تحمل " ، او دوهم مسری یې په " ق " چاپ کې داسې ده : " زه له کومه ځایه راوړم صبوري او تحمل ".

گرځي په چمن کې منګل ډکه په ګلونو (۱) — خدای زده چې ګلونه وړې یا زړونه په منګل
هم مې مشک لېدلي هم عنبر دي په جهان کې — شاباش شاباش شاباش ستا د زلفو په کاکل (۲)
نه به ستا د مخ په څېر ګلشن وچا لېدلی — نه به وي زما په څېر اهونه د بلبل (۳)

۱۱۸
هسې تغافل کا ستا په جور و په جفا کې
خلق (٤) حېرانېږي د رحمان په تغافل
۱۳۸۸

هېڅ مې نه کړه په دا عمر کې حاصل — هسې پاتې شوم مردود و نا قابل (۵)
مالا بوی هم د وصال موندلی نه دی (۶) — تش په توره مې (۷) خدای نوم کړ د واصل
هسې ډوب یم د ګناه په ګرداب نو (۸) — چې په ستر ګو مې و نه لېده ساحل
له وطنه مې په هر زمان (۹) وباسي — رقیبان یې راپسې کړل محاصل (۱۰)
کربلا ده که جفا ده که وفا ده — دا همه واړه په ما کړه خدای نازل (۱۱)
د دنیا په پلیتۍ مې ځان پلیت کړ (۱۲) — حیف دی دا چې نه عالم شوم نه عامل (۱۳)

۱۱۹
توره زیره مې شوه سپینه زه حېران یم
چې رحمان لا نه بالغ شوم نه عاقل (۱٤)
۱۳۹۵

---

(۱) دا مسری په "پ" چاپ، "پ پ" چاپ او "ق،ک" چاپ کې داسې ده: "ګرځې په چمن کې منګل ډکه وړې د ګلو".
په "ق" چاپ کې داسې ده: "ګرځې په چمن کې منګل ډکې وړې د ګلو".
د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "ګرځې په چمن کې منګل ډکه د ګلونو".
په مصوره نسخه کې د "د ګلونو" پر ځای "له ګلونو" راغلي دي او د "خ" په دوهمه نسخه کې د "منګل" پر ځای "لمن" راغلې ده.
(۲) دا بیت په "پ" نسخه کې داسې دی: "هم مې مشک لېدلي دي هم عنبر په جهان کې — شاباش شاباش ستا په زلفو په کاکل".
په "ق،ک" چاپ کې "په دا زلفو په کاکل" راغلي دي او لومړی مسری یې په "ق" چاپ کې داسې ده:
"هم مشک دې لیدلی شي هم عنبر دی په جهان کې".
(۳) دا بیت په "ق" چاپ کې داسې دی: "نه به ستا د مخ په څېر بل ګلشن وي چا لیدلی — نه به وي زما په څېر هم آهونه د بلبل".
په "ق،ک" چاپ کې دوهمه مسره داسې ده: "نه زما په څېر به وي آهونه د بلبل".
په "پ پ" چاپ کې د "آهونه" پر ځای "لاهونه" راغلي دي.
(٤) په "پ" نسخه، "ق،ک" چاپ، د "خ" دوهمه نسخه او دریمه نسخه کې "چېې" ترمخه ده.
(۵) دا غزل د "خ" په لومړي نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۶) دا مسری په "ق،ک" چاپ کې داسې ده: "مالا بوی ستا د وصال موندلی نه دی". په "ق" چاپ کې داسې ده: "مالا بوی د وصال موندلی نه ده".
(۷) په مصوره نسخه کې د "مې" پر ځای "یې" راغلې ده.
(۸) دا مسری په ټولو چاپي دیوانونو او مصوره نسخه کې داسې ده: "هسې ډوب یم د ګناه په دریابونو".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "هسې ډوب د ګناهونو په ګرداب یم".
(۹) په "ق،ک" او "ق" چاپ کې د "زمان" پر ځای "ساعت" راغلي دي.
(۱۰) دا مسری د "پ" په نسخه او د "خ" په لومړي، دوهمه، او دریمه نسخه کې داسې ده: "راپسې کړه حاکمانو مواصل". او په مصوره نسخه کې هم د "مواصل" پر ځای "محاصل" راغلي دي.
(۱۱) دا بیت په مصوره نسخه کې داسې دی: "که بلا ده که جفا ده که فنا دونه — دا همه کړه خدای په ما باندې نازل".
په "ق،ک" چاپ کې یې دوهمه مسری داسې ده: "دا همه کړه خدای په ما باندې نازل".
(۱۲) د "پ" لومړي نسخه کې دا مسری داسې ده: "د دنیا په پلیتۍ ځان مې پلیت کړ".
(۱۳) په چاپي دیوانو کې د "عامل" پر ځای "جاهل" راغلي دي.
(۱٤) د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مسری داسې ده: "چې زه رحمان لا نه بالغ شوم نه عاقل".

مه غوږ باسه د نااهلو[۱] قیل وقال — په ډېر رنه دی قیل وقال د بدسګال
یا به فخر په خپل اهل وپه نسب کا — یا به فخر کا په آل او په عیال[۲]
یا به ذکر د لذت ود زینت کا — یا به فکر کا د مال ود منال[۳]
یا به هسې پوچ ګویي کاندي آغازه — چې مضمون یې نه مردار وي نه حلال
د دانا او د نادان صحبت دی هسې — لکه ګډ شي وبله لعل وکوتی لال
لکه لعل وکوتی لال چې وبله[٤] ګډ شي — یا صحبت[۵] شي د عیسی او د دجال
هغه[٦] څه چې تېرېږي یې هم جنسه — تر و به څه وي د هغه عمر احوال
د دنیا چارې[۷] فاني دي مرد هغه دی — چې خبر شي په ثواب او په وبال[۸]
اباسیند[۹] لا څه مجال لري په تله کې — د دنیا د چارو هېڅ نه وي[۱۰] مجال
د دنیا چارې په مثل خواب[۱۱] وخیال دي — څوک به څه کا اعتماد په خواب خیال
لکه ملک ومال په خوب کې ورڅرګند شي — څو چې ویښ شي نه یې ملک وي نه یې مال[۱۲]
لکه ځګ چې داوبو په سر لیده شي — که یې واخلې هېڅ ورنه شي په چنګال[۱۳]
لکه دود چې غرونه غرونه څرګندېږي — تار په تار شي په یوه (۱٤) نري شمال
لکه یخ چې د سرو په زور شي جمع[۱۵] — هېڅ یې نه وي د آفتاب په مخ مجال
په یوه ساعت باران بیا شین آسمان شي — لکه ابر د پسرلي د پشه کال[۱٦]
په یوه ساعت یې ساز بیا یې ویران[۱۷] کا — خاورې ختې[۱۸] دي په لاس کې د کلال

---

(۱) دا غزل د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته، په مصوره نسخه، "پ پ" چاپ، او "ق" چاپ کې "نااهل" راغلی دی.
(۲) دا بیت په مصوره نسخه اود "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، دوهم مسرۍ یې په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "یا به فکر کا د مال ود منال".
(۳) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته، د "پ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې د "لذت" پرځای "ولایت" او مصوره نسخه کې "دولت" راغلی دی.
(٤) د "خ" لومړۍ نسخه کې "چې" نه دی راغلی او د "ق" چاپ کې د "وبله" پرځای "سره" راغلی دی.
(۵) په قلمي نسخو کې "قریب" راغلی دی.
(٦) په "ق" چاپ کې د "هغه" پرځای "هسې" راغلی دی.
(۷) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "د دنیا چارې همه فاني دي مرد هغه دی" راغلی دی.
(۸) په مصوره نسخه اود "خ" لومړۍ نسخه کې "چې خبر شي په حرام وپه حلال" راغلی دی.
(۹) په چاپي نسخو اود "خ" لومړۍ نسخه کې "آب د سیند" راغلی دی. (۱۰) د "خ" په دواړه نسخو، مصوره نسخه او "ق، ک" چاپ کې "نشته" راغلی دی.
(۱۱) د "خ" لومړۍ نسخه کې "خوب" راغلی دی. (۱۲) دا مسرۍ په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "که یې اخلې هېڅ ورنه شي په چنګال".
(۱۳) دا بیت په "ق، ک" چاپ کې نشته او په مصوره نسخه کې د "سر" پرځای "مخ" راغلی دی.
(۱٤) په "ق" او "ق، ک" چاپ کې "نری باد" راغلی دی.
(۱۵) "ق، ک" چاپ: "لکه یخ چې د ساده په زور دی جمع". "ق" چاپ: "لکه یخ چې د ساده په زور شي جمع". د "خ" لومړۍ نسخه: "لکه یخ چې د سړکه په زور شي جمع". اود "خ" دوهمه نسخه کې داسې ده: "لکه یخ چې د سرو اوبو شي جمع".
(۱٦) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته، لومړۍ مسرۍ یې د "خ" لومړۍ نسخه کې داسې ده: "په یوه ساعت باران بیایې شین دی". اود دوهم مسرۍ یې د "پ" په نسخو کې داسې ده: "لکه ابر د پسرلي د پشه کال".
(۱۷) د "پ" په نسخو اود "خ" په لومړۍ نسخه کې "وران" راغلی دی.
(۱۸) په "ق، ک"، "ق" چاپ، اود "خ" لومړۍ نسخه کې "خښتې" راغلی دی.

د مجازیه معشوقو(۱) کې وفا نشته — ماهزار ځله وښکلی دی دا فال
اعتماد یې په سبا دی او په غم مه کړه — نه یې هجر په قرار دی(۲) نه وصال
ګاهې تور کوډی په مخ باندې راکښېنشي — ګاهې راکښېنشي په مخ باندې رومال(۳)
لکه مالګه چې خوله کښې دې په اوبو کې — زه هم هسې سر زده یم په مثال(۴)
چې د مرګ وتاخت وباخت وته نظر کړم — صورت وینم د مېږي په خېر پایمال
خراب دل مې هم غوارې بلا دا شوه — چې کمې را معلومېږي په هر کال(۵)

۱۲۰ — ۱۴۱۸

که وصال مې د یار بیا موند هاله سیال یم(۶)
ګنه نه یم زه رحمان د هیچا سیال(۷)

بېلتانه دې هسې خوار کړ زما دل — چې له ځانه یې وېزار کړ زما دل
لاس وپښې د خلقو نیسې د عا غوارې — میني هسې منت بار کړ زما دل
عاشقي هومره داغونه دې پرې ایښي — چې تمام یې لاله زار کړ زما دل
بې سببه چا آزار موندلی نه دی(۸) — تا په څه سبب آزار کړ زما دل
چې د زلفو په کمند سره دې راکښېنې — په بلا دې ګرفتار کړ زما دل
ستا چشمانو یکې هسې مقام ونیو — چې له غېر ویې(۹) وېزار کړ زما دل

۱۲۱ — ۱۴۲۵

زه رحمان خو منت بار د عاشقۍ یم
چې مین یې په دلدار کړ زما دل

چې له نازه پوښیده لري چشمان خپل — خبر به وینې مقتولان او مظلومان خپل(۱۰)
چې کنځل راته په قهر کاندي — دالا وګني په ما باندې احسان خپل

---

(۱) د "پ پ" چاپ اود "خ" لومړۍ نسخه کې د "معشوقو" پر ځای "معشوقه" راغلی ده.
(۲) د "خ" لومړۍ نسخه کې "وی" راغلی دی.
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "ګاهې تور کوډی په مخ باندې راکاږی ګاهې راکاږی په مخ باندې رویال". په "ق" چاپ کې د "راکښېنشي" پر ځای "دابېکي شي" راغلی دی.
(٤) دا بیت په مصوره نسخه اود "خ" لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "لکه غونډه د مالګو کېږ دی په اوبو کې زه هم هسې سر زده شوم په مثال". او دوهم مسری یې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "زه هم هسې سره نږدود شم په مثال".
(۵) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نه دی راغلی. لومړۍ مسری یې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "خراب زړه مې هې غوارې بلا داشوه". اود "خ" په دوهمه نسخه کې دا مسری داسې ده: "خراب زړه مې زهېږي بلا داشوه".
(۶) دا مسری د "پ" په نسخو کې داسې ده: "که وصال د یار بیا مومم هاله سیال یم". اود "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "که وصال زه د یار مومم هاله سیال یم".
(۷) دا مسری په مصوره نسخه اود "خ" لومړۍ نسخه کې داسې ده: "ګنه اوس خو رحمان نه یم د چا سیال".
(۸) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، په نورو قلمي نسخو کې دا مسری داسې ده: "بې سبب آزار اخسته سنه نه دی".
(۹) د "پ" په نسخو اود "خ" په دوهمه نسخه کې "دی" راغلی دی.
(۱۰) دا غزل د "پ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

گفتگو په اشارت کاندي له نازه — کله اسم د چا اخلي په زبان خپل
په ګريبان باندې چې ټلک وهي غوټۍ — عاشق کېباسي لاسونه په ګريوان خپل
خريدار يې له حيرته بې شعور شي — چې د حسن رخت خرګند کا په دکان خپل
چې خپل مخ په آينه کې ورخرګند شي — خود پخپله سرفرو کاندي په ځان خپل
چې هر څوک يې عاشقۍ وته هوس کا — ګويا لوټي کا په دين او په ايمان خپل
هيڅ صرفه د چا په سر و په مال نه کا — ماليدلي دي پخپله مطلوبان(۱) خپل
مجنون ملک د عاشقۍ هاله خپل کړو(۲) — چې په اور باندې يې وسوخان ومان خپل
دا مقام دی د څغو رنګه عالمو — چې هيڅ نه ويني په سترګو سود و زيان خپل(۳)
آفرين د عاشقانو په همت شه — چې ور تېر تر سر و مال ويني جانان خپل(٤)

١٢٢

هيڅ د سترګو غړولو خوند يې نه وي
چې رحمان په سترګو نه ويني جانان خپل

١٤٣٧

تورليمه مې د فراق په ژړا سپين شول — دوباره د زړه په وينو کې رنګين شول
ماوې زه به لا ديدن کړم د يارانو — خبر نه يم چې ياران په کوچ تعيين شول
چا پتنګ غوندې ځان واچوه و اور ته — څوک ژوندي لکه بلبل په آتشين شول
و مړه وته د مرګ خوارۍ شوې پېښې — او ژوندي په زندګۍ کې اندوهګين شول
د قضا سپاهيانو هسې لاس په تاخت کړ — چې پايمال هزار خسرو هزار شيرين شول
چې قدم يې په آسمان اېښود له نازه — هغه هسې نازپرور زير زمين شول
چې مدام يې په سنجاب د پاسه خوب کړ — اوس په ځمکه بې بستره بې بالين شول

١٢٣

د رحمان خاطر به ولې پرېشان نه وي
چې پرېشان ورځنه جمع همنشين شول

١٤٤٥

---

١) په "ق، ک" چاپ اود "خ" لومړی نسخه کې "مظلومان" اود "خ" په دوهمه نسخه کې "مقتولان" راغلي دي.
٢) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې "بيا موند" راغلی دی.
٣) (٤) دا دوه بيتونه په چاپي ديوانونو کې نشته.

# م

په لیمه کې مې مدام — ګرځي عکس د ګلفام (۱)

تور دسترګو مې ګلګون شوه — په ارزو د ګل اندام (۲)

بې دسترګو له خونابه — نه باده لرم نه جام

په طلب د دلارام کې — ما ونه لیده آرام

زنخدان یې خدای کوهي کړ — ور پرېوځم په هر ګام (۳)

که یې خال غلام د مخ دی — زه غلام یم د غلام

که په عشق کې ناکام یم دی — دا ناکام دی زما کام

خوښ یم زه په عاشقۍ کې — که نیک نام یم که بدنام

په یارۍ کې مې قبول دی — ملامت د خاص و عام (٤)

د دعا په عوض غواړم — د خپل یار د خولې دشنام

ترې ګنځلو به یې زار کړم — د غه خپل دعا سلام

تریخ ګفتار یې راته خوږ دی — تر کشمشو تر بادام

هم هغه مې مسیحا دی — چې یې راکاندي پیغام (۵)

مخ د یار ماه تمام دی
رحمان ولیده تمام

۱۲٤ — ۱٤۵۹

---

(۱) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "ګل اندام" راغلی دی.
(۲) "ق" چاپ: "توري سترګې مې ګلګون شوې په ازار د ګل اندام". "ق، ک" چاپ: "توري سترګې مې ګلګون شوې په فراق د ګل اندام".
(۳) په چاپي دیوانونو کې "سبو ئېږم" راغلی دی.
(٤) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۵) په چاپي دیوانونو کې "سلام" راغلی دی.

که مې ونماځي ساقي په يوه جام ... ترداهورته به نورڅه وي احترام[۱]
بس دی مالره[۲] دا فيض د شرابو ... چې پرې پرېوځم دا دلق ازرق فام
مېخوارې که په عالم کې بدنامي ده ... ماتر پښو دی لاندې کړې ننگ ونام
په مېزان يو سر لعل وې بل سر کاڼي ... مساوي ده عاشقي په خاص وعام
عاشقان[۳] د سپين رخسار د تورو زلفو ... څه پروا لري د کفر د اسلام
په مجنون باندې قلم[٤] راغلی نه دی ... که حلال يې په مخ ورشي که حرام[٥]

۱۲۵ — ۱٤٦٦

حلال عشق دی په رحمان باندې راغلی[٦]
په حلالو کې مدام وي احترام

ومحمود ته نظر کوه مدام[۷] ... چې غلام کړ وخپلې مينې دغلام
د نېکانو مدعا خو نېک عمل دی ... ساعت نه گوري که صبح وي که شام
چې د زړه حضور يې نه وي په لمانځه کې ... په کار نه دی مقتدي وي که امام[۸]
چې مجنون غوندې په مينه کې صادق وي ... رحمان وايي په هغه باندې سلام[۹]

۱۲٦ — ۱٤۷۱

هم نغمې کاندې هم رقص کا هم خاندي
د رحمان په شعر ترکې د باکرام

دهجران له ډېره غمه ولې نه مرم ... له دې هسې رنگ ماتمه ولې نه مرم
چې يو يار له بله ياره جدا کېږي ... د دې دور[۱۰] له ستمه ولې نه مرم
چې هر سحر زما په ژړا خاندي ... له دې هسې صبحدمه ولې نه مرم[۱۱]
يار چې يار په سترگو نه ويني خو مرگ دی ... تر روزه بې خپله صنمه ولې نه مرم
چې په لړه گرمه شا کاندي وگل ته ... له دې بې وفا شبنمه ولې نه مرم[۱۲]

---

(۱) دامسره د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "تردا پېښورته بد نورڅه وي احترام".
(۲) په ټولو چاپي ديوانونو کې "بند دی مالره" راغلی دی.
(۳) په مصوره نسخه کې "عاشقي" راغلی ده.
(٤) د "خ" په دوهمې قلمي نسخې کې "کلنگ،" راغلی دی.
(۵) په ټولو قلمي نسخو کې دامسره داسې ده: "که حلال په مخ کې ورشي که حرام".
(٦) دابيت په مصوره نسخه اود "خ" په دواړو نسخو کې نشته لومړۍ مسره يې په نورو قلمي نسخو کې داسې راغلې ده: "حلال عشق دی په رحمان باندې راغلی".
(۷) دامسره په قلمي نسخو کې داسې ده: "د محمود وسلطنت وته نظر کړه" اودا غزل د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۸) دامسره د "پ" په نسخو او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "په کار نه دی که مقتدي دی که امام".
(۹) دابيت په مصوره نسخه کې نشته اود "پ" چاپ اود په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "رحمان وايم پر هغو باندې سلام".
(۱۰) په ټولو چاپي ديوانونو کې د "دور" پرځای "دهر" راغلی دی اود همدې بيت لومړۍ مسره په مصوره نسخه کې داسې ده: "چې يو يار له بله ياره لرې باسي".
(۱۱) دابيت په "ق،ک" چاپ کې نشته، اولومړۍ مسره يې په نورو چاپي ديوانونو کې داسې ده: "چې په هر سحر زما په ژړا خاندي".
(۱۲) په مصوره نسخه اود "خ" لومړۍ نسخه کې دامسره داسې ده: "له دې هسې بې وفا شبنم ولې نه مرم".

۱۲۷ — ۱۴۷۷

چې د مرګ خواري په خوا لري رحمانه[1]
لا پخوا تر دغه د مه ولې نه مرم

که په سر د هغه یار له لاسه سنګ خورم
خدای دې نه کا چې به بلې خواته ځنګ خورم

عاشقي او نام و ننګ دي و بله لري
څو به غم واره غم د نام و ننګ خورم

خدای وما وته شیرین تر نیشکر کړه[2]
که د یار له لاسه غشي د خدنګ خورم

د آشنا د بېلتانه په کاروبار[3] کې
همېشه په تندي توره د فرنګ خورم

نوکري د معشوقو کوم په عشق کې
هېڅ نه د بهلول نه د اورنګ خورم[4]

شین لوګی مې په سر چتر د و لهه تخت دی
ګرد غبار د خپل دولت لکه ملنګ خورم

هم په دا چې له خودۍ شمه بې خوده
د هجران په غم کې لپې لپې بنګ خورم

لکه ځوک چې نعمتونه د دنیا خوري
زه د یار د جفا زهر په دا رنګ خورم[5]

واره زهر شي زما تر ستوني درومي
بې له یاره که همه لا چې لونګ خورم

زه رحمان به خو ژوندی په جهان ګرځم[6]
چې په بله لمبه ځرخ لکه پتنګ خورم

۱۲۸ — ۱۴۸۷

سر مې په کار نه دی چې بې ستا تر سر قربان کړم
زر را ځه نشته چې بې ستا په پښو دېران کړم[7]

کار د عاشقۍ اول ډېر راته آسان و
او س هسې حیران یم چې دا کار به په څه شان کړم

ډېرو خلقو لاني ستا د مینې دي وهلي
هېڅوک هسې مه شه لکه زه چې یې په ځان کړم[8]

نه لري مرهم د عاشق[9] زخم بې تسلیمه
داغ هسې درد نه دی چې یې دفع په درمان کړم

نه کا هېڅ دښمن په دښمنانو هسې چارې
ستا په عاشقۍ کې لکه زه چې یې حیران کړم[10]

ولې کافر نه وي مسلمان به شي که خدای کا
هر چا ته چې حسن و لطافت د ستا بیان کړم[11]

---

(۱) په "ق ، ک" چاپ کې دا مسره داسې ده: "چې د مرګ خواري په سر لري رحمانه".
(۲) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته. په چاپي دیوانونو کې دا مسره داسې ده: "خدای وما وته شیرین کړه تر شکرو".
(۳) په قلمي نسخو کې "کاروزار" راغلی دی.
(۴) دا بیت د "خ" په دوهم نسخه کې نشته، په "ب" چاپ کې دا مسره داسې ده: "هېڅ نه د بهلول نه د اورنګ خورم".
(۵) چاپي دیوانونه: "زه د یار د کوڅې خاورې په دا رنګ خورم".
(۶) په چاپي دیوانونو کې "پایم" راغلی دی.
(۷) دا غزل په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړي نسخه، مصوره نسخه او د "ب" په دوهم نسخه کې نشته.
(۸) دا بیت د "خ" په دوهم نسخه کې داسې دی: "ډېرو خلکو لاني ستا د مینې دي وهلي هېڅوک حیران مه شه لکه زه چې یې حیران کړم".
(۹) د "خ" په دوهم نسخه کې "د عاشقانو" راغلی دی.
(۱۰) دا مسره د "خ" په دوهم نسخه کې داسې ده: "ستا په عشق کې لکه زه چې یې په ځان کړم".
(۱۱) دا بیت د "خ" په دوهم نسخه کې داسې دی: "ولې کافر نه وي مسلمان شي که یې خدای که هر چا وته چې حسن لطافت د ستا بیان کړم".

١٢٩ ورانديږي وي که ورستو آخر هسي معلومېږي ١٤٩٤
ستا له بېرحمۍ (١) به زه رحمان لاس په ګرېوان کړم

زه داهسي ديوانه او مجنون چاکړم　　له رواجه له رسومه بېرون چاکړم (٢)
نه پوهېږم چي داچاري په ما څوك کا (٣)　　لېونی دخپل نګاه په افسون چاکړم
کومي سترګي کومي بڼه کوم غمزه د ده (٤)　　دوب شهيد غونديږي په خاك و په خون چاکړم
توان توفيق خود فتنو را څخه نه وُ (٥)　　په فتنو د تورو سترګو مفتون چاکړم

١٣٠ رحمان هيڅ له خپله ځانه خبر نه يم (٦) ١٤٩٩
چي داهسي رنګ زبون و محزون چاکړم

صبح و شام مي لاس نيولي دی دعا کړم　　خواست (٧) له خدايه ستا د مخ د وفا کړم
هيڅ دروغ رښتيا مي نه زده که باور کړي　　ستا د پاره هم دروغ کړم هم رښتيا کړم
واړه ته يي خندول که ژړول کړي　　زه بخپله نه خندا کړم نه ژړا کړم (٨)
که ته نه يي راته وايه باري څوك دی　　زه داهسي رنګ سر تور پښي يبل چاکړم (٩)
خوب خندا دبېلتانه په څمکه نشته　　خه آرام (١٠) به په دادشت کربلا کړم
هره ورځ چي مي تېرېږي ستا په غم کي　　زه په هره ورځ پوهېږم چي غزا کړم
يو وېښته مي د صورت کوډ شوی نه دی　　هسي رنګ دي پټ پنهم په زړه ادا کړم (١١)
زړه که يو دی ما خوتا له درکړی (١٢)　　مګر نور و له نور زړونه پيدا کړم

١٣١ چي مي واغوست سروپای د عاشقۍ ١٥٠٨
زه رحمان دي سروپای بې سروپا کړم

---

(١) د "خ" په دوهمه نسخه کي "بېرحمي" راغلی دی.
(٢) دا غزل په مصوره نسخه اود "پ" په دوهمه نسخه کي نشته.
(٣) په "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کي دا مسرۍ داسي ده: "نه پوهېږم چي داهسي چاري څوك کا".
(٤) دا مسرۍ د "خ" په دوهمه نسخه کي داسي ده: "که مي سترګي که بانو که مي غمزي دي".
(٥) دا مسرۍ د "پ" په نسخه اود "خ" په لومړۍ نسخه کي داسي ده: "توان توفيق دفتنو هيڅ راڅخه نشته". په "ق" چاپ کي داسي ده:- "توان توفيق چي دفتنو راڅخه نه وو". اود "خ" دوهمه نسخه کي داسي ده: "توان توفيق دفتنو هيڅ راڅخه نه وو".
(٦) د "خ" لومړۍ نسخه: "زه رحمان له خپله ځانه خبر نه يم　چي داهسي رنګ محزون و زبون چاکړم". په "ق، ک" چاپ کي د "ځانه" پر ځای "يامه" راغلی دی. اود "پ" په لومړۍ نسخه کي دوهمه مسرۍ داسي ده: "چي داهسي زبون و محزون چاکړم".
(٧) په "ق، ک" چاپ کي "سوال" راغلی دی.
(٨) دا بيت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کي نشته اولومړۍ مسرۍ يې د "خ" په لومړۍ نسخه کي نشته.
(٩) چاپي ديوانونه: "زه داهسي لېونی او مجنون چاکړم".
(١٠) د "خ" په لومړۍ نسخه کي "خه بلا" راغلی دی.
(١١) د "خ" په لومړۍ نسخه اونيمګړې نسخه کي "تالاج کړم" راغلی دی.
(١٢) د "پ" نسخي اود "خ" دوهمه نسخه: "زړه که يو دی خو وتا دی ماور کړی".

دستا درد به په هزار درمان ورنه کړم
دانسته به دغه سود په زیان ورنه کړم

که څوك راکاندي دنیا وعقبی دواړه
عاشقي به دې په این و آن ورنه کړم

څو مې تیغ په پهلو نه دی بلو سپدلی(۱)
ستا پهلو به ورقیب آسان ورنه کړم

که یو ځله مې ستا زلفي په لاس کښېوځي
یو ویښته به دې په درست جهان ورنه کړم(۲)

که مې چیرې لاس دستا په بوسه برشو
دا نعمت به د جنت په خوان ورنه کړم(۳)

څو وه ونیم ستا سترګې که یې خدای کا
عزرائیل لره به هومره ځان ورنه کړم

معشوقي دعاشقانو دین ایمان دی
زه به چالره خپل دین ایمان ورنه کړم

ستا تر زلفو پورې نورې زلفي خه دي(۴)
په خاشاك به د چمن ریحان ورنه کړم

پهرمان (رحمان) دستا دلبو می حرام دی
څود خپلو وینو جام تا وان ورنه کړم

۱۳۲ — ۱۵۱۷

دا یو خر نګه ژوندون دی نه پوهېږم(۵)
خوب دی خیال دی که افسون دی نه پوهېږم

جام دلبو(۶) یې چې ځان په وینو مووم
تر و زلال که جګر خون دی نه پوهېږم

د پتنګ او د بلبل تر میان حیران یم
مخ دې اور دی که ګلګون دی نه پوهېږم

په شانه سره دې تار د زلفو بېل شو
که غوڅ شوی مې نارون دی نه پوهېږم(۷)

عشق په هسې رنګ مقام باندې قایم کړم
که وصال دی که بېلتون دی نه پوهېږم

د خپل زړه و علامت و ته حیران یم
چې موسی دی که قارون دی نه پوهېږم

د رحمان خبره یې زیړه تر کنګو کړه(۸)
خدای زده عشق دی که طاعون دی نه پوهېږم

۱۳۳ — ۱۵۲٤

بیا دې نوي شراب خښلي دي پوهېږم
په رخسار دې ګل کړلي دي پوهېږم

که هزار ځله لاس سره کړې په نکریزو
تا زما په وینو وللي دي پوهېږم

---

(۱) په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کی "لګېدلی" راغلی دی.
(۲) دا بیت په "پ" چاپ کی نشته.
(۳) دا بیت د "خ" په نسخو کی نشته.
(٤) "ق، ک" چاپ : "ستا تر زلفو د خوبانو زلفي خه دی."
"ق" چاپ : "ستا تر زلفو پورې زلفي د جهان خه دی".
(۵) د "خ" لومړی نسخه : "دا یو خه د غم ژوند ون دی نه پوهېږم".
(۶) په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کی د "لبو" پر ځای "میو" راغلی دی.
(۷) دا بیت او ورپسې بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته.
(۸) په "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کی د "کنګو" پر ځای "زعفران" راغلی دی.

معرکه زما د مرګ نه ده نو څه ده
رقیبان چې تا بللي دي پوهېږم

چې رقیب و تا غوبونه وېله وروړه
ما هغه ساعت ژړلي دي پوهېږم(۱)

څه حاجت دی چې دی خط په ملالولم
چې زما په باب دې کښلي دي پوهېږم

ته خپل جور و جفا څه وایې وما ته
ما همه واړه لېدلي دي پوهېږم(۲)

رقیبان څکه تېری په رحمان کاندي(۳)
تا په خوا پورې نیولي دي پوهېږم

۱۳۴

۱۵۳۱

چې له مرګه بې پروايي په هر دم
دغه هسې غم دې هېر دی په کوم غم(۴)

نور همه واړه غمونه به دې هېر شي
که یو ځل دربانديې راشي(۵) دا ماتم

چې زخمي يې سبا نه مومي په بیع
مفت مونده شي نن ساعت هغه مرهم

د مرهمو تیاري ورلره بویه
چې لا نه يې د اجل په تېغ کرم

چې دې تن له سرایه د رومي توښه واخله
تر دا سرای په هور ته سرای نشته محکم(۶)

د دې لارې تله څه هسې آسان نه دي
مشکلات دي په هر دم په هر قدم

که دې وېره شي له ظلمه له ستمه
ته هم مه کړه په هېچا باندې ستم

که امید لرې له رحمه له کرمه
ستا هم بویه په هرچا باندې کرم

له هرچا سره چې کړې هغه به مومې(۷)
د هېڅ تخم مېوه نه درومي برهم

اجر واړه د عمل په اندازه وي
دغه د واړه سره یو دي هم درهم(۸)

اوس د ستا رضا نېکي کړې که بدي کړې
نېک و بد دې واړه کښلي شي په قلم

خدای د رزق په ژېړمه مه هېروه کلکه
تر سړي د سړي رزق دی مقدم

که ګڼې چې په حرص سره څه زیات شي
زیات به نه شي دیوې ستنې ترسیم

که هزار رنګه تالاش او تر د کړې(۹)
د قسمت شوي به نه کړې زیات و کم

---

(۱) دا بیت د "خ" لومړۍ او مصوره نسخه کې نشته.
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه: " رقیبان به څه تېری په رحمان کاندي".
(٤) دا غزل د "پ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۵) په قلمي نسخو کې " در شي" راغلی دی.
(۶) په قلمي نسخو کې "دوهم" راغلی دی.
(۷) د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه: " په هرچا باندې چې کړې هغه به مومې".
(۸) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۹) د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه: " که هزار ځله تالاش او تدبیر وکړې".

د پرهوا و حرص مه کوه خدای یاد کړه — دی کافي دی د عرب او د عجم

په تا فرض عبادت د خپل خښتن دی — نه لښکري خزاني ملك و حشم

تولك روټۍ یوه شړۍ درلره بس ده — نور همه واړه اسراف دی مسلم

له خوراکه غرض قوت او لا یموت دی — نه چي غوښي غوړي وریژي یا غنم

له پوشاکه غرض خپسر پټول دي — نه اطلس و سقلات تاج و علم

د لحد د تاریکۍ علاج به څه کړي — چي ته دلته کې وېرېږي په تور تم

که حرص درباندي زوري مرګ را یاد کړه — دا علاج دی د غه رنځ لره محکم[1]

غفلت هیڅ مناسب نه دی د سپین بېرو — خوب روانه دی په وخت د صبحدم

مار چي سوړي لره ورشي ګوره سم شي — ته د ګور په غاړه راغلې نه شوې سم[2]

خم قامت د دنیا کار کړي عمر واړه — او په دوه رکعته نفلو نه شوې خم

ځان بخواتر هغه وژاړه که مرد یې — چي په تا باندي ژړا کا نور عالم

نور عالم چي په تا ژاړي انصاف وکړه — بې انصافه ته په خدې خوښ خرم

که زه نه وایم ته خود ستر ګي رڼي کړه[3] — کوردې خورشه ته چارپای یې که آدم

ای رحمانه لکه ته چي په خدای ګرم یې — بل به نه وي په جهان کي هسې ګرم

۱۳۵ — ۱۵۵۹

څو به صبر په جفا د یار کړم — څو به موم د دلبر و مخ ته کړم زوم

عاشقي او صبوري سره دروغ دي[4] — زه د الاف په دروغ څرنګه وهم

ته وماته نصیحت مه کړه ناصحه — زه دا خپل تخم خپل ځان لره کرم

ما خو زده چي مینه او ردی خدای مین کړم — دانسته خپسر واورته اچوم

سر رشته مي خدای همه د یار په لاس کړه[5] — په هر لور چي مي راکاږي پسي ځم

د آشنا د میني لاس زما ګریوان دی — زه په دا کار لې هیڅ عذر نه لرم[6]

عاشقانو[7] باندي حق د معشوقو دی — حق به ولې په باطلو بد لوم

(۱) دا بیت د "پ پ" چاپ کې نشته.
(۲) قلمي نسخې : " ته د ګور په غاړه ګرزي نه شوې سم".
(۳) قلمي نسخې : " که زه نه وایم ته خپله سترګي وکړه".
(٤) د "خ" لومړۍ نسخه : "عاشقي او صبوري د ه سره لري".
(۵) چاپي دیوانونه : " سورشته مي خدای د یار په لاس کي ورکړه".
(۶) قلمي نسخې : " زه په دا معامله کي عذر نه لرم"
(۷) د "پ" په لومړۍ نسخه کی " په عاشقانو " او د "خ" په لومړۍ نسخه کی " په عاشقو " راغلی دی.

ما[٨]چې مينه د يار فرضه په خپل ځان کړه — تر وله فرضو غاړه خړنګ غړوم

١٣٦ — ١٥٦٨

داخه ژوند(١) دی چې يار نه وينم په سترګو
زه رحمان په جهان سترګې غړوم

په يوه غمزه د سترګو يې فنا شوم — سرتر پايه بې بنياده بې بقا شوم
ما د يار له غمه دم وهلی نه دی — که مې دم وهلی نه دی هم رسوا شوم(٢)
بنه چې تن مې توی تومنه شو په عشق کې — هاله څاڅکی شبنم وم اوس دريا شوم(٣)
زه د يار رخ ته ګورم يار وما ته — چې داخل په تماشا شوم تماشا شوم
په هجران کې يې ګدا وم کند په غاړه — په وصال کې يې پادشاه دامرا شوم(٤)
په خپل کلي په خپل کور کې مې غربت دی — په صدف کې يتيم دړ غونده يکتا شوم(٥)
مستو رې راڅخه يو وړه مستو سترګو — رحمان ځکه په ګريو کې رسوا شوم(٦)

١٣٧ — ١٥٧٦

بادشاهي د ګدايانو په دعا شي(٧)
زه رحمان ځکه بادشاه شوم چې ګدا شوم

ترهغه حده په هورته بدسری شوم(٨) — چې د درست جهان په سترګو کې اغزی شوم
دنيا واړه ځبله زيست او روزګار کاندي — خو يو زه په دغه بار کې کودلرګی شوم(٩)
تمامي جهان لمسن راڅخه نغاړي — سپين زړی مې اغوستی تورکودی شوم
هيڅ حاجت د هنر نشته و نصيب ته — غزا وشوه که مومند که داودزی شوم

(١) په قلمي نسخه کې " داخه ژوند وند دی " راغلی دی.
(٢) دابيت د " خ " په لومړۍ نسخه کې نشته .
(٣) دابيت د " خ " په لومړۍ نسخه کې داسې دی : " بنه چې تن مې دړی وړی شه په عشق کې — هاله څاڅکی دشبنم وه اوس دريا شوم".
د " خ " دوهمه نسخه : " بنه چې تن مې دتوتومند شو په عشق کې — هاله څاڅکی دشبنم وم اوس ګياه شوم".
او په " ق ، ک " چاپ کې يې دوهمه مسره داسې ده : " اول څاڅکی دشبنم وم اوس دريا شوم".
(٤) قلمي نسخې : " په وصال کې بياخان وامراد شوم".
(٥) دابيت په چاپي ديوانونو کې نشته : او دوهمه مسره يې د " خ " په لومړۍ نسخه کې داسې ده : " په صدف کې پنهم دړ غونديې يکتا شوم ".
(٦) دابيت په چاپي ديوانونو او د " خ " په دوهمه نسخه کې نشته .
(٧) دابيت د " خ " په لومړۍ نسخه کې نشته او ټول نوموړی غزل په مصوره نسخه او د " ب " په دوهمه نسخه کې نشته .
(٨) داغزل په مصوره نسخه او د " ب " په دوهمه نسخه کې نشته . لومړۍ مسره يې د " خ " په لومړۍ نسخه کې داسې ده : " ترهغه حده بېکاره بدسری شوم ". او د " خ "
په دوهمه نسخه کې دا مسره داسې ده : " ترهغه حده يوری بدسری شوم".
(٩) دابيت د " خ " په لومړۍ نسخه کې نشته لومړۍ مسره يې د " ب " په نسخه کې داسې ده : " دادنيا واړه وبله زيست و روزګار کاندی".
د پېښور په دوو نورو چاپي ديوانونو کې داسې ده : " دنيا واړه سره زيست و روزګار کاندي ".
د " خ " په دوهمه نسخه کې داسې ده :
" عالم واړه سره زيست دروزګار کاندی ".

دنوح زوی هم دیونیك نیکه نمسی وُ(۱)    گنه زه هم دیونیك نیکه نمسی شوم
کل وسواس له احتیاطه پیدا کیږي    زه له ډیرې هوښیارۍ نه لیونی شوم(۲)

۱۳۸ اوس عطا دآدمیت را باندې وشوه
چې رحمان دهغه یار دکوڅې سپی شوم(۳) ۱۵۸۳

په ښه خوی له بدخواهانو بې پروا یم    په نرمۍ لکه اوبه داور سزا یم
وهر چا ته په خپل شکل ښکاره کیږم    آیینه غوندې بې رویه بې ریا یم
دراز عمر مې حاصل شوله راستیه    لکه سرو مدام سبزه تازه پایم(٤)
هم په داسپینو جامو چې معلوم یږم    لکه ابر هم گوهر یم هم دریا یم
قناعت مې ترخرقې لاندې اطلس دی    پټ د درست جهان بادشاه ظاهر گدا یم
دغوټې په څیر په سل ژبو خاموش یم    لکه بوی هسې په پټه خوله گویا یم
په ژړا مې دخپل یار دیدن حاصل کړ    دشبنم په څیر له گل سره یکتا یم

۱۳۹ که چالاردعاشقی ووی(۵) ورکه کړي
زه رحمان دگمراهانو رهنما یم ۱۵۹۱

زه له دې جهانه(٦) تلونی په شتاب یم    لکه پاڼه دخزان پسنه(۷) په رکاب یم
که هزار آباداني کړم په جهان کې    غرض دا چې نهایت خانه خراب یم(۸)

---

(۱) دامسرۍ په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه کې داسې ده: "دنوح زوی هم دنیك نیکه نمسی وُ".
(۲) قلمي نسخې: "زه له ډیرې هوښیارۍ لیونی شوم".
(۳) "ق، ک" چاپ: "زه رحمان دهغې یار دکوڅې سپی شوم". د "خ" دوهمه نسخه: "چې زه رحمان".
(٤) دادوه بیتونه د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۵) په "ب" چاپ او "پ پ" چاپ کې د "وي" پرځای "ده" راغلی دی.
(٦) په چاپي دیوانونو کې د "جهان" پرځای "دنیا" راغلی دی.
(۷) "ق" چاپ: "پا".
(۸) ددې بیت لومړۍ مسرۍ په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې داسې ده: "که هزار آبادی کړمه په جهان کې".
د "پ پ" چاپ: "که هزاری ابادی کړم په جهان کې".
"ق، ک" چاپ: "که هزار آباده وکړم په جهان کې".
دوهمه مسرۍ یې د "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې داسې دی: "غرض دا چې عاقبت خانه خراب یم".

کـه مې اصل د حیاتو لـه اوبو دی　　بیا خو دا چې داوبو په سر حباب یم

داجهان قصاب خانه کړه خدای وماته[1]　　پای بسته ولاړ په غولي د قصاب یم

چې د خدای له معرفته خبر نه شوم[2]　　معلومېږم چې یا دیوم یا دواب یم

که صورت مې د سړي دی زه یې څه کړم[3]　　په معنی کې د چارپایو په حساب یم

لکه بت چې په رڼو سترګو اوده وي　　هسې زه په بیدارۍ کې ورې خواب یم[4]

په طاعت په عبادت مې زړه یخ نه کړ　　همېشه د معصیت په اور کباب یم

سر د خدای وعبادت ته ایښوی[5] نه شم　　مدام ډوب د ګناهونو په ګرداب[6] یم

چې و خپلو ګناهونو ته نظر کړم　　سزاوار د هر عذاب[7] و هر عتاب یم

لکه خوګ چې په خړ سور وي مخ یې تور وي　　زه هم هسې په خپل خدای پورې بې آب یم[8]

۱۴۰　　غزا و شوه که ګفتار مې[9] په ژبه　　۱۶۰۳
زه رحمان چې کردار نه لرم کذاب یم

---

(۱) مصوره نسخه : "داجهان خدای قصاب خانه کړ وماته".
(۲) "ق، ک" چاپ: "چې خبر نه شوم د خدای له معرفته".
په دوهمه مسرۍ کې په مصورې نسخې کې د "یا د دیم" پر ځای "یو دد" راغلی دی.
(۳) د "پ" په نسخه کې دا مسرۍ داسې ده : "که صورت یې د سړي دی به یې څه کړي".
د "خ" په دوهمه نسخه کې : "که صورت مې د سړي دی په دا څه شو".
(٤) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۵) د "پ" نسخې : "وښکلی نه شم".
د "خ" لومړۍ نسخه : "ایښی نه شم".
دوهمه نسخه : "نیوای نه شم".
(٦) په چاپي دیوانونو کې "دریاب" راغلی دی.
(۷) د "پا پ" چاپ : "د هر سزا".
(۸) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، په "پ" چاپ، "پا، پ" چاپ او "ق" چاپ کې د مسرۍ داسې ده :
"زه هم هسې تر ښښتن پورې بې آب یم".
"ق، ک" چاپ : "تر مولا پورې بې آب یم".
د "پ" لومړۍ نسخه : "زه هم هسې تر خپل یاره پورې بې آب یم".
دوهمه نسخه کې : "زه هم هسې تر الله پورې بې آب یم".
(۹) په چاپي دیوانونو او "خ" لومړۍ نسخه کې "کوم" راغلی دی.

که هزار ځله نژدې د زړه په یاد یم ... زه چې یار په سترګو نه وینم ناښاد یم[۱]

که یار سل ځله وعدې د وصال وکا ... زه له ډېرې تلوسې بې اعتقاد یم

په جفا و په وفایې لا رغه نه شي ... پُر حذر د نازپرور په کړي داد یم[۲]

د بې نیاز و په نیاز څه امید د کړو دی ... زه پروړ سلطان خسرو و مړ فرهاد یم[۳]

که د یار له لاسه اور راباندې بل وي ... لکه شمع مستقیم په خپل استاد یم

بې مینه قرارې راباندې زوګ دی ... شپه او ورځ په حرکت کې لکه باد یم

که همه عمر مې یار په غېږ کې ناست وي ... زه له غمه د هجر په فریاد یم

یو زمان مې د زړه مراد موندلی نه دی ... پیدا کړی خدای په اصل کې نامراد یم

د وصال په یوه کال مګر بر پای شم ... د هفتې په هجر هسې بې بنیاد یم

چې بې نوره نتیجه نشته بې غمه ... حق حیران د عاشقۍ په دا داد یم[۴]

په وصال کې مې د هجر طمعه نه وه ... اوس حیران متحیر په دا فساد یم

بې له عشقه چې مې پړی شو د پوزې[۵] ... ګنه نور له هملګي قیده آزاد یم

که مې پیري که مې پلوري چاره نشته

۱۴۱ ... ۱۶۱۶

زه رحمان د ښایسته و خانه زاد یم

که مې څوک پر فقیرۍ شمېري[۶] فقیر یم ... که مې څوک پر امیرۍ شمېري امیر یم

د دلبر وصد قې لره بې غوارم ... هسې نه چې په دنیا پسې زهیر یم

د خرقې خدمت[۷] مشکل دی او که نه وي ... زه هر دم و د خپې چارې په تدبیر یم

(۱) دا غزل د "پ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې "قرارداد" راغلی دی.
(۳) د "خ" لومړۍ نسخه: " زه همه عمر له هجره په فریاد یم ".
(۴) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۵) په "ق" چاپ کې "د غاړې" راغلی دی.
(۶) په مصوره نسخه کې "بولي" راغلی دی او دا غزل د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۷) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې "حرمت" راغلی دی.

هم پند اخلم هم پند وایم وهرچا ته — زه د ښځو مرید د ښځو پیر یم (۱)

په هجران کې دیار خیال راسره مل دی (۲) — په زندان کې له یوسف سره اسیر یم

په خندا کې مې ژړا ده لکه شمع — له عالمه پټ پنهم (۳) د ځان په ویر یم

آزادي ترداپه هورته نوره څه ده (۴) — چې بندي (۵) د یار د زلفو په ځنځیر یم

خوشحالي ترداپه هورته بله کومه — چې مدام په خپل اشنا پسې زهیر یم (۶)

چې همېش په غوښ ناري دهجران اورم — رحمان څکه دخپل یار وخ ته حیر یم (۷)

١٤٢

خوشحال او دولتا مې غلامان دی (۸)

١٩٢٦

زه خان په پښتو ژبه (۹) عالمګیر یم

زه دیار په درد وغم کې غرقاب خوښ یم — په دا درد کې بې طاقت او بې تاب خوښ یم

که پوښتم په اوبه یا په اور سوځم — د سروشونډو په آتش وپه آب خوښ یم

چې دیار دخال وخط نښې پکې وي — زور زر سر په مطالعه دکتاب خوښ یم

ترداپوچه ګفتګویه چې یې اورم (۱۰) — په نغمه په ترانه د رباب خوښ یم

دریا ترنا قبوله عبا د ته — د ساقي په میو مست وخراب خوښ یم

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کی داسی راغلی دی:

"هم پند اخلم هم پند واخلم وهرچا ته — د ښځو مرید د ښځو مرشد د ښځو پیر یم".

دوهمه مسری یې د "پ" په لومړی نسخه کی داسی ده: "د ښځو مرید د ښځو پیر یم".

(۲) دا مسری په "ق" چاپ کی داسې ده: "په هجران کې د وصال خیال راسره وي". او په نورو چاپي دیوانونو کی داسې ده:

"په هجران کې خیال دیار راسره مل وي".

(۳) په "ق، ک" چاپ کې "پنهان" او د "خ" په دوهمه نسخه کی "تنها" راغلی دی.

لومړی بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(٤) په چاپي دیوانونو کی "بله نشته" او د "خ" په لومړي نسخه کی "نوره څه دی" راغلی دی. (دوهم دا بیت په مصوره نسخه کی نشته.

(۵) د "خ" په لومړي نسخه کی "بنده" راغلی دی.

(۹) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړي نسخه کی نشته، لومړی مسری یې د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی ده "خوشالی ترداپه هورته د نور کومه".

او په مصوره نسخه کی دا بیت داسی دی: "خوشالی تردا په هورته نوره څه ده — چې مدام په خپل اشنا پسې دلګیر یم".

(۷) دا بیت په قلمي نسخو کی نشته لومړی مسری یې په "ق" چاپ کی داسی ده "همېشه په غوښ ناري دهجران اورم"

(۸) دا مسری د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی ده: "یو خوشال سل ختټک نور مې غلامان دي".

(۹) د "پ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کی "شعر" راغلی دی. (۱۰) د "خ" دوهمه نسخه "ترددا نور وګفتګو یو چې یې اورم". نو موړی بیت او ورپسې بیت د "خ" په نیمګړي نسخه کی نشته.

چې نه علم نه تسبیح نه تلاوت وي — له دې هسې بېدارۍ نه په خواب خوښ یم
خاموشي که هر څو لویه مرتبه ده — زه له یار سره په سوال وځواب خوښ یم (۱)
د طوبۍ د ونې سیوري مې خوښ نه دي — ستا د مخ په لمبو سوی کباب خوښ یم
د یار ډېرې غم خوارۍ یم عاجز کړی
رحمان ځکه په خوردن د شراب خوښ یم

۱۴۳ — ۱۶۳۵

زه د یار په درد وغم کې شادمان یم — لکه ګل د پرېشانۍ په وخت خندان یم
ته زما و بېکسۍ ته نظر مه کړه — خدای ساتلی لکه ګنج په بیابان یم
لکه ونه د ځنګل په مېوه پوره — په وېرانه وېرانۍ کې آبادان یم
یو وښته مې د صورت بې عشقه نه دی — څوکیدار په هر نفس د خپل کاروان یم (۲)
د وصال مرغه (۳) د اوښکو د انو راګړ — لکه د ر و لعل په غاره د خوبان یم
د کاملې عقیدې له برکته — د دوهمه په غاره ناست شاه جهان یم
روښنايي مې په طلب کې شوه حاصله — شپه او ورځ لکه آفتاب په لار روان یم
د آشنا د اوږدو زلفو صفت څو کړم — پلی سر په لویه لار د هندوستان یم (٤)
بې مینه مې هیڅ حال د صورت نشته (۵) — لکه بې مال ومتاع تش دوکان یم
د هوس بلبل وښاه را باندې نه کا — د افلاس په کبل کې د خزان یم
و یارانو ته خاک تر تلو لاندې — د دې نور جهان په سر لکه آسمان یم (۶)
چې د یار په مینه سر و مال بښنده — خلقه واورئ هغه زه عبدالرحمان یم (۷)

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" لومړي نسخه کې "د خپل کردار هیم" او مصوره نسخه کې "د خپل ځان یم" راغلي دي.
(۳) د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې داسې ده: "د وصال مزي د اوښو دانې راګړ".
(٤) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. لومړی مسری یې د "پ پ" چاپ کې داسې ده: "چې صفت د توړو زلفو د اشنا کړم".
(۵) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، د "خ" په دوهمه نسخه کې لومړی مسری داسې ده: "بې له مینې مې هیڅ حال د صورت نشته".
(۶) دا بیت او ورپسې بیت د "خ" په لومړي نسخه او نیمګړي نسخه کې نشته، په مصوره نسخه کې لومړی مسری داسې ده: "د ماړانو تر تلیو لاندې خاک یم".
(۷) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

۱۴۴ — ۱٦۴۸

پہ هر دم کې نوې نوې تماشې کړم
زه حیران دخدای وکړه وته حیران یم

چې هر دم له خپله ځانه ګریزان یم — هم په دالکه دریاب در وکان یم[1]

مرګی تریخ دی چې ژوندون دچاشیرین شي — زه خورسند دیار تر وصل په هجران یم

ناداني مې دانايي شوه لکه طفل — په ناپاکو ګوهره کې پاك دامان یم

چې دنفس دحرص ملك مې مسخرکړ — په هوا دپاسه تخت د سلیمان یم

تن مې څه کړې چې زړه یار راڅخه یوړ — بېهوده دخالي خونې نګهبان یم

لکه ګل چې په نارمات کړې اوبړاندوي — زه هم هسې دژوندو دمړو ترمیان یم

کله ځان راته ولي کله عاصي شي — نه خبر په خپل کمال نه په نقصان یم

۱۴۵ — ۱٦۵٦

خپل جانان مې هسې نقش دی په زړه کې
نه پوهېږم چې ګمان یم که جانان یم

ژوبل ژوبل دترکانو په نګاه یم — تردالا په داغوښېږم چې پناه یم[2]

چې یوسف ع غوندې هزار یکښې پراته دي — بند بوان دهغه سبب[3] ذقن په چاه یم

چې يې قدوقامت نه وینم په سترګو — عندلیب په سر دسروی دخپل آه یم[4]

دسپین مخ دتورو څنولو رغبته[5] — منت بار دهر سفید او هر سیاه یم[6]

---

(۱) داغزل د "خ" له ډېرې قلمي نسخې نه نقل شو.

(۲) داغزل د "خ" په دوېمه نسخه کې نشته او دابیت په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی دی: "ژوبل ژوبل دخوبانو په نګاه یم — لاتردانه زیات هوښېږم چې پناه یم".

په مصوره نسخه کې داسې دی: "ژوبل ژوبل دخوبانو په نګاه یم — تردالا په داعاجزیم چې پناه یم".

د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی: "ژوبل ژوبل دخوبانو په نګاه یم — لاپردا زهیرېږم چې لسترګو یې پناه یم".

د "خ" په دوېمه نسخه کې داسې دی: "ژوبلي ژوبلي دخوبانو په نګاه یم — تروخولا په داهوښېږم چې پناه یم".

(۳) په قلمي نسخو کې د "سبب" پرځای "سیم" راغلی دی او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "سیم په ذقن چاه یم" راغلی دی.

(۴) دابیت په چاپي دیوانونو کې داسې دی: "چې یې قد وقامت ونه وینم په سترګو — عندلیب په سهی سرو دخپل آه یم".

د "خ" په لومړۍ نسخه کې دوېمه مسره داسې ده: "عندلیب دسهی سرو دخپل آه یم".

د "خ" په دوېمه نسخه کې داسې ده: "عندلیب غوندې په سروې دخپل آه یم".

او مصوره نسخه کې داسې ده: "عندلیب هسې سرو دخپل آه یم". (پاتې په ۱۰۷ مخ کې)

لکه ښوك چې په خړه سوړ ووي مخ يې توروي   زه هم هسې تر خپل خدای پورې روسیاه یم[۱]
د رقیب خبرې[۲] وړم د یار د پاره   دعاګوی هم د نیك خواه هم د بدخواه یم[۳]
بې له عشقه که مې عیب که مې هنر دی[٤]   نه[۵] خبر په عبادت نه په ګناه یم
ښاخ د زلفو يې ځنې خدای را ټیټ کړ   ګنه زه د یار ترقد پورې کوتاه یم[٦]
خان هرګوره ناکاره را څرګندېږي   له هغې ورځې راهسې چې آګاه یم[۷]
بې صبرۍ د یار په وصل کې مهجور کړم   د پسرلي په مرغزار کې وچ ګیاه یم
له اوله تېر و وم بیا آه کړم   په نارو نارو[۸] خروس د صبحګاه یم
په جذبو جذبو يې راښکم زه وځان ته   هغه یار مې کاه ربا دی زه يې کاه یم[۹]
لکه بار دوني پوخ شي ځنې رژي   زه هم هسې بار تر لې سر براه یم
اوس مې ځای په دا جهان کې پاتې نه شو   خو ځېد لې تر[۱۰] چهل وتر پنجاه یم

---

د (۱۰٦) مخ د پاڼې لیکونو پاته: (۵) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "رغبت" پر ځای "زینت" راغلی دی.
(٦) دا مسرۍ په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې داسې ده: "منت بار دهر سفید دهر سیاه یم".
په "ب ب" او "ق ک" چاپ کې داسې ده: "منت بار دهر سفید او د سیاه یم".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "منت بار دهر سفید و دهر سیاه یم".

---

(۱) دا بیت په چاپي دیوانونو، مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه کې نشته، د "خ" په دوهمه نسخه کې يې لومړۍ مسره داسې ده: "لکه ښوك چې په خره سوړ شي مخ يې تور شي".
(۲) د "ب" په نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه کې "خبرې" راغلي دي او دا مسره په مصوره نسخه کې داسې ده: "د رقیب خبره اوړم د یار د پاره".
(۳) دا مسره د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "دوعاګوی هم د نیکخواه هو د بدخواه یم".
(٤) دا مسره د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "بې له عشقه که مې عشق که مې هنر دی".
(۵) په "ق" چاپ کې د "نه" پر ځای "زه" راغلی دی.
(٦) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی: "ښاخ د زلفو خېل خدای را ته ټیټ کړ ګنه زه د یار تر قد پورې کوتاه یم".
(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی: "خان ښکاره را ته هرګوره څرګندېږي له هغه د ره د راهسې چې آګاه یم".
په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې لومړۍ مسره داسې ده: "خان هرګوره ناګاه را څرګندېږي". د "خ" په دوهمه نسخه کې يې دوهمه مسره داسې ده: "له هغې ورځې را په هسې چې آګاه یم". او په "ق، ک" او "ق" چاپ کې داسې ده: "له هغې ورځې راهسې چې آګاه یم".
(۸) د "خ" په دوهمه نسخه کې "نارو سورو" راغلي دي.
(۹) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، په "ب" چاپ، "ب ب" چاپ او مصوره نسخه کې يې لومړۍ مسره داسې ده: "په جذبو جذبو يې راکښوم وځان ته".
د "ب" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "په جذبو جذبو يې راوځکولم وځان ته".
په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "په جذبو يې راښکمه خپل ځان ته".
او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا بیت داسې دی: "په جذ بدجذبه يې راکښوم وځان ته هغه یار مې کاه ربا دی زه ګیاه یم".
(۱۰) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "تر" پر ځای "له" راغلی دی.

۱۴۶ ۱۹۷۱

د رقیب علاج آسان دی بلا دا شوه[۱]
زه رماح(ان) له خپله یاره ناویساه یم

زه یودم د ستا له غمه بې غم نه یم — بې غم ستا له ذکره فکره یو دم نه یم[۲]
هر زیارت له چې درومم[۳] مراد مې ته یې — زه زایر[۴] د بت خانې د حرم نه یم
ستا د در په تورو خاورو باندې خوښ یم — بې تا خوښ په تماشا د ارم[۵] نه یم
چې د[۶] ستا په تماشا یم خبر شوی — نور خبر په تماشا د عالم نه یم
بې د ستا له زیبا مخه و بل مخ ته — منتظر د یوې ستنې قرسوم[۷] نه یم
که د ستا د ښکلي مخ عاشقان ډیر دي — زه په وار وکې اول یم دویم نه یم
که له غمه دې ونه مرم هاله[۸] وایه — چې یا دیو یم یا دواب[۹] یم آدم نه یم
سم قامت لکه الف یم په راستۍ کې — لکه غشی څه[۱۰] فسا د لره سم نه یم
زړه مې ستا په غمزه غوڅ دی غزا وشوه — که په لاسو په پښو روغ یمه گرم نه یم[۱۱]
خم د زلفو م[۱۲] محراب د کړو وروځو — څه[۱۳] د مار و د لړم په څېر خم نه یم

---

(۱) دا مسری د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: " د رقیب علاج آسان دی که لې خدای کړه".
(۲) دا غزل په مصورو نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړي نسخه کې "ځمه" راغلی دی.
(٤) د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې " زاهد" راغلی دی.
(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "حرم" راغلی دی.
(۶) په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې " دا" او د "خ" په لومړي نسخه کې "ن" راغلی دی.
(۷) په چاپي دیوانونو کې "سم"، په "پ" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه کې " سیم " راغلی دی.
(۸) د "خ" په لومړي نسخه کې " رالته" راغلی دی.
(۹) د "خ" په لومړي نسخه کې " دیوال" راغلی دی..
(۱۰) په "پ" چاپ، "پ پ" چاپ او د "ق، ک" چاپ کې "زه" او د "ق" چاپ کې " و" راغلی دی.
(۱۱) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې داسې دی: "زړه مې ستا په غمزه غوڅ دی بلا دا شوه که په لاس په پښو روغ یم کرم ندیم".
د "خ" په دوهمه نسخه کې دوهمه مسری داسې ده: " که په لاسو په پښو روغ یم کرم ندیم".
" په " ق، ک" چاپ او د" ق" چاپ کې داسې ده: " که په لاسو په پښو روغ خو گرم ندیم ".
(۱۲) د "خ" لومړي او دوهمه نسخه کې "یې" راغلی دی.
(۱۳) په "پ" چاپ، "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "زه" راغلی دی او په "ق" چاپ کې دا مسری داسې ده: " پېچ و خم په څېر د مار و لړم ندیم ".

کـه مي کم وبیش لـه لاسـه واقع کېږي[1] یم سرې شکم لـرم بې شـکـم نـه یم[2]

۱٤۱ زه رمان د بېلتانه لـه لاسـه[3] ژاړم ۱۹۸۳

واقعـه ده ډېره گـرانـه هېڅ گـرم نـه یم[4]

هسـې تېز درومي دوران گـویا برق دی درخشان[5]
د آسیا پـه څېر[6] گردش کا پـه زمین باندې آسمان
کـکرې دي د سر یو چي وربـرې تر دا میان
پیدا کېږي فنا کېږي نـه یې سرشتـه نـه سامان[7]
نـه یې سرشتـه نـه سامان شتـه نـه یې حد شتـه نـه پایان[8]

---

(۱) دا مسرۍ په چاپي دیوانونو کی داسې ده: "کم وبیش کـه مي لـه لاسـه واقع کېږي".
(۲) دا مسرۍ د "خ" دوهمـه نسخه کی داسې ده: "هم سرې یم نس لـرم بې شکم نـه یم".
(۳) په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړۍ نسخه کی "له غمه" راغلـی دی.
(٤) د "پ" نسخه: "دا واقع ده ډېره گرانـه هېڅ گرم نـه یم
د "خ" لومړۍ او دوهمـه نسخه کی داسې ده: "دا واقعـه ده ډېره گرانـه هېڅ گرم نـه یم".
(٥) د "پ" نسخې: "هسې تېز دروي دوان گویا برق دی دآسمان".
د "خ" دوهمه نسخه: هسې تېز دروي دوران گویا برق دی دا جهـان".
مصوره نسخه: "هسې تېز دروي دوان گویا برق دی دا جهـان".
د "خ" لومړۍ نسخه: "هسې تېز دروي روان گویا برق دی دا سمـان".
(٦) د "ق، ک" او "پ پ" چاپ کی "سیر" او د "خ" په دوهمه نسخه کی "دود" راغلی دی. (۷) قلمي نسخې: "نه یې سرشته نه سامان". (۸) "ق، ک" او "ق" چاپ
نـه یې حد شتـه نـه پایان شته نه یې سرشته نه سامان". "پ" چاپ: نه حد نه ونه پایان شته نه یې سرشته نه سامان".
"پ پ" چاپ: "نـه یې حـد نه یې پایان شتـه نه یې سرشتـه نه سـامان".

ځيني د ولږ وهي بنا دي كا — ځيني وير كا د خپل ځا ن
ځيني شمع غوندې ژاړي — ځيني ګل غوندې خندان
كه يې ګوري يو ګلزار دى — كه يې ګوري يو بيابان[1]
كه يې ګوري يو ګلشن دى — كه يې ګوري يو زندان[2]
يوه هسې تماشا ده — چې يې هيڅ نه شي بيان[3]
كيفيت يې مونده نه شي — په دليل او په برهان
چې يې كومه خوا رفتن دى[4] — يا يې چېرته دى مكان

خداى خبر دى په دا علم[5]
هيڅ خبر نه دى انسان

١٤٨ — ١٦٩٦

د هر ياران وو د ګل خان او جمال خان — په كار نه شو يو په وخت د زارستان[6]
د همه وارو يارانو مخ دې تور شي[7] — كه به خوك وبله[8] ياري كا په داشان
چې يو يار په سيوري پروت وي[9] بل په اور كې — وهغو ته به خوك څه وايي ياران
هيڅ تعريف يې په دا ژبه وايه نه شي — صد رحمت شه په ياري د ګل خان[10]

---

(۱) د "پ" لومړى نسخه "زندان". د "خ" لومړى او دوهمه نسخه: "كه يې ګوري يو بازار دى كه يې ګوري يو بيابان".
(۲) دا بيت په "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ كې نشته.
(۳) چاپي ديوانونه: "چې يې هيڅ نشته بيان". د "خ" لومړى او دوهمه نسخه: "چې يې هيڅ نه شي بيان". مصوره نسخه: "ځني نه شي هيڅ بيان".
(٤) "ق، ک" چاپ، "ق" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه كې: "چې يې كوم خوا ته رفتن دى".
(٥) قلمي نسخې: "خداى عالم دى په دا علم".
(٦) دا غزل د "پ" په نسخو او مصوره نسخه كې نشته. دوهمه مسرې يې د "خ" په لومړۍ نسخه كې داسې ده:
"يو هم نشته دده كار په ځان راستان"
دوهمه نسخه: "يو يې هم په كار نه شو په ځاى د راستان".
(۷) د "خ" دوهمه نسخه: "د همه وارو يارانو مخ يې ورك شه".
(۸) "ق" چاپ: "سره".
(۹) د "خ" دوهمه نسخه: "ناست دي".
(۱۰) "پ" چاپ: "هيڅ تعريف مې په دا ژبه وايه نه شي- صد رحمت شه په ياريه د ګل خان".
د "خ" لومړى نسخه: "هيڅ تعريف يې نور په ژبه داوړى نه شي صد رحمت شه په ياريه د ګل خان".
د "خ" دوهمه نسخه: "هيڅ تعريف به يې په ژبه را و نه شي صد رحمت شه په ياريه د ګل خان".

په داهورته(۱) د يارئ شرطونه څه وي — چې په اورکې دواړه وسوځي يكسان
چې له آل له اولاده سره وسول — خدای دې نه کا څوك داهسې مظلومان
چې په اورکې يو د بل د پاره سوځي — ماليدلي نه وو هسې مخلصان
څه رنګ شوخ وو هغه او داو هغه خلق — چې لې مړ نه کړ د اوښکو په باران(۲)
الغياث دی الغياث دی الغياث دی — چې انسان کا هسې ظلم په انسان
د نمرود چارې مې وليدې په سترګو — چې يې اچول وا وروته نبيان(۳)
هم دې ځمکې دې آسمان ته تعجب کړم(٤) — چې نه ځمکه په نارو شوه نه آسمان
هم دې لويو لويو غرونو ته حيران يم(۵) — چې ونه لوښته له ويخه سرغلتان
له دې خپله سپيه نفسه مې زړه بد شو(٦) — چې اوبه ښني يا خواړه خوړي په جهان
عالم وايي چې قيامت به په جمعه وي — وليد ما په يكشنبه په دا دوران
هزار حيف دی چې داهسې رنګه چارې — واقع کېږي د دنيا په سود و زيان
سربند نه ګويا د بنت کربلا وو — چې سيلاب شو د سرو وينو پرې روان(۷)
په عيسى او په دجال کې ګناه نشته(۸) — دا مکرونه دي د نفس و د شيطان

---

(۱) د "خ" دواړو قلمي نسخو ، "پ" چاپ ، "ق ، ک" چاپ او "ق" چاپ کې " تر داهورته " راغلی دی.
(۲) د "خ" لومړۍ نسخه : " چې مړ نه که هم داوښکو په باران".
دوهمه نسخه : "چې لې اور مړ نه کړ داوښکو په باران".
(۳) "ق ، ک" چاپ : " چې به لې اچول وا وروته نبيان".
"پ" چاپ : " چې يې اچول زاورته نبيان ".
د "خ" لومړۍ نسخه : "چې يې اچول واورته مرسلان".
دوهمه نسخه : " چې يې اچول په اورکې مرسلان".
(٤) "پ" چاپ : " هم دې ځمکې هم اسمان ته تعجب کړم".
د "خ" لومړۍ نسخه : " ودې ځمکې واسمان ته تعجب يم".
دوهمه نسخه : " ودې ځمکې واسمان وته حيران يم".
(۵) د "خ" لومړۍ اودوهمه نسخه : " ودې لويو لويو غرونو ته حيران يم".
(٦) د "خ" دوهمه نسخه : " له دې خپله کم بخت نفسه مې زړه بد شو".
(۷) دا بيت د "خ" له لومړۍ اودوهمې نسخې نه نقل شو ، په چاپي ديوانونو اونورو نسخو کې نشته.
(۸) د "خ" لومړۍ اودوهمه نسخه : " ګناه نه ده ".

عزیزان یې ځبله (۱) ووژل پخپله — داهمه واړه تقدیر دی د سبحان (۲)
هسې نه چې داني وکړه نور به نه کړي — چې یې زړه شي هغه کاندي بادشاهان (۳)
شاه عالم اعظم وګوره چې یې سخا کړه — په خونونو واړه ملك د هندوستان (۴)
ودارا او اورنګ زیب وته حیران یم (۵) — چې یې څه چارې واقع شولې ترمیان (۶)
دحسن حسین غزا دې څوك په زړه کا — چې همه واړه په تیغ شول شهیدان (۷)
دد وی غوښې او ښکو وینو رغړولې — بې حسابه هسې خلق شو توفان (۸)
هرچې اهل د دنیا دي حال یې دا دی (۹) — که سړی دی که پیری دی که حیوان
آدم زاد په ځمکه یو بل سره وژني (۱۰) — په دریاب کې وبله غوښې خوري ماهیان
لکه غوښې چې ماهیان خوري په دریاب کې — په هوا کې هم دغه کاندي مارغان
خزنده او پرنده دي د دې دهر (۱۱) — همه واړه یو تر بل مشت وګریوان (۱۲)
مرداري د دې دنیا خو هم دغه ده — ځکه بېرته ځني ګرځي درویشان

---

(۱) د "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "سره ووژل".
لومړی مسره د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کې داسې ده: "عزیزان وبه په څه وبله وژلو".
(۲) د "خ" دوهمه نسخه: "داهمه واړه تقدیر د پاك سبحان".
(۳) د "خ" لومړی نسخه: "چې یې زړه شي هغه کاندي په داشان".
(۴) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "شاه عالم اعظم وګوره چې یې سخا کړه په خوړونو واړه ملك د هندوستان".
د "خ" لومړی نسخه: "شاه عالم واعظم ګوره چې یې فساد کړه په خونونو سره ملك د هندوستان".
د "خ" دوهمه نسخه: "شاه عالم اعظم وګوره چې یې خسا کړه په خوړونو واړه ملك د هندوستان".
(۵) "ق، ک" چاپ: "بیا دارا او اورنګ زیب وته حیران یم".
د "خ" لومړی نسخه: "ودارا واورنګ زیب وته که ګوري".
د "خ" دوهمه نسخه: "ودارا واورنګ زیب ته دې څوك ګوري".
(۶) "ق" چاپ: "چې یې څه چارې واقع شوې په ځان".
د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "چې یې څه چارې واقع شوې ترداميان".
(۷) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "چې همه په توره ومړه شهیدان".
(۸) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته او دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "دوه غابني او ښې یې په وینو رغړولو هسې بې حساب خلقه شوله توپان".
(۹) د "خ" دوهمه نسخه: "هرچې آل د دې دنیا دی حال یې دادی".
(۱۰) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "آدم زاد په مځ د ځمکې وبله وژني".
(۱۱) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "خزنده که پرنده دی د دې دهر".
(۱۲) د "خ" لومړی نسخه: "همګې دي وبله مشت وګریبان".
د "خ" دوهمه نسخه: "همګې دي واړه مشت و په ګریوان".

١٤٩ — ١٧٢٥

**مکاري د زماني څه هومره نه د ه**
**چې رحمان يې چاته وکاندي بيان (١)**

دنيادار د دنيا کار کا زه د دين — خوانين زما په ملك دي خوشه چين (٢)
هيڅ کم نه دی تر سپين مخيو دلبرانو — بلکه سنه دی زما شعر نمکين (٣)
مراد له تورو سپينو واړه د لبر يده — موقوف نه دی دغه (٤) کار په تورو سپين
چې رنگين رنگين مضمون پرې کښلی نه وي — څه په کار دی د بياض ورق رنگين (٥)
مرتبه د سليمان چې چالره ورشي (٦) — هيڅ پوره نيمگړی نه دی په نگين
خوند په خوله دی نه په ښکښه نه په خواړه دی (٧) — آب و خور که د چا تلخ وي که شيرين
غرض خوب دی که په خس وي يا په خاوري (٨) — څه حاجت دی په بستر و په بالين (٩)
مصري توره هم په بد غلاف کې زنګ شي — خدای شوك مکړه د بدانو هم نشين

١٥٠ — ١٧٣٤

څه عجب که په ورځ مهر په شپه ماشي
د رحمان آشنا چنان دی يا چنين (١٠)

---

(١) د "خ" لومړی نسخه ، " چې يې زه رحمان کړم وچاته بيان ".
د "خ" دوهمه نسخه : چې رحمان يې که و چا وته بيان ".
(٢) دا غزل په مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٣) د "پ" لومړی نسخه " بلکه به دی د اناما شعر نمکين".
د "خ" لومړی نسخه: " بلکه به دی زما سبز نمکين".
(٤) د "خ" لومړی نسخه : " دلسته ".
(٥) د "پ" لومړی نسخه " کاررنگين ".
(٦) د "پ" لومړی نسخه ، " چې خدای چالره مرتبه د سليمان ورکا ".
د "خ" لومړی نسخه : " که خدای چالره پخه د سليمان ورکه".
د "خ" دوهمه نسخه : " که خدای چالره نتيجه د سليمان ورکه".
(٧) د "پ" لومړی نسخه : "خوند په خوله دی نه په خوله نه په خواړه دی".
چاپي ديوانو نه "خوند په خوله دی نه په څکه نه په خواړه دی".
د "خ" دوهمه نسخه : "خوند په خوله په ژبه په خواړه دی".
(٨) "ب" چاپ ، د "پ پ" چاپ او "ق ،ک" چاپ : " خاورې".
(٩) د "خ" دوهمه نسخه : " څه حاجت دی د بستر و د بالين".
(١٠) چاپي ديوانونه ، او د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : " د رحمان اشنا چنان دی هم چنين ".

که تېرې ولوسنته شاهان او سلطانان — هيڅ نيمګړی په چا نه شو دا جهان(۱)
که هزار هزار فنا شي په يو دم کې — بيا پيدا شي په يو دم کې هزاران
در فتن د آمدن حساب يې نشته — لکه بحر چې لهېږي بې پايان
يو د بل په غم نه نرم وي نه ګرم — هم د هغه زده چې وريې شي په ځان
پيغمبر غوندې صاحب تر دنيا تېر شو(۲) — دا دنيا يې ورانه نه شوه په هجران
چې دا هسې عالم لاندې شو تر خاورو — د چا يادوي ما وتا غوندې سګان
که غلبيل کړم د تمامې دنيا خاورې — بيا به نه مومم دارا او شاه جهان(۳)
بوی د نام و د نښان يې پاتې نه شو — چې دعوی يې کړه د نام او د نښان
که دروغ وايم ته ورشه نظر وکړه — د خپل پلار او د نيکه په ګورستان
چې يې ته په دوا رو سترګو سنکولې — ګوره څه شوې هغه خولې هغه لبان
چې مدام يې په قربان قربان بللې — اوس دې غږ د رباندې وکا چې قربان!

۱۵۱ — ۱۷۴۶

## د رحمان وسوزان شعر ته حيران يم(۴)
## چې يې اور بل شوی نه دی په ديوان

ته چې هسې ګاه يې ترش ګاه يې خندان — له عاشق سره کينه کړې که احسان
له احواله دې چا نه زده چې به څه کړې — کله جور کله لطف کړې عيان(۵)
رنځ راحت د عاشقانو واړه ته يې — دا دروغ دی که وصال دی يا هجران
هغه شونډې چې خوږې دي تر شکرو — له کنځلو يې عار نه کا عاشقان
رجوعات د دنيا ستهٔ چا ته نه وي — هرګز نه وي سرکوزي د سروي شان

---

(۱) دا غزل د "پ" په نسخو او د "خ" په نيمګړې نسخه کې نشته. د "خ" په نورو قلمي نسخو کې، د "ولوسنته" پر ځای "ولنبسل" راغلی دی.
(۲) "ق، ک" چاپ: "محمد عليه السلام تر دنيا تېر شو".
(۳) قلمي نسخې: "که غلبيل کړې د تمامې دنيا خاورې بيا به نه مومې دارا او شاه جهان".
(۴) "ق، ک" چاپ: "د رحمان دې سوزان شعر ته حيران يم".
(۵) د "خ" دوهمه نسخه او نيمګړې نسخه: "کله جور کله غوږي کړې عيان". او دا غزل د "پ" په نسخو کې نشته.

دغه هسې رنګ ښایست لکه چې ستا دی ... نشته دا رنګه ښایست د هیڅ انسان[1]

قصد تر هسې حده ولې کړی ګل رخه ... چې له ډېره نازه وژنې عاشقان

د مرېي صورت څه روغ له کاڼي نه وي ... نشته کاڼي څخه ستا د جفا توان[2]

وهرچا وته[3] چې ستا قوت رسېږي ... هلته نه رسي قوت د درست جهان[4]

ستاله جوره زهره[5] نه لري چې آه کا ... که کشور د عاشقانو شي ویران

خوار حېران لکه عاشق دی ستا له درده ... خدای دې هیڅوک هسې نه کا خوار حیران[6]

لکه ډېر وایي د وصل راحتونه ... دغه هسې د فرقت دی سخت زندان

د رخسار نښې دې واړه د خورشید دي ... چې یې درست جهان له نوره دی روښان

له هوسه دې هر ګل کړه خندا شوه ... چې یې ولید ستا د حسن ګلستان

کله وي چې نصیحت کاندي عاشق ته ... که له حسنه دې آګاه شي زاهدان[7]

رنګ د روی دې لري رنګ د سرو ګلونو ... توري څنې دې ښا خونه د ریحان

سیاهي د نوي خط دې هسې زیب کا ... لکه ښکلي واړه توري د قرآن

وګوره ته چې لغزش کا کل خطر وي[8] ... کل خیریت دی کوهی ستا د زنخدان

که د درو تجلی ده ډېره ډېره ... د رتا ریک شي چې ظاهر شي ستا دندان

ته سلطان د ښایسته وې دلبره[9] ... دا نور واړه ښایسته دي نوکران

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۲) دا بیت په "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ کې نشته، د "خ" په قلمي نسخه کې د "مرېي" پر ځای "سړی" راغلی دی.
(۳) په قلمي نسخه کې "وهر کار وته" راغلی دی.
(٤) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "شاه جهان" راغلی دی.
(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "چاره نه لري" راغلی دی.
(٦) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته.
(۷) دا بیت او ورپسې دوه بیته د "خ" په مصوره نسخه کې نشته.
(۸) "ق،ک" چاپ کې "خطر" راغلی دی.
(۹) د "خ" دوهمه نسخه کې "دا وادره" راغلی دی.

که دانور بښایسته ستوري ویل کېږي ... ته خورشید خوندې صورت لرې عیان (١)

له هرچا چې اوریږده شي دغه وایي ... چې ښایست دې زره نه لري نقصان

درولعل شو ویل درحمان خکه (٢)

چې دی ستا دلعلو وشونډو شوګویان

١٥٢ ١٧٦٩

چېرته دیار شونډې چېرته غم ددل وجان ... چېرته کمتی لال چېرته لعل دبدخشان

پاك ومنزه دی عشق دنفس له خاصیته ... چېرته چاه دګیډې چېرته چاه د زنخدان

لړ تفاوت نه دی درندی د زاهدی ... چېرته خلي جونه چېرته کونډې یتیمان

واړه بې وقوف دي که خوك دین پدنیا پلوري ... چېرته پنځه ورځې چېرته عمر جاودان

زارشه د هوا وحرص خیال ترقناعته ... چېرته ملك د مصر چېرته ده دغلامان

نه شي د ملنګو دخانانو سره کلی (٣)

چېرته عزیزخان چېرته ملنګ عبدالرحمن

١٥٣ ١٧٧٥

فراموش مې دی دستا په مینه خان ... خان لا څه دی بلکه عمر جاودان (٤)

لکه زه چې ستا د درپه خاوروخوښ یم ... هومره عیش وطرب نه لري شاهان

لکه زه چې ستا دغم پېښو ونه اخلم ... هومره پېښه اخستی نه شي پهلوان (٥)

هسې بې سروسامان یم ستا په عشق کې ... چې آګاه نه یم په سراو په سامان

هسې بې شرابو مست یم ستا په مینه ... چې خبر نه یم په ځمکه په آسمان

دا به څرنګ شي چې ته دکال وعده کړې ... په ما نه تېرېږي بې تا یو زمان

---

(١) دابیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته ، په "پ" چاپ ، ق، چاپ ، "ق، ک" چاپ ، د "خ" دوهمه نسخه اونیګمرې نسخه کې "روښان" او مصور نسخه کې "تابان" راغلی دی.

(٢) قلمي نسخې : " ترو دیل د رحمان درولعل شو، څکه".

(٣) چاپي دیوانونه : " نه شي دخانانو دملنګو سره کلی". د "خ" په لومړي نسخه کې "وبله کلی" راغلی دی.

(٤) داغزل د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته ، په نورو قلمي نسخو کې " عیش جاودان" راغلی دی.

(٥) دابیت د "خ" په نیګمرې نسخه کې نشته ، په "ق، ک" چاپ کې "دسرپېښې ونه" راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمامي عمر دستا په طلب ورك يم — لټوم دې په هر ښهر په بيا بان

كه له دره يې شړې كړې پر ېږدې ته (۱)

۱۵۴ — د پرمين دى ستا پر مخ عبدالرحمان — ۱۷۸۳

خوبه شمېرم زه غمونه د هجران — هومره د پر دي لكه ريگ د بيا بان (۲)

د سړي د دښمنۍ توان مې نه و — خداى را پېښه د ښمني كړه د آسمان

لكه خوك چې داوښ بار په مېږي كېږدي — هسې زه يم په خپل غم (۳) پورې ناتوان

لكه اور د بېلتانه چې په ما اوري (٤) — چالبدلى گنه اور دى په داشان

د يار غم به مې هغه سړى په شمار كړي (٥) — چې شمېرلي يې وېښته وي د خپل ځان

كه خوك والي حال دى څه دى په هجران كې — په خاطر دې تصور كا د و زخيان

ناقرار زړه (٦) مې د يار په هوا والووت — تش صورت مې په ځاى پاتې شو پرېشان (۷)

د يار ياد (۸) مې زړه په غېږ ستر گو يو وړ — لكه بت په دېوال كښلى يم حيران

ماوې زړه د مومن عرش دى خبر نه و م — چې به عشق زما داعرش (۹) كاندې ويران

عاشقۍ تر هغه حده بې هوش كړم — چې نه هوښ لرم نه صبر نه سامان

لوردلوره د تهمت په غونډ وويشت شم — ملامت را باندې والي درست جهان

چې داحال ور باندې نه وي ورغلى

۱۵۵ — په ويل به څه گروهېږي د رحمان — ۱۷۹۵

---

(۱) قلمي نسخې: "چې له دره يې شړې گناه يې كوم دى — د پردستا په مخ مېين دى يو رحمان". (۲) قلمي نسخې: "خوبه شمېرم - درد غمونه د هجران — هومره د پر دي لكه شگې د بيا بان". دا غزل د "خ" په دوهمه نسخه كې نشته.

(۳) "ق، ك" چاپ: "په خپل يار پورې ناتوان" راغلى دى. (٤) د "خ" په قلمي نسخه كې داسې دى: "لكه غم د بېلتانه چې په ما اوري".

د "پ" لومړۍ نسخه: "لكه ستا د بېلتانه كاڼي په ما اوري". (٥) قلمي نسخې: "زما غم به د هغه سړي په شمار وي".

(٦) په "پ" چاپ او "پ پ" چاپ كې "روح" راغلى دى.

(۷) په چاپي ديوانونو، د "خ" لومړۍ نسخه او نيمگړې نسخه كې "حيران" راغلى دى.

(۸) په "پ" چاپ، "پ پ" چاپ كې "دم"، "ق، ك" چاپ كې "غم" راغلى دى او دا بيت د "خ" په نسخه كې نشته. دوهمه مسرۍ يې په چاپي ديوانونو كې داسې ده:
"لكه بت چې په دېوال كې وي حيران".

(۹) د "پ" په لومړۍ نسخه كې "زړه" راغلى دى.

ورکه عاشقي شه هم يې نوم هم يې نښان — زه يې هسې خوار کړم لکه شګې(۱) د بيابان
زه د عشق په کار کې تېر تر سره هم تر مال يم(۲) — کشکې که په سر مې دا مشکل کا خدای آسان
کښېوتم د عشق په آدم خور وګرداب نو — نه په وړاندې تلی شم نه په بېرته ګرېزان
رنځ د عاشقۍ چې زه ظاهر کړم و طبيب ته — هيڅ ويلی نه شي طبيبان او حکيمان
شم ياران د دنيا واړه ګدايان دي — زه د عشق په اور کې سوی سرګردان(۳)
نه مې حال وچا ته ووې چې دا څه دی — عالم واړه په فکرت تللي حيران
د عشق اور را باندې بل شو خدای خبر دی — اوس رسوا شوم په عالم کې چاک ګرېوان

۱۵۶

راشه عاشقي مه کړه رحمانه او که نه وي
تل به په اور ناست يې که بادشاه يې د جهان

۱۸۰۳

خان سلطان د دې جهان — آخر د رومي خوار حيران
د قضا په حبل تړلی — په مثال د بنديوان
شېرين ځان ورځنه د زومي — نه يې زور رسي نه توان
که ښندي مال و ملک واړه — هيڅ رنګ نه مومي امان
نه يې مل نه يې حامي وي — درد يې ورشي په څپل ځان
درمانده ورته ولاړ وي — وزيران او وکيلان(٤)
هيڅ دارو يې کړلی نه شي — کوزکوز ګوري حکيمان

---

(۱) په چاپي ديوانونو کې "خاک" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "لوټه" راغلې دی.
(۲) د "پ" لومړۍ نسخه : " زه د عشق په کار کې تېر تر سرو مال يم ".
د "خ" لومړۍ نسخه : " زه د عشق په کار د بار کې تر سر تېر يم ".
د "خ" دوهمه نسخه : " زه د عشق په کار کې تر سرو تر مال تېر يم ".
مصوره نسخه : " زه د عشق په کار و زار کې تر سر تېر يم ".
نيمګړې نسخه : " زه د عشق په کار کې تر سر تېر يم بادې څه کړم ".
(۳) دا بيت او ورپسې دوه بيتونه د "خ" له دريمې قلمي نسخې نه نقل شول. او په وزن کې د اصل غزل سره برابر نه برابښي.
(٤) د "خ" په نيمګړې نسخه کې " اميران " راغلي دي.

بادشاهي يې پاتې کېږي ‌ ‌ ‌ زره يې چوي په ارمان

چې يې روح له تنه بېل شي ‌ ‌ ‌ نو ورپرې ژاړي فرزندان

يو ساعت ور باندې ژاړي ‌ ‌ ‌ آخر صبر کا خوا ران

بيا يې غسل له ره واخلي ‌ ‌ ‌ په تخته باندې عريان

په جامو يې هوسېږي[1] ‌ ‌ ‌ مرده شوی او غسالان

چې له قبره يې بازګشت شي[2] ‌ ‌ ‌ مال يې يوسي ميراثيان

په مسند يې دعوی کاندي ‌ ‌ ‌ هم دوستان هم دښمنان

سهيلی به يې تالا کا[3] ‌ ‌ ‌ هغه خپل مصاحبان

نام نښان يې هسې ورک شي ‌ ‌ ‌ لکه عين بې نښان

نه يې نقش پاتې کېږي ‌ ‌ ‌ نه يې اسم په جهان[4]

دا دنيا آب روان ده ‌ ‌ ‌ نه شي نقش په آب روان

که هزار رنګ ابادي کا[5] ‌ ‌ ‌ نهايت خانه ويران

لکه باد هسې به تېر شي ‌ ‌ ‌ کاروبار ددې دوران[6]

۱۸۲٤ دا بيان دور و دراز و ۱۵۷

کوتاه قطع کړ رحمان

---

(۱) په چاپي ديوانونو کې "خوشاليږي" راغلی دی.

(۲) په قلمي نسخو کې "بازګشت کا" راغلی دی.

(۳) چاپي ديوانونه : "سهيلی يې تالا کاندي".

د "خ" دوهمه نسخه : "سهيلی دده تالا که".

مصوره نسخه : "سهيلی يې هم تالا که".

(٤) په قلمي نسخو کې "زمان" راغلی دی.

(۵) د "پ" لومړۍ نسخه : "که ابادي کړ هزار رنګه".

د "خ" دوهمه نسخه او نيمګړې نسخه : "که هزار آباداني که".

(٦) چاپي ديوانونه : "هغه دور هغه دوران".

د "خ" په قلمي نسخو کې : "هغه دور د دوران".

که څوګوا ترآشنایۍ وی بېلتون[1] ... ما به نه وو له چاکرۍ پیوستون

چې مې یار په سترګو ولید ماګومان کړ ... چې هم دا ساعت مې بیا مونده ژوندون

په نیمګړي داد خبر د فلك نه وم[2] ... چې به بیا شي په ستنه راڅخه ستون

نن ساعت چې له دې حاله خبردار شوم ... سکه ترنن ورځې بهتره وه پرون

هر زحمت چې پر ما راشي شکرانه کړم[3] ... عاشقي ترهسې حده کړم زبون

اوس که لاس پرېږده مرم هیڅ سودنه کا ... هغه چار چې مې له لاسه شوه بیرون

لکه لمر په څلورم آسمان ځلېږي ... محبت یې له حجابه کړم بېرون[4]

چا چې رخه له سینه مخه راکوله ... اوس دې سوړ په نیلي ګرځي د ګردون

په داهسې حال کې څرنګ صبوري شي ... چې دښمن دې کامراني کا ته محزون

که په صبر سره تورکاڼي لعل کېږي ... لعل یې مه کړې په داهسې شواخون[5]

د دنیا هوس په ما باندې حرام شو ... د هوسې هسې کړم شپه په مېړتون[6]

دریغه یوځله هغه زما په حال شوی ... چې وما وته لولوي صبر و سکون

158 ... رحمان ته ځان هغه ګړی آسمان شي ... 1837

چې دستا په غم کې[7] ناست وي سرنګون

---

(۱) دا غزل د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته ، د پېښور په چاپي دیوانونو کې لومړۍ مسرۍ داسې ده : " که څوګوا له آشنایۍ نه وی بېلتون".

(۲) د "پ" لومړۍ نسخه : " په نیمګړی داد فلك د خبر نه یم".

(۳) دا بیت د "خ" په نیمګړي نسخه کې نشته ، په نورو قلمي نسخو کې " شکرانه" راغلی دی.

(٤) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.

(۵) په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې " ځیګرخون" راغلی دی.

(۶) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.

(۷) د "خ" په لومړۍ نسخه ، نیمګړې نسخه او مصوره نسخه کې "چې د یار په غم کې" راغلی دی.

# و

هیڅوك مه شه گرفتار د تورو زلفو ... مه اسیر شه[۱] په كفار د تورو زلفو
هم په شان د تورو زلفو به پریشان وي ... هر چي كاندي انتظار د تورو زلفو
د محشر په عالم كله قراري وي[۲] ... څوك به څه غواړي قرار د تورو زلفو
څو يي صبح[۳] د قيامت دميده نه شي ... ورځ به نه شي شب تار د تورو زلفو
مگر شمع[۴] د سپين مخ شي باندي بله ... گنه نشته بل انوار د تورو زلفو
تار په تار كا د عاشق د خاطر خونه ... چي حلقي شي تار په تار د تورو زلفو[۵]
چي تمام جهان يي نښتي دى په دام كي ... څوك به څه كاندي انكار د تورو زلفو[۶]
زه له كوم، يوه كمنده سر وكاږم ... كمند وند دي هزار[۷] د تورو زلفو
هومره زړونه يي پيلي په هر تار دي[۸] ... چي تسبيح كړه خداى زنار د تورو زلفو
په تندي د محتسب كا دره ماته ... چي پري راشي دره دار د تورو زلفو[۹]

---

(۱) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : "اسير مه شه"
(۲) چاپي ديوانونه او د "خ" لومړی نسخه : "د محشر عالم به كله په قرار وي"، خو "پ" چاپ كی د "كله" پر ځای "څرنگ" راغلی دی.
(۳) د "پ" نسخی او د "خ" دوهمه نسخه : "ولی صبح".
(۴) مصوره نسخه : "كله".
(۵) د "خ" دوهمه نسخه : "چي حلقه شي خلقه مار د تورو زلفو". او چاپي ديوانونه، مصوره نسخه او د "خ" لومړی نسخه كی "چي حلقه شي" راغلی دی.
(۶) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ : "څه به كاندي څوك انكار د دروېشانو".
(۷) د "پ پ" چاپ : "بسيار".
(۸) د "خ" لومړی نسخه : "هومره زړونه يي پيلی هر تار دي".
(۹) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه كی نشته.

ملك د هند او د حبش يې واړه زېر کړ(۱) — چې پيدا شو شهريار د تورو زلفو

سامارا نو غونډې گرځي په گنجونو(۲) — نه شي هيڅ په زړه کې ډار د تورو زلفو

که بل مار چيچل په لاسو يا په پښو کا(۳) — په زړه خوله لگوي مار د تورو زلفو

د رحمان ترقلم مشك و عنبر ووري

۱۵۶ — چې آغاز يې کړ اشعار د تورو زلفو — ۱۸۵۱

اوښکې نه لري حساب زما د سترگو — بې حسابه شو سيلاب زما د سترگو

سياهي مې همه واړه سفيدي شوه — هسې پرېولې شو کتاب زما د سترگو

کله مې سره دي کله مې سپين دي کله مې تور دي(۴) — اوښکو يو وړ هر اسباب زما د سترگو

چې رخسار د هغه يار راغخه پټ شو — حبطه شو آب و تاب زما د سترگو(۵)

چې گوزار مې په داگرمو اوښکو نه شو(۶) — مگر کاڼي دي حباب زما د سترگو(۷)

که نور خلق د آفتاب په رڼا زيست کا(۸) — مخ د ترکو دی له آفتاب زما د سترگو

ما يې خيال لره ابلق د سترگو زين کړ — قدم نه دي په رکاب زما د سترگو

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه : "ملك د هند د حبش واړه زېر زبر کړ".
(۲) د "پ" په لومړۍ نسخه کې "ملکو نو" راغلی دی.
(۳) "ق ک" چاپ ، "ق" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه : "که بل مار چيچل په لاسو په پښو کاندی".
مصوره نسخه : "دبل مار چيچل پر لاس و يا په پښو وي".
(٤) دا بيت په مصوره نسخه کې نشته لومړی مسری يې د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده : "که مې سره دي که مې تور که مې سپين دي".
د "خ" لومړۍ نسخه : "که مې سره دي که يې سپين دي که يې تور دي".
د "خ" دوهمه نسخه : که مې سره وو که مې تور وو که مې سپين وو".
(۵) "پ" چاپ او د "پ پ" چاپ : "چې رخسار د هغه يار راغخه پټ شي حبطه شي آب وتاب زما د سترگو".
"ق ک" چاپ : "پاتې نه شو آب وتاب زما د سترگو".
"ق" چاپ : "حيف چې پاتې شي آب وتاب زما د سترگو".
د "خ" دوهمه نسخه : "آبو تر شو آب وتاب زما د سترگو".
(۶) چاپي ديوانونه ، مصوره نسخه ، او د "خ" لومړۍ نسخه : چې گوزار يې په داگرمو اوښکو نه شي".
د "خ" دوهمه نسخه : "چې گذران مې په داگرمو اوښکو نه شي.
(۷) مصوره نسخه او د "خ" دوهمه نسخه : "مگر کاڼي شه حباب زما د سترگو".
(۸) د "خ" دوهمه نسخه : "که نور خلک د افتاب په مخ کې گرځي".

چې مې[1] نقش په زړه سرې شونډې دیارشوې ... کان د لعلو شو ګرداب زما د سترګو
لکه تښتي وحشیان له مردمانو[2] ... هسې وتښتېده خواب زما د سترګو

١٦٠ ماړحمان چې سترګې روڼې په خپل یار کړې[3] ١٨٦١
اوس محال شو[4] اجتناب زما د سترګو

هر ساعت زما د غوږ په تا وولو ... د فلک لاسونه شنه شوه تر څنګلو
هومره غم د بېلتانه رابا ندې را غی[5] ... چې حساب یې نه په خوله شي نه په ګینلو
هغه سترګې چې نرګس وې هم با دام وې ... تېرې تورې شوې زما په قتلولو
هغه شونډې چې شیرینې وې تر قندو ... ماهېڅ فیض ترې بیا نه موند بې سکنځلو[6]
داکاږه کاږه بانه اوکږې ورو ځې ... نور لخه نه کا بې کږو وکږو وهلو[7]
په شپه نو کې د عاشق په وینو سرې کا ... سبا پورې کا نکریزي په منګلو
دا زما د قاتل لاس دی نه پوهېږم ... که تر باغ وتلی څانګ دی د سرو ګلو
دریغه مرګ یې په دنیاکې نیمه خوا شوې ... ښایسته غوټۍ یې پرې یستې د ګلو[8]

١٦١ هسې بند شو په کمند د تورو زلفو ١٨٧٠
چې حیران یم د رحمان په خلاصولو[9]

---

(١) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته، مصوره نسخه: "چې یې نقش".
(٢) د "ب پ" چاپ: "لکه وتښتي وحشیان له مردمانو".
"ق، ک" چاپ: "لکه تښتي چې وحشیان له مردمانو".
مصوره نسخه: "لکه تیښینند وحشیان که له مردمانو".
(٣) د "خ" لومړی نسخه: "ما رحمان چې په سترګو روڼی په خپل یار کړه".
(٤) چاپي دیوانونه، مصوره نسخه او د "خ" دوهمه نسخه کی "محال دی" راغلی دی.
(٥) په مصوره نسخه کی "اوري" راغلی دی.
(٦) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه: "لو رخه نه کړي یې کږ وور د ویلو".
(٧) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کی نشته.
(٨) دا بیت په قلمي نسخو کی نشته.
(٩) د "خ" دوهمه نسخه: "حو حیران یم زه رحمان په خلا صولو".

تا چې رنګ د میو ورکړ و لبانو ... او دې پورې کړ په کور د میخوارانو

چې دې جوړه کړه لینده د کږو وروځو ... خوب به ښکار کړې په حرم د غزالانو(١)

چې دې اسره د ځنځیر په زلفو کښېښود ... معطر دې کړ دماغ د دیوانګانو

په رخسار چې دې د خط غبار څرګند شو(٢) ... سربلنده شوه خرقه د خاکسارانو

کا به غشي وار به بېرته ځي له ښېښې ... زه ازار کړم ستا کږو وږو(٣) مژګانو

چې زما د یار تر منځه جدايي کا ... کاڼي پرېوځي په خونه د بدانو(٤)

که مې چېرې خواست د خدای په در قبلېږي ... سوال به زه د عمر کړم د مهوشانو

سور پېزوان دې په سر و شونډو هسې زېب کا ... لکه جیم په قلم ښکلی کاتبانو

د سرو ټیک دې شهزاده په جبین پروت دی ... شینکی خال دې محاصل په بندیوانو

دواړه لبچې دې وکښلې مصرۍ تورې ... در پوهېږم سر به پرې کړې د خوارانو

١٦٢

ستا له غمه په ځان زړه د رحمان سوځي
لکه شمع په زیارت د شهیدانو

١٨٨١

چې کوتلی وي په تېغ ستا د چشمانو ... سرحلقه دی د جمله وو شهیدانو

ستا وصال د سرو پرېکړیو دی دلبره ... ژوندي نه مومي جنت بې مردګانو

د پېرې سورې عاقل له ضرور دی ... دا مقام دی د سرتورو دیوانګانو

په سرپوښ محل(٥) کې نور د آفتاب نه وي ... دا دولت دی نازل شوی په ډاګیانو

هم په دا زمانه سترګو وینې څاڅي ... چې دې نقش پکې رنګ دی دلبانو

---

(١) قلمي نسخې : "خوب دې زوبکړې د حرم په غزالانو".
(٢) د "خ" په دوهمه نسخه کې "پیدا شو" راغلی دی.
(٣) د "خ" لومړۍ نسخه : "زه ادا کړم ستا کږو وږو مژګانو".
د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه : "زه ادا کړم ستا کږو وږو مژګانو".
او د "پ" لومړۍ نسخه : "زه ادا کړم ستا کږو وږو څومژګانو".
(٤) دا بیت او ورپسې څلور بیتونه په قلمي نسخو کې نشته.
(٥) د "خ" په دوهمه نسخه کې "بازار" راغلی دی.

مشکین خال دې په سرو لبو هسې زېب کا — لکه مُهر په مخزن د درمرجانو

۱۶۳ — ۱۸۸۸

ماسواالله یاره هرچې دی راحت نه

واړه کفر دی په دین دعاشقانو

که نظر کا خوك په کار د درویشانو — خود به ووینې وقار د درویشانو

په دغه لارې به ورشي خدای رسول ته(۱) — که خوك یون کاندې په لار د درویشانو

هر گفتار به یې د خدای په در قبول وي(۲) — چې قبول یې(۳) وي گفتار د درویشانو

په یوه قدم تر عرشه پورې رسي — مالبدلی دی رفتار د درویشانو

هسې گرم بازار بل په جهان نشته — لکه گرم دی بازار د درویشانو

هومره خلق یې زیارت(٤) کا پس له مرگه — چې بازار وي په مزار د درویشانو

بادشاهان د دنیا واړه پرې پرانته دي(۵) — لکه خاورې په دربار د درویشانو

هر بهار لره خزان په جهان شته دی — خزان نه لري بهار د درویشانو

د جنت د باغ گلونه به یې هېر شي(۶) — که خوك ووینې گلزار د درویشانو

چې دنیا یې کړه د خدای د پاره ترکه — صد رحمت شه په روزگار د درویشانو

د قارون و حال ته گوره حال یې څه شو — راشه مه کوه انکار د درویشانو

په هر چا چې د غضب لینده کا سنجه(۷) — خطا نه درومي گوزار د درویشانو

---

(۱) دابیت په مصوره نسخه کې نشته د "پ" په نسخو او د "خ" په لومړی نسخه کې دامسرۍ داسې ده: "په دغې لارې به ورشې وخدای ته".
(۲) "ق،ک" چاپ، "ق" چاپ او د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه کې "قبول شي" راغلی دی.
(۳) "پ" چاپ، "ق،ک" چاپ، "ق" چاپ کې "چې قبول یې کړه" راغلی دی.
(٤) قلمي نسخه: "طواف".
(۵) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړی نسخه: "بادشاهان د دې دنیا واړه پرانته دی".
د "خ" دوهمه نسخه: "بادشاهان د دنیا ورته پرانته دی".
مصوره نسخه: "بادشاهان د دنیا واړه پرانته دی".
(۶) "ق،ک" چاپ: "به دې هېر شي". د "خ" لومړی نسخه: "به یې هېر دي".
(۷) په قلمي نسخو او "ق،ک" چاپ کې "غوکه"، د "پ پ" چاپ او "ق" چاپ کې "کشنه" راغلی دی.

١٦٤ — ١٩٠١

درست دیوان د (ما لح) دارن زار تر دا غزل (۱) شه

چې بیان یې کړ کردار د درویشانو

دپېښوان خمی دي ز یبکا پر لبانو — توري زلفي دي ځنځير د عاشقانو (۲)

داسور تیک دي شهزاده پر اوربل پروت دی — شینکی خال دي معاني د بندیوانو

دواړه لب دي ښایسته تر سرو یاقوتو — شرموله ده زلحہ ستا د ندانو

دوه رخساره دي دوه سیب د سمرقند دي — پر سینه دي دوه نارنج در نخو رانو

دواړه لیچې دي کړې کښلي مصري توري — در پوهېږم سر به غوڅ کړي دخوارانو (*)

توري وروځي دي کړې پر جبین (زیباکا) (۳) — لکه جیم پر کاغذ کښلی کاتبانو

دپیریه سیوری عاقل لره ضرور دی — دامقام دی د سرتورو ملنګانو (*)

ستا وصال د سر پریکړیو دی دلبره — ژوندي نه مومي جنت بې مردګانو (*)

دلیلی د کوڅې سپی پر مجنون ښښن شو — په بار بار یې ښکلاوه پر دو و عینانو

١٦٥ — ١٩١١

ماسوا له یاره هر چې وي (ما لح) نره (*)

واړه کفر دی په دین د عاشقانو

کهرځو په صحرا سر شوم هم په کلیو — بیا مې نه موند هیڅ خبر د هغو تللیو

خدای زده کوم پې خواته لا اهل حال یې خبری — خبر نه یم دګرنګ له پریو تلیو (٤)

له دې غمه مې زړه چوي که څوک خبر وي (٥) — لږ په ما هم خبر وکړي خدای ساتلیو

پس له دې به چېرته درومی ځای مو کوم دی (٦) — راته وایه د دنیا په سرای راغلیو

---

(۱) مصوره نسخه : "تر یو غزل شه".
(۲) دا غزل د "خ" له دریمې قلمي نسخې نه نقل شو.
(۳) په قلمي نسخو کې "پر جبین پروت" راغلی دی. (*) دا شعر جیتونه په ځنګینیو غزلو کې تکرار راغلي دي.
(٤) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٥) د "خ" دو همه نسخه کې "که څوک چراشي" او په مصوره نسخه کې "که څوک خبر ین ی" راغلی دی.
(٦) دتېپ نسخې او د "خ" لومړۍ نسخه : "پس له دې به چېرته درومو ځای مو کوم دی". مصوره نسخه : "پس له دې به چېرته درومم ځای مې کوم دی".
د "خ" لومړۍ نسخه : "پس له دې به چېرته درومې ځای دی کوم دی".

ګوندې ستاسو په مخ زه هم پښنده شم(۱) — لاس دخدای ودرته نیسي ، پسند لیو

هېڅ خبر يي په هېڅ لوري مونده نه شي — کديي غوا ړې شپه او ورځ په سپړو پليو

لدنا پوهه خلکه نه کېږي پو ښتنه — زه وتاسې وته وایم پوهېد ليو(۲)

خبر نه يم چې په باب مې کښلي څه دي؟

زه رحمان په اند ېښنه يم لـه دې ښکليو

۱۹۶ — ۱۹۱۹

---

ددلبرو په درګاه — نه رحمت(۳) لرم نه جاه

غوښي مې دزړه ولې(٤) — دچشمانو په نګاه

هومره قدر مې پرې نشته(٥) — لکه قدر د ګیاه

يو(٦) نظر رابانديې نه کا — از براى عند الله

هېڅ له ځانه خبر نه يم — چې يې څه لرم ګناه(٧)

که له غمه يې سرپټ کړم — بل سر نه لرم پناه(٨)

د رحمان په خبر و مه شه(٩)

حال احوال دچا تباه

۱۹۷ — ۱۹۲٦

---

(۱) چاپي ديوانونه اود "خ" قلمي نسخې : " ګوندې ستاسو په مخ زه هم پسند يده شم".

(۲) دا دوه بيته د "خ" له دېمې نسخې نه نقل شول او دوهم بيت د "پروون" په مجموعه کی هم شته.

(۳) د "خ" دوهمه نسخه : "عزت"

(٤) د "خ" دوهمه نسخه : "دزړه دينې"

(٥) چاپي ديوانونه : "هم نشته"

(٦) د "خ" لومړۍ نسخه : "ترو نظر دابانذي نه کا".

(٧) د "پ پ" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه : "چې زه څه لرم ګناه". "ق ، ک" چاپ : "چې يې زه لرم ګناه".

(۸) دا بيت په مصوره نسخه کی نشته.

(۹) چاپي ديوانونه او نوري قلمي نسخې : "د رحمان په خير دې نه شي".

ورځ دې تېره په شومه کړه شپه له خوبه | خدای به کله یاد وې خانه خرابه
په شتاب شتاب دې تلل دي که پوهېږې | غافل مه شه د دې عمر له شتابه
دلته دم او قدم دواړه په حساب دي | پل غلط له لارې مه ږده بې حسابه
راستولی خدای حساب دی په کتاب کې | خبر زده کړه له حسابه له کتابه (۱)
ته وخپلو نېکو بدو ته نظر کړه | چې بدي دې څو تېرې کړې له ثوابه (۲)
په هغه جهان به خړ نګ ځواب وکړې (۳) | چې په دا جهان عاجز یې له جوابه
عاقبت به تورو خاورو له درومې | ځان به څوځنېږې په ګوته له ترابه (۴)
نه دې پېژنم په اصل کې تراب یې | ته چې ځان ځنېږې په ګوتو له ترابه (۵)
څو په دا جهان او به له تندې نه شې | په قیامت به دې سینه نه شي سیرابه
چې آفتاب یو نېزه شي بیا به خبر کړې (۶) | چې نن (۷) سیوری له تېښتې له آفتابه
د کاغذ په کشتۍ سیر کوې رحمانه | دا کشتۍ به دې مرګه کاندي غرقابه (۸)

۱۹۸ — ۱۹۳۸

په ازاد د چا راضي مرشد کامل نه
که خلاصي په قیامت غواړې له عذابه

په ورځ ناست یې بې طلبه (۹) | په شپه خوب کړې بې ادبه
لاس دې وخاته له دواړو | هم له روزه هم له شبه

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۲) قلمي نسخې: "ته دا خپل نېک و بد و تله مخ پله چې ثواب دې څو تېرې کاله عذابه".
(۳) د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه: "په هغه جهان به خړ نګه ځواب کړې". د "خ" دوهمه نسخه: "په هغه جهان به خړ نګ ته ځواب کړې".
(٤) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(۵) دا بیت او ور پسې بیت له قلمي نسخې نه نقل شو.
(۶) قلمي نسخې: "تو د به خبر کړې".
(۷) چاپي دیوانونه: "اوس چې".
(۸) دا بیت د "خ" په دواړو نسخو کې نشته. لومړی مسری یې په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "د کاغذ په کشتۍ سیل به کړې ترکومه".
(۹) په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړۍ نسخه کې "بې مطلبه" راغلی دی.

نه دلي شوې نه هوري شوې — ترمنځ (۱) ورك (۲) شوې مذبذبه
عبادت دې په ریا شو — په مذهب کې بد مذهبه (۳)
مدام بندي په سبب کې — بې خبر له مسببه
واړه تشې شرومې شارې — خبر نه شوې له مطلبه
ته اوده ورباندې سوړ (۴) لې — آس دې یون کا بې جلبه
تن دې تش په توره وسو — آس دې داغ کړ بې منصبه (۵)
دراکب چې واك پرېږدي شي — سود یې څه وي له مرکبه
له ژوندیو سره ناسته (۶) — له مړ ده ځې مرکبه
هلاك لوی شوې په اوبو کې — اوبه نه پېژنې کبه
لکه کاڼې یا کودری — په دریاب کې تشنه لبه
ناآګاه ځان آګاه بولې (۷) — دا خبره ده عجبه (۸)
مراد له زهده معرفت دی — نه تش ځان وژل اقربه

۱۶۹ — ۱۹۵۳

د حال شراب له عشقه
نه له کورو له عنبه (۹)

ته شهلا (۱۰) یې شکر لبه — ګل رخساره سیم غبغبه

---

(۱) د "خ" دري واړه نسخې : " ترمیان ".
(۲) چاپي دیوانونه : " ډوب شوې ".
(۳) دا کلمه د "ب" په لومړي او د "خ" په لومړي نسخه کې " بې مذهبه " راغلې دی.
(۴) قلمي نسخې : " ورباندې ناست لې ".
(۵) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۶) په "پ" چاپ، "ق" چاپ، "ق ک" چاپ اود "خ" لومړۍ اودوهمه نسخه کې " ناست لې " او د "پ پ" چاپ کې " ناستا وی " راغلی دی.
(۷) قلمي نسخې : " ناګاه خپسرا ګاه بولې "
(۸) "ق ک" چاپ اود "ق" چاپ : " دا خبره عجائبه ".
(۹) چاپي دیوانونه : " نه د انګور نه له عنبه ".
(۱۰) د "پ پ" چاپ کې " شهلا " راغلی دی.

په نادرو کې نادره — په عجبو کې عجبه
په جمله وُ معشوقو کې — بوالعجب یې منتخبه
بې زیوره ښایسته یې (۱) — بې ترتیبه مرتبه
دغه داد د الهی دی (۲) — بې تالاشه بې طلبه
آب حیات چې حیات بیا مومند — ستا د شونډو له سببه (۳)
مخ دې سپین تر سپین سبا دی — زلفې تورې تر تور شبه
ستا د مخ عرق دانه وو — زینت را نیو له کوکبه (٤)
د ښایست مخې دې نشته — تر مشرقه تر مغربه (۵)
د وصال مونده دې گران دي — مگر فضل شي له ربه (٦)
چې د رب فضل پرې وشي — هغه خلاص شي له غضبه (۷)
دا دولت د خدای په داد دی — مونده نه شي له نسبه (۸)
عشق څه هسې علم نه دی — چې حاصل (۹) شي له مکتبه
مکتب حال د مذهب وایي — عشق سیوا دی له مذهبه
د عاشق مذهب هم دا دی — چې دم نه وي بې مطلبه (۱۰)

۱۷۰ — ستا د حسن په تعریف کې — ۱۹۶۹
تمام گونگ دی (۱۱) له ادبه

(۱) قلمي نسخې : "بې زیوره دل فریبه".
(۲) د "خ" قلمي نسخې ، "دالیو داد الهي دی".
(۳) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه او د "پ" لومړۍ نسخه : "آب حیات و حیات بیا مونده ستا د لبو له سببه".
(٤) په ټولو چاپي دیوانونو : "ستا د مخ عرق دانه ده زینت دار وه له کوکبه".
(۵) دا مسری په مصوره نسخه کې داسې لوستل کېدای شي : "مگر مهر وشي له ربه".
(٦) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته ، په نورو قلمي نسخو کې دا مسری داسې ده : "مگر مهر وشي له ربه".
(۷) دا بیت د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۸) د "خ" لومړۍ نسخه کې "منصب" راغلی دی.
(۹) په قلمي نسخو کې "حاصلیږي" راغلی دی.
(۱۰) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته ، د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې : "یو دم نه دی بې مطلبه". په "ق" چاپ او "ق.ک" چاپ کې د "نه وي" پر ځای "نه دی" راغلی دی.
(۱۱) په چاپي دیوانونو کې "شو" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "یم" راغلی دی.

په هر ذره چې د یار مینه شي غالبه — بله مینه یې هېڅ نه وي مناسبه
نوري وار د مرتبې به ورته هېڅ شي — که خبر شي څوك له هسې مراتبه
لیاقت یې هر وګړي څخه نشته — عاشقي یوه پایه ده عجایبه
د طلب له کوتاهۍ وېره وکړه (۱) — که هر څو دې لاره کوتاه ده طالبه
عشق څرګنده خزانه ده خوار هغه شو — چې څرګنده خزانه شوه ترې غایبه
غوره (۲) خط د مهرویانو تر خط نشته — که هزار رنګ کتابونه کړي کاتبه
هېڅ یې مه پوښته له فرضو له واجبو — په هغو چې عاشقي کړي خدای واجبه (۳)
عاشقان تر سر و ماله یار ته تېر دي — خدای دې دا طائفه نه کاندي کاذبه (۴)

۱۷۱ — ۱۹۷۸

زه کامګار (ان) دخپل صاحب په رضا زیست کړم
څه په کار دی بنده بې خپله صاحبه (۵)

تاچې په دا تورو سترګو وکاته وماته — زړه دې زما تور کړله دې نوره مخلوقاته (۶)
ما خو چې ته ولیدې هغه ساعت مې ووې — نوره به مې مینه د زړه نه شي له تا ماته
شیخان او زاهدان چې نصیحت وماته وایي (۷) — نه دي خبر شوي ستا د مخ له محسناته
څه وشو که زه انګشت نما شوم ستا په مینه — لا تر ما نه خوبان یې وقاضي وهم ملاته (۸)
مرم په دا چې ماله تا جار باسي هغه خلق — بیا دې په دیدن تر ما ړدي غلي وخواته (۹)

---

(۱) د "خ" لومړۍ نسخه : "د مطلب له کوتاهۍ وېره ومه کړه".
(۲) د "پ" په لومړۍ نسخه کې "دوړ" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "بهتر" راغلی دی او هم دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته..
(۳) د "خ" لومړۍ نسخه : "په هغو چې د یار مینه شوه واجبه".
(٤) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته ، په لوړو قلمي نسخو کې دوهمه مسرۍ داسې ده : "خدای به دا طایفه نه کاندی کاذبه".
(۵) چاپي دیوانونه : "څه په کار دی دا بنده بې خپل صاحبه".
(۶) دې ردیف قول بېتونه د "پ" په دوهم او د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې نه دي راغلي.
(۷) دا مسرۍ په "پ" چاپ او د "خ" په دوهم قلمي نسخه کې داسې راغلې ده : "شیخ وزاهدان چې نصیحت والي وماته".
(۸) دا مسرۍ په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده : "لا تر ما نه خوبن یې وقاضي ته هم ملاته".
په "پ ب" چاپ کې داسې راغلې ده : "لا تر ما ته خوبن یې وقاضي وهم ملاته".
د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده : "لا تر ما خو مینه کړه د قاضي او و ملاته".
(۹) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده : "بیا دې په دیدن تر ما ورنې زغلي وخواته".

۱۷۲ — ۱۹۸٤

زه رحمان چې دې وینم یاره وایم خدایه خیر کړې
ګنه ښاپېرۍ ده دېنې آدم له ذاته (۱)

که د عقل څه اثر لرې وسر ته — لاس په سر مه شه د هر ګېډي ودن ته
په نظر د هغو خاورې سره زر کېږي — هر چې نه لري نظر (۲) وسیم وزر ته
بې منته جام د زهرو خښلی ښه دی — نه هغه چې منت بار (۳) وي وکوثر ته
د یوسف له حاله زده کړه د غه پسه — وایه حال د زمانې وبرادر ته
دې فلک وچا ته هېڅ بښلي نه دي — چې یې نه دی راپېرودی ځنې بېرته
د خوار دعوی یې وګڼه ممکنه — که یې پوروي دیوې جودانې درته (٤)
که له خدایه دې وخلق وته مخ شي — له فردوسه به دې مخ شي وسقر ته
همېشه به در په درګر ځې رټلی — داستوګنې ځای به بیا نه مومې چېرته (۵)

۱۷۳ — ۱۹۹۳

د دې سست بدن منت په رحمان باندې
چې له خپله دره تلی نه شي بل درته

چې نظر کړم د خوبانو ورخسار ته — حق حیران د خدای په کړه شم ودې کار ته (٦)
له دهشته یې ربیان پوښتېدلی نه شم (۷) — خدای زده څه به یې ویلي وې ربیار ته
خلوتیان لکه برده پکې خرڅېږي — غږ یې نه خېږي د حسن وبازار ته

---

(۱) دا بیت په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "زه رحمان چې یار ووینم وایم خدایه خیر کړې ګنه ښاپېرۍ ده دېنې آدم له ذاته".
په "پ پ" چاپ کې دا بیت داسې راغلی دی: "زه رحمان چې ووینم یار وایم خدایه خیر کړې ګنه ښاپېرۍ ده دېنې آدم له ذاته".
د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې دا بیت داسې راغلی دی: "زه رحمان چې یار ووینم خدایه خیر کړې ګنه ښاپېرۍ ده دېنې آدم له ذاته".
(۲) په مصوره نسخه کې "حاجت" راغلی دی.
(۳) په چاپي دیوانونو او "خ" دوهمه نسخه کې "منت بار شی" راغلی دی.
(٤) چاپي دیوانونه: "که رتې یا جودانه به یې وي درته".
(۵) قلمي نسخې: "داستوګنې ځای به نه مومې هیچېرته".
(٦) چاپي دیوانونه: "آئینې غوندې حیران شم ودې کار ته".
(۷) د "پ" لومړۍ نسخه: "له دهشته یې ربیار ته کتلی نه شم".

ته چې ما پوښتې د يار له حقيقته ... ځوك د يار خبرې کاندې واغيار ته
درد و غم د عاشقۍ څه هومره نه دي ... چې يې عقل د چا رسي و مقدار ته
زه و يار چې سره خپل غمونه شمار کړو ... يار و ما ته حيرانيږي زه و يار ته
د دنيا چارې همه واړه په وار شي ... ما د يار غمونه نه پرېښي دي و وار ته[1]

(۱۷۴) ناصح هسې وزګار چېرې دی له عشقه[2] (۲۰۱)
چې غوږ و نيسي ناصح غونډې وزګار ته

ما د دهر غم وهلی دی په لته ... د پيالې د صراحۍ له برکته
که اوبه دي د حيات په ظلمت کې[3] ... ساده رويو ما راکړې بې ظلمته[4]
هغه يار چې و ما جام د ميو راکړ ... د د سنو وينې مې وڅښې بې شدته[5]
بې خودۍ د دنيا له غمه خلاص کړم[6] ... لاړمې بيا مونده بېرون له شش جهته
د دښمن په دښمنۍ مې خنده کېږي[7] ... لکه شمع د مقراض له خصومته
بې خيرې مې کل په خير باندې شمېرلې ... د زړې په خوله کې ناست يم فراغته
مړ بهتر دی تر هغه چې ځوك بې پت شي[8] ... په ياری کې دې خدای نه کا ځوك بې پته
داسې چې په اور سوځي مرادې دادی ... چې په اور کې سوی بنديم نه لې پته[9]
خدای هاله د سړي ياد شي چې دردمند شي ... کمه نه ده دردمندي تر عبادته

---

(۱) دا بيت په چاپي ديوانونو کې نشته او د "پ" په لومړي نسخه کې د "وار" پر ځای "يار" راغلی دی.
(۲) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۳) "پ" چاپ او د "پ پ" چاپ کې "په تورتم کې" راغلی دی.
(٤) د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې "بې منته" راغلی دی.
(۵) د "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې د "بې شدته" پر ځای "بې شربته" راغلی دی.
(٦) د "خ" دوهمه نسخه: "بې خودۍ زه د دنيا له غمه خلاص کړم".
(۷) د "پ" نسخې او "خ" لومړي نسخه: "خنداشي" او "خ" دوهمه نسخه "خنداراشي".
(۸) مصوره نسخه کې "بې ننګ شي" راغلی دی.
(۹) د "خ" دوهمه نسخه: "داسې چې شيرين ځان سيزي په اور کې مرادې دادی چې په اور کې سوی بنديم نه لې پته". په چاپي ديوانونو کې د دوهمې مسرۍ د "چې" پر ځای "زه" راغلی دی.

په تدبیر و په تلاش کله مونده شي — چې موقوف وي هغه کار په عنایت[1]
که څوک سل نصیحتونه ورته وکا — غوږ یې نه وي د هېچا په نصیحت

۱۷۵ زه رحمان په سل حلقو د زلفو بند یم ۲۰۱۳
لا د پاسه یو پېزوان شو بله نته[2]

ستا په مخ کې څه[3] حساب د جمال نشته — ځکه ما څخه د صبر مجال نشته
ته د سرو د مال وېره په ما مه کړه — وېره ما څخه د سرو د مال نشته
زه په دا سبب له وېرې سره رېږدم — چې ستا وېره کې ثواب دی وبال نشته[4]
که وعده د بوې چارې یو ساعت کړې — د هغې چارې امید مې په کال نشته
د شهید و حال ته ګوره حال یې ښه دی — بې تا هسې حال زما دی بل حال نشته
روښنايي مې د چشمانو ستا دیدن دی — په دا کور کې بل چراغ او مثال نشته
په جویبار زما د سترګو سرو ته یې — په دا نهر باندې بل څه نهال نشته[5]
مخ دې بې خطه بې خاله هسې زیب کا — چې یې هېڅ حاجت په خط و په خال نشته
مخامخ که راته وګورې دلبره — په کاته کې دې ثواب دی وبال نشته[6]
د آفتاب په مخ کې هره ورځ زوال وي — ستا د حسن په آفتاب کې زوال نشته
په جذبه د محبت مې ځان ته راښکه — نور حاجت مې په ریبال او دلال نشته[7]

۱۷۶ ستا په یاد و رحمان هسې رنګ مشغول دی ۲۰۲۵
چې په زړه کې یې هېڅ غم د وصال نشته

---

(۱) دا بیت او ورپسې بیت له قلمي نسخې نه نقل شول.
(۲) چاپي دیوانونه: "لا د پاسه سور پېزوان شو بله نته".
(۳) په چاپي دیوانونو کې د "څه" پر ځای "چې" او په مصوره نسخه کې "هېڅ" راغلی دی.
(٤) قلمي نسخه: "چې ستا وېره د ثواب دی وبال نشته".
(۵) قلمي نسخه: "په دا نهر باندې خیر نهال نشته".
(٦) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(۷) دا بیت د "ق.ک" له چاپي دیوان نه نقل شو او په نورو چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې نشته.

مخ تہ کہ دې لمر وایم د لمر زلفې تار تار نشته — سرو کہ ستا قد بولم د سرو دې یون رفتار نشته (۱)

هر څوک چې دې ستا و آتشین رخسار تہ گل وایي — پوچ وایي داور پہ مخ کې ورد گلنار نشته (۲)

زلفې دې ناحقہ څوک سنبل بولي دلبرہ (۳) — ولې چې لہ مشکو سرہ هیڅ د گیاہ کار نشته

ما چې غني پہ غوږ و ستا د ر د سپیو واوریدہ — هسې رنگ بلبلہ پہ چمن کې پہ گفتار نشته (۴)

ستا د بدن هغہ کاچې یې سر پہ تنہ پاس نہ وي — ولې چې د سر د ښبتن حورو تہ لار نشته (۵)

۱۷۷ — ۲۰۳۱

یار بہ د رقیب پہ لوري خدای نہ کا گمان نہ شم (۶)
ولې چې د سپیو فرښتو سرہ کار نشته

کہ څوک لاس لہ سودہ وکا بې زیان نشته (۷) — پہ ملنگ باندې قلنگ اوتاوان نشته

دوفا خریداران دې بلخوا د ر و مې (۸) — د امتاع د زمانې پہ دوکان نشته

جدایي لہ آشنایي نہ پیدا کیږي — نا آشنا لرہ هیڅ غم د هجران نشته

مگر ځان وخدای تہ وسپارې امان شي (۹) — گنہ بلہ خوا د هیچا امان نشته

---

(۱) د "پ" نسخې : "قد کہ دې سرو بولم د سرو یون رفتار نشته".
"ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : "سرو کہ ستا قد بولم د سرو خوش رفتار نشته".
د "خ" لومړی، دویمہ او مصورہ نسخہ : "قد تہ کہ دې سرو وایم د سرو یون رفتار نشته".

(۲) د "خ" لومړی نسخہ : "پوچ وایي داور پہ مخ کې بل هسې گلزار نشته".
د "خ" دوهمہ نسخہ : "پوچ وایي داور پہ مخ کې قدر د گلزار نشته".

(۳) چاپي دیوانونہ : "زلفې دې ناحقہ خلک بولي د سنبل صنم".

(٤) د "پ" لومړی نسخہ : "ما چې واوریدہ غږ د ستا د سپیو — هسې رنگ بلبل هیڅ پہ چمن کې خوش گفتار نشته".
د "خ" دریمہ نسخہ : "ما چې غږ پہ غوږ و واوریدہ ستا د سپیو — هسې رنگ بلبلہ پہ هیڅ چمن کې خوش گفتار نشته".

(۵) دا بیت د "خ" پہ دوهمہ نسخہ او مصورہ نسخہ کې نشته، پہ نورو نسخو کې دا بیت داسې دی: "ستا د بدن هغہ کہ چې یې سر پہ تنہ نہ وي
ولې سر د ښبتن حورو تہ لار نشته".

(۶) د "پ" لومړی نسخہ : "یار بہ د رقیب پہ لوري خدای نہ کا گمان نہ — ولې چې فرښتو سرہ د سپیو هیڅ کار نشته".
د "خ" مصورہ نسخہ کې یې دوهمہ مسرۍ داسې دہ : "حق دی چې د سپیو فرښتو سرہ کار نشته".
د "خ" لومړی نسخہ : "حق دی چې د سپیو فرښتو سرہ روزگار نشته".
د "خ" دوهمہ نسخہ : "حق دی چې د سپیو و فرښتو و تہ لار نشته".

(۷) د "خ" دوهمہ نسخہ : "کہ څوک لاس لہ سودہ واخلي زیان یې نشته".

(۸) "پ" چاپ او "پ پ" چاپ : "دوفا خریداران بل خواتہ دې د ر و مې".
د "پ" لومړی نسخہ : "دوفا خریداران و بلہ خواتہ د ر و مې".

(۹) د "پ" او "پ پ" چاپ : "مگر ځان وخدای تہ پاسلي پہ امان شي".
"ق" چاپ : "مگر ځان وسپارې خدای تہ پہ امان شي".

هغه یار به زه وګورم خوا ته غواړم ... چې یې هیڅېرې منزل و مکان نشته
دلبران که هر څو ډېر شي په جهان کې ... زما یار غوندې دلبر په جهان نشته
چې هم قد لري هم زلفې هم سرې شونډې ... د غه هسې رنګ آفتاب په آسمان نشته(۱)
عشق عاشق لره یو هسې ګلستان دی ... چې و باغ وته یې(۲) لار د خزان نشته(۳)
عاشقان په عشق کې واړه سلطانان دي ... په دا ښهر کې نیستګار او ناتوان نشته
که مجنون غوندې په عشق کې څوک صادق شي(۴) ... دلیلی په دروازه کې دربان نشته

دانایان به د رحمان په قال پوهېږي(۵)
دلته کار د هر نااهل و نادان نشته

۱۷۸ — ۳۰۴۲

په دنیا کې مخ د یار دی نور څه نشته ... هر چې دی د یار دیدار دی نور څه نشته(۶)
چې و هجر و وصال ته یې نظر کړم ... یو دوزخ دی بل ګلزار دی نور څه نشته
کارخانې چې ددې دهر لیدی کېږي ... همګي د عشق سرکار دی نور څه نشته
هر مژګان یې په ما هسې چارې کاندي ... وایم عین ذوالفقار دی نور څه نشته(۷)
بویه مرد چې یې له مخه زلفې واخلي ... د غه ګنج دی د غه مار دی نور څه نشته
د محسن د حسنات صفت به څو کړم ... کوتاه وایم چې بې شمار دی نور څه نشته
و هر لوري ته چې د زړه په غوږ و ځیر شم ... جوړ د محبت بازار دی نور څه نشته
چې سپین مخ او توري زلفې یې لیدی شي ... د غه ګنج دی د غه مار دی نور څه نشته(۸)
هر طبیب ته چې ځان و ښیم دا وایي ... چې له عشقه دې آزار دی نور څه نشته

خوار رحمان که بې تامینه په بل چا که
عین د قتل سزاوار دی نور څه نشته

۱۷۹ — ۲۰۵۲

---

(۱) دا بیت په "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ، د "خ" لوړی او دویم نسخو او مصوره نسخه کې "جهان" او په "پ پ" چاپ کې "دوران" راغلی دی.
(۲) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. (۳) د "خ" لوړی نسخه: "چې دې باغ وته لار د خزان نشته". (٤) "ق" چاپ او د "خ" دویمه نسخه کې "صادق وي" راغلی دی.
(۵) د "پ" لوړی نسخه: "دانایان د رحمان په قال پوهېږي دلته کار د هر نااهل و ناقوان نشته". (۶) دا غزل د "خ" له دوهمې نسخې او د زلمی هیوادمل د شخصي کتابتون له قلمي نسخې نه نقل شو په نورو قلمي نسخو او چاپي دیوانونو کې نشته. (۷) دا بیت او دوه پسې نور دې بیتونه د "خ" په نسخه کې نشته. (۸) دا بیت د زلمی هیوادمل د شخصي کتابتون په نسخه کې نشته.

تاخو زده زما د زړه له احتیاجه — نور(۱) مي څه پوښتې چي څه غواړې محتاجه
د طالب و مطلوب راز به ما د ړوښود — که ته نه وای خبردار له دې رواجه(۲)
یار ته یار که حال په خوله نه وایي څه شو — حکیم ته پټ څرګند وي له مزاجه(۳)
که زما له حاله ما پوښتې حال دا دی — چې بې تا مې ورځ تیاره ده تر شب داجه
اشنایي به ما په کوم قوت کوله — که خبر وی ستا د هجر له تاراجه
که له سلوبه یوخواست دچا قبلیږي(۴) — خدای دې هیڅوک رنځور نه کا بې علاجه

١٨٠ — ٢٠٥٩

په رحمان بلا پسې که زهیرینږي
ته مشغول اوسه له خپله تخت وتاجه

چې خبر شوم د ساقي د جام له راحه — لکه مړی ملاقي شوم له ارواحه
زه چې زلفې د یار وو ینم په خوب کې — په شپه مښک را باندې ووري تر صباحه
سبا زیری د وصال په مهجور کاندي — د هیواد خبر موندن شي له سیاحه(۵)
که روا کا خون خوړن د عاشقانو — څوک وتی شي د خوبانو له صلاحه
هر ساقي چې جام د عشق لري په لاس کې — دا پیاله یې په مستانو ده مباحه
مخ بې میني که څوک ستایي ستایه نه شي — د ممدوح له قدره چا زده بې مداحه(۶)

---

(۱) د "پ" نسخه: "بیا مي څه پوښتې"، او د "خ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کې "تر و مي څه پوښتې" راغلی دی.

(۲) د "پ" نسخې: "د طالب و د مطلوب روش به ما د ړوښو — که ته نه یې خبردار له دې رواجه".
د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "د طالب مطلوب روش به ما د ړوښود — که ته نه وای خبردار له دې رواجه".
مصوره نسخه: "د طالب د مطلوب دود به ما د ړوښود — که ته نه وای خبردار له دې رواجه".

(۳) د "خ" دوهمه نسخه: "و طبیب ته خود معلوم وي له مزاجه".

(٤) چاپي دیوانونه: "که په سلوکی یوخواست دچا قبلیږي".

(۵) دا مسری په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی ده: "د مهجور خبر موندی شی صباح".
همدا مسری د "خ" په دوهم قلمي نسخه کې داسې ده: "د هوا خبر مونده شي له صباح".
د "پ" په دوهم قلمي نسخه کې هم د "خ" د دوهمې نسخې غوندې راغلی ده.

(٦) دا بیت د "خ" په دوهم قلمي نسخه کې نه دی راغلی.

۱۸۱ — ۲۰۶۶

د دنیا ناوې په عقل کې دین غواړي
ای رحمانه خان يې ژغوره له نکاحه (۱)

ولې تللی يې له ما مدام په څه　　ترهېدلی يې هر صبح وشام په څه (۲)
زه هر صبح وشام وتا وته دعا کړم　　ته وما وته کوې دشنام په څه
همېشه لکه وحشي په وحشت ګرځې　　يو ساعت راسره نه يې رام په څه
دایماً را څخه د رومې مخ په وړاندې　　لکه عمر بېرته نه ږدې ګام په څه (۳)
راته وایه زه به هم هغه کومه　　رقیبانو (۴) ته بښې انعام په څه
لږ پرهېز کړه له رقیبه د خدای روی دی (۵)　　ګډ وې سره حلال حرام په څه
رحمان ستا په مخ بې خنوم (۶) مین دی
بې هوده دې ورته کېښود دام په څه

۱۸۲ — ۲۰۷۳

ولې نه ګورې وما ته سم په څه　　زیاته وې د غم زده وُ غم په څه
ستا په غم کې چې ماوینی عالم ژاړي　　ژړوې راسره نور عالم په څه
په مطلب دې د سرو شونډو نه پوهېږم　　چې مې وینې د زړه څښې هر دم په څه
و دې خپلو مستو (۷) سترګو ته دې وایه　　چې وډژني (۸) مې قلم قلم په څه
ستمګار چې ستم کا څه بهانه کا　　ته په ما باندې کوې ستم په څه

---

(۱) دا مسری په "پ پ" چاپ کی داسې راغلې ده: " اي رحمانه خان ترې ژغوره له نکاح ".
د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کی داسې راغلې ده: " اي رحمانه خان ژغوره له نکاح ".
(۲) دا غزل په مصوره نسخه کی نشته.
(۳) د "خ" لومړۍ نسخه: "لکه عمر په سرعت نه ږدې ګام په څه".
(۴) په چاپي دیوانونو کی "غمازانو" راغلي دي.
(۵) چاپي دیوانونه اود "خ" لومړۍ نسخه: "لږ پرهېز کړه له رقیبه خدای دپاره".
(۶) د "خ" په دوهمه نسخه کی د "خنو" پرځای "زلفو" راغلي دي.
(۷) چاپي دیوانونو اود "خ" لومړۍ نسخه کی "بد نظرو سترګو" راغلي دي.
(۸) د "پ پ" چاپ او "ق ،ک" چاپ کے د "وډژني" پرځای "داوژني" راغلي دي.

مدکره خدای چې څوک بې یا خوښ خرم وي  زه به اوسم بې تا خوښ خرم په څه
زه رحمان پخپله ګرم یم چې مین شوم  دغه نور عالم مې بولي ګرم په څه (١)

لن یې وپوښته چې حال یې د زړه څه دی
١٨٣ — ٢٠٨١
د رحمان له سترګو څاڅي نم په څه

که څه وایم له هجرانه وایم څه  له دې دردې درمانه وایم څه
توان د دم وهلو نه لرم و یاره  چې توان نه لرم بې توانه وایم څه (٢)
چې یې وویښم له ځانه خبر نه یم  چې خبر نه یم له ځانه وایم څه
دخپل زړه له حاله هیڅ راویل نه شي  له بې نامه بې نښانه وایم څه (٣)
د عشق راز چې هیڅ نه دی بیان کړی  ترو به زه له دې بیانه وایم څه
دخپل یار له غمه درست په اوښکو ډوب  له دې هسې رنګ توفانه وایم څه
زه چې پروت یم د هجران په تناره کې  د وصال له ګلستانه وایم څه
سر و مال د سړي لوټ کا زړه یې یوسي  له دې هسې دلستانه وایم څه
زاغان بولي بلبلان شړي له باغه  د دې دهر له باغبانه وایم څه

هر چې وایم تر همه واړه بهتر دي
١٨٤ — ٢٠٩١
زه رحمان به له جانانه وایم څه

څه شو که خاموش یم ستا د عشق له آه سره  ستا زما له مینې خلق واړه خبر ده
هیڅوک دې په خوله د عاشقۍ لاف و نه کا  کله هم پټېږي وچې شونډې ګونه زرده
اهل د دنیا واړه نامرد دي رنګ یې ورک شه  خدای دې ملاقات له هیچا نه کا له نامرده

---

(١) دابیت د "خ" په قلمي نسخه کې نشته، په چاپي دیوانونو کې داسې دی: "رحمان خود پخپله ګرم یم چې مین شوم  ولې نور عالم مې بولي ګرم په څه".
(٢) دابیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته
(٣) دابیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته، د "خ" په دوهمه نسخه کې یې لومړی مسرۍ داسې ده: "دخپل زړه له حاله هیڅ ویلای نه شم".

کله بې درد انو لره زړه دې چا وړ کړي (١) — زه به صدقه کړم سل بې درده اهل درده

بې د استاد عشق د شهیدانو له خاکه — کله زرغونېږي سره لاله هر ه ګرده (٢)

**١٨٥** — **٢٠٩٧**

یو خوشحال او یو کم سل ختک نور په طبیعت کې
زار شه د ماخ (ن‌ال) سړیني له یوه فرده

که زما مینه په تا ده خطا نه ده — که بې تا ده نار وا ده روا نه ده (٣)

څوک چې بې د ستاله مخه بل ته ګوري (٤) — آیینه یې ناصفا ده صفا نه ده

هر عاشق چې په خپل یار پسې ژړ لکا — داغ یې واړه خندا ده ژړا نه ده

د دنیا په تماشا چې څوک نازېږي — خو هم نن یې تماشا ده سبا نه ده

که ته سل ځله له ماسره جفا کړې — ستا جفا واړه وفا ده جفا نه ده

هغه تېر شو چې مې مینه په غلا غلا کړه — اوس په درست جهان رسوا ده په غلا نه ده (٥)

**١٨٦** — **٢١٠٤**

معشوقه که د خپل سر په بها مومي
و ماخ (ن‌ال) و ته و بیا ده بها نه ده

له اغیار سره خندا خه په کار نه ده — له اغیار سره سودا خه په کار نه ده

سل یارې دې وه یار د یاره کړې شي — آشنایي د هر آشنا خه په کار نه ده

بدل بد و سره بو یه نیک له نیکو — د جفا په ځای وفا خه په کار نه ده (٦)

هر بلبل به دې ثنا کا که ته ګل شې — په خپل ځان خپله ثنا خه په کار نه ده

---

(١) چاپي دیوانو نه او د "خ" درې واړه قلمي نسخې: "کله بې دردانو لره زړه د چا وړ د روي مي".

(٢) دا بیت د "خ" په درې واړو نسخو کې نشته.

(٣) "ق، ک" چاپ: "بې له تا که په بل چا ده روا نه ده".

(٤) د "پ" لومړۍ نسخه: "څوک چې بې د ستاله مخه ګوري د بل مخ ته".
د "خ" لومړۍ نسخه: "څوک چې بې د ستاله مخ د بل سره ګوري".
د "خ" دوهمه نسخه: "هر څوک چې بې د استاله مخه بل مخ ګوري".
د "خ" مصوره نسخه: "څوک چې بې د ستاله مخه بل خوا ته ګوري".

(٥) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، په نورو قلمي نسخو کې: "هغه تېر شو چې مو مینه په غلا غلا کړه اوس په درست جهان رسوا شوه په غلا نه ده".

(٦) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

عشق د بوی[1] په خېر په پټه خوله څرګندوي | په داچارو کې غوغا ښه په کار نه ده
د عشق درد واړه عاشق له راحت وي[2] | د دې هسې درد دوا ښه په کار نه ده
عاشقان وحرص هوا دي سره لرې[3] | د بیمار په ځان هوا ښه په کار نه ده[4]
عاشقي نادره چار ده په جهان کې | ولې بې خدایه سودا ښه په کار نه ده[5]
که یې کړم هم هیڅ یې نه کړم سوګند دی[6] | وابستګي د دې دنیا ښه په کار نه ده
د دنیا مینه بې کاره او رېبده شي | چې مې ولېده رښتیا ښه په کار نه ده[7]

۱۸۷ | ۲۱۱۵

که رحمان په جهان د بې پایم دلبره
ژوندګي زما بې تا ښه په کار نه ده

کوره بیا به خولګ ادا[8] کا په زړه غوښه | چې دا هسې مسته د روې مخ بې بنده
ته چې ګل د آشنایۍ له باغه غواړې | خبر زده که د هجران له خار وخنده
طالبان که مرور دي هم پخلا دي | بې مطلوبه د چا نه رسي دا هنده
مارستم د دهر ولېده په سترګو | د خپل یار له جوره ژاړي لکه کونده
د عاشق د لاغرۍ[9] سبب دا دی | چې فرقه د معشوق شوه په زړه تنده
زه به حورې د جنت بې یاره څه کړم | خدای دې سره د چا نه کاندې ارهنده
سخت ساعت د بېلتانه به مې هېر نه شي | که راکه شي د تور لحد ګور هنده

۱۸۸ | ۲۱۲۳

زه رحمان د هغه حسن دعاګوی[10] یم
چې جرګه د عاشقانو وي پرې پنده

---

(۱) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "ګل" او په مصوره نسخه کې "دبوه" راغلی دی.
(۲) "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "عشق وو درد واړه عاشق لره راحت دي"، د "خ" په لومړۍ نسخه کې "عشق ورنځ" راغلی دی.
(۳) چاپي دیوانونه: "عاشقي، حرص وهوا دي سره لرې".
(٤) د "خ" لومړۍ نسخه: "د بیمار په ځای خندا ښه په کار نه ده".
(۵) دا بیت په "ق، ک" چاپ کې نشته، د "خ" په دوهمه نسخه کې د "سودا" پر ځای "سیوا" راغلی دی.
(۶) د "خ" لومړۍ نسخه: "که یې کړمه که یې نه کړمه سوګند هم دادی".
(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۸) د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې د "ادا" پر ځای "آزار" راغلی دی.
(۹) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "لاغرۍ" پر ځای "دل آزارۍ" راغلی دی
(۱۰) په چاپي دیوانونو او د "خ" دوهمه نسخه کې د "دعاګوی" پر ځای "ثناخوان" راغلی دی.

ما چې جور و جفا بیا مونده له یاره — د وفا طمع به څه کړم له اغیاره (۱)

له دښمنه به د ښادۍ طمع څوک څه کا (۲) — چې د دوست له لاسه غم شي ورد و ښاره

دل آزار که دل آزار شي مانه نه شي — حیف خو دا دی چې دلدار شي دل آزاره (۳)

دا ګله هم (٤) د یره د یره له هغو شي — هر چې طمع ترې د ښو کړې بسیاره

اوس دا ستا رضا جفا کړې که وفا کړې — د واړه لاس مې اوس ختلي له اختیاره (۵)

طالبان خو تر مطلوبه پورې پره دي (٦) — خدای دې تا لې وفا نه کا وفاداره (۷)

۲۱۳۰ — چې له دې بې حیا نه ګورې وچا ته (۸)
څه خو مخ کړه د رحمان د زړه د یاره — ۱۸۶

---

(۱) دا غزل په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.
(۲) دا مسره د "خ" په لومړۍ نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "له دښمنو به د ښادۍ امید څوک څه کا".
په "سپ" چاپ کې داسې راغلې ده: "له دښمنو به د ښادۍ طمع څوک څه کا".
په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "له دښمن به د ښادۍ طمع څوک څه کا".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "له دښمنه د ښادۍ طمع څوک څه کا".
(۳) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی. په "پ پ" چاپ کې دا بیت داسې دی: "دل آزار که دل آزار کړم مانه نه شي.
حیف خو دا دی چې دلدار شي دل آزار".
د "پ" لومړۍ نسخه: "دل آزار که دل آزار کړي مانه ترینه شي
حیف خو دا دی چې دل سوز شي دل آزار".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "دل آزار که دل آزار مانه ترې نه شي
حیف خو دا دی چې دلسوز شي دل آزار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "دل آزار که دل آزار که مانه نه شي.
حیف خو دا دی چې دلسوز شي دل آزار"
(٤) په "پ پ" چاپ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "هم" پر ځای "مې" راغلی دی.
(۵) دا بیت یوازې او یوازې د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې راغلی دی او نورو کې نشته.
(٦) د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې د "پره دي" پر ځای "پوره دي" راغلي دي.
(۷) دا مسره په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "خدای دې څوک لې وفا نه کا وفاداره".
(۸) دا بیت د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "که له دې بې حیا نه ګورې وچا ته
څه خو مخ کړه د رحمان د زړه د یاره".
په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "که له دې بې حیا نه ګورې وچا ته
څه خو مخ کړه د رحمان د زړه د یاره".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی: "که له دې بې حیا نه شې کتې چا ته
څه خو مخ کړه د رحمان د زړه د یاره".
دوهمه مسره یې د "خ" په دوهمه نسخه او د "پ" په دریمه نسخه کې په پوره شکل راغلې ده.

وخت د نوبهار دی زه جدا له خپله یاره
دریغه دریغه چې بې یاره ځي بهاره (۱)

اوږد خوب ورته ونو چې د غره په سر ګلبڼې (۲)
شني لوخړې خېژي له نښتره له چناره

داخه عاجزي ده چې زه کښېم په کاغذ باندې
راشه وو پېږنه د عاشق له آزاره (۳)

داخه اوښکې نه دي چې بهېږي له چشمانو
وینې دي بهېږي د زړه ګوټي له پرهاره (٤)

رنځ مې هسې سخت دی هر زمان په ما زیاتېږي
راشه ای طبیبه ګوندې مرهم د رب د یاره (٥)

غرونه دي نړېږي چې په حال زما خبرېږي
سیند دا د اوښکو ده مې چې راغلی له کهساره

نور څه نه دي واوره دا ناري د بېلتانه دي
راشه کړې اورې د رباب له هرې تاره

۲۱۳۸

۱۹۰

زه یو خوار و زار یمه ماتم په عاشقۍ کې
خپل دي که پردي دي را ته نه ګوري له غاره

ستا په عشق کې د وغرځیم سرتر سره
چې له غمه دې ژوندی ګرځم دلبره (٦)

زه به ستا له غمه کله شو لامړ وم
باری دم د خدای په لاس دی نازېږي وره

جدايي به مې یو دم قبوله نه کړه
که څه مرګ او بېلتون اسېني وه مې په غوره (۷)

شام سحر مې دغه ستا زلفې رخسار دي
نور مې مه پوښته له شام له سحره (۸)

---

(۱) دا غزل په قلمي نسخو کې نشته په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې یې دوهم مسرۍ دا ده:
"دریغه دریغه چې بې یاره شي بهاره".
(۲) په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې "بلبلې" راغلی دی.
(۳) قلمي نسخې او نور چاپي دیوانونه: "راشه وو پېږنه د عاشق له دل آزاره".
"ق" چاپ: "راشه وو پېږنه د عاجز و دل آزاره".
(٤) د "خ" دوهمه نسخه: "داخه اوښکې نه دي چې پر مخ زما بهېږي
دا مې د زړه وینې چې بهېږي له رخساره".
(٥) د "خ" دوهمه نسخه: "درد مې نه کمېږي په زمان زمان زیاتېږي
رای شه طبیبه ګنه مرهم د خدای د یاره".
(٦) د "خ" دوهمه نسخه: "چې له غمه دې لا مړ نه یم دلبره".
(۷) دا بیت په "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ک" چاپ کې نشته.
(۸) د "پ" قلمي نسخې: "شام سحر یاره ستا زلفې ورخسار دي
هېڅ مې مه پوښته له شام له سحره".
د "خ" په نورو درېیو قلمي نسخو کې یې لومړی مسرۍ دا ده: "شام سحر زما دا ستا زلفې رخسار دي".

چې خبر دې(۱) په وصال و په هجران شوم — خبر نه يم له فردوسه له سقره

بې دستاله مخه ورځ رابانديې شپه ده — روښنايي دوړځې چېرې وي بې نمره(۲)

هسې بې سر و سامان دې هيڅوك نه شي(۳) — لكه زه چې بې سامانه يم بې سره

يو هنر مي منظور ستا په نظر نه دى(٤) — كه زه وكړم ستا په عشق كې سل هنره

١٩١

هيڅ اثر د بيان اوښكې په يار نه كا
خداى دې اوښكې د چا نه كا بې اثره

٢١٤٧

زه عار نه لرم په عشق كې له پيغوره — بې پروا يم د ستي په خبر له اوره(۵)

بدي په خوله د سمندر هس د موم(٦) — څوك چې ما منع كوي د عشق له شوره

بې هجرانه زما بله خواري نشته — ولې نشته تو دا بله خواري نوره

لكه ته چې خداى هر گوره ښايسته كړې — زه يې هسې بې صبره كړم هر گوره(۷)

چې په تورا و سپين مې اړوي دا څوك دى — كه ته نه يې په مخ سپينه په زړه توره

د رقيب له بدخويه به خه وايم — چې لا يار و ر سره مل شي هلته گوره(۸)

---

(۱) په چاپي ديوانونو او مصوره نسخه کی "چې خبر يې" راغلی دی.

(۲) دا بيت په "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کی نشته. لومړی مسری يې د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده :
"بې دستاله مخه ورځ رابانديې شپه شوه".

(۳) د "پ پ" چاپ کی "نشته" راغلی دی.

(٤) په چاپي ديوانونو کی "نه شو" راغلی دی.

(۵) دا غزل په مصوره نسخه کي نشته.

(٦) د "پ" په لومړی نسخې کې "موم" راغلی دی.

(۷) دا مسری په دواړو چاپي ديوانونو کی، او د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده :
"زه يې هم هسې بې صبره کړم هر گوره".
د "خ" په لومړی او د "پ" دوهمه نسخه: "زه هم هسې بې صبری کوم هر گوره".

(۸) دا بيت په "پ" چاپ کې داسی راغلی دی: "د رقيب له بده خويه به څه وايم — لا چې يار ورسره مل شی هلته گوره".
په "پ پ" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کی: "د رقيب له بده خويه به څه وايم — چې لا يار ورسره مل شی هلته گوره".
د "پ" په دوهمه نسخه کی: "د رقيب له بدخويه به څو وايم — لا چې يار ورسره مل شي هلته گوره".
د "خ" لومړی نسخه: "د رقيب له بدخويه به څه وايم — لا چې ياد ورسره بل شي هلته گوره".

چې يې پوه د مرګ تر پوره لا بد تر وي (۱) — هغه توبه د بېلتانه له بده پوره

دا مې خپل نصيب طالع دی را رسېږي — ګنه غم کله رسېږي له غم خوره (۲)

قاف تر قافه بادشاهي به يې روزي شي — چې په چاوشي د استاد زلفو سيوره

عاشقي سړی مجنون کاندي رحمانه

که نه خوک په هوښيارۍ وځي له کوره

۱۹۲ — ۲۱۵۷

نه رسېږي ستا و حسن و ته حوره — څه به رسي و مهرمن و ته مزدوره (۳)

ستا تر قده تر قامته نه رسېږي — که نښتر که سپاري وي که کجوره (۴)

تر قامت پورې دې سروه ده سر کوزې — تر رخسار (۵) پورې دې شمعه ده بې نوره

هر سړی چې دې و حسن ته نظر کا — ستا پېرۍ يې په نظر وي نا منظوره

چې تا مې د خپلو شونډو ور په خوله کړه — طايفه دې د صوفيانو کړه مخموره

اوس ته وايه چې په څرنګ دې وستايم (۶) — زه خو ستا په مينه لا هم له شعوره

دا جذبه د عاشقۍ ده نه ده نور څه ده — که نه کله خوک وتي شي له دستوره

اوس به زه د شب خېزۍ څه منت وکړم (۷) — چې څمره دې کړه په خوب کې د الحضوره

چې په ننګ و په ناموس تر لوره کم وي (۸) — صدقه شه نا قابله زوی له لوره

---

(۱) دا مسری په چاپي ديوانونو کې داسې راغلې ده: "چې يې پوه د مرګ تر پوره پورې چېغ دی".
د "پ" په دوهمه نسخه کې: "چې يې پوه د مرګ تر پوره هم بهتر وي".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "چې يې پوه د مرګ تر پوه بهتر دی".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "چې يې پوه د مرګ تر پوره لا بهتر دی".

(۲) دا بيت او دوه پسې بيتونه په چاپي ديوانونو کې نشته.

(۳) دا غزل د "پ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(۴) د "خ" دوهمه نسخه: "که نښتر که صنوبر وي که کجوره".

(۵) د "خ" په درې واړو قلمي نسخو کې "تر صورت پورې" راغلې دی.

(۶) "ق، ک" چاپ: "اوس ته وايه چې په څرنګ به دې دوست کړم".

(۷) "ق" چاپ: "اوس به څه د شب خېزۍ منت باری کړم".

(۸) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "چې په ننګ و په ناموس تر لوره کم وي".
په مصوره نسخه او د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې دا بيت داسې دی: "چې په ننګ و په ناموس تر لوره کم وي خدای دې مور کاندي په هسې زوی بوره".

که سل ځله زوېه غوره وي ترلوره — خدای دې موږ کا په داهسې زوېه بوره (۱)

که سل ځله زوی رویداره وي ترلونو — صدقه شه ناقابله زوی ترلوره (۲)

ننګیالي تربرونه ښه دي اوکه نه وي — ننګیالی ترلهم ښه ده له تربوره

خوبروېي بې دلبرۍ څه په کار نه ده — لکه وني بې مېوې په پانو کوره (۳)

که د غلوزي لباس وکا غزاوشوه — شهد نه دي چا موندلي بې زنبوره (۴)

۱۹۳ — ۲۱۷

په ماخ (بدن) د ښایسته و قدر ډېر دی
د طبیب له قدره چا زده بې رنځوره

چې په وخت د ځنګدن وکا بې ډیره — تر وننه ولې هسې ناست (۵) یې بې تدبیره

هرسړی چې ګانده (۶) غم په مخ کې وینی — له هغه غمه لانن ګرځي د ګیره

چې سبا ارمانه وي پند د پیرانو — ولې نن د پیر طلب نه کړې بې پیره

دیار یاد به دې ځای څرنګ په زړه نیسي — یاد د غیر چې لرې نه کړې له ضمیره (۷)

چې د توک په طلب ګرځي خدای دې هېر دی — فقیري (۸) داهسې چېرې وي فقیره

د غم دې خدای بدل کړه په ښادۍ — زهیر مه شې په آشنا یې زهیره

که هر څو ښایسته ډېر دي په جهان کې — وهر چا ته خپل آشنا دی بې نظیره

هرسړی د هغه مخ په رڼا ګرځي — چې یې خونه د خالص وي پر یې منیره

همېشه پراته په اوږو په اوبو وي (۹) — عاشقان د لعل لولو له تاثیره

---

(۱) دابیت په "پ" چاپ، "ق" چاپ، "ق، ک" چاپ او د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې داسې دی: "که سل ځله زوی رویدار وي ترلونو — صدقه شه ناقابله زوی ترلوره".

(۲) دابیت په چاپي دیوانونو کې نشته.

(۳) په "ق" چاپ، "ق، ک" چاپ او د "خ" په دوهمه او مصوره نسخه کې د "کوره" پرځای "بوره" راغلی دی.

(۴) په "پ" چاپ، د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې "له زنبوره" راغلی دی.

(۵) په چاپي دیوانونو کې د "ناست" پرځای "رانګ" راغلی دی.

(۶) په "پ" چاپ کې "کان"، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "وراندی" راغلي دي.

(۷) دابیت په "ق، ک" چاپ کې نشته.

(۸) په قلمي نسخو کې "فقیري" راغلی دی.

(۹) قلمي نسخې: "تمامي عمر په اورو په اوبه وي".

۱۹٤ ۲۱۸۲

زه رحمان[1] د آزادۍ په تالاش ګرځم
باري نه د تور و زلفو له ځنځیره

ستا په عشق کې هسې خلاص[2] لـه شعوره — چې یوه خبره نـه لرم منظوره
طبیبان وایي چې صبر دې دارو دی — خدای فرقه زمونږ پیدا کړه ناصبوره[3]
توري هرچیرې ترلې په د دښمن شي — یاره ستا ستر ګې دوستان وژني په توره[4]
معشوقې د زماني شوې سره تـولې — د زړه خونه مې یې ولوټله چوره[5]
زه تنها په ضرور نه یم ستا لـه غمه — پیدا شوې عاشقې ده لـه ضروره[6]
هرې شي لره ورځ شته ده په دنیا کې — زما عمر جدايي کړ بې لـه نوره[7]
هرویان وفا لـه هیڅا سره نـه کا — دا خبره په عالم کې ده مشهوره[8]
چې خبر شي واره ګوتې په غابښ نیسي — په هجران کې خبر مه شي لـه مهجوره[9]
د رقیب لـه بده وستر ګونه ځان ژغوري — هر عاشق چې بهره مند وي لـه حضوره[10]
هومره توان او توفیق نه ګنم په بخت کې — چې تا نه کا مال لـه فسق او لـه فجوره
په نظر د مدعیانو تور کوډي وي[11] — کـړې کښېنوم د کټ د پاسه حوره

۱۹۵ ۲۱۹٤

د رحمان[12] لـه ستر ګو نم به هاله[13] وچ شي
کـه وچ شوی د چا نم وي لـه ناسوره

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې "طلب" راغلی دی.
(۲) د "پ" په دوهم او د "خ" په لومړي نسخه کې د "خلاص" پر ځای "لاړ" راغلی دی.
(۳) دا بیت د "پ" په دوهم نسخه کې نه دی راغلی او په چاپي دیوانو کې یې دوهمه مسرې داسې راغلې ده: "خدای زمونږ فرقه پیدا کړه ناصبوره" د "خ" په لومړي نسخه کې د "زمونږ" پر ځای "زما" راغلی دی.
(٤) دا بیت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی. په پېښور چاپي دیوانونو کې د "په توره" پر ځای "بې توره" راغلی دی
(۵) د "خ" په لومړي نسخه کې "پچوره"، په دوهم نسخه کې "پلي خپوره"، د "پ" په لومړي نسخه کې "پخبوره" او په "پ پ" چاپ کې دا مسرې داسې ده: "د زړه خونې یې او لوټلې بې چپوره".
(٦) دا بیت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی.
(۷) دا بیت په "پ" نسخو کې داسې دی: "هرې شي لره د ځ شته په دنیا کې زما عمر جدايي کړ بې نوره". په "پ پ" چاپ کې د "کړ بې له نوره" پر ځای "کړ لو بې نوره" راغلی دی. د "خ" په لومړي نسخه کې یې وروستۍ مسرې داسې راغلې ده: "زما عمر جدايي کړه بې نوره"، په دوهم نسخه کې "جدايي زما عمر کړ بې نوره" راغلی ده.
(۸) دا بیت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی. (۹) دا بیت په "پ" چاپ کې داسې دی: "له حیرته واړه ګوتې په غابښ نسي په هجران کې چې خبر شي له مهجوره".
(۱۰) دا بیت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی په "پ" چاپ کې: "د رقیب له بده وستر ګو دې ځان ژغوري هر عاشق چې بهره مند شي له شعوره". (۱۱) د "خ" په لومړي او د "پ" په دوهم نسخه کې د "وي" پر ځای "دی" راغلی دی. (۱۲) په "پ" چاپ کې د "له" پر ځای "د" راغلی دی. (۱۳) د "خ" په دوهم نسخه کې د "هاله" پر ځای "کله" راغلی دی.

زړه مدام راته ویل چې ژاړه ژاړه — په ژړا سره دا تللی اشنا غواړه[1]

مسلې دې ننګی و رپسې لنګ کړه — ببچا و نمی د ننګ کښېږده وه یې نغاړه

که دیار په سر لوئی دا ستا رضا وي — په خندا خندا راځه په لکه غاړه

دافلك چې د آسیا په دود ګردش کړه — په دنیا کې به پرې نن دې د انډلواړه

په دنیا کې ګوره هر چې زنده سر دی — داجل په تیغ به پرې که د دوی غاړه

۱۹۶

دمکې ځنځیر حاجیان په لاس کې نیسي
و نیو کې *دیار زلفینې دواړه

۲۲۰۰

ګاه په غار مه[2] سوځي کله ږیږدي په ساړه — کله مړي له لوږې کله مړي یا په ډېر خواړه

واړه په غوغا دي چې راغلي په دنیا دي — نه یې هغه وږي په قرار دي نه ماړه

کله لاس په سر ځېله کېږدي تواضع کا — کله وبله کېږدي لاس په توره په چاړه

خاورې دآدم چې خمیر کړې فرشتګانو — درست یې په غمونو په دردونو ولاړه

څه شو که څوك نن ساعت وهل که یا تړل که — پېښ به په هغه شي چې واهه شي هم تاړه[3]

څو به وي تند رسته دا زموږ بنا سسته — زه یې درمانده یم په پښتی په اخاړه[4]

بنا یې چې څوك پس له مرګه خاندي په لحد کې — هر چا چې په داژوند خپل سر وژاړه[5]

---

(۱) داغزل یوازی او یوازی د "خ" په دوهمه نسخه کی په عین شکل راغلی دی او په نورو چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کی نشته. (*) اصل: نیولي دي.

(۲) په چاپي دیوانونو کی "نمر" راغلی دی.

(۳) د "پ" لومړۍ نسخه "څه شو که څوك نن ساعت واهه و یا تاړه شي — پېښ به شي هغه چې واهه شي هم تاړه".
د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "څه شو که څوك نن ساعت واهه شي یا تاړه شي — پېښ به شي هغه چې هم واهه شي هم تاړه".

(٤) دا بیت په "ب" چاپ، د "ب ب" چاپ، د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کی نشته. "ق، ک" چاپ: "څو به وی تند رسته دا زموږه — ورانه خونه د برې درمانده شو په پښتنی په اخاړه". "ق" چاپ: "څوبي د تند رسته دا زموږ بنا یسته — زه یې درمانده یم په پښتنی په اخاړه".

(۵) د "ب پ" چاپ: "هر چا چې ژوندون کې خپل پښتنی سر وژاړه". د "پ" لومړۍ نسخه: "هر چا چې په داژوند خپسر وژاړه".
"ق" چاپ: "هر چا چې په ژوندون کی خپسر وژاړه". "ق، ک" چاپ: "هر چا چې په ژوندون کې ګوره خپل ځان وژاړه".
د "خ" لومړۍ نسخه: "هر چا چې په داژوند خپل خپل سر وژاړه".
د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه: "هر چا چې په ژوندون خپل سر وژاړه".

وینم واره تلوني هیڅوك نه دي پاتي شوي
یون دي په دالاري هم دڅوان هم دزاره

زلفي د دلدار[1] دي چي هر څوك يي طلبگار دي
لوي دي كه هلك دي كه غټان[2] دي كه واړه

سخ د هغه چا دي چي په درګي يي قبول شي
زار د هغه چا چي يي له دره وشاړه[3]

ما رحمان غوندي جواب كه ورته سلو[4]
خداى خبر چي كوم يو هغه تركي وپلاره[5]

۱۹۷

۲۲۱۱

خوبه وران شي د دنيا بازاره ناره
هر نفس د بلبلتانه په تاخت لتاره[6]

لا غونچي په باغ ستركي سپړدي ندوي
بادخزان يي د زړه مينه كړه وچاره[7]

هسي باد پري د فناله لوريه والوت
د لاله خوله[8] يي پرېيسته لناره[9]

خه بزرګي به يي د بازو دهماى وي
زباني ذكر كه سل رنګ كا خراره[10]

كه زرسل كالديي تېرشي په او بوكي[11]
په نرمه به نرمه نه شي وچه تراره

---

(۱) "ق،ك" چاپ : "زلفي مي ديار دي" راغلي دي.

(۲) د "خ" په لومړی نسخه کی "پيران" راغلي دي.

(۳) دا بيت په مصوره نسخه کی نشته ، په نورو قلمي نسخو کی يي دوهم مسري داسي ده : "زار دهغه چا دی چي له دره يي شاړه".

(٤) "ق،ك" چاپ : "ما رحمان خوندي به سلو چي سلام ورته كولو".
په "پ" چاپ ، "پ پ" چاپ ، "ق" چاپ او مصوره نسخه کی د "جواب" پرځاى "سلام" او د "خ" په دوهمه نسخه کی "لبيك" راغلي دي. او د "خ" په لومړی نسخه کی دا مسري داسي ده : "ما غوندي رحمان غوندي زاري وكړه ورته سلو".

(۵) په مقابله شوو کتابونو او قلمي نسخو کی "ولاړه" راغلي دي ، خو "دعزم د په نظر کی نيولو او نيت" په معنی د "ويلاړه" په شكل سم دي چي داسمون د "ب" قلمي "دوست" په قول يكي راغی.

(۶) دا غزل په مصوره نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته . د دي بيت لومړی مسري په "پ" چاپ کی داسي ده : "خود به وران شی د دنيا بازاره تاړه".
په دوهمه مسري کی په "پ" چاپ او "ق،ك" چاپ کی د "نفس" پرځاى "ساعت" راغلي دي . لومړی مسري يي په قلمي نسخو کی داسي ده : "خوبه وران شي د دنيا بازارلتاړه".
او د "پ" په دوهمه او د "خ" په لومړی نسخه کی داسي راغلي ده : "خوبه وران شي د دنيا بازار تاړه".

(۷) دا بيت د "ب" په لومړی نسخه کی داسي راغلي دي : "هغو غنچي لا په باغ ستركي سپړدي ندوي بد خزان يي د زړه مينه كړه وچاره".
"ق،ك" چاپ : "لا غنچو په باغ كی ستركي سپړدي ندوي . چي خزان يي د زړه مينه كړه وچاره".
د "خ" په لومړی او د "ب" په دوهمه نسخه کی داسي راغلي دي : "هغو غنچولا په باغ ستركي سپړي ندوي بد خزان يي د زړه مينه كړه وچاره".

(۸) په "ب" چاپ کی "قوله" راغلي دي.

(۹) د "پ" له دوهمي نسخي نه پرته په نورو نسخو کی "لناړه" راغلي دي.

(۱۰) دا بيت په قلمي نسخو کی داسي راغلي دي : "خه بزرګي به يي د بازو دهماى نه شي سر زباني ذكر كه سل رنګه خراره".
د "ق،ك" چاپ کی داسي راغلي دي : "خه بزرګي به يي د بازاو همادي سر زباني ذكر كه سل رنګ كړه خراره".

(۱۱) "پ" چاپ : "كه سل زر كاله يي تېر شي په او بو كی" او د "خ" لومړی نسخه کی "كه يي سل كالونه تېر شي په او بو كي".

تر دا هسې غمه نه غم بهتر دی — هرچي حال يې زنګدن شي غم وار ره [1]

تر خلاصي ځني بندي سنه يې رحمانه [2]

۱۹۸ — ۲۲۱۸

که د شها [3] د زلفو ځيل دي شي په غاره

چي غرقاب شي تر ومژګان په يم د زړه — نور خراب شي خانمان په نم د زړه [4]

عبث واي غم د زړه و بوالهوس ته — خدای پوهېږي هلکان په غم د زړه

په بل مخ باندې سبوا د يار له مخه — ما تر لي دي چشمان محکم د زړه

چي يې عرش او کرسي لاندې تر قدم دي — بالا تر دی هسې شان قدم د زړه [5]

د خليل ترکيب دا کعبه ده لويه [6] — که آباد کا خوك ويران حرم د زړه

که نور خلق قدمونه دي په ځمکه — ما دی ايښی په آسمان قدم د زړه

دامکان چي د آسمان ځمکي تر ميان دي — يو خلوت دی دامکان سلم [7] د زړه

ز ملهم د زړه له چا غوارم بې خدايه [8] — چي کړی نه شي طبيبان ملهم د زړه

صورتي همدمان ډېر دي په جهان کي

۱۹۹ — ۲۲۲۷

ولې نه مومي رحمان همدم [9] د زړه

ساقي پوره نشه د ميو جام تيار کړه — غم هيڅ معطلي نه لري تلوار کړه [10]

(۱) د "خ" لومړی نسخه : "تر و د هسي غم نه غم بهتر دی هرچي حال په تنګدستی شي غم وار ره".

(۲) دا مسرې په قلولو دارو چاپي ديوانونو کي داسې راغلې ده : "تر ولد خلاصه بندي سنه يې ای رحمانه" ؛ خو په "پ پ" چاپ کي د "اې" په ځای "نه" راغلی دی. د "خ" په لومړی نسخه کي "تر خلاصي نه بندي سنه يې ای رحمانه".

(۳) په چاپي ديوانونو کي "يار" راغلی دی.

(۴) دا غزل په مصوره نسخه کي نه دی راغلی. په "ب" چاپ کي دا بيت داسې راغلی دی : "چي غرقاب شي تو مژګان په يم د زړه نور خراب شي خان ومان په نم د زړه".
د پېښور په چاپي ديوانونو او د "خ" په دوهم نسخه کي داسې راغلی دی : "چي غرقاب شي تو مژګان په نم د زړه نور خراب شي خان ومان په نم د زړه".
د "خ" په لومړی نسخه کي : "چي غرقاب شي تر مژګانو نم د زړه نور خراب شي خان ومان په يم د زړه" راغلی دی.

(۵) دا بيت د "خ" په لومړی نسخه کي نشته او د "ب" په دوهم نسخه کي داسې راغلی دی : "چي يې عرش او کرسي لاندې تر سيوري بالا دی هسې شان حرم د زړه".

(۶) د "خ" په لومړی نسخه کي د "لويه" پر ځای "بويه" راغلی دی.

(۷) د "خ" په دوهم نسخه کي د "سلم" پر ځای "مسلم" راغلی دی.

(۸) په چاپي ديوانونو کي "بې ربه" راغلی دی.

(۹) د "پ" په لومړی نسخه کي "ملهم" راغلی دی.

(۱۰) دا غزل د "خ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کي نه دی راغلی، ددې بيت په دوهم مسرې کي د "نه لري" پر ځای په "پ" چاپ کي "نه کاندي" او په "پ پ" چاپ کي "نه کوي" راغلی دی.

هر دم تیغ د استا زما په ګلوګر ځي (۱) — هر نفس د خپل نفس له تیغه ځار کړه

تر خودۍ چې ور ته بله بلا نشته — خادمي د بېخودانو په دربار کړه

دا پنځه ورځې ژوندون چې غنیمت دی — شکرانه په دا نعمت د کردګار کړه (۲)

که غم خوار غوارې په غم او په اندوه کې — شیښه ډکه د شرابو اختیار کړه (۳)

خو دې دوه سترګې غړېږي په جهان کې — ننداره په هر ساعت د خپل نګار کړه

هغه څوک دی چې تهمت پرې وایه نه شي — غوږ په هیڅ باندې مه باسه خپل کار کړه

بې وفایي د دې دهر یاران واړه — چې دې پس له مرګه یار شي هغه یار کړه

مدعي چې په زړه ورشي هغه وایي (٤) — ګوش او هوش د محبانو په ګفتار کړه

۲۰۰ رحمان وایي د دنیا چارې فاني دي ۲۲۳۷
البته په دا خبره اعتبار کړه

چې مې مینه خدای په تا باندې پیدا کړه — ترکه ما په هغه ورځ (۵) خپله رضا کړه

اوس د ستا رضا جفا کړې که وفا کړې — ما د ستا جفا قبوله په وفا کړه

ګل په لعل و په ګوهر کله څوک پېري — بې له ما چې تا خندا کړه ما ژړا کړه

بې له ما چې د استا غم په هوس پېرم — کوم وګړي په هوس د غم سودا کړه (۶)

دوه یاران به د ارنګ نه وي چا لیدلي — چې یوه ورته سلګۍ کړه بل دعا کړه

ما ودرست جهان ته شا وتا ته مخ کړ — تا ودرست جهان ته مخ او ما ته شا کړه (۷)

---

(۱) دا مسرۍ په "ب" او "ق، ک" چاپ کې داسې راغلې ده: "هردم تیغ دستا زما په ګلو ګرځي".
په قلمي نسخو کې داسې راغلې ده: "زما ستا په ګلو ګرځي هردم تیغ دې"
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۳) دا بیت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی.
(٤) "ب" چاپ او د "پ پ" چاپ: "مدعي چې په خوله ورشي هغه وایي".
(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "په هغه دم" راغلي دي.
(۶) دا بیت د "ب" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

ډېر هند کې په جهان ګرزي د چا یاد دي　　عشق عالي پایه د هیرا و د رانجا کړه

هم په دا يې تر همه وو(١) نام بلند شو　　چې قبوله عندلیب د ګل جفا کړه

ناآشنا د بېلتانه له غمه خه زده　　خدای دغه خواري په بخره د آشنا کړه

عاشقان د یار تر سپیو هم زاریږي　　ګمنه ما د رقیبانو خه پروا کړه

٢٠١

زه رحمان(٢) چې ستا د حسن ثنا خوان شوم
ستا له رویه د رست جهان زما ثنا کړه

٢٢٤٨

باره و تره هاله کښت و زراعت کړه(٣)　　تقوی دار شه هله طمع د جنت کړه

عاقلان په وړاندې ځي په وروستو ګوري　　په دنیا کې سرانجام د آخرت کړه

سم د لاسه کار هر ګوره ډېر مشکل دی(٤)　　خولانه يې غريب زبرمه د غربت کړه

چې نور خلق ملامت در باندې وايي　　لا پخوا تر خلقو خپل ځان ملامت کړه

چې عقبی ته د دنیا په اجر مومې　　خو هم دا عمارت هلته عمارت کړه

خوبه ګورې د قیامت ورځو او شپو ته　　خو هم دا جهان په ځان باندې قیامت کړه(٥)

چې نیکي بدي په تله کې تلل شي(٦)　　خود په خپله تله واخله عدالت کړه

که لښکر د حرص هوا در باندې زور شي(٧)　　سر د ننه په قلعه د قناعت کړه

دا به نه شي چې ستا خپ او د حق غوږ وي　　که حق غواړې ته هم غوږ په حقیقت کړه

---

(١) په قلمي نسخو کی "ترهمايې" راغلی دی.

(٢) په چاپي ديوانونو کی "سم" راغلی دی.

(٣) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه : "باره تو وجار باسه هلته زراعت کړه".
د "خ" دوهمه نسخه : "باره وجار باسه هله کال د زراعت کړه".
د "پ" لومړی نسخه : "باره تر وجار باسه هاله زراعت کړه".

(٤) مصوره نسخه : "سم له لاسه چارې نه شي مرد هاله يې".

(٥) دا بیت په مصوره نسخه کی نشته.

(٦) د "پ" لومړی نسخه ، د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه : "چې دې نیك و بد به تله کی تلل شي".

(٧) قلمي نسخې : "که لښکرې د حرص و هوا باندی زور شي".

هغه زړه چې عرش الله دی گوره کوم دی — شو دې توان شي د جمله زړونو خدمتگره

وړاندې هم واړه ستا په څېر سړي وو — ته هم پاخه د هغو په څېر همت کړه (۱)

د دنیا چارې هم واړه فاني دي — بارې پوره ته شه یو بل رنگه حکمت کړه (۲)

په طبیب (۳) د عاشقانو دارو نه شي — درومه بل خواته دارو د خپل جهت کړه

خوږې حق موندلی نه دی مرد جاروخه (۴) — په دا مرسته دا (۵) جهان واړه لت پت کړه

۲۰۲ | ۲۲۶۳

ای رحمانه اول ته نصیحت واخله
د غه پسه بیا و بل ته نصیحت کړه

هسې یمه یاره ستا په غم تازه — لکه وي هره گیاه په نم تازه (۶)

سترگې وخوړم کړې کرم له تمه وچې — کړمې کېږي په ژړا صنم تازه

زه به څه کړم د چا چارې بې له یاره — هر سړی په خپله ساه په دم تازه

د یار نوی نوی غم زېږوي وصل — رغوي سوی پرهر ملهم تازه (۷)

کړدې زړه له غمه وچوي د گلې مشه — کاتبان کا په چول قلم تازه

۲۰۳ | ۲۲۶۹

شایسته یاران کله نه دي رحمانه
بېلتانه کړه اکثر مړاوي کم تازه

نه یم خوښ د سرو گلونو په سایانه — خوښ یم ستا د مخ په اور باندې جلیازه (۸)

په اور سوی بهر وران دی څه حکمت دی — سوی ستا د مخ په اور یمه بسیانه

---

(۱) د "پ" چاپي دیوان کې د "همت" پر ځای "خدمت" راغلی دی.
(۲) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۳) په "پ" چاپ کې "طبیعت" او مصوره نسخه کې "طلب" راغلی دی.
(۴) د "خ" لومړي نسخه کې "مدنا زبږه" او د "پ" لومړي نسخه او مصوره نسخه کې "بې غم مه مشه" راغلی دی.
(۵) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "په دامرمشه"، د "پ" په لومړي نسخه کې "په دا زبرمه" او د "خ" دویمه نسخه کې "مردانه مشه" راغلی دی.
(۶) دا غزل د "خ" په قلمي نسخو کې نشته او لومړی مسری یې په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "هسې زه یم یاره ستا په غم تازه".
(۷) قلمي نسخې: "راستوي یو نوی غم زېږي د وصل رغوي د زړه پرهر ملهم تازه".
(۸) د "پ" نسخه او د "خ" دویمه نسخه: "خوښ یم ستا د مخ د نمر وته جلیازه". د "خ" په لومړي نسخه کې "د مخ د تور او" راغلی دی.

خپلوم به دې په هر رنګ چې خپلېږي  کـه دې موم په دروغ کړې رښتيا زه
نن راغلي په جهان يو که ديدن کړي  نه به ته په جهان راشې نه به بيا زه
دا او بدې وعدې چې ته کوې صنمه[(1)]  کاشکې بيا موم فرصت يه دا دنيا زه
چې له ډېرې حيانه ګورې وچا ته  غوځ کړم غوځ کړمه دې ستا ډېرې حيا زه[(2)]
چې له غمه له اندوهه دې مړ نه يم  سنګ آهن يم آدم نه يم ګويا زه[(3)]
کـه جوړه تلې خوك وقبر ته درېغه[(4)]  ژاړم دا چې يا به ته نه يې او يا زه
همېشه د خپلوا وښکولـه سېلابه  سرګردان يم تر فلکه تر آسيا زه
کـه څوك قياس زما د ډېرو اوښکو کا  هسې ګرځم لکه خس پاس په دريا زه[(5)]

زه رحمان د يار ثنا کولی نه شم
کاشکې دا چې په جهان نه وی ګويا زه[(6)]

٢٠٤ ٢٢٨٠

---

(١) د "پ" نسخې او د "خ" لومړۍ نسخه : " دا اوږدې وعدې چې ته کوې منم يې ".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : " دا اوږدې اوږدې وعدې چې کړې صنمه ".
(٢) د "پ" لومړۍ نسخه : " چې له ډېرې حيا نه ګورې وما ته غوځ کړم غوځ ستا دې ډېرې حيا زه ".
د "خ" لومړۍ نسخه : " غوځ کړم وګوره دا ستا ډېرې حيا زه ".
د "خ" دوهمه نسخه : " غوځ کړم غوځ کړم دغه ستا ډېرې حيا زه ".
(٣) دا بيت په " ق ، ک " چاپ کې نشته ، لومړۍ مسرۍ يې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده : " چې له غمه له اندوهه دې ونه مړم ".
د "خ" دوهمه نسخه : " چې له غمه دې مړ نه يم ژوندی پاتې يم ".
(٤) دا بيت په "ق" چاپ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته ، د "پ پ" چاپ کې لومړۍ مسرۍ داسې ده : " کـه جوړه څوك تللی وقبر ته درېغه ".
"پ" چاپ : " کـه جوړه تللی څوك وقبر وته درېغه ".
" ق ، ک " چاپ : " کـه څوك قبر ته جوړه ورتللی درېغه ".
د "خ" دوهمه نسخه : " کـه جوړه تللای څوك وقبر وته درېغه ".
مصوره نسخه : " کـه جوړه تلی څوك وقبر وته درېغه ".
(٥) په قلمي نسخو کې " په دريا زه " راغلی دی.
د "خ" دوهمه نسخه : " په لوی دريا زه ".
(٦) "پ" چاپ او د "پ پ" چاپ : " کاشکې نه وای په جهان کې څه ګويا زه ".
" ق " چاپ : " کاشکې په دا جهان نه وای ګويا زه ".
د "پ" لومړۍ نسخه : " کاشکې مړ وی په جهان کې څه ګويا زه ".
د "خ" لومړۍ نسخه : " چې رحمان د يار ثنا کولای نه شم کاشکې مړ وای په دنيا کې لوز ګويا زه ".
د "خ" دوهمه نسخه : " کاشکې نه وای په جهان کې خو پيدا زه ".

اې زما د زړه آرامه راشه راشه — سروقده ګل اندامه راشه راشه
چې همه واړه خوبان دې مقتدیان دې (۱) — د همه واړو امامه راشه راشه
بې تا نشته هیڅ حرمت (۲) د عاشقانو — د مشتاقو احترامه راشه راشه
خدای زده بیا به هسې وخت وي که به نه وي — زه و بر بړم له ایامه راشه راشه (۳)
نن هنګام دی که جفا کړې که وفا کړې (۴) — چارې ندشي بې هنګامه راشه راشه
دا جهان د مسافرو یو رباط دی — تله دي تله دي له دې ګرامه راشه راشه
پري رویه، سنبل مویه، ملک خویه — عنبر بویه لاله فامه راشه راشه (۵)

شپه لا پر بړ ده بې تا وخ رابانديې شپه شوه (۶)
د رخ ماه تمامه راشه راشه

۲۰۵ — ۲۲۸۸

په دوران مې (۷) هسې رنګ دلبر پیدا شه — ګویا بل دلبر د پاسه لمر پیدا شه
یا طالع د زماني یا بخت زما دی — چې داهسې رنګ شیرین بشر پیدا شه
چې قاصد دو رک یوسف زېرې پرې وکا (۸) — د یعقوب د ستر ګو بیا نظر پیدا شه
عشق دې داکه یو فساد دی نه پوهېږم — په جهان کې چې داشور و شر پیدا شه
د ریغه نخل د عشق مړوي زرغون شوي (۹) — چې له شاخ یې د غم ثمر پیدا شه

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه : "چې همه خوبان دې واړه مقتدیان دی"
نوری قلمي نسخې : "چې دا نور خوبان دې واړه مقتدیان دی".
(۲) د "خ" په لومړی نسخه کې د "حرمت" پر ځای "حاجت" راغلی دی
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۴) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته او د "خ" په لومړی نسخه کې د "نن" پر ځای "دا" راغلی دی.
(۵) قلمي نسخې : "پری رویه، فرښته خویه عنبر مویه سنبل مویه لاله فامه راشه راشه".
(۶) دا مسرۍ په "پ" چاپ او "ق،ک" چاپ کې داسې راغلی ده : "شپه لا پر بړ ده رونا و رخ رابانديې شپه شوه".
د "خ" په دوا ړو قلمي نسخو کې د "شوه" پر ځای "ده" راغلی دی.
(۷) په "ق،ک" چاپ کې د "مې" پر ځای "کښې" راغلی دی.
(۸) د "پ" له لومړی نسخې نه پرته په نورو ټولو کې د "وکا" پر ځای "وکړ" راغلی دی.
(۹) په مصوره نسخه کې د "زرغون شوي" پر ځای "پیدا شوي" راغلی دی.

ملائیک د عشق له غمه خبر دي (۱) خو هم ماله داسخت سفر پیدا شه
یو د ترکو بې نیازي بل عاشقي شوه (۲) په پرهر باندې مې بل پرهر پیدا شه
د نا اهل زوی پلار به څه ښادي کا چې له پښته یې لئیم (۳) پسر پیدا شه
بیا به روغ د عاشقۍ له رنځه نه شي په هر تن کې چې د غم (٤) اثر پیدا شه

۲۰۶

چې هنر عیب کوي، عیب هنر کا (۵)
د [illegible] په دور دا هنر پیدا شه

۲۲۹۸

چې نصیب (٦) یې سینه چاکه زړه افګار شه جرس ځکه په فریاد او په چغار شه
چې نه د عاشقۍ په عاشق وشوه د غفلت له خوبه پاخېده بیدار شه
عبادت د ریا کار څه په کار نه دي (۷) لکه غوټ (۸) هڅې په بحر کې مردار شه
د جاهل زهد په زهد حساب نه دی (۹) لکه مال په خمر خرڅ د خمرخوار شه (۱۰)
مشقت د نادانو واړه پوچ دی لکه بې بارانه ابر تش غبار شه
علمیت د بې عملو عالمانو لکه ګنج (۱۱) د کتابونو په (۱۲) خره بار شه
چې یې کاندي و نا اهل و نا قابل ته نصیحت د ناصحانو کوم (۱۳) په کار شه

---

(۱) دا مسری په "ق، ک" چاپ کې داسې راغلې ده: "ملائیک د عشق له زخمه خبر نه دی".
(۲) دا مسری د "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "یو د ترکو عاشقي بل بې نیازي شوه" او د "ق، ک" چاپ کې د "شوه" پر ځای "ده" راغلی دی.
(۳) دا بیت د "پ" په دوهم نسخه کې نه دی راغلی او د "خ" په دوهم نسخه کې یې لومړی مسری داسې راغلی ده: "د نا اهلو مور و پلار به څه ښادي که".
د "خ" په لومړی نسخه کې د دوهمې مسرې د "پسر" پر ځای "بشر" راغلی دی.
(٤) د "پ" له لومړی نسخې نه پرته په نورو ټولو کې "دغه" راغلی دی.
(۵) په "ق، ک" چاپ کې دا مسرې داسې ده: "چې هنر په عیب کوی عیب په هنر کا".
(٦) د "پ" په لومړی نسخه کې د "یې" پر ځای "مې" راغلی دی.
(۷) دا مسری په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "عبادت د ریا کار هیڅ په کار نه دی". د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې، د "پ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې داسې ده: "عبادت د ریا کارو په کار نه دی".
(۸) په "ق، ک" چاپ کې "غوندې" راغلی دی.
(۹) په مصوره نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کې دا مسری داسې ده: "د زاهد زهد په زهد حساب نه دی".
(۱۰) د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مسری داسې ده: "لکه مال چې په خره خرڅ د خمرخوار شي".
(۱۱) د "خ" په لومړی نسخه کې "پېټې" راغلی دی.
(۱۲) په قلمي نسخو کې د "په" پر ځای "د" راغلی دی.
(۱۳) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نه دی راغلی، په "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ، مصوره نسخه، د "پ" دوهمه نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې د "کوم" پر ځای "څه" راغلی دی.

۲۰۷ — ۲۳۰۶

د رحمان کلام په غوږ د بې هنرو
لکه دُر(۱) په لاس د طفل هسې خوار شه

په دنیا کې له دنیا گوښه کنار شه — سمندر غوندې په اور کې گلعذار شه
پس له مرگه که ژوند غواړې سرگیا کړه(۲) — په پرېکړي سر بیا نوی مرغزار شه
دا ترخې اوبه به څه کوې د بحر — خود پخپله د گوهر په څېر آبدار شه
بې له خدایه نور د هیچا منت مه کړه(۳) — په وچ کاني باندې ونه د کوهسار شه
که د ونې په څېر گل و میوه غواړې — ځان په لمر کړه سایه بان د هر خاکسار شه(۴)
ذست په دست که د خپل کار په درستولې — لا تر ځان ورومبی ولاړ د بل په کار شه(۵)
که دې ویره شي له خپلې درماندگۍ — د درماند و دستگیري کړه خبردار شه
که هوا دې د جنت په خاطر گرځي — خاک نشین په آستانه د هغه یار شه
که په توره تاریکۍ کې رڼا غواړې — ننداره چي د یار د زلفو د رخسار شه
که په کار دې د سروشو نه و شېرینې وې — د خپل ځان په وینو سور لکه انار شه
که راضي یې چي دې باغ شي د زړه سبز(۶) — په ژړا لکه باران د نوبهار شه(۷)

۲۰۸ — ۲۳۱۸

د رحمان په عاشقۍ کې سترگې وشوې(۸)
چې څوک والې عاشق روند دی هغه خوار شه

---

(۱) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "گل" راغلی دی.
(۲) د "خ" په دوهمه نسخه کې "ته سر پرې کړه" راغلی دی.
(۳) د "پ پ" چاپ: "بې له خدایه د هیچا منت بار مه شه".
(۴) د "خ" دوهمه نسخه: "ځان کړه ځمکه سایه بان د هر خاکسار شه".
(۵) چاپي دیوانونه: "لا پخوا تر ځان ړومبی د بل په کار شه".
د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه: "لا تر ځان ړومبی روان د بل په کار شه"
(۶) د "پ پ" چاپ: "که دې زړه وي چې دې باغ د زړه سبز شي".
(۷) د "پ" په نسخو کې: "کوهسار" راغلی دی.
(۸) د "خ" دوهمه قلمي نسخه کې "واشوې" راغلی دی.

بیا مې زړه د تورو زلفو مسخر شه — چې وراسې مې د حبشو تور لښکر شه
هر طرف مې د دعا غشي ګوزار کړه — ولې یو هم هسې نه وُ چې کارګر شه
وهر لورته چې غوږ باسمه غوغا ده — یا ناره د بېلتانه دي یا محشر شه
واعظان خو وعظ کاندي بارې څه کا — چې د عشق په لیونیو یې ګذر شه (۱)
چې پدر غوندې یې ما ته نصیحت کړ (۲) — په دې بدن دستا هغه زما پسر شه
ستا په در کې چې پراته دي نېکبختان دي — چې دستا له دره ووت دربه در شه (۳)

۲۰۹

د عشق زخم به څوک څه ګنډي رحمانه (۴)
چې ګنډون یې په هرهار باندې پرهر شه

۲۳۲۵

هیڅ مې نه زده نه پوهېږم دا خبر شه — چې دلدار مې د اغیار په شکل وخېر شه
زمانه مې د رقیب له لاسه وژني — چې مې سپي ګانه هغه را باندې شېر شه (۵)
د هجران غمونو هسې په عذاب کړم — هغه جرم (۶) چې مې لږ ګانه اوس ډېر شه
چې په تېغ مې لوبې کړې سزا مې داده — سبه چې غوږ مې زړه د ترکو په شمشېر شه
تېر ساعت به د هېچا په لاس کښې نه وزي — اوس به څه وایم وچاوته چې تېر شه (۷)
چې مې نوش د هجران پیاله کړه تلخه — د وصال لذت مې ټول زهر ګنډېر شه (۸)

---

(۱) دا مسره په پېښور چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "چې د عشق په لیونو باندې ګذر شه"
(۲) دا مسره په پېښور چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "چې پدر غوندې وما ته نصیحت کا".
(۳) دا بیت په ټولو قلمي نسخو کې نه دی راغلی او په درې واړو چاپي دیوانونو کې راغلی دی.
(٤) دا مسره د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "د عشق زخم به دې څوک څه کړي رحمانه".
په "ق، ک" چاپ کې داسې راغلې ده: "د عشق زخم به څوک وګنډي رحمانه".
(۵) دا مسره د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې مې نه ګانه هغه را باندې تېر شه".
په مصوره نسخه کې داسې ده: "چې مې سپی ګانه راته شېر شه".
(۶) په "پ" چاپ کې د "جرم" پر ځای "عیب" راغلی دی او په "ق، ک" چاپ کې دا مسره داسې ده: "هغه عیب چې به مالږ ګانه اوس ډېر شه".
(۷) دا مسره د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "اوس به حال وچا ته څه وایم چې تېر شه".
(۸) دا بیت د "پ" په لومړي او دوهمه نسخه کې، او هم د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته. د "خ" په دوهمه نسخه کې یې دروستی مسره داسې ده:
"د وصال لذت مې هسې زنګ ګنډېر شه". په "پ" چاپ کې مسره داسې ده: "د وصال دولت مې کل زهر وګنډېر شه".
په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "د وصال لذت مې کل واړه ګنډېر شه".

۲۱۰ ۲۳۳۲

چې یې نه په وفا یاد نه په جفا وي
سکه رحمان دهغه یار له دله هېر شه [۱]

پاخه یوځل سېراب د عشق په جام شه — په ساغر د ماه و مهر می آشام شه
لا اوله بندګي بیا ازادي ده — که مقصود د آزادۍ لرې غلام شه
د صیاد له وحشتونو خپسر خلاص کړه [۲] — لکه مرغ خانګي پخپله رام شه
ژوندی ځان په ځمکه خښ کړه لکه تخم — که لوېي غواړې د خاورو په مقام شه
درست جهان د ګمینه په خوی وخوره — لکه ځمکه هسې لاندې تر اقدام شه
په نیستۍ کې د هستۍ مرتبه ګوره — ننداره چې په وېرانۍ کې د ځېل بام شه
و دښمن وته پخپله عیب مه وایه [۳] — ځان پخوا تر مرګه ووژنه مدام شه
په مستانو کې د عقل خښتن غل دی — که په نورو خلقو خاص یې دلته عام شه
اې رحمانه د بلبلو ژبه زده کړه [۴] — دغه پسه په صفت د ګل اندام شه

۲۱۱ ۲۳۴۱

ددنیا د سود د پاره غمګین مه شه — غم د دین و د ایمان کړه بې دین مه شه
هر ګوره ګره کشای لرې یې کم بخته — ناامید له خدایه غوټه جبین مه شه
دېر خفته دي دا رنده چې دانه چین شي — خو دي آب و دانه شته دانه چین مه شه

---

(۱) د "پ" چاپ : "جو یې رحمان دهغې یار له دله هېر شه".
د پېښور "ق، ک" چاپ : "رحمان ځکه دهغه یار له دله هېر شه".
د "خ" لومړۍ نسخه : "سکه رحمان دهغه یار له دره هېر شه".
د "پ" دوهمه نسخه : "سکه د رحمان دغه یاد له دله هېر شه".
د "خ" دوهمه نسخه : "چې یې نه په جفا یاد نه په وفا وي سکه رحمان دهغه یار له دله هېر شه".
(۲) "ق، ک" چاپ : "لا اوله د صیاد که ځان خلاص غواړې".
مصوره نسخه : "د وصال له وحشتونو خپل سر خلاص کړه".
(۳) چاپي دیوانونه : "و دښمن وته خپل حال پخپله وایه". د "پ" نسخې او د "خ" لومړۍ نسخه : "او دښمن ته عیب خپل پخپله والې".
(۴) قلمي نسخې : "اې رحمانه د بلبلو لفظ زده کړه".
د "خ" لومړۍ نسخه : "اې رحمانه د بلبل لفظ زده کړه ګوره".

هر مرغه چې د بل غوښې خوري مردار دی	ځان حلال کړه لکه زاڼې شاهين مه شه
د ذرې په څېر آفتاب په طلب خپل کړه (۱)	لکه تیږه هسې پروت په زمين مه شه
کار په تش لستوڼي نه کیږي بې لاسه	لاس په ن یره کړه بې لاسه آستين مه شه (۲)
عاشقي او خود بيني دي سره لري	که مطلب دې عاشقي ده خود بين مه شه
په خپل کور کې دې سفر دی که پوهیږې	مسافر د هندوستان او د چين مه شه
خپل تابوت د رته ولاړ زين کړی آس د ی	ته په زړه مه د بل آس و د زين مه شه

چې تقوی دیانت نه لري رحمانه
۲۱۲ د دې هسې همنشين، همنشين مه شه (۳) ۲۳۵۱

په امید د ګانه و دځ زړور مه شه (٤)	نقد نسیه ځبله بېل کړه او تر مه شه
په امید امید يې خلق نا امید کړل	د فلک له رهزنۍ بې خبر مه شه
د دنیا بادشاهان خواست کړي له فقيره (۵)	ته بادشاه د هسې ملک شه خواستګر مه شه
د همای په څېر طمع کړه وچ هډوکي	لکه مچ طالب د شهدو شکر مه شه
ځان صدف غوندې و خاورو ته کړه ځرمه	لکه ځګ هسې د بحر په سر مه شه
په بې عزيزي موم دلان تر سنګدلانو	ته يو څاڅکی شه (٦) داوبنکو ګوهر مه شه
حيوانات هم په تسبيح د خدای مشغول دي	ته انسان يې تر حیوانه بتر مه شه
نفس شیطان سره وکفر ته وباسي	رحم فهم په ځان وکړه کافر مه شه (۷)

(۱) "ق" چاپ او مصور نسخه کې د "خپل کړه" پر ځای "ګرځې" راغلی دی.
(۲) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : "لاس په توره کړه بې لاسه آستين مه شه".
مصور نسخه : "لاس پکښې کړه بې لاسونو آستين مه شه".
(۳) چاپي دیوانونه او مصور نسخه : "د دې هسې هم نشينو نشين مه شه".
(٤) چاپي ديوانونه : "په امید د آینده و زړور مه شه".
(۵) قلمي نسخې : "د دنیا پادشاهان خواست کا له فقراو ته پادشاه د هسې ملک بې خواستګر مه شه".
"خ" په بېرې نسخه کې د "فقراو" پر ځای "قصورونو" راغلی دی.
(٦) قلمي نسخې : "يو څڅکی تلی شه" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "يو څو څاڅکی شه" راغلی دی.
(۷) دا بيت په قلمي نسخو کې نشته.

تپ راننه وي عاشقان ديار په عيب ... ته تپ رونه د هغه يار په هنر مه شه

۲۱۳ ... ۲۳۶۱

دغه ځای د بيد لا نوي لمح ناله

د دلبر و په کوڅه د لا ور مه شه

چي له ستر گو مي خوناب د زړه عيان شه[1] ... له نظره مي هر سنگ در و مرجان شه

خراب زړه چي مي ژړل د يار له غمه ... بيا په اجر د هغې ژړا خندان شه[2]

کمينه له جملة آفتو خلاص کړم[3] ... لکه خاوري د دشمنو په چشمان شه

د غصي زهر يي شهد شول په صبر[4] ... د خليل په خبر آتش پري گلستان شه

عشق يو دادی په عاشق له خپله خدا (يه) ... هسي نه چي وهر چا و ته عيان شه[5]

چي د يار زلفي رخسار مي په زړه نقش شو ... خپل خلوت مي خراسان و هندوستان شه

د رنځور علاج تا رخه تا رخه داروي ... دغه درد دی چي هم درد و هم درمان شه

چي د استا د خولو بوي ور باندي راغي ... د عطار په مخ داو شکو رود روان شه

علامت د استغنا به يي څرگند وي ... هغه څوك چي تېر تر ځان و تر جهان شه

د گريوان په چاك کول يي څه لا رغوي[6] ... چي ځيگر يي رومبی چاك تر گريوان شه

عشق د يار په رانه وچولي ولجه دی ... خو چي وچولي يي غوته کړ تاوان شه[7]

نادانان به د دنيا غمونه کاندي ... مر د هغه دی چي په زبر مر د خپل ځان شه

---

(۱) په "ق" چاپ کی "روان شه" راغلی دی.

(۲) دا بيت په مصوره نسخه کی نشته.

(۳) "ق، ك" چاپ کی لومړی مصرع داسی ده: "کمينه نه له جملة افتو خلاص کړم".

(٤) "ق" چاپ: "د غصي زهر يي شو بدل په صلح".
د "خ" دوهمه نسخه: "د عيسی زهر يي شهد شو په صبر".

(۵) دا بيت په قلمي نسخو کی نشته.

(۶) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته.
په "ق، ك" چاپ او د "پ" په لومړی نسخه کی د "لا رغه" پر ځای "پروا" راغلی دی.

(۷) دا بيت د "خ" له لومړی نسخې او مصوری نسخې نه نقل شو.

نښانه د ناداني به نوره څه وي | چې سړی په خپل ګوزار(۱) باندې پښېمان شه

آدمیت څه په دولت نه دی رحمانه

۲۱۴ — ۲۳۷۵

بت که جوړ شه د سرو زرو نه انسان شه

که په عقل یې لازم په کار نه شه | که له بخته مې یاري غوښته یار نه شه

غرونه غرونه خوب په ځاځکي او بو تښتي(۲) | یار په سیند زما د اوښکو بېدار نه شه

معلومېږي زه کم بخت د درست جهان یم | چې د درست جهان دلدار مې دلدار نه شه

ما غندي او رقیب ستايي طالع ګوره | چې سړی ورته د سپي په مقدار نه شه(۳)

کډې یې سل ځله اقرار راسره وکړ(۴) | دا زمانا قرار زړه په قرار نه شه

د پېر غمونه د چې بې وخورم بچپله(۵) | په دنیا کې مې بل هېڅوک غمخوار نه شه

که مې سل نصیحتونه ورته وکړل(۶) | هغه خدای بې لارې کړی په لار نه شه

سهل کار دی که رحمان په زړه آزار شوم

۲۱۵ — ۲۳۸۳

چې خاطر د هغې مستې آزار نه شه

هر ساعت که څه ګوزران دی بې مخلصه | هزار بار ارمان ارمان دی بې مخلصه(۷)

که څوک والي چې له ځانه شېرین نشته | ولې ما نه ځان تاوان دی بې مخلصه

لکه شمع په ورځ مړه د شپې سوځم | تمام عمر مې نقصان دی بې مخلصه

په بلبل کله بهار ګله خزان وي | په ما ګل واړه خزان دی بې مخلصه

---

(۱) په "ب" چاپ، "ق" چاپ، د "پ" لومړنی نسخه او د "خ" په نسخو کې "ګوزار" او په "ق، ک" چاپ کې "عمل" راغلی دی.

(۲) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه: "غرونه غرونه خو په یو ځاځکي او به شي".

(۳) دا بیت د "خ" په "دوهمه" نسخه کې نشته.

(۴) د "خ" "دوهمه" نسخه: "که سل ځله ته اقرار راسره وکړې".

(۵) دا بیت د "خ" په "دوهمه" نسخه کې نشته، په نورو قلمي نسخو کې لومړی مسری داسې ده: "بې غمونه چې بې وخوارم خپله".
د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه: "بې غمونه چې بې وخوار یو د بله".

(۶) قلمي نسخې: "که مې سل نصیحتونه ورته وکړه".

(۷) دا غزل په قلمي نسخو کې نشته.

که شبنم همیش د نور رابانده وي     په ماکاني د آسمان دی بي مخلصه
د پېرغمونه د هجران رابانده تېر دي     اوس یو دم رابانده ګران دی بي مخلصه
د آشنا د مینې اور وما ته ګل دی     ګل د اور په دود سوزان دی بي مخلصه
په وصال کې مې نه مرګ لیده نه تبه     اوس مې مرګ په هر زمان دی بي مخلصه
زه حیران د هغو خلقو په روزګار یم     چې ژوندون ورته آسان دی بي مخلصه

د ~~رحمان~~ دلدار د زړه دمه په هیڅ نه شي
مسافر غونډې حیران دی بي مخلصه

۲۱۶     ۲۳۹۳

چې ښکاره شو راته راز د یار له پطه[(1)][(2)]     پرېشان شوم په زړه حیران له دې لمطه[(3)]
خولګ به خر دوفا طمع کاله ښکلیو     چې د طمع لفظ خالي دی له نقطه
په کشتۍ د عاشقۍ به پل کښېږدم     که شم داخل خارج د غم له شطه
پرې کړه سر چې شي منصور وهر اشیا ته     تېره والې د قلم راځي له قطه
بیابه څوز زړونه محبوبه په منګل وړي     هسې راخله لکه تکه سپینه بطه
د یار غم به دې هاله په زړه مېشته شي     که دې غیر غمونه شي له دله حطه
نن کاغذ راته ویار د یار راوړی     ګوره څه به شي معلوم له دغه خطه

چې مې قد د یار دراز او نه کوتاه دی
~~رحمان~~ دلدار والخسته په لاس ځکه اوسطه

۲۱۷     ۲۴۰۱

د هغو چې په هجران شي سینه داغه     نور یې څه دی له ارامه له فراغه[(4)]
د غه ځای دی د بلبلو د تو تیا نو     د چمن له ګلو بېرته اوسه زاغه

---

(۱) دا غزل د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو.
(۲) د یار له پطه = د یار له پټه، د قافیې د سمون په غرض یې "پټ" په "پط" لیکلی دی.
(۳) لمط = لمت = دالي هم د قافیې د سمون په غرض په "ط" لیکلی دی.
(۴) دا غزل د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو.

په شمام یې سرتر پایه معطر شوم ... نن د یار د زلفو بوی راغی له باغه

تر قیامته به مخمور بې خوده او سم ... که یو گوټ را کا ساقي له دې ایاغه

زه به ستا په درکې عمر وار تېر کړم ... د مجنون مې تل روزگار کیږه له راغه

۲۱۸ — ۲۴۰۷

ستا په نور به زه صحح [ملان] صورت ستي کړم

که یې ووینم یو ځل جبین چراغه

مابه ولې کړ و فریاد او فغان دریغه ... که آشنا وی را سره جا ودان دریغ[1]

له فراقه مې د زړه په وینو وینځم ... کاشکي نه وی مرگ بېلتون په جهان دریغه

فرزانه بلبل په وخت د بهار ژاړي ... چې آخر به باندې راشي خزان دریغه

زه حیران ورته ولاړ په ستر گو وینم ... چې دایم راځي دروي یاران دریغه

یو ذره مې په طاعت کې تېره نه کړه ... گران بها عمر مې لاړ رایگان دریغه

۲۱۹ — ۲۴۱۳

سرکښي کې تېر ترحده بېچاره یم

که قوت د طاعت را کړ و رحمان دریغه

که یو ځل مې هغه یار ولیدې دریغه ... سرفراز مې سرگردان ولیدی دریغه[2]

چې تمام جهان په عقل غلبل کړمه ... ریز مریزه مې پیکان ولیدی دریغه

د وجود گلزار یې درست سره اغزي شو ... خارستان مې باغستان ولیدی دریغه

دروغ صورت لکه بادشاه صحت یې تخت دی ... ناست په تخت مې شاه جهان ولیدی دریغه

د تن ښهر یې خرابه خرابي شوه ... بیا مې دا خراب ودان ولیدی دریغه

لکه زه چې له مخلوقه گریزان یم ... سگ مې هسې گریزان ولیدی دریغه

دا سبق را ته تعلیم شکستگي کړه ... چې دروغ کار مې شکستگان ولیدی دریغه

---

(۱) داغزل یوازې او یوازې د "پ ـ پ" چاپي دیوان کې راغلی دی په نورو چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې نشته.

(۲) داغزل د "پ پ" چاپي دیوان نه نقل شو.

سخت ساعت څمکه آسمان راته یکسان کړه
فرق د ځمکې د آسمان ولیدی دریغه

و دې خپلې حیرانۍ و ته حیران یم
چې حیران صورت شادان ولیدی دریغه

د قرآن او د حدیث په کتو خوښ شوی
بیا په لاس حدیث قرآن ولیدی دریغه

چې زمان ځمت پېغور گڼي و ما ته
ما هغه د ځان په شان ولیدی دریغه

خپل یاران مې له زحمته په ژړا دي
ما د غه یاران خندان ولیدی دریغه

د آشنا زلفې مې ولیدی په لاس کې
بند په لار د هندوستان ولیدی دریغه

صبح و شام مې گدایي د یار د در کړې
په دا کار مې ځان مهمان ولیدی دریغه

درخانۍ او آدم خان په ارمان لاړل
لرې ماله زړه ارمان ولیدی دریغه

مخامخ مې گفتگوی له یار سره کړې
د یار ما د غه احسان ولیدی دریغه

چې خطا دې واړه عفوه کړې رحمانه
یار مې هسې مهربان ولیدی دریغه

( ۲۴۳۰ ) ۲۲۰

ته ناحق په ما کینه کړې کینه نا که
په کینه بد آئینه نه کړې ته پاکه[1]

څولک بې وجهې چا ته توره تیره اخلې؟[2]
خپل عمل دی چې د نیا یې کړه هلاکه

چې خندایې د بلبل په آه سرد کړه
خدای د گل گریبان پاره کړ سینه چاکه

ځکه سپینی شوې اول د حباب سترگې
چې له بغضه په دریاب چوې تنهاکه[3]

که تن ځمکه کړې زړه تخم باران اوښکې
لکه نخل سر به و کاږې له خاکه

---

(۱) د "پ" نسخې : " په کینه بد آئینه نه کړې خپیاکه ".
د "خ" لومړۍ نسخه : " په کینه بد آئینه نه کړې خپل پاکه ".
په مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : " په کینه بد آئینه نه کړې خه پاکه ".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : " په کینه بد آئینه خه کړې پاکه ".

(۲) د "پ" په لومړۍ نسخه کې دا مسره داسې ده : " څولک بې وجهې چا ته توره تویږي اخلې ".
د "خ" په دوهمه نسخه کې " توره تیرې " راغلي دي او د "پ" په دوهمه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "بې وجهې" پر ځای " ناحق " راغلی دی.

(۳) دا مسره په تمو لو چاپي دیوانونو کې په لاندې ډول راغلې ده : " چې له بغضه په دریاب کې چوې تنهاکه ".

بالا دست به شي هاله په نور د ونو[1] — که تعلیم د زبردستي واخلي[2] له تاکه

بیا به نه مومي د ترکو واك و حکم — څو ونه وځي د جهان له جمله[3] واکه

د هغه جهان ژوندون به هغه[4] مومي — چې لاس وکا بې د دې جهان له ځواکه[5]

ته چې ځغورې سر و مال په عاشقۍ کې — عاشقي دا هسې چېرې وي کا واکه[6]

چې دا هسې بزرګ مېلمه وکور ته بیالي — اول غولې پاکیزه کړه له خاشاکه[7]

په دو لي کې به و رنه شي تر توحیده — څو ضمیر دې خالي نه شي له اشراکه[8]

دا همه واړه حجاب دي چې لیده شي — نور دې حسن بالاتر دی تر افلاکه[9]

په ظاهر لباس غلط د سړي مرشد — مېنځ یې ګوره له چغزي او له متاکه[10]

اولیاء په جهان ځکه څرګند نه دي — چې پاك ځوي خیسر[11] نغاړي له ناپاکه

٢٢١

هیڅ وفا یې له هېچا سره و نه کړه
تر و ماځ[12] به څه ما نه کا له افلاکه

٢٤٤٥

---

(۱) د "پ" په دوهمه نسخه کې "خلق" راغلی دی.

(۲) د "پ" په لومړۍ نسخې ____________ کې "اخلی" راغلی دی.

(۳) په چاپي دیوانونو کې د "درست جهان له واکه" راغلی دی او د "پ" په لومړۍ نسخه کې "له جمله ځواکه" راغلی دی.

(٤) په چاپي دیوانونو کې "هاله" راغلی دی.

(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مسره داسې ده: "چې ځان وباسې د دې جهان له شراکه".

(٦) په "ب" چاپ او "پ پ" چاپ کې داسې ده: "عاشقي داهسې چېرې ده کا واکه".
او په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "عاشقي داهسې کله ده کا واکه".
مګر په مصوره نسخه کې داسې ده: "اول غولی پاکیزه کړه له خاشاکه".

(۷) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه کې نشته.
لومړۍ مسره یې په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "چې داهسې لوی مېلمه ته کور ته بیایې".

(۸) دا مسره په مصوره نسخه کې داسې ده: "څو د خپلسه خالي نه شي له اشراکه".

(۹) په چاپي دیوانونو، مصوره نسخه، د "خ" لومړۍ نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې "له ادراکه" راغلی دی.

(۱۰) قلمي نسخې: "په ظاهر لباس غلط د دنیا مرشد میان یې ګوره چې چغزي دی که متاکه".
د "پ" په دوهمه نسخه کې یې لومړۍ مسره داسې ده: "په ظاهر صورت غلط د دنیا مرشد".

(۱۱) په مصوره نسخه، د "خ" په دوهمه نسخه کې "خیل سر"، او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "خپل ځان" راغلی دی.
دوهمه مسره یې په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "چې پاك روی ځ سر نغاړي له ناپاکه".
په "پ پ" چاپ کې داسې ده: "چې پاك روی پسند وس نغاړي له ناپاکه".

(۱۲) په "پ" چاپ کې "مانه" راغلی دی.

هسې نه چې زما یار واړه جفا که | صد چندان لکه جفا هومره وفا که (۱)

لکه زه چې په خپل یار باندې مین یم | یو په سله هومره مینه یار په ما که

نه (۲) یې وړی په احسان دی (مې) نه په جور | مجنون ځکه په لیلی پسې ژړا که

درست جهان د خوبرویانو نازبردار دی (۳) | نه یوازې د غم نار (۴) په ما و تا که

۲۲۲

خشکل نه گوري ځان و هغه مخ ته (۵)

چې فرښتې یې هم د حسن تماشا که (۶)

۲۴۵۰

چې خیمه یې (۷) د سیلاب په مخ شوه لکه | د حباب تماشا گوره تر دمکه

هیڅ وېسا نه ده په کار د یار په سوری | که تري لاندې وي یې دا وسپینو کو دیکه (۸)

دا د لاندې به جمه واړه چیت پیت شي | مگر سروې چا وکښلی تر فلکه

چې په اصل خدای نسکور وي پیدا کړی | خولک به څه خوري ددې دهر له بنانکه (۹)

چې دښمن یې وي له دوستنه اې ولې (۱۰) | د هغو احتیاط بویه له کومکه

زړنه واچوه د نفس و خولې ته خاورې | خوږې نه ده خوله د گور په خاورو ډکه

هر چې ډکه یې د گور په خاورو خوله شي | په هغو باندې حرام ده نوره څکه

---

(۱) دا غزل د "ب" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۲) د "ب" په نسخو کې د "یې" پرځای "مې" راغلی دی.

(۳) په مصوره نسخه او د "خ" دوهمه نسخه کې "ناز پرور" راغلی دی.

(۴) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "یار" راغلی دی.

(۵) دا مسرۍ په "ب" چاپ او "پ پ" چاپ کې داسې ده: "نه به گوري رحمان خشکل هغه مخ ته".
د پېښور په لومړو دوو چاپي دیوانونو کې داسې ده: "نه به گوري رحمان غرنگ هغه مخ ته".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "خشکله به نه گوري رحمان د هغه مخ ته".

(۶) دا مسرۍ په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "فرښتې چې یې د حسن تماشا کا".
په مصوره نسخه کې داسې ده: "چې فرښته یې هم د حسن تماشا کا".

(۷) په قلمي نسخو کې "چې یې خوند د سیلاب په مخ شوه لکه" راغلی دی.

(۸) چاپي دیوانونه: "لا تري لاندې وي د خولو گوګو ډکه".
د "خ" دوهمه نسخه: "که تر لاندې خولک دا وسپینو کو ډیکه".

(۹) قلمي نسخې: "خولک به څه خوري د سپهر له بنانکه".
په "ق" چاپ کې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "چې په اصل خدای نسکور دی پیدا کړی".

(۱۰) قلمي نسخې: "چې دښمن یې د دوست نامې وي اې ولې"

۲۲۳ — ۲۴۵۸

که نور څوک مبارکي کا وبله نوري
و ناصح ته دې خپل يار وي مبارکه

ګېډه وتړه په پرې سره کلکه(۱) — درو تې طمع و مه کړه له فلکه
هر سايل چې سوال د نان کا له آسمانه — ګويا غواړي په کچکول کې اوزبکه(۲)
له آسمانه چې څوک طمع د وفا کا — دغه طمع يې طاعون ګڼه(۳) بې شکه
له باران سره يې هسې بلې ووري — چې هر زخم يې بدتر وي(۴) تر ټوپکه
که په چا يې شفقت او مرحمت شي — ظلم جور يې بدتر وي(۵) تر . . .
موړ به نه شي هيڅ سړی بې قناعته — که يې خوند وي په سيم وزر ډکه
بيا به نه مومي کمال بې کيمينه — که خېمه يې وي(۶) په عرش د پاسه لکه
که جهان په نور عالم باندې فراخ دی — په تنګ چشم باندې تنګ شي تر څپله(۷)
د دې دهر په يارانو کې آب نشته — که يې غواړې تر سما وتر سمکه
ترخې(۸) اوښکې د عاشق آب و نمک دي — خدای دې نه کا څوک بې آب وبې نمکه

۲۲۴ — ۲۴۶۹

دا درازې انديښنې مه کړه ناصحانه
د دنيا چارې په تلو دي تر دمکه

که په هجر کې څوک ما پوښتي له حاله — حال خو دا دی چې ناتوان يم بې مجاله
زه ديان په ديدن ځکه شتابي کړم — چې د عمر بقا نه وينم تر کاله

---

(۱) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته.
(۲) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "ګويا خير غواړي کچکول کې له اوزبکه".
(۳) د "خ" په دوهمه نسخه کې "ګنم" راغلی دی.
(۴) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه کې "ستيره وي" راغلی دی.
(۵) دا بيت په "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته. په نورو چاپي ديوانونو او "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې د "بتر وي" پر ځای "تبر وي" راغلی دی.
(۶) په چاپي ديوانونو کې "دې وي" راغلی دی.
(۷) په چاپي ديوانونو کې "ترچيشمکه" راغلی دی.
(۸) په "ق" چاپ، "ق، ک" چاپ او "خ" لومړۍ نسخه کې "ترشې" راغلی دی او "خ" په دوهمه نسخه کې "ډېرې" راغلی دی.

نصير احمد (عزيز)
NASEER AHMAD (AZIZ)

چې تر حسن تر جمال دې زار نه شوم | شرمنده يم د خوبانو تر جماله
ته وما ته نصيحت مه کړه ناصحه | عشق بې نياز دی له ثوابه له وباله
بې د خپل آشنا د حسن له تعريفه | هيڅ مې مه پوښته له نوره قيل وقاله
ما د عشق په درس کې نور څه لوستي نه دي | بې له زلفو بې له خطه بې له خاله
په دنيا په آخرت مې دې خدای نه کا | بې نصيب د مهرويانو له وصاله

٢٢٥ | ٢٤٧٧

که يار سر په د بدن غواړي مرحبا روحه
دغه حکم رحمان کړی دی دلاله

خو تر ميانه وراند نه کړې د تن پوله | وبه نه رسې تر خدايه تر رسوله
خدای وتا ته دين دنيا په غوره کښېنوه | تا دنيا کړه په داد وارو کې قبوله
تر حرص په هو نه بله بلا نشته | دا بلا دستا په خونه شوه نزوله
يو ساعت د خدای په ذکر مشغول نه شوې | تمام عمر د خپل ځان په غم مشغوله
چې باقي زندګاني په فاني پلورې | ځان په کوم دانش دانا بولې مجهوله
له خالقه رو ګردان شوې و مخلوق ته | بيا و ځان ته عاقل وايې نامعقوله
نصيحت لکه هلک دربانديې تريخ شو | د دنيا په شيريني پسې ملوله

٢٢٦ | ٢٤٨٥

چې رحمان غوندې خورسند نه شې په نوک
خلاص به نه شې په هيڅ رنګ د زړه له زوله

خبر نه يم چې يې راوستم له کومه | بيا مې کومې خواته استوي چې درومه
لکه روند چې لاس د بل په اوږه کيږدي | هيڅ ژوره لوړه نه وي ورمعلومه
خدای راپيښه نړۍ لاړکړه نالېدلې | لکه وراند ما شوره چې وي(۱) سرګومه

---

(۱) په قلمي نسخو کې د "چه وي" پر ځای "هسې" راغلی دی.

خراب زړه مې تورو زلفو ته هوس کړي     بازې کبوتر د مارغه په ښېر په لومه (۱)
هسې کوډې عاشقی را باندې وکړې     چې سنګین خاطر مې نرم شو تر مومه
چې یې هېڅ له خدایه ترس او وېره نه شي     الغیاث د دلبرانو له رسومه (۲)
کله را کاندي شراب د لعلو لبو     کله جام د زهرو را کاندي چې شومه (۳)

۲۲۷     د مطلوب له طالبانو چې ځان شمېري (٤)
اې رحمانه اول سیال شه بیا یې مومه     ۲٤۹۳

اعتماد (۵) به په دنیا کوې ترکومه     دا رفتار به په پښې شا کوې ترکومه
خوب به پټ له مرګه ګرزې سپینه ږیره     په روښانه ورځ به غلا کوې ترکومه
چې د دهر له یارانو وفا غواړې     صیادي به د عنقا کوې ترکومه
دېرې به علاج په دانګ په لوړ نه شي (٦)     دغه کار به په عصا کوې ترکومه
په غفلت به خدامید د مرحمت کړې     د ناسور د رنځ دوا کوې ترکومه (۷)

۲۲۸     ته چې پند وایې ناصحه و رحمانه ته
شکایت به د قضا کوې ترکومه     ۲۵۹۹

شمع د دلبر سترګې عاشق پرې پروانه     ځان پرې خپل جلیا کاشي یې خوند ویرانه (۸)
مطر په معنې لې د دلبر د مینې بحر     شو صدف دسترګو واره پر یه دردانه (۹)

---

(۱) دا بیت د "پ" په نسخه کې داسې دی : "خراب زړه مې تورو زلفو ته هوس کړ     ولې کبسوتم د مرغه په ښېر په لومه".
د "خ" په درې وارو نسخو کې یې دوهمه مسره داسې ده : "ولې کبوت د مرغه په ښېر په لومه".
(۲) قلمي نسخې : "الغیاث دی د دلبر ولډه رسومه".
(۳) په مصوره نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا مسره داسې ده : "کله جام د زهرو راکه چې یې شومه".
(٤) قلمي نسخې : "ته چې ځان طالب شمېرې د مطلوبانو     اې رحمانه تر وکه سیال یې بیا یې مومه".
د "خ" په دوهمه نسخه کې یې لومړۍ مسره داسې ده : "چې یې ځان طالب شمېرې له مطلوبانو".
(۵) په ټولو قلمي نسخو کې "اعتبار" راغلی دی.
(٦) دا مسره په قلمي نسخو کې داسې ده : "دېره به علاج په دانګ و په لوړ نه شي".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : "دمېره به علاج په دانګ و په دول نه شي".
(۷) دا بیت یوازې او یوازې د "خ" په دوهمه نسخه کې راغلی دی په نورو ټولو قلمي نسخو او چاپي دیوانونو کې نشته.
(۸) دا غزل یوازې او یوازې د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې راغلی دی. د دې بیت دوهمه مسره د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده : "ځان په څپل جلیا کمه شي یې خوند ویرانه".
(۹) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

غم مې د زړه وینې تر چشمانو راېږدو کړي ... اوښکې نه دي وینې وې شوې دانهانه (۱)

زه په دا لمبه ستر ګوسپند د اوښکو بیا یم ... لمبې چې ماهي د وصال وي په آب خانه (۲)

شوه چشمه د ستر ګو ستا د غم په وینو صافه ... خکه مې همېش اوښکې لمبې بې روانه (۳)

خیر د بدن وخوا د عاشق ته ارزاني کړه ... ته دلبر غني يې د خپل مخ په خزانه

اوښکو د فراق ده باندې زور وکړه ګمانه ... هیڅ پروایې نه شي بې پروا هسې مستانه (۴)

۲۲۹ — ۲۵۰۷

عقل د ماځ دې په جفا سره مسلوب کړ

مکره مکره مکره هسې بده یارانه (۵)

د بېر عمر مې تېر کړ بېهوده په زمانه ... نور دې زما سر وي او د تر کو آستانه

هیڅ مې حاصل نه کړه په شیخي او په تقوی کې ... پس له دې مې وار دی هر چې شي په میخانه

شیخ و شیخي ورد و وظیفه او ذکر فکر ... زه او ساقي جام و باده چنګ و ترانه

زه و زاهد او ته حیران یم د دوی و ماته ... دیوانه به ده خند د وده به دیوانه (۶)

ګنج د درو زاړه شه د عاشق تر شا خلي اوښکو ... نه خو وار د عقل نه د عشق یوه دانه (۷)

تیغ د یار له لاسه په مرګ د عاشقانو ... هسې لذت کاندي چو د مېو پیمانه (۸)

خدای ې لره به وډ شم په سودا د یار له مخه ... بل مقصود مې نشته په کعبه په بتخانه

زه له دېرې مینې په تېش بوی د یار شیدا شوم (۹) ... تل دلمد و ختولو او به دي بهانه

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه : "غم مې د زړه وینې له چشمانو راالجېږي ولې چې لمبې يې دوصال دی آب خانه".

(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۳) د "خ" دوهمه نسخه : "شوې چشمې د ستر ګو ستا د غم په اوښکو صافې خکه همېش اوښکې تر ې لمبې يې روانه".

(٤) د "خ" دوهمه نسخه : "هیڅ پروایې نه شي بې پروا یاره دی مستانه".

(۵) د "خ" دوهمه نسخه : "عقل د جهان د دنیا سره مسلوب کړ مکره یاره مکره هسې مه ده یارانه".

(۶) قلمي نسخې : "دیوانه به ده مېخند د وده به دیوانه".

(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(۸) چاپي دیوانونه : "هسې لذت کا لکه د میو پیمانه".

(۹) په چاپي دیوانونو او د "خ" په قلمي نسخو کې "شیدا یم" راغلی دی.

"که زاهد زهد کا د یو جنت د پاره — سر بند لی نه شي په ا و ربل د جانانه[1]
ګوره د منصور هسې په دار نه شې رحمانه — مکره دا د عشق خبرې مستې زندانه"[2]

۲۳۰ — ۲۵۱۸

بلـه نښانه د عاشقۍ نشته ناصحانه[3]
بې نام و نښان شه که دې غواړې نښانه

تل ژړا فریاد کړم د دلبر پر آستانه — کله به وما ته مخ ښکاره که مستانه[4]
زه لکه مجنون ولاړ په طمع د لیلا یم — اوس به لیلی راشي پر سپین مخ زلفې شانه
راغلم ستا زیارت له که مې زړه یقین نو نه شي — تمیک پرې وان مې د واړه پیره ستا دې شکرانه
تیغ د معشوقو دې په ګردن د عاشقانو — هسې رنګه زیب که لکه مې په پیمانه

۲۳۱ — ۲۵۲۳

چیرې د منصور په دود سنګسار نه شې رحمانه
مه کوه د عشق خبرې د برې رندانه

که له مخه یوه خوا کا حجابونه[5] — خدای به ورکا وخوبانو ثوابونه
کله وې چې یو په رنګ د هغه یار شي — که هزار شي په آسمان کې آفتابونه[6]
په ګرداب د زنخدان یې هسې غرق یم — هیڅوک مه شه غرق په هسې ګردابونه[7]
لکه زه چې یې له غمه په عذاب یم — خدای دې نه ندي په چا هسې عذابونه
ګفتګوی مې هیڅ اثر و ربانه نه کا — که له غمه یې تصنیف کړم کتابونه
په یوه ځواب مې رد کا هزار سواله — هسې کاندې د سوالونو ځوابونه

---

(۱) دا دوه بیتونه په قلمي نسخو کې نشته.
(۲) د "خ" دوهمه نسخه: "مه وایه رښتیا خبرې د برې رندانه".
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٤) دا غزل د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو.
(۵) د "خ" نیمګړې نسخه: "ستکه یوه خوا کا له مخه حجابونه".
(٦) د "خ" نیمګړې نسخه: "که هزار شي افتابونه مهتابونه".
(۷) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

هیڅ پایاب(1) د فن فریب یې مونده نه شي — ځوك به څه غواړي د بحر پایابونه

کړلې ستر ګې و بله کښېږدم راته والي — په یاري کې عالم نه کاندي خوبونه(2)

مال و ملك یې همه واړه او به یوسي — د هغو ستر ګو چې دي وړمي سیلابونه

دکن وور وځو محراب ته دې حیران یم(3) — څه نسبت لري بتان و محرابونه

ماه الله د یار سالي و ولاس وکښېلې(4) — چې په لاس کړل مطربانو ربابونه

۲۳۲ — ۲۵۳۵

ارغواني جامې یې واغوستې رحمانه

بیا یې جوړ کړل ستا د قتل اسبابونه

راکوي د بېدردۍ(5) پېغورونه — بلوي مې په تندي باندې اورونه

نور څه نشته واړه خوښې دي د زړونو — چې ورڅلي شي(6) د ترکو په تېغونه(7)

هر نګاه یې په وکښود زړونو شېر دی — همېشه راباندې ازمايي زورونه

خدای دې تور د تورو ستر ګو چاته نه کا — عالمونه یې وکړې په تورونه(8)

یو حسن او ربې بل کبر په جهان کې — په دا اور باندې(9) یې وسول دېر کورونه

نه دیان په مینه غل کړم رقیبانو — ګنهونه یې کړم راپورې وپورونه

۲۳۳ — ۲۵۴۲

د رحمان د عاشقۍ هسې غږ وشو(10)

چې برپا ئې شوه په هر ښهر کې شورونه

---

(1) په "ق" چاپ او د "خ" نیمګړې نسخه کې "پایان" راغلی دی.

(2) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په نیمګړې نسخه کې نشته.

(3) د پېښور چاپي دیوانونو او قلمي نسخې: "دا برولو و محراب ته یې حیران یم".

(4) په چاپي دیوانونو، مصوره نسخه او د "خ" په بشپړه نسخه کې "وللی" راغلی دی.

(5) "ق، ک" چاپ کې "راکاوه شي د بېدرد د و پېغورونه". په مصوره نسخه او د "خ" په بشپړه نسخه کې "بې ننګه" راغلي دي.

(6) د پېښور چاپي دیوانونو کې "وژلي" راغلي دي.

(7) په قلمي نسخو کې "پېغورونه" راغلي دي.

(8) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(9) په چاپي دیوانونو کې په دواړو بشپړو کې د "یې" پر ځای "دې" راغلی دی.

(10) په "ق" چاپ کې "زور شو" راغلی دی.

په خاطر مې غلبه شول ستا غمونه — لن دخدای د پاره کښېږده قدمونه
څه خو قیاس زما د پرهار و سپکو کړه — چې مې چیرې وو په تن کې دارملونه (۱)
هر چې ستا په دم ژوندي وي نه رغېږي (۲) — که بې تا په ځان پوکې هزار دمونه
که هزار هزار دمونه په ځان پوکا — نور به نه کا په دمونو قسمتونه (۳)
له قسمته خلاصه ده د هیچا نشته — که داخل شي د مکې په حرمونه
سرې کله په کوښښ ترځایه رسي — څو دخدای له لاسه نه وي (٤) کرمونه
چې توانګر د قناعت په خزانه شي — نور به څه کاندي دینار و درمونه (۵)

۲۳٤

## قسم وخوري له خوبانو پیالي مات کا
## څه باور دي د رنځ په قسمونه

۲۵۰

ژوندي کاندي د دنیا کار و بارونه (۶) — په مړو پر پواته دخاورو انبارونه
څوک سرتور، پښې پېل خاورو له درومي — چا کانږه دي په سر اپښي دستارونه
سنه استوګنه د دوو ورونو سره نه شي (۷) — بلکه یو حبله اخلي ازارونه
دیوي ونې (۸) له ښاخه پیدا کېږي — په چمن کې هم ګلونه هم خارونه
هومره خلق مره ورځ له دنیا درومي — چې یې نه په حساب شي نه شمارونه
یو یو وار دی په هر چا باندې تېرشوي — همېشه په هیچا نه وي دا وارونه
د پرتوونو کې بازارګې مې ترسر تېر دي — څوک دې نه کا په ما قنج و بازارونه

---

(۱) په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې "رودونه" اغلې دي.
(۲) د "پ" چاپ: "ستا د حسن مار چې یې وخوري نه رغېږي".
(۳) د "خ" په دوهمه نسخه کې "قبلمونه" راغلي دي.
(٤) دا بیت په "ق" چاپ او "ق. ک" چاپ کې نشته.
(۵) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۶) د "پ" په نسخو او د "خ" په لومړي نسخه کې "کار و روزګارونه" راغلي دي.
(۷) په قلمي نسخو کې "سنه تو مېنه" راغلي دي.
(۸) د "پ" په نسخو او د "خ" په دوهمه نسخه کې "دیوې د مانې" راغلي دي.

۲۳۵ ۲۵۵۸

جدايي د آشنايانو هر دم کا ندي
په رحمان باندې د توره و گوزارونه

پټ پناه مې په خاطر لګي اورونه ‌ ‌ ‌ چې را ياد شي د مينو بشرونه (۱)
تل جرس درته واهه د کوچ دليال شي ‌ ‌ ‌ پردېسانو زلمو وتړي بارونه
راشه ورشه حال يې وګوره چې څه دی ‌ ‌ ‌ پر مينو باندې پرېواته قبرونه
تا چې دا شيرين بشر خاورې بيابان کړه ‌ ‌ ‌ تر شيرين بشر يې وخاته خارونه
ها مين چې تا ليده اوس ليده نه شي ‌ ‌ ‌ دي بند شو د لحد په حصارونه

۲۳۶ ۲۵۶۴

يوه ذره د محبت ورکړه رحمان ته
چې يې تا لې په ذره نور نه شي فکرونه

دريغه ولېدی يوځل هغه مخونه (۲) ‌ ‌ ‌ چې دراز لري مژګان دراز خدونه
دراز قد دراز مژګان درازې زلفې ‌ ‌ ‌ ورې شوندې وره خوله واړه غاښونه
د آسمان شمس و قمر به ترې قربان کړم ‌ ‌ ‌ هم د ځمکې په سر واړه سره ګلونه
چې يې ووينم په مخ مې اوښکې درومي ‌ ‌ ‌ د سپرلي له مخه وورې بارانونه
که يوځل يې مخ ووينم په سترګو ‌ ‌ ‌ ما په زړه کې قبول کړي دي نذرونه
د هجران په شپه سورکت راته سور اور شي ‌ ‌ ‌ يو زمان مې باندې نه لګي ارخونه (۳)
چې په سپينو انګو دې زلفې زانګي (۴) ‌ ‌ ‌ ښاماران دي د چندنو په ښاخونه

۲۳۷ ۲۵۷۲

که خدای غم د جدايي ورته آسان کا
و رحمان ورته آسان دي نور غمونه

---

(۱) دا غزل د "خ" دوه وهمې قلمي نسخې نه نقل شو.
(۲) د "پ" چاپ: "دريغه دي ليدی يوځل هغه مخونه".
"ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "دريغه ووينم يوځل هغه مخونه".
(۳) دا او دريمې بيت په قلمي نسخو کې نشته.
(۴) "پ" چاپ: "لوړې زلفې دي په سپينو لېچو زانګی".

که ستا خپله سیاه رویي نه وي د ښمنه | آیینه زما د زړه نه ده خجنه (١)

ته چې ما ته په نظر د عیب ګورې | دغه عیب واړه ستا دي عیب جنه

خپل صورت په آیینه کې هر څوک وینې | که څېره د چا صفا وي که ږمنه (٢)

چوهاړي د حلال خور په نامه بولي | له ښو خلقو بدګویي نه ده ممکنه

ته چې بد له بله وایې زه وبرېږم | چېرې خپله بدي نه کړې معینه

ترهغه به رومې عیب ستا څرګند شي | وهر چا وته چې کړې د چا غندنه (٣)

هر رنګ تخم چې کرې هغه به راخلې (٤) | خپله خپله میوه نیسي هره ونه

کله خپله عیبه ځان زغوري رحمانه

٢٣٨ د هیچا له عیبه مه کوه پوښتنه ٢٥٨٠

ما وې زه نه کړم په خوبانو باندې مینه | مینه د خوبانو وچوي د صورت وینه (٥)

خدای زما په بخره عاشقي کړه له ازله | خوښ یم په دا بخره که ترخه ده که شیرینه

ځکه هغه سوځي هر چې اور ورباندې بل وي | روغه خلق شوه د ځګرو تماشبینه

ښه توبه مې نه شي په تنش د اد کو ګلې | مرد بو به چې واخلي د غم پېټی له غمګینه

نور عالم به څه کړم زه مرید د هغه کش یم | هر چې وما راکا یو پیغام له نازنینه

خوبه سوك په سترګو غروم له هسې غمه (٦) | خوبه مې تل وینې د زړه خاځي له آستینه

سر د رحمان د روي د هجران په تېره توره (٧) | ته يې نګاهبان شې یا اله العلمینه

---

(١) دا غزل د "خ" په دوهم نسخه کې نشته.
(٢) د "خ" په لومړي نسخه کې "ږمنه" راغلې دی.
(٣) چاپي دیوانونه : "چې هرچا وته دې کړي ده خندنه".
د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې "د چا" پر ځای "د ځان" راغلی دی.
(٤) په چاپي دیوانونو کې "یوسي" او د "خ" په دوهمه نسخه او د پېښور په لومړي نسخه کې "مومي" راغلی دی.
(٥) قلمي نسخې : "زه به لوړه نه کړم په ښنا لو باندې مینه کشکي که مې څوك کښېنا تورو ورانه کاله خینه".
(٦) دا بیت د "خ" په نسخو کې نشته او د پېښور په چاپي دیوانونو کې لومړی مسرۍ داسې ده : "خوب د واړه سترګي غروم له هسې غمه".
(٧) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته. "ق" چاپ کې لومړی مسرۍ داسې ده : "سر د رحمان د روي د رحمان په تېره توره".

۲۳۹ اور د جدائي په رحمان دی لګېدلی (۱)
وخت دی که مدد کړې یا میران محي الدینه ۲۵۸۸

یادوي په خوله مکه او مدینه / نسکور پروت لي دعوه تي په سینه

زوړ پند سر لکه غوټچه مراقبه کړي / پټ دي نقش د زړه رخت دی رنګینه (۲)

د اطلس و قبا (۳) غواړي نه یې موږي / لدنا کامه دي (٤) خرقه کړه پشمینه

عبادت دې (۵) خوږ ترې تر معصیت کا / څه خو ونیسه و ځانته آیینه

کینه بده ده بې شکه جنګ حرام دی / نه له نفس و له شیطان سره کینه (۶)

تر ناپاکو نارینه و، وي (۷) بهتره / پاک دامنه پرهېزګاره ارتینه

د مردانو کار له نفس سره جنګ وي / نه زنان (۸) غوندې له نقش و نګینه

د دیندار ارتیني تر یوي کوښې / صدقه شه سل بې دینه نارینه (۹)

نېکو کار سړي بهتر دي که خورد سال وي / تر سپین ږیرو، بدکاره دېرینه

۲۴۰ بدکردار، که صد ساله شي (۱۰) و رحمان ته
څرګند به یې لکه طفل شبینه (۱۱) ۲۵۹۸

بیا دې مخ دی جار وتلی څه بلا شوه / دا بلا له کومه لوري را پیدا شوه

---

(۱) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته. د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې داسې دی: " اور د جدائي په رحمان دی لګېدلی تدي نګهبان شې یا الله العلیمه".
(۲) د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا مسری داسې ده: " پټ دي نفس د زړه رخت دی رنګینه".
د "خ" دوهمه نسخه : " اندرون دی لکه نقش رنګینه".
(۳) د "خ" لومړۍ نسخه : " جامه".
(٤) "ق، ک" چاپ : " یې".
(۵) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، لومړی مسری یې په "ق، ک" چاپ کې داسې ده : " معصیت به دې خپل تېر تر عبادت کړی".
(۶) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۷) چاپي دیوانونه : " ده "، مصوره نسخه : " دی "، د "خ" دوهمه نسخه : " نه ".
(۸) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، "پ" چاپ : " نه ښځو غوندې له نقش نګینه".
د "خ" لومړۍ نسخه : " نه زنانو غوندې نقش نګینه".
(۹) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته او د "خ" په دوهمه نسخه کې د " کوښې " پر ځای " نوکه " راغلی دی.
(۱۰) چاپي دیوانونه او نوري قلمي نسخې : " وي ".
(۱۱) "ق، ک" چاپ : " بدکردار که صد ساله وي خو رحمان ته هسې ښکاري لکه طفل شبینه ".

ورځ چې واورې دغه هسې نه وي خوږې
لکه نن چې د خپل یار وماته شا شوه (١)

دا زما په یار کې مهر و وفا نشته
که دنیا واړه بې مهره بې وفا شوه

چې یې هیڅ له خدایه ترس او ویره نشي
په نصیب مې یوه هسې دلربا شوه

چې د حسن ته یې ګورم حیرانېږم
راڅرګنده یوه هسې تماشا شوه

څه د حد و د حساب خبره نه ده
بې صبري مې تر حسابه زیاته لا شوه (٢)

قراري مې په طلب کې شوه حرامه (٣)
بې غمي مې په مذهب کې ناروا شوه

چې راښکلي مې پرې غشي د دعا و
هغه نن مې ونه وېشته خطا شوه

لکه پوچ بادام بې مغزه بې حاصله
هسې پوچه بې حاصله مې دعا شوه

عاشقي چې مې له خلقو په غلا غلا کړه
هغه غلا مې په تمام جهان رسوا شوه

څه هم بدله نسیا معاملو هم
چې مې نغده په ورغوي کې نسیا شوه

دردبېرته جار و توشو راته پیوړې
په نصیب مې بله نه وه داوه دا شوه (٤)

یوه بخره هر سړي له خدای ورکړه
زما بخره آشنايي د خپل آشنا شوه (٥)

د تدبیر په دام به څه شکار کېنیوزي
معشوقه چې مې په مثل د عنقا شوه

ورځ چې واورې دغه هسې نه وي خوږې
لکه نن چې د خپل یار وماته شا شوه (٦)

چې یې زر کړې زېړ رخسار زما د خاوړو
عاشقي نه وه په باب زما کیمیا شوه

څه حکمت د یار په مینه کې خدای کېښود
چې عاشق لره هم درد شوه هم دوا شوه

٢٤١

دا باران نه دی چې ورېږي له آسمانه
د مرغانو په ښکار باندې ژړا شوه

٢٩١٦

---

(١) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته.
(٢) قلمي نسخې: "په هغه خوا شوه" راغلی دی.
(٣) چاپي دیوانونه: "قراري مې په طلب کې یې حرام شه".
(٤) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٥) د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې "هر آشنا" راغلی دی.
(٦) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته.

چې په نور څه لوړې زړه تړې بې خدایه ‌ ‌ ‌ ‌ څه پوهېږې چې په ځای کړې که بې ځایه (١)

دا خوښته چې به تل ترتله پایې ‌ ‌ ‌ ‌ که بیا پایې خو تر سلو کالو پایه

که دې سل کاله شي عمر خو به تېر شي ‌ ‌ ‌ ‌ د غه پسه بیا به څه کړې راته وایه (٢)

سم له لاسه (٣) چارې نه شي مرد هغه دی ‌ ‌ ‌ ‌ چې بېدار وي وغلیم وته له ورایه

تر په اصل کې سرې لې ښاروي (٤) نه یې ‌ ‌ ‌ ‌ د چارپایو چارې مه کوه دوپایه (٥)

مرتبه به دې د هیچ او د مېږي شي ‌ ‌ ‌ ‌ زړه په غوږ و غوښو مه تړه همایه (٦)

موړ به نه شې تر په حرص بې قناعته ‌ ‌ ‌ ‌ اې په تخت داورنګ زیب ناسته ګدایه (٧)

٢٤٢

ورانې سرای له ره توښه تره رخته (٨)
خو سفر دې کړی نه دی (٩) له دې سرایه

٢٦٢٤

په حالت د عاشقانو نظر بویه ‌ ‌ ‌ ‌ په زیارت د شهیدانو ګذر بویه

بې مرشده خبر څوک د مرید اخلي ‌ ‌ ‌ ‌ خوځ په غم د فرزندانو پدر بویه

بې ریاره رسېده ویار تر ګران دې ‌ ‌ ‌ ‌ په کوڅه د مړو یانو رهبر بویه

بې هنره چا دولت موندلی نه دی ‌ ‌ ‌ ‌ په خدمت د صاحبانو هنر بویه

ستا له سترګو مې هر ګور ملاحظه شي ‌ ‌ ‌ ‌ له دې هسې سیاه دلانو (١٠) حذر بویه

---

(١) د "ق، ک" چاپ : "راته وایه دا په ځای کړې که بې ځایه".
د "خ" لومړی نسخه : "څه دې زده چې خدای په ځای کړې که بې ځایه".
د "خ" دوهمه نسخه : "څه دې زده دی چې په ځای کړې که بې ځایه".
د "ب" لومړی نسخه : "څه دې زده چې دا بې ځایه کړ کا بې ځایه".

(٢) د "خ" دوهمه نسخه : "د غه پسه به لو څه کړې راته وا یه".

(٣) د "خ" لومړی نسخه : "هم له لاسه".

(٤) د "خ" لومړی نسخه : "چار پای نه یې". مصوره نسخه : "ښاروي مشه".

(٥) "ق، ک" چاپ : "خودرایه". "ق" چاپ : "مرشره چارپایه".

(٦) قلمي نسخې : "زړه په غوښو په غوږ مه تړه همایه".

(٧) د "ب" نسخه : "موړ به نه شې په حرص بې قناعته که یې په تخت داورنګ ناسته ګدایه".

(٨) د "خ" لومړی او مصوره نسخه : "واخله".

(٩) د "خ" لومړی نسخه : "نه وی".

(١٠) د "خ" په لومړی نسخه کی د "سیاه دلانو" پرځای "سیاه مارانو" راغلی وی.

ښه چي سترګي خدای ملالي کړي د ترکو　　لن په زړه د ظالمانو اوش بويه
ستا په داغ[1] به هر يو زړه مشرف نه شي　　دغه تاج د بزرګانو په سر بويه
چي خبر د داغ نه اخلي يار بد کا
بادشاهان له ګدايانو خبر بويه

۲۶۳۲ ۲۴۳

زړه مي وکړو خود رای　　هرچي شي تکيه په خدای
په سودا د عاشقۍ کي　　يا به شاه شم يا ګدای
يا به کېنم و د وهحاته　　يا په سيوري د همای

(۱) "پ" پا "چاپ کې د "داغ" پر ځای "يار" او د "خ" په لوړي نسخه کې "تاج" راغلی دی.

چې خدای کا هغه به وشي — نه بل خدای لرم نه ځای
بې دلبره به وړن نه کړم — بل هیڅ یا ته د زړه رای (۱)
پای بوسې به یې پرې نه ږدم — خومې ړېې د ست و پای
یا خندا ده په جهان کې — یا ژړا ده په وای وای (۲)
تر دا دوه چار و پسې ورته — نور څه نشته په دا سرای
عاشق بویه چې صادق وي — نه خودکام وي نه خود رای
خالې دې نه کا څوک په عشق کې — جو فروش ګندم نمای
زه رحمان په کاڼ پوهېږم
۲۶۳ — ۲۶۴
کړه مې ملشې (۳) کار فرمای

کشالې زه خاورې اېرې ستا در واې — چې قدم دې همېشه زما په سر واې
خوږ ځله زما ستا و بله نه شوې — نور مې موخه ستا د غشیو په تهر واې (٤)
تمام تن مې د ټچو په څېر اوږه شوې (٥) — خو په ما د تورو سترګو یو نظر واې
په زېر رنګ په سپینو او ښکلو به ما بیا مومنده؟ — که د ترکو ملاقات په سیم و زر واې
ملامت به په ما څه لره وایه شو — که دستا د دلبرې نه څوک خبر واې (٦)
مرتبه که ستا د عشق شي ور څرګنده — ملایک به واره وایي چې بشر واې (٧)
تماشا به زما هله در ښکاره شوه — که تر ما غوندې بېدل وای زه دلبر واې

---

(۱) قلمي نسخې: "نور وهيچا د زړه رای".
(۲) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۳) د "ب" په نسخو او د "خ" د دوهم او مصوره نسخه کې د "ملشې" پر ځای "مل وي" راغلی دی.
(٤) قلمي نسخې: "لور مې موخه ستا وغشیو ته بهتر واے".
(٥) د "خ" قلمي نسخې: "تمام تن مې د ټچو په څېر ووږ ووږ واے".
(٦) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(٧) په قلمي نسخو کې "که بشر وای" راغلی دی.

په خوبان به زما سترګو غوندې نه ؤ — که په مخ مې د ټپو د تورو وپرهر وای

٢٦٥٢

ستا په درد کې طبیب والې وکمان ته

لا به نه وی که دې حال تر دا بتر وای

٢٤٥

یو یو داغ په ټټر اېښی د هر چا دی — که باد شاه د ولایت[1] دی که ګدا دی

سېرابي په سرچشمه د دنیا نشته — تشنه لب یې ګوښې ګوښې په غوغا دی

لوراحت په د بر زحمت باندې موندې شي — ددې دهر خس حرام شه[2] که وریا دی

د دنیا ښادي بېغمه موندې نه شي — لو خېرات د شوم له کوره په بلا دی

فراغت پرې باندې ولې حرام نه وي — چې داخل په سراچه ددې دنیا دی

د مجنون د حال پوښتنه به څوک څه کا — جهان واړه کوراکور مجنون لیلا دی

عشق یو هسې رنګ افسون په عالم یو کې — چې عاشق په تورو سترګو نابینا دی

دهر چا یې بخره ورکړه ګوښې ګوښې — خپل قسمت دهر سړي جلاجلا دی

ورکړه راکړه همګي د بل په لاس دي — دلته دخل نه زما دی نه دستا دی[3]

په هر څه[4] چې د صاحب د زړه رضا شي — په بنده که ناروا دی هم روا دی

خوا ناخوا که یې رضا وي که یې نه وي — دقسمت رسد[5] رضا او نارضا دی

خان جهان سپارلی بویه وهغه ته[6] — چې یې حکم جاري شوی په هر چا دی

---

(١) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "ولایت" پر ځای "زماني" راغلی دی.
(٢) په چاپي دیوانونو کې "حرام دی" راغلی دی.
(٣) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته په "ب" چاپ کې دا بیت داسې دی:
"ورکړه راپېروده ټول د بل په لاس دی — هلته دخل نه ستا دی نه زما دی".
"ق، ک" چاپ: "ورکول او اخستل د بل په لاس دی".
"پ، ب" چاپ او "ق" چاپ: "ورکول راپېرودل د بل په لاس دی".
د "ب" لومړی نسخه او د "خ" لومړی نسخه: "ورکړه راپېروده هم د بل په لاس دی".
(٤) د "خ" په دوهمه نسخه او نیمګړي نسخه کې "په هر کار" راغلی دی.
(٥) د "خ" په دوهمه نسخه کې "دقسمت شوی" راغلی دی.
(٦) د "خ" دوهمه او نیمګړي نسخه: "ځان ایمان سپارلی بویه وهغه ته".

د هر چا په لاس چې حکم حاکم ورکا — جهان واړه د هغه په مدعا دی

٢٤٦ — چې مولا ورسره مل نه وي تمانه — ٢٦٦٦

کـه لښکر یې ورسره وي یک تنها دی

هسې رنګ نعمت راکړی خدای وما دی — چې هیڅ خیز بهاې نشته بې بها دی (1)

یو خو دا چې یې په شکل د آدم کړم — دویم دا چې محمد ﷺ مې رهنما دی

لاس و پښې غوږ وسترګې خوله او ژبه (2) — یو صورت مې په خواښه مسما دی

آسمان ځمکه، لمر، سپوږمۍ او روښانه ستوري — درست جهان مې و نظر ته تماشا دی

شپه او ورځ د ماه و مهر له پرتوه — مخ د ځمکې راته درست نقره طلا دی

په شپه مسک په ورځ کافور راباندې ورېږي — درست صورت مې پکې غرق سرتر پا دی

په هر دم زندګاني بخښي وما ته — هر نسیم د یار له لوري مسیحا دی (3)

د چمن و سرو ګلونو ته چې ګورم — هر هر ګل راته د ذرا په خندا دی

د ګلګونو میو ناوې راته ناسته — زنګاري قمیص اغوستی د مینا دی

خپلې وینې په ورغوي کې نیولې — هر ساغر د مې فروشو جان فدا دی (4)

د شنه (5) رود په غاړه ناست سرود په لاس کې — هر مطرب لکه بلبل هسې ګویا دی

سپین مخونه سرې لښتې ردې د دلبرو — هر دیدن یې د آفتاب په څېر رڼا دی (6)

---

(1) قلمي نسخې: "چې هیڅ هیڅ بهاې نشته بې بها دی".
"ق، ک" چاپ: "چې بهاې هرګز نشته بې بها دی".

(2) د "خ" دوهمه نسخه کې "لوزه" راغلی دی.

(3) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(4) د "ب" لومړی نسخه او د "خ" دوهمه نسخه: "هر ساغر د مې پرستو جان فدا دی".
د "خ" لومړی نسخه: "هر ساغر د مې پرخښتکو ځان فدا دی".

(5) په چاپي دیوانونو کې "سنه رود" راغلی دی.

(6) دا بیت په "ب" چاپ، "ق" چاپ، او "ق، ک" چاپ کې نشته. په قلمي نسخو کې یې لومړی مصرع داسې ده:
"سپین مخونه سرې لښتې د دلبرو".

۲۴۷ — ۲۶۷۹

چې دا هسې معرفت یې پرې پایر زوکړم (۱)
په ځان باندې منت د پاک مولا دی

دا چې مست په میو راغی یار دچا دی — بیا به تا ختن کا په کوم غولي وار دچا دی (۲)
چې زړه سوی یې د حرم په صید هم نه شي — دا یې درد او نې صرفې گوزار دچا دی (۳)
ما خو نه دي خوړلي وچې آزار کړي — دا چې ما آزار وي آزار دچا دی (٤)
چې یې درست جهان د خ په بازار یست کا — دا آفتاب غوندې روښان رخسار دچا دی
چې بلبل یې رسیدې تر گلو نه شي (۵) — دا د ننه په حرم گلزار دچا دی

۲۴۸ — ۲۶۸۵

چې هیڅ ترس په زړه کې نه لري ځاځ (۶)
دانا ترس او نې پروا نگار دچا دی

غواصان که گوهر غواړي گوهر دا دی — بېدلان که دلبر غواړي دلبر دا دی (۷)
زما یار غوندې به بل یو دلبر نه وي — د جملهٔ و دلبرانو سرور دا دی (۸)
خوند دلبو او د چاه زنخدان یې (۹) — راشه گوره زمزم دا دی کوثر دا دی
چې یې وصل او هجران وته نظر کړم (۱۰) — زه گومان کړم جنت دا دی سقر دا دی

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه : "چې نعمت د معرفت یې پرې پایر زوکړم".
(۲) دا غزل د "خ" په مصوره نسخه کې نشته او "خ" په دوهمه نسخه کې د "غولي" پر ځای "لوري" راغلی دی.
(۳) قلمي نسخې : "چې زړه سوی یې د حرم په صید نه شي — دا د غشي یې صرفې گوزار دچا دی".
د "خ" دوهمه نسخه : "دا یې درېغه یې صرفې گوزار دچا دی".
(٤) دا بیت د "ب" په لومړي نسخه کې نشته.
(۵) د "ب" په قلمي نسخه کې "تر گله" راغلی دی. د "خ" لومړۍ نسخه : "چې بلبل یې رسیدی نه شي تر گلو".
(۶) د "خ" لومړۍ نسخه : "چې هیڅ ترس یې په زړه نه کېږي رحمانه — دانا ترسه نا فرمان نگار دچا دی".
"ق ک" چاپ او "ق" چاپ : "دانا ترسه بې پروا گوزار دچا دی".
(۷) دا غزل په مصوره نسخه او "ب" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۸) د "خ" دوهمه نسخه : "زما یار غوندې به بل پر جهان نه وي — د جمله و دلبرانو سردار دا دی".
(۹) د "خ" لومړۍ نسخه : "خوند دلبو و د چاه زنخدان دي".
د "خ" دوهمه نسخه : "خوند دلبو یې او چاه یې زنخدان دي".
(۱۰) د "ب" نسخې : "چې د وصل و هجران ته یې نظر کړم".
د "خ" لومړۍ نسخه : "چې د وصل و هجران و ته یې گورم".
د "خ" دوهمه نسخه : "چې و هجران و وصال و ته یې نظر کړم".

ته خطبه په منبر څه لولې خطيبه — قدم کېږده په ځان باندې منبر دادی

د کعبې سفر آسان دی مرد هاله دی — که له ځانه سفر وکړې سفر دادی (۱)

هر منعم چې دلجويي د قلندر کا — هغه نه دی قلندر، قلندر دادی

چې توانګر د قناعت په خزانه شي — بل توانګر په جهان نشته توانګر دادی

۲۴۹ — ۲۶۹٤

دا هنر نه دی چې خاورې شوک سره زر کا

چې زر خاورې کا لالانه هنر دادی

هغه زړه چې ستا د عشق په اور کباب دی — که مرهم ورباندې کېږدې ډېر ثواب دی

حجاب نه له اغيارو مناسب دي — د يارانو په يارۍ کې څه حجاب دی

بې له تا چې ښايسته زېږي بې حسابه — نور ښايست د جهان واړه په حساب دی (۲)

ښاپېرۍ که هر څو ډېرې ښايسته دي — په هغو کې هم ستا حسن انتخاب دی

لکه ګل (۳) چې تر آفتاب پورې خجل دی — دغه هسې ستا تر مخ پورې آفتاب دی

دا د ميو څه مستي او سرخي نه ده (٤) — تېغ د سترګو دې په وينو کې غرقاب دی

۲۵۰ — ۲۷۰۱

زه زاهد به خواب څه کوم ويان ته

وژوندو ته د مړيو څه خواب دی

د ساقي په لاس کې جام د ميو ناب دی — مطرب ايښی په زانو باندې رباب دی

ته چې ما وته توبه وايې ناصحه (۵) — په دا وخت کې چا څه د توبې تاب دی

زه چې ځان منع کوم د عشق له کاره — په داهسې کار کې کوم سود او ثواب دی (٦)

---

(۱) چاپي ديوانونه: "د مکې سفر آسان دی مرد هغه دی — چې له ځانه سفر کاندي سفر دادی".

(۲) چاپي ديوانونه: "په هغو کې هم ستا حسن انتخاب دی" يعنې دا دی بيت دوهم مسرۍ او ورپسې بيت لومړی مسرۍ په چاپي ديوانونو کې نشته.

(۳) په قصه خوانۍ چاپ او "ق، ک" چاپ کې د "ګل" پر ځای "شمع" راغلی ده.

(٤) قلمي نسخې: "دا د ميو د مستۍ سرخي نه ده".

(۵) د "خ" لومړۍ نسخه: "ته چې ما ته توبه فرمايې ناصحه". مصوره نسخه: "ته چې ما وته توبه ښيي ناصحه".

(٦) دا بيت اوله دې نه وروسته بيتونه په مصوره نسخه کې نشته. په "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې د "کاره" پر ځای "لارې" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "ادره" راغلی دی.

د آسمان چې لوی په عقل کې باله شي — په محیط د عاشقۍ کې یو حباب دی (۱)

محتسب په رقص گډ شو باک یې نشته — صوفي پروت په میخانه کې مست خراب دی (۲)

هر چې زغوري سر و مال په عاشقۍ کې — هغه کړی کور په مخ کې د سیلاب دی

په رقیب باندې غفلت راغی ویده شو — یار پلوله مخه واخیست بې حجاب دی (۳)

ته چې خوب غواړې (٤) په عشق کې راته وایه — کوم چاکړې د مزرې په خوله کې خواب دی

بې عمل که کتاب کېږدي په سر څه شو — گویا الیسی یې تر پښو لاندې کتاب دی

چې د شرله عملونو نه خیر غواړې — تشنه لب غونډې سرشوی په سراب دی (۵)

د دښمن له مکاره نه و ویرېږه — په نرمۍ یې غلط مه شه سنگ در آب دی

۲۵۱ — ۲۷۱۳

عبادت په شتاب هسې کړه رحمانه (۶)
لکه عمر چې دې تلونی په شتاب دی

چې تر سنگ و تر آهنه یې زړه سخت دی — زړه هغه لره ورکړی ما لم بخت دی

خدایه کله به هغه غل راته اسیر کړې (۷) — چې لوټلی یې زما د خاطر رخت دی

هومره غم به نور په هیچا باندې نه وي — لکه غم چې د خپل یار په ما یک لخت دی

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه: "په محیط د عاشقۍ یو حجاب دی".
(۲) دابیت د "خ" له لومړۍ او دوهمې نسخې څخه نقل شو.
(۳) دابیت د "خ" له لومړۍ او دوهمې نسخې څخه نقل شو.
(٤) د "ق"، "ک" چاپ: "کوی" او "ق" چاپ کې "وایي" راغلی دی.
دامسرې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "ته چې خوب په عاشقۍ کې له ما غواړې".
(۵) د "خ" لومړۍ نسخه: "که سر ولعلونه خبر خبر غواړې".
د "خ" دوهمه نسخه: "چې د شرعې له عملونو خبر غواړې تشنه لب غونډې سرشوی په سراب دی".
(۶) د "خ" دوهمه نسخه: "عبادت په شتا لجد کړه رحمانه".
(۷) په قلمي نسخو کې "یاغیان" راغلی دی.

مګر بلبل په تېره تېغ شي ياں له ياره — ګنه بناخ له خپله شاخ سره درخت دی[۱]

د پالنګ او د پېرۍ[۲] حاجت يې نشته — د يارانو نشستن د زړه په تخت دی

چې له دېره درده وخت پېژاندی نه شي

۲۵۲ — ۲۷۱۹

په رحمان باندې بې ياره هسې وخت دی[۳]

ستا له لاسه په ما جوړ دی که داد دی — زما مراد خو واړه ستا د خاطر مراد دی[۴]

ستا په مينه کې زما له مخه تښتي — که آفت دی که آسيب دی که فساد دی

هر اهداد چې را کاوه شي ستا په مينه — په لبيه زما قبول هغه اهداد دی

که تمام جهان مې پرېوځي په لبيه کې — بې تا نه راځرګندېږي نه مې ياد دی

ما چې غوږ دا ستا د عشق په ترانه کړ — نصيحت مې نور د زړه په غوږ و باد دی

اوس زما له ننګ و نامه سره خبر دي — چې دې نام د عاشقۍ را باندې زباد دی

هر ګلشن چې له ګلزخه بې خبره وي — د عاشق په نظر غولې د صياد دی

د رحمان و توان ته ګوره هومره نازکه

۲۵۳ — ۲۷۲۷

چې دا وسپنو روغ نه دی آدم زاد دی

که بې مهر و محبت که يې عناد دی — ما د يار په ياری کړی اعتماد دی[۵]

زه او يار که په تن دوه په معنی يو يو — هزار خونې واړه ښهر بغداد دی

هيڅ بېلتون زما د يار و بله نشته — کار همه واړه موقوف په ځپل ميعاد دی

زه خيل آه آتشين له خدايه غواړم — د آشنا خاطر که موم دی که فولاد دی

هيڅ موقوف د معشوقې په حسن نه دی — د عاشق خاطر په خپله مينه ښاد دی

---

(۱) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. په نورو قلمي نسخو کې يې دوهمه مسرۍ داسې ده: "ګنه بناخ له خپله درخته سره درخت دی".

(۲) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "شربد" راغلی دی.

(۳) قلمي نسخې: "په رحمان د يار له غمه هسې وخت دی".

(۴) په چاپي ديوانونو کې "زړه" راغلی دی.

(۵) په قلمي نسخو کې "اعتقاد" راغلی دی.

چې د آه و د فریاد طاقت یې نه وي　　هر سکوت د بې طاقتو آه فریاد دی
سل په دا رنګه نوم نه د عشق نور دي　　لکه نوم چې د مجنون او د فرهاد دی
چې یې زړه شي هلته کښې هلته پاتې　　عشق د عقل و د هوش کره داماد دی
بادشاهان په عاشقۍ کې ملنګان شي　　ما او تا غوندې ګړې د چا یاد دی
چې پرېشان د یار د زلفو په خبر نه وي　　جمعیت د هغو زړونو لوی فساد دی
که رښتیا له خرابه سره ګنج وي　　خرابات د بې بنیاد و بېخ بنیاد دی
که کمال د کمینه په اندازه دی　　فوقیت د شاګردانو په استاد دی
که په یار پسې ترجمان ترجمان تېر شي(۱)　　په رحمان زمونږ هسې اعتقاد دی

۲۵۴　　چې دا نور شاعران کاندي هغه نه کا
رحمان(۲) کړې نوې نوې اجتهاد دی　　۲۷۴۱

په خاطر باندې مې ستا د غم غبار دی　　همېشه مې په زړه پروت انبار انبار دی
که رهبر وي ګمراهانو لره خضر　　عاشقانو لره خضر ستا رېبار دی
ګوندې چېرې خوک د خدای په در قبول وي　　ستا له لاسه مې فریاد په هر دیار دی
د شهید و پرهارونو ته نظر کړه　　هسې رنګه مې له دوسته ګو خونبار دی
چې د غم په بار یې زړه دی زما کښېلی　　هم هغه مې په زړه کښېلی په بار بار دی(۳)
چې هر دم مې د غمزو په تورو وژني　　لا مې زړه د هغه ستر ګو منت بار دی(۴)
د آسمان دې د هغو په مدعا وي　　چې په ما باندې یې کړې ستا اخبار دی

۲۵۵　　که یار سل ځله جفا ورسره کاندي
د رحمان داهسې کله اعتبار دی　　۲۷۴۹

---

(۱) دا بیت په "پ پا" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته.
(۲) دا بیت د "پ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. د "پ" په لومړي نسخه کې دوهمه مسرې داسې ده: "لا مې زړه د هغو ستر ګو منت بار دی".
(۴) دا بیت د "پ" په لومړي نسخه کې نشته.

کمیني یو نادر کار دی — چې کمال څني اظهار دی
چې اختیار یې کمیني کړه — په دانه کې پټ خوار دی
چرګ په دوه پیسې حلال شي — باز په سل روپۍ مردار دی
چې آسمان شو سرګردان شو — چې زمین شو برقرار دی
نښتر ګوره سرکښي کا — انګور ګوره نګونسار دی
ذره خواره شوه آفتاب شوه — ابر خورب دی غبار دی(۱)
کوه بلند شو سیه سنګ شو — لعل وور شو بزرګوار دی(۲)
لوی آسمان توره تبۍ شو — هلك لمر څره انوار دی(۳)
وور سړی ګوره تاج یې پانه — چې لوی فیل یې بار بردار دی

۲۵۶ — ۲۷۵۸

زلفې دې له ډیرې درازیه پای تر سر دي — یا د بنفشې لښتې خورې په صنوبر دي
لب دې آب حیات دي یا شکرې یا نبات دي — یا خوزه غلط شوم(٤) تر همه وار وبهتر دي
قد ته دې خولك نه شي رسیدی له بلندۍ — ولې چې معراج وته خاته د پیغمبر دي
ما چې ستا بنا یست ولمر سیوبن سره په تول کړه — تللې په میزان کې تر آسمانه سیوبن لمر دي
څا څلې له آسمانه په هر چا وورې یکسانه — پرخه په وابنه شي په صدفو کې ګوهر دي(۵)
بخت دی چې یې خولك متمکن کړه په تخت باندې — خولك د غم په خار سره پاره پاره جګر دي(٦)

---

(۱) قلمي نسخې: "ذره ضعف شوه افتاب شوه — ابر خورب شو تش غبار دی".
(۲) په "ق، ک" چاپ کې "ابدار دی" راغلی دی.
(۳) "ق، ک" چاپ: "لمر هلك نور الانوار دی"
نور چاپي دیوانونه: "هلك لمر څره الوار دی".
د "پ" لومړی نسخه: "هلك لمر شو څره الوار دی".
(٤) په قلمي نسخو کې "بیم" راغلی دی، ددې بیت لومړی مسرۍ په "ق" چاپ کې داسې ده: "لبې ستا آب حیات دی یا شکر دی یا نبات دی".
(۵) دا بیت د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کې نشته.
(٦) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

بادچې دې په زلفو باندې قصد د پرېشانۍ کړ — ځکه يې ګردونه د جهان واړه په سر دي

هله به سرې شي چې دې نوم عبدالرحمان شي — اوس سرې په څه يې که دې لوستي زېړ ورق دي(١)

٢٥٧ ردیف د — سپينې او سنګې، زېړ خسار مينې له دولته(٢) — ٢٧٦٧

ای رنګ رانجه دا د عاشقانو سيم و زر دي

دنيا دار که مستغني په سيم و زر دی(٣) — هنرمند و ته خزانه ګنج د خپل هنر دی

بېهوده به(٤) زور ور وځان ته وايي — د دنيا سړی که هر څو زور ور دی

هسې مه وايه چې زه يم په جهان کې — پيدا کړی د خدای د سر د پاسه سر دی

ځينې ځينې يې وليان پېغمبران کړل — نه چې هر سړی ولي او پېغمبر دی(٥)

جودانه قدر يو لعل يکې پيدا شي(٦) — نور جهان واړه د تور و کا نو غر دی(٧)

يو پادشاه دی چې لښکرې پسې درومي — نه په هر يوه سړي پسې لښکر دی(٨)

پيدا کړي خدای سړي په تفاوت دي — هسې نه چې جهان واړه برابر دی(٩)

که د عمر و رفتن ته څوک نظر کا — دا به وايي چې آفتاب د نماز ديګر دی(١٠)

چې يې(١١) سر په ځمکه ايښی وي ويار ته(١٢) — په آسمان باندې ختلی تکه لمر دی

(١) دا بيت په قلمي نسخو کې نشته.
(٢) دا بيت په "پ ا پ" چاپ کې نشته.
(٣) د "پ" لومړۍ نسخه: "دنيا دار که دنيا دار په سيم و زر دی".
(٤) د "پ" لومړۍ نسخه کې د "به" پر ځای "و" راغلی دی.
(٥) د "پ" لومړۍ نسخه: "ځينې ځينې يې وليان پېغمبران کا هر سړی نه اوليا نه پېغمبر دی".
د "خ" لومړۍ نسخه: "نه چې هر يو اوليا او پېغمبر دی".
د "خ" دوهمه نسخه: "ځينې ځينې اوليا د ځينې نبيان وو نه چې هر يو اوليا و پېغمبر دی".
مصوره نسخه: "ځينې ځينې اوليا و پېغمبران کړه نه چې هر يو اوليا و پېغمبر دی".
(٦) د "پ" لومړۍ نسخه: "جودانه قدر چې لعل يکښې پيدا کا".
نورې قلمي نسخې: "جودانه قدر يو لعل يکښې پيدا کړه".
(٧) د "خ" دوهمه نسخه: "نور جهان واړه تور کاڼي او تور غر دی".
(٨) د "پ" لومړۍ نسخه: "نه په هر چا پسې کړی خدای لښکر دی".
(٩) دا بيت په مصوره نسخه کې نشته. لومړۍ مسرۍ يې په "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې د "سړي" پر ځای "هر څوک" راغلی دی.
(١٠) د "خ" دوهمه نسخه: "دی به وايي چې رفتن د نماز ديګر دی".
(١١) "ق، ک" چاپ: "چا چې".
(١٢) "پ ا پ" چاپ: "خپل يار ته".

تعجب زما د دېروا وسنکو مه کړه (1) ما موندلی په دا بحر کې ګوهر دی

دریا خرقه یې خدای مه کړه په غاړه (2)

۲۵۸ رحمان کوم دستار تړلی قلندر دی ۲۷۷۸

دواړه سترګې مې کړې دستا په لوري دي مدام د ونې د فراق په آب شوري دي

زه یو سپی یم چار چشمه دستا له سپیو چې مې ستا ودرته دوه سترګې څلور دي (3)

کنه ولې مې دوه سترګې ستا په طمع وهر دره (4) وته نیولې کوړ په کور دي

چې مې خال د ترکو ولید په خپل زړه کې (5) د واړه کسي مې وزړه وته نسکور دي

اعتبار د زماني په اشنا مه کړه همګې واړه د خپلو رختو چور دي (6)

ما قبول د رقیب ناز کړ ستا د یاره سود و زیان په دا جهان کې خوار و ور دي

په رحمان باندې ګمان د اهسې مه کړه (7)

۲۵۹ چې بې تا په نور څه غولېږي هغه نور دي ۲۷۸۵

ستا له غمه مې په سر کې هسې شور دی ګویا میشت (8) مې په سر شهر د لاهور دی

په افسون و په جادو د تورو سترګو خراب دل مې له جمله عالمه تور دی

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه : "ته زما په دېروا وسنکو عیب مه کړه".
د "خ" لومړی نسخه : "ته زما د دېرو او سنو ته عیب مه کړه".
د "خ" دوهمه نسخه : "ته زما د دېرو او سنکو غیبت مه کړه".

(۲) د "خ" دوهمه نسخه : "دریا خرقه دې خدای مه کړه په غاړه".

(۳) دا بیت په "پ" چاپ کې نشته. د "خ" لومړی نسخه کې لومړی مسری داسې ده : "زه یو سپی چار چشمه یم دستا د سپیو".
دوهمه مسری په مصوره نسخه کې داسې ده : "چې ستا ولوري ته مې دوه سترګې څلور دي".

(۴) چاپي دیوانونه : "وهر لوري ته".

(۵) مصوره نسخه او د "خ" لومړی نسخه : "چې مې خیال د ترکو ولید په خپل ځان کې".
د "خ" دوهمه نسخه : "ما چې خیال د ترکو ولید په خپل ځان کې".

(۶) دا بیت د "خ" دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو.

(۷) چاپي دیوانونه او نورې قلمي نسخې : "په رحمان باندې داهسې ګومان مه کړه".
دوهمه مسری د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې ده : "چې بې تا به په لوړ څه غولېږي لوړ دي".

(۸) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "جوړ" راغلی دی.

که مي زړه له غمه چوي راته وايي
غم د هجرن مه ګڼه لا نور دی

د هجران په بیمارۍ کې را معلوم شو
چې اخستي مې آزار د پلار و مور دی

دا دنیا په مثال کور شو د غمونو
چې په هسې کور ناز بیا هغه کوړ دی

دا جهان نه د چا خپل دی نه به خپل شي
چا په خپله رضا پرېښو چا په زور دی

چې د مرګ په پوروړیو کې یو ومري
دی دوا به یو پوروړیو زوی او ورور دی (1)

که رحمان په عاشقۍ بې عزت کېږم (2)
ما په سترګو قبول کړې دا پېغور دی

٢٩٠ — ٢٧٩٣

که دلدار په دلدارۍ زما قدم ږدي
ګویا هر قدم په لارې (3) د حرم ږدي

ځای لري که بې منته بوسه راکا
کوم کریم په چا منت د خپل کرم ږدي (4)

معشوقه مشفقه بویه مهربانه (5)
نه قارون چې په ځان اسم د حاتم ږدي

خلک وما وته ګلونه د جنت کړل
که داغونه مې په زړه باندې د غم ږدي

هسې پټ الزم (6) دا زېړ رخسار له خلقو
لکه زر چې څوک له خلقو پټ پنهم ږدي

هېڅ مانه دې څوک له مستو سترګو نه کا (7)
کوم یو مست دی چې قدم په لاره سم ږدي

راحت بې زحمته نه دی چا موندلی (8)
کوم طبیب دی چې په دروغ صورت مرهم ږدي

---

(1) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(2) د "خ" لومړۍ نسخه: "که رحمان په عاشقۍ کې غېرت نه کړي؟".
(3) مصوره نسخه: "په لوري".
(4) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(5) "ت" چاپ: "معشوقه مشفقه بویه مهربانه".
د "خ" دوهمه نسخه: "معشوقې مشفقې بویه مهربانې"
(6) "ق" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه: "پټ ګرځم".
"ق، ک" چاپ او مصوره نسخه: "پټ ساتم"
(7) د "خ" لومړۍ نسخه: "برند وستي ګو".
(8) چاپي دیوانونه: "راحت نه دی بې زحمته چا موندلی".

۲۶۱ — ۲۸۰۳

زه هر ګوره تر خپل صمد پورې شرمېږم[1] — برهمن چې سر په پښو د خپل صنم بندي

وآسمان ته لاس د عقل نه رسېږي[2] — داخو عشق دی چې په عرش کرسي قدم بندي

زه صاحب يې تاج ګنم د يار له لاسه
کړمې پنها په سر د جور و ستم بندې

۲۶۲ — ۲۸۱۰

د دنيا کاروبار واړه غولول دي[3] — داګمان په هيڅ مه کړه چې مې خپل دي

هيڅ مزه په دا جهان کې پاتې نه شوه — دا يخ خوړې په اوبو پورې کول دي[4]

که دې د وه کاسې دانې وي په کندو کې[5] — پس له شامه هسې وايه[6] چې د بل دي

پوزه غوږ د غوښو شته په هر چا پورې — که د شرم[7] پوزه غوږ غواړې باطل دي

که ته د وه[8] اوډې عيبونه د بل شمار کړې — بل به تا ته هسې وايي چې ستا شل دي[9]

نصيحت د ناصحانو اثر نه کا — د سرې او سپينې خوشې تهکول دي[10]

دانا اهل همدمان دي نه پوهېږم
کړمې د صاحب پنهې په ګوګل دي

---

(۱) "ب" چاپ او د "خ" لومړی نسخه : " زه هر ګوره تر خپل صنم پورې شرمېږم ".
"ق" چاپ : " زه هر ګوره خپل صنم پورې شرمېږم".
"ق ، ک" چاپ : " زه هم ګوره خپل صنم پورې شرمېږم".
"پ پ" چاپ : " زه هر ګوره تر صنم پورې شرمېږم".
مصوره نسخه : " زه هر ګوره تر خپل يار پورې شرمېږم". لومړی بيت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نشته.

(۲) "پ ، پ" چاپ : " واسمان ته لاس د عقل نه رسېږي".
"ق ، ک" چاپ : " دې اسمان ته لاس د هيچا نه رسېږي".

(۳) "پ پ" چاپ : " د دنيا چارې همه واړه غولول دی". د "پ" لومړی نسخه : " د دنيا ورځ ګار همه وبله غولول دی".
د "خ" لومړی نسخه : " د دنيا ورځ ګار همه واړه غولول دی". د "خ" دوهمه نسخه : " د دنيا کار وبار واړه غولول دی".

(٤) د "خ" دوهمه او مصوره نسخه : "هيڅ مزه په دا جهان کی طمع مه کړه دا يخ خوړی په اوبو پورې کول دی". د "خ" لومړی نسخه :
"هيڅ مزه په دا جهان کی طمع مه کړه يخ شوړی د اوبو پورې کول دی". چاپي ديوانونه : " د يخ سوړی په اوبو پورې کول دی".

(۵) د "خ" لومړی نسخه : " په کندو ل کې".

(٦) چاپي ديوانونه او د "خ" لومړی نسخه : " وايي".

(۷) مصوره نسخه : " سر".

(۸) چاپي ديوانونه : " يو او دوه". د "خ" لومړی نسخه : " دوه دړې". د "خ" دوهمه نسخه : " دوې نړې"، مصوره نسخه : " دوه".

(۹) چاپي ديوانونه او نورې نسخې : " سل".

(۱۰) قلمي نسخې : " بېهوده د سرې او سپينې کوتل دی".

سپين رخسار ومشکين خال دي وبله ضم دے | يا محمود او اياز ناست سره همدم دي
که دي مخ په زلفو پټ شو باك يې نشته[1] | د حيات اوبه هم پټې په توږم دي
ستا د زلفو له رخساره له سره شو نمود | پيدا شوي شام شفق د صبحدم دي
په دهن کې دې غاښونه تجلی کا | يا غوټۍ په غونچه کې د شبنم دي[2]
نه چې اوس زمانه خوږ ستا په غمزه دی | چاره غوښې لا قديم سره په غم دي
بې ژړا و چا ته نه گوري سيه چشم | د نرگسو غوړېده د جوی په نم دي
راحت نه دی چا موندلی بې زحمته | ستا جفا و وفا دواړه منقسم[3] دي
ستا د حسن د تعريف له برکته | د رحمان د شعر کوکې پر عالم دي

۲۶۳ — ۲۸۱۸

چې د څنگه مې دلبر په لاس کې جام دی | نن اورنگ د زمانې زما غلام دی
مدام کله وي د نيا د دنيا دارو | بې له عشقه چې دولت يې مستدام دی
دهارون څرخ پای نيلی دی د سپهر | خوبه دوکا چې يې دو په سر د بام دی[4]
د دنيا چارې په مثل دي د سيورې | د آفتاب په مخ د سيورې څه مقام دی
که يې صبح بنايسته دی خنده رويه | بيا يې هسې په هر صبح پسې شام دی
نه په مهر کې آرام شته نه په ماه کې | په دنيا راغلی هر يو بې آرام دی
ببغمي په دنيا چېرې ده رحمان نه | يو ببغم دې خوك را وښيي کدام دی

۲۶٤ — ۲۸۲۵

ما د ستا ولمن ته اچولی د اچيل خان دی | ستا دی زما نه دی که دانا دی که نادان دے

---

(۱) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : "که دې مخ په زلفو پټ دی باك يې نشته".
(۲) د "ق" چاپ او "ق ، ک" چاپ : "يا غوټۍ چې په غونچه کې د شبنم دی".
(۳) قلمي نسخې : "مغتنم".
(٤) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

خپله سرکشي لوړي چې وار ه فراموش دي — هسې مې ځان ستا و لوړي قامت ته حیران دی
بې له تا که سیل(۱) په گلستان کړم د گلونو — نه پوهېږم هېڅ چې گلستان دی که زندان دی
چا پېژاندم زه چې عاشق نه وم په جهان کې — اوس مې ستا له رویه نوم رسوا په دا جهان دی
د پرهېز ولي تېر شول د مجنون بې نام ونقشه(۲) — عشق دی چې عاشق له هم نام د هم نشان دی
لوی ترکوم چې ځینې دې پس وانه چې افسانه شو — وار ه په سبب د عاشقۍ دی نمایان دی

وار ه د خپل ځان په نظر گوره که دانا یې
ای عبدالرحمانه جهان درست عبدالرحمان دی

۲۶۵ — ۲۸۳۲

په نامه د هغه خدای دا بیان دی — چې یو نوم یې په نومونو کې سبحان دی
هم(۳) بادشاه دی د جمله وو بادشاهانو — هم د هر یوه سلطان په سر سلطان دی
هغه کار چې وهر چا وته مشکل دی(۴) — هغه کار وار ه وده وته آسان دی
خوک آفتاب شي په آسمان راخېژ ولی(۵) — ده آفتاب راخېژ ولی په آسمان دی
خوک د نمر په مخ حجاب شي غوړ ولی — ده پټ کړی نمر په ابر کې پنهان دی(۶)
خوک په شپه کې شي مهتاب(۷) پیدا کولی — ده په شپه کې پیدا کړی ماه تابان دی
خوک یو څاڅکی پرېښتی شي له آسمانه — نزول(۸) کړی ده په مونږ باندې باران دی
خوک شي روح نو پستی په یوه ما شي — ژوندی(۹) کړی ده په روح تمام جهان دی

---

(۱) "پ" او "ق" چاپ کې "سیر" او په قلمي نسخو کې "گذر" راغلی دی.
(۲) د "پ" په لومړۍ نسخه کې "نام ونشانه" راغلی دی.
(۳) د "پ" په لومړۍ نسخه کې د "هم" پر ځای "دی" راغلی دی په "پ پ" چاپ کې یې دوهم مسرۍ داسې ده: "هم د هر یوه په سر باندې سلطان دی".
(۴) د "ق، ک" چاپ: "هغه کار وار ه په ده باندې اسان دی".
(۵) "ق" چاپ: "خوک افتاب شي واسمان ته خېژ ولې".
(۶) له مصوري نسخې نه پرته په نورو نسخو کې "پنهان" راغلی دی.
(۷) د "خ" لومړۍ نسخه: "افتاب". او دا بیت په "ق، ک" چاپ کې داسې دی:
"خوک په شپه کې شي مهتاب راخېژ ولې — ده په شپه کې خېژ ولی ماه تابان دی"
(۸) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې "نازل" راغلی دی.
(۹) قلمي نسخې: "زنده".

خوږ و سنګ شي رنګ د ګلو ورکولی — ده و سنګ ورکړی رنګ د ارغوان دی(۱)

خوږ له خاورو شي یو ګل پیدا کولی — ده له خاورو پیدا(۲) کړی ګلستان دی

خوږ له اوره شي اوبه پیدا کولی — ده له اوره پیدا کړی زمستان دی(۳)

خوږ له سنګه شي ګوهر پیدا کولی — پیدا کړی ده له سنګه در و مرجان دی(٤)

خوږ شي رزق و هر(۵) مخلوق ته رسولی — دی د هر یوه مخلوق روزي رسان دی

خوږ بنده له ایمان شي ورکولی — ده ورکړی هر مؤمن له ایمان دی(٦)

خوږ له ځمکې و آسمان ته شي ختلی(۷) — ده عیسی له ورکړی د امکان دی

خوږ له خدای سره خبرې شي کولی — ده موسی مشرف کړی په داشان دی(۸)

خوږ ایښودی په توسن د هوا(۹) زین شي — ایښی ده په هوا تخت د سلیمان دی

خوږ په سپینه ږیره پایي تر قیامته(۱۰) — ده په خضر باندې کړی دا احسان دی

چې په ده شي هغه کار په هیچا نه شي — هر توانا د ده تر توان پورې ناتوان دی

په اوبو کې یې د کاني کوټ بنا کړ — ده ورکړی پکې اور له امان(۱۱) دی

---

(۱) "ق، ک" چاپ : "خوږ شي سنګ ته ورکولی رنګ د ګلو — سنګ ته ده ورکړی رنګ د ارغوان دی".
"ق" چاپ : "خوږ شي سنګ ته ورکولی رنګ د ګلو — ده و سنګ ورکړی رنګ د ارغوان دی".
د "خ" لومړی نسخه : "خوږ شي سنګ له د ګلو رنګ ورکولی — ده و سنګ ورکړی رنګ د زعفران دی".
د "خ" دوهمه نسخه "ده ورکړی سنګ ته رنګ د ارغوان دی".

(۲) د "خ" له دوهمې نسخې نه پرته په نورو نسخو کې "رڼا عیان کړی" راغلی دی.

(۳) دا بیت په "ب" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته

(٤) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

(۵) د "خ" دوهمه نسخه : "و کل مخلوق ته". په "ق" او "ق، ک" چاپ کې دا مسرګه داسې ده : "خوږ شي رزق رسولی هر یوه ته".

(٦) دا بیت د "ب" په لومړی نسخه کې نشته. د "خ" لومړی او مصوره نسخه کې د "مومن" پرځای "بنده" راغلی دی.

(۷) قلمي نسخې : "خوږ له ځمکې و آسمان وته ختلی شي".
"ق" او "ق، ک" چاپ : "خوږ له ځمکې و آسمان ته دی ختلی".

(۸) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۹) په چاپي دیوانونو کې د "هوا" پرځای "اسمان" راغلی دی.

(۱۰) "ق" چاپ : خوږ تل ده په ږیره به وپایي تر قیامته".

(۱۱) چاپي دیوانونه : "مکان دی"
لومړی بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
په "ب" چاپ او د پېښور په چاپي دیوانونو کې د "کوټ" پرځای "ګوټ" راغلی دی.

په سجده(۱) يې ځمکې سردی لګولی          هم يې زور ند په رکوع سره آسمان دی

هره ونه په قيام ورته ولاړه          هر ګياه يې په تسبيح سره زبان دی(۲)

همه واره په تسبيح دده مشغول دي          که ملك دی که پيری دی که انسان دی(۳)

هر ماهي يې په درياب کې حمد(۴) وايي          هر مرغه يې په چمن کې ثنا خوان دی

حق په حق يې ثنا هيچا کړې نه ده(۵)          نه له هيچا واقع شوې دا بيان دی

مخلوقات تو هسې نه دی پېژندلی          لکه ده سره(۶) چې قدر دخپل ځان دی

حد پايان يې بې هيڅ سړي موندلی نه دی          معرفت يې هسې بحر بې پايان دی

نه هيڅوك دده په خبر دده په شان دي          او نه دی دچا په خبر دچا په شان دی(۷)

نه يې زيان نه يې زوال نه يې نقصان شته          دی(۸) بې زيانه بې زواله بې نقصان دی

نه يې مثل نه مثال نه يې مکان شته          دی بې مثله بې مثاله بې مکان دی(۹)

پاك يې وګڼه بې شکه بې ګمانه          له هغو چې دچا شك دچا ګومان دی(۱۰)

نه يې خوك په ستر ګو وينې نه لېده(۱۱) شي          او بې چونه بې چګونه نمايان دی

که خوك وايي لېده نه شي لېده نه شي(۱۲)          او که وايي وهر چا ته عيان دی

---

(۱) په چاپي ديوانونو کی "سجود" راغلی دی.
"پ پ" چاپ کی دوهمه مسرۍ داسې ده: "زور ند سر هم په رکوع سره آسمان دی".

(۲) د "خ" دوهمه نسخه: "ګويان دی"

(۳) قلمي نسخې: "که سړي دی که پيری دی که حيوان دی".

(۴) د "خ" دوهمه نسخه کی د "حمد" پر ځای "ثنا" راغلی دی.

(۵) "پ" چاپ، "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ: "حق په حق يې هيچا نه ده ثنا کړې".
"ق، ک" چاپ کی دوهمه مسرۍ داسې ده: "نه هيچا نه واقع شوې دا بيان دی".

(۶) قلمي نسخو او "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې د "سره" پر ځای "څخه" راغلی دی.

(۷) دا بيت په "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کی نشته.

(۸) د "خ" دوهمه نسخه کی د "دی" پر ځای "او" راغلی دی.

(۹) دا بيت په "ق" چاپ کی داسې دی: "نه يې مثل نه مثال نه يې پايان شته دی بې مثله بې مثاله بې پايان دی".
په "ق، ک" چاپ کې يې دوهمه مسرۍ له "ق" چاپ سره يو شان ده په نورو چاپي ديوانونو او قلمي نسخو کی يې لومړی مسرۍ داسې ده: "نه يې مثل نه مثال نه يې مکان شته".

(۱۰) مصوره نسخه: "له هغو چې دچا فکر په بل شان دی".

(۱۱) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "که يې خوك په ستر ګو وينې لېده نه شي".

(۱۲) د "خ" دوهمه نسخه: "که خوك وايي چې لېده شي لېده نه شي".

منزه دی له جملو جهتونو — او بیا هر جهت په ده باندې ودان دی (۱)

بې پردې به حسن چا نه وي لیدلی — که څوک وايي چې لیده شي تش ګومان دی (۲)

۲۶۹ له زرګونو صفتونو راشه ګوره
چې يې کړي نیم صفت عبدالرحمان دی (۳) ۲۸۶۸

زړه مې ستا په ذکر فکر ګلستان دی — تن مې ستا له غمه پانه د خزان دی

ستا د غم له هجره هسې لړه مند یم — چې په سترګو کې مې جوړ د دره وکان دی (٤)

ستا کتو مې (۵) عجب زخم په زړه وکړو — چې هم وينې ترې بهیږي هم خندان دی

هسې رنګ مې د خپل زړه له وینو واخست — چې ځان درست راته په شکل د جانان دی

که د ستا د زلفو مار کاندي خونه — ما موندلې ځنې عمر جاودان دی

ځنګدن که هر څو تریخ وتلخ وایه شي — ستا د لبو په مدد آب حیوان دی

آشنايي تر حد الحه کمزوري نه ده — معطر په بوی د مصر درست کنعان دی

لکه لمر په خلوړم آسمان لیده شي — محبت په سل حجابه کې عیان دی

نور د شمع په فانوس کله پټیږي — عشق د عقل په پرده کې نمایان دی

که د ستا په مخ کې بوی د حجاب نشته — زه له ډېرې حلې (۶) وايم چې نهان دی

---

(۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۲) دا بیت د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو.
(۳) د "ب" لومړۍ نسخه : "له هزار و صفتونو با ور مه کړه — چې يې کړي دا صفت عبدالرحمان دی".
"ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : "له زرګونو صفتونو راشه ګوره — يو صفت يې کړي ما عبدالرحمان دی".
د "خ" لومړۍ نسخه : "له هزار صفتو يو يې ادا نه کړ — چې يې کړي دا صفت عبدالرحمان دی".
د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه : "له هزار و صفتونو باور وکړې — چې يې کړي نیم صفت عبدالرحمان دی".
(٤) دا بیت او ورپسې دوه بیتونه د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته په چاپي دیوانونو کې دا بیت داسې دی : "ستا د هجر په غم هسې لړه مند یم
چې په سترګو کې مې جوړ د دره وان دی"
د "خ" په لومړۍ نسخه کې دوهمه مسرۍ داسې ده : "چې له سترګو مې د میو جوی روان دی".
(۵) په "ق، ک" چاپ کې "ستا لیدو" راغلي دي.
(۶) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "مینې" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "حیا" راغلي دي.

طاوس رنګې زلفې چا دي سېې کړي(١) چې هر موی یې په خوږ رنګه په خوشان دي
بې پردې به حسن نه وي چا لیدلی که خوک والي چې لیده شي تش ګمان دی(٢)
ښادي غم خوندې اسانه مونده نه شي سوړ په خپلو ویښو لعل د بدخشان دی
که وصال په هر زمان واې هسې دریغه لکه غم چې د هجران په هر زمان دی
بې د ستا له ملاقاته چې مشکل شو نور مشکل واړه په ما باندې اسان دی
هم په دا راته اسان شوه نور غمونه چې ستا غم د حد په هور ته راته ګران دی
قافله د صبر هیڅ ویساېرې(٣) نه کا ستاله غمه مې منزل د زړه ویران دی
یو نفس به دې له دره بېرته نه شم څو مې یو نفس(٤) باقي په دا جهان دی
لکه سر و سامان ستا د زلفو نشته هسې زړه زما بې سر و بې سامان دی
لکه تا چې تور ګېسو په مخ پرېشان کړه هم مې هسې خراب زړه لېسې پرېشان دی
خوار خاطر به د ... سلامت شوی
چې ګذرې ستا په چاه زنخدان دی

٢٦٧ — ٢٨٨٩

ستا د عشق حرفونه تور زړه ګلګون دی هم په دا چې نوشته په جګر خون دی(٥)
تش به نه شي هغه خم د عشق له میو چې یې خاورې د فرهاد و د مجنون دي(٦)
د دنیا چارې همه واړه فاني دي دا د ستا جور و فا ولې افزون دی
مقتولان ستا د غمزو دي لا له نه دي چې په سره کفن له خمکې را بیرون دي

---

(١) چاپي دیوانونه: "طاوس رنګه زلفې دې چا هسې ګره کړېي".
د "خ" دوهمه نسخه: "طاوس رنګه زلفې نه دي چا لیدلی که خوک والي چې لیده شي تش ګومان دی".
(٢) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه او نیمګړې نسخه کې نشته.
(٣) د "پ" لومړی نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "را باندې نه کا" راغلی دی.
(٤) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "دم نفس" راغلی دی.
(٥) دا غزل په قلمي نسخو کې نشته.
(٦) "ق، ک" چاپ: "یاره ستا جور و جفا ولې افزون دی".

چې یې هیڅ بها زلمیو څخه نشته — جونه نه دي سکه ګنجونه د قارون دي
بادشاهان په یوه دم کې ګدایان کا — ما لېدلي فسادونه د ګردون دي

۲۶۸ د رحمان د زړه خوناب مګر قبول شي
چې مخونه د دلبرو پرې ګلګون دي ۲۹۹۶

غم دې هسې غلبه شو په ما باندې — چې مې ځای نه شي د تنه نه د باندې
له زګیرویه مې نور خلق په عذاب شول — تل د وچوله کبله سوځي تاندې
زه د ستا په غم کې شمع غوندې ژاړم — ته زما په ژړا صبح غوندې خاندې
زړه مې هسې ستا په لورې آوېزان دی — لکه زلفې دې په مخ دي آوېزاندې
ما دې ستا دانه پښنو په اور کې سوې — د دنیا اندېښنې واړه لکه سپاندې
دا دستور دی چې لوی(1) غم په سړي ورشي — نور غمونه یې هېر شي تر پښو لاندې
هر چې ما په نصیحت له تا جار باسي — بیا دې ستا په لورې درومي ترما وراندې(2)

۲۶۹ سره لمبه ګوره چې څه کا په وچ ډکي
مخ دیار په رحمان هسې چارې کاندې ۲۹۰۴

په دنیا کې که څه کار دی خو د دین دی — د دې کار په کننده وو آفرین دی
چې تقوی او دینداري یې شي په برخه — دا هغو د سعادت ستورې قرین دی
قناعت مې هسې خوند په خوله کې کښېنود — چې وچ ټوک مې په دهن کې انګبین دی
بې هاتیانو بې اوښانو بادشاهي کا — د زاړه پوزي توکر کې یې قالین دی
چې په خواست د حاجت پورته کا لاسونه — د آسمان د ملایکو پرې آمین دی
چې قبوله هغه تري کا په دنیا کې — دا هغو په بهترۍ باندې یقین دی

---

(1) په قلمي نسخو کې "یو" راغلی دی.
(2) د "خ" د ومې نسخه: "هغه تله کا ستا ولوړته ترما وراندې".

تل د لوړي اوبه د ړومي وشوړ ته ... حق تعالی کمال ورکړی و کمین دی

خاکساري د خاکسارانو مرتبه ده ... که زمکې یې خیرن وي زړه یې سپین دی

د سرکښو سرکه ورشي و آسمان ته ... په دوه ورځې پسې ځای زیر زمین دی

چې شیوه یې وي په سرکې اولوي کا ... د رحمت لیاقت نه لري لعین دی

که صورت یې د سړي، سړي بالرشي ... په معنی کې سړي نه دي شیاطین دی

که رحمان سره متاع د دنیا نشته ... شکر دا چې نه خودرای دی نه خودبین دی

## ۲۷۰ ... ۲۹۱۶

مخ د یار شمس و قمر دري واړه یو دي ... قد د سرو صنوبر دري واړه یو دي

حاجت نه لرم په شهدو په شکرو (۱) ... لب د یار شهد و شکر دري واړه یو دي

که بې یاره په بستر د پاسرین و یم ... نار و خار و د ابستر دري واړه یو دي

چې و در و و دیوار ته یې نظر کړم ... باغ بوستان او دغه در دري واړه یو دي

چې غبار یې د کوڅې را باندې راشي ... دا غبار مشک و عنبر دري واړه یو دي

خدای د یار له هجره هېڅوک خبر مه کړه ... تاخت و قتل دا خبر دري واړه یو دي

هغه دم چې سړی د رومي له جهانه ... توري خاوري سیم و زر دري واړه یو دي

قلندر چې په رښتیا قلندري کا ... خان، سلطان و قلندر دري واړه یو دي

ورډې نه شي په پردي ملک حمله هېڅوک (۲) ... کوړ و کړا و مبصر دري واړه یو دي

چې دې نه لکې یو یار نه دې آشناوي ... هغه نهر بحر و بر دري واړه یو دي

په دکان د نابیناو جوهریانو ... خرمهره لعل و گوهر دري واړه یو دي

پسران دې عار زما له عشقه نه کا ... پاک عاشق پسر (۳) پدر دري واړه یو دي

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه : "حاجت نه لري په شهدو په شکرو".

(۲) په قلمي نسخو، "پ" چاپ، "ق" چاپ، او "پ پ" چاپ کې دا مسرې داسې ده : "ورډې نه شي په پردي ملک حمله هېڅوک".

(۳) دا بیت په "پ" چاپ کې نشته او په مصوره نسخه کې د "پسر" پر ځای "پیر" راغلی دی.

په سبب د ظالمانو حاکمانو — ګوروا او پېښور درې واړه یو دي[1]

۲۷۱

غزا وشوه که څان ستا لې ورځ ته
بې هنره ګاوخر دې واړه یو دي

۲۹۳۰

چې دا هسې لاس په لاس دنیا پرېښودې — څه چو چندن په څان پورې مښودي
دا دنیا په مثال پوله مرګ سېلاب دی — د سېلاب په مخ کې څه پوله ایښودي
جل ځلي لا واده ندوي سره کونډه وي — دا رنګ چارې د مرګي د خرښودي
تا فلې چې په دنیا کې شوې داخلي — بیا هم هسې معلومېږي چې دلښودي[2]
دا سفر به په هغو باندې آسان وي — چې ترکوچ یخوا په زېرمه د توښودي
چې بې وخته راحمان کا په وخت اوده وي — د هغو عالمو بېړې د وکښودي
په هر شان چې یار خوښېږي زه هغه کړم[3] — خپلول د صاحبانو په پېښودي
دیار غم مې لکه تاج وي په سر ایښی — نور غمونه مې هم لاندې تر پښو دي
معشوقې په عاشقانو خود پوهېږي — دلته څه د عاشقه نښې د ښودي[4]

۲۷۲

مې خواران کړې خبر شي له مستۍ نه
د ورځې د میخانې شراب د خښودي

۲۹۴۰

زه بلبل ستا د وصال بوستان خر دی — ستا د وصل په نسبت ګلستان خر دی
چې آشنا شي ستا له دره له د بوله — انتظار يې په روضه د رضوان خر دی
چې روزي يې شهادت شي ستا له تېغه — احتیاج يې په چشمه د حیوان خر دی
چې مسکن يې د زړه ستا د زلفو خم شي — وهغو ته د عطار و دکان خر دی

---

(۱) دا بیت د "خ" په نسخه کې نشته، په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې دا مسری داسې ده. "ګورا وګورا وپېښور درې واړه یو دي".
(۲) "ق" چاپ، "ق، ک" چاپ، په "مصره" په او د "خ" په دوهمه نسخه کې "دتلو دي" راغلی دی.
(۳) قلمي نسخې: "په هر رنګ چې یار خوښېږي نه يې کړمه".
(۴) د "خ" دوهمه نسخه کې "ایښودي" راغلی دی.

هر چې لاندې خپل وجود تر خپل قدم کا　　عرش یې لاندې تر قدم شي آسما خه د
بوالهوس که بوسه غواړي له تا خه شو　　هر رنګ هر رنګ وېل کاندي نادان خه د
زه چې ستا له غمه زاړم آه فریاد کړم　　برق و رعد چکاره دي باران خه دي
ځان ځهان مې هسې ستا په مینه هېر د　　نه پوهېږم چې ځان خه د ځهان خه دي
ته چې نه ګورې وما ته لږ مې یوه کړه　　په دا کار کې دې ضرر او نقصا خه د
که ستا سترګې دي قاتلې زه مقتول یم　　وایه لوړ دې په خاطر کې ارمان خه دي
زه بې صبره یم که مهر د ستا نشته　　له دې دوارو دې په زړه کې ګوما خه د
چې مې وینې تر و مې خه پوښتې له حاله　　له عیا نه احتیاج د بیان خه دي

هر چې والي ستا رسی د ملاح غاره
۲۷۳　　و توانا و ته حجت د نا توان خه دی　　۲۹۵۳

ښیخ[1] مې ستا د بنو غشي په سینه دي　　پورې وورې مې و تلې ترا ینه دي
تل یې مخ دیاں په مخ باندې وي ابنی　　هغه زړونه چې بې زنګه آیینه دي
هسې نه چې زه نن ورځ په تا شیدا یم　　ستا غمونه مې په زړه کې دیرینه دي
لکه ستورې چې بربښنا کا په آسمان کې　　په تهمن مې ستا داغونه نګینه دي[2]
د رته وایم چې له آهه یې پرهېز که[3]　　د هغو چې پوشاکونه پشمینه دي
که د ستا رخسار سوزاني لمبې وي　　ولې کسي زما تور سوي نبینه دي
خه بدسم په صبحدم ګورې وچاته　　چې دې سترګې په مي مستې شبینه د[4]
هغه سترګې چې پیدا کړې خدای خونریز　　بې غضبه[5] په غضب او په کینه دي
شرابیان[6] چې شراب مومي خوبي شومي　　کله منعه په اختر[7] په آدینه دي

---

* . دې مخ پا یلیکونه دې په (۲۰۵) مخ کی وکتل شي.

۲۷۴ — ۲۹۶۳

چې تمام د خپل ځيګر په وينو رنګ شو
د تماشاخانې خبرې ځکه رنګينه دي

(۱) د عاشق نظر په خوردو په خواب نه دی — مراد يې بې د يار له دره (۲) بل باب نه دی
تر نظر په خپل هنر په عقل مه کړه — دا اسباب په عاشقۍ کې (۳) اسباب نه دی
چې د يار سره حساب د دنيا کاندي — (۴) د غه هيڅ په عاشقانو حساب نه دی
(۵) چې عاشق په عاشقۍ کې ارباب نه شي — که د دربست جهان ارباب شي ارباب نه دی
هر چې يار منعه کوي له خپله يار ه — دا کتاب د عاشقانو کتاب نه دی
دا حجاب چې (۶) نور عالم يې حجاب بولي — دا زما د يار ترميانه حجاب نه دی
(۷) که ثواب دی هم سيوا د يار له مخه — ما ګڼلی د غه کار په ثواب نه دی
که لېدلی زليخا يوسف په خوب و — ما په ويښه دی لېدلی په خواب نه دی
صبر وښيه په مخ کې که مراد غواړې — هېڅ اکړې د غه کار په شتاب نه دی

۲۷۵ — ۲۹۷۳

تماشاخان سوال د بوسې کړی دی له ياره
لا يې هيڅ ځني موندلی جواب نه دی

د عشق زخم خه د زخم په شان نه دے — (۸) د بل زخم په خير سهل و آسان نه دی
عاشقان و معشوقې سره پوهېږي — (۹) د غه راز و نور عالم ته عيان نه دی
عاشقي نه ده که ګوره بې حيراني ده — (۱۰) کوم سړی په د غه کار کې حيران نه دی
يو عاشق دی خوک راوښيي په عشق کې — (۱۱) چې يې رود په مخ دا ونسکو روان نه دی
(۱۲) هوره او ښکې د عاشق په ګريوان ورېږي — ته به وايې چې يوسيند د ګريوان نه دی
دا هجران دی چې يې مرګ په عاشق ګران کړ — (۱۳) که هجران وه سره نه وي هېڅ ګران نه دے

---

* ددې مخ د متن پايليکونه دي په ( ۲۰۵ ) مخ کې وکتل شي.

نور غمونه که په ځان د سړي بد دي ‏ ‏ ‏ ‏ غم د ترکو بد د هیڅا په ځان نه دی (١)

د دوزخ داور که تا ولته حده تبر دی ‏ ‏ ‏ ‏ برابر د بېلتانه لسه نیران نه دی (٢)

چې بالښتي څوک په عشق کې کم عقل ‏ ‏ ‏ ‏ دا کم عقل د بر هوښیار دی نادان نه دی

٢٧٦

چې بې یاره وجهان وته نظر کړم

ګمان وایم چې ویران دی وران نه دی (٣)

٢٩٨٣

---

د (٢٠٣) مخ د متن پاېلیکونه:

(١) په قلمي نسخو کې "خرخ" راغلی دی.

(٢) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته. په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې د "داغونه" پر ځای "غمونه" راغلی دی.

(٣) د "ب" لومړي نسخه او د "خ" لومړي نسخه: "ورته وایه چې له آهدمي پرهېز که".

د "خ" دوهمه نسخه: "ورته وایه چې له آهوېي پرهیز که".

(٤) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.

(٥) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "بې سببه" راغلی دی.

(٦) د "خ" په دوهمه نسخه کې "می خواران" راغلی دی.

(٧) د "خ" په لومړي نسخه کې "په جمعه" راغلی دی.

د (٢٠٤) مخ د متن پاېلیکونه:

(١) دا غزل د "ب" په نسخو او مصوره نسخه کې نشته.

(٢) "ق، ک" چاپ، "ق" چاپ او د "خ" لومړي او دوهمه نسخه کې "دیار له بابه" راغلی دی.

(٣) د "خ" لومړي او دوهمه نسخه: "دا اسباب د عاشقو اسباب نه دی".

(٤) د "خ" لومړي او دوهمه نسخه: "د غه جنج په عاشقو کې حساب نه دی".

(٥) د "خ" نسخې: "ارباب نه وی".

(٦) د "خ" دوهمه نسخه: "عام عالم".

(٧) د "خ" لومړي نسخه: "که ثواب دی هم ثواب د یار په عشق کې".

(٨) "ق، ک" چاپ: "د عاشق زخم د زخم په شان نه دی

د غه راز ولو عالم ته عیان نه دی".

"ق" چاپ: "د غه راز و نیا عالم ته عیان نه دی".

د "خ" دوهمه نسخه: "د عاشق زخم خه د زخم په شان نه دی".

(٩) "ق، ک" چاپ: "دا د عشق اسرار په هاخا ممان نه دی".

"ق" چاپ: "دا د عشق اسرار په جاهلانو بیان نه دی".

د "خ" دوهمه نسخه: "د غه راز بوهر سړي ته عیان نه دی".

(١٠) دا بیت د "ب" په لومړي نسخه کې نشته.

(١١) "ق" چاپ: "یاران نه دی".

(١٢) د "ب" لومړي نسخه: "هومره اوښکې د عاشق په ګرېوان دروې".

"ق، ک" چاپ: "هومره اوښکې د عاشق په مخ رادروې".

د "خ" دوهمه نسخه: "هومره اوښکې په ګرېوان د عاشق دروې".

(١٣) چاپي دیوانونه: "که هم ځان د مخه د دومي هیڅ ګران نه دی"

(پاتې په (٢٠٦) مخ کې)

هرنگار چې بې وفا دی نگار نه دی — په گلزار کې چې گل نه وي گلزار نه دی [1]
هغه یار چې اخلاص نه لري یار نه دی — هغه کار چې بېفایده دی خه کار نه دی [2]
په تلخۍ د میومست خلق [3] مې خوښ دي — هغه خار چې بوی د گل لري خار نه دی [4]
دیندار یا دنیادار یې ده حُبله [5] لري — مالبدلي هیڅ دیندار دنیادار نه دی
که رونگار دی په جهان کې عاشقې [6] ده — دده نور عالم رونگار خه رونگار نه دی
چې تصدیق یې په خپل زړه کې محکم نه وي — دا په خوله ظاهر اقرار خه اقرار نه دی [7]
په هر زړه چې د خپل یار د غم غبار وي — د غبار د رحمت دی غبار نه دی
چا به کسب بې له تشقه نور خه نه کړ — باري گنج دی چې هر چا ته اظهار نه دی [8]
معشوقه وفاله هیچا سره نه کا — گنهگوم یو ددې رختریاله نه دی

---

د ۲۰۵ مخ د متن پا یلیکونه :

(۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته . د "خ" لومړۍ نسخه کې یې لومړی مسری داسې ده : " لور ځمونه که په ځان دهرسړي دی ".
(۲) دا بیت او ورپسې بیت په قلمي نسخو کې نشته .
(۳) "ق، ک" چاپ : " نه رحمان وایم چې وران دی ودان نه دی ".

ددې مخ د متن پا یلیکونه :

(۱) . دا غزل د "ب" په نسخو او مصوره نسخه کې نشته . ددې غزل لومړی بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی : "هغه یار چې بې وفا دی خه یار نه دی
هغه کار چې بې بقا دی خه کار نه دی

د "خ" دوهمه نسخه : لداغیار سره سودا خه په کار نه دی
له مکار سره رونگار خه رونگار نه دی

(۲) دا بیت د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو .
(۳) "ق، ک" چاپ : "انسان".
د "خ" دوهمه نسخه : " په تلخۍ د میومست عالم خرم وي "
(٤) دا مسری د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده : "هغه کار چې بوی د خار لري خار نه دی".
(۵) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ : "سره".
د "خ" لومړۍ نسخه : "وسله".
(٦) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه : "که رونگار دی په دنیا کې د عاشق دی "
(۷) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه : " چې بنا یې د تصدیق محکمه نه وي
د ظاهر په خوله اقرار خه په کار نه دی

(پاته په (۲۰۷) مخ کې)

دد لدار وصال دخدای په داد مونده شي[۱] دغه کار مي د هيچا په اختيار نه دی

۲۷۷ په رحمان باندې منت دمعشوقو دی[۲] ۲۹۹٤
دبې حسنو معشوقو منت بار نه دی

هغه يار چې بې وفا دی خه يار نه دی هغه کار چې بې بقا دی خه کار نه دی
که د سر ښندل د شوار په ما وتا دي[۳] دا په عشق کې سهل کار دی دشوار نه دی
اندېښنه سړي بيدار کاندي لخوبه کم اندېښنه که بيدار دی بيدار نه دی
که خه عمر دی عاشق لره وصال دی دهجران عمر دعمر په شمار نه دی[٤]
دچشمانو په حنبل[۵] کې تير و بير شي اعتبار د زماني اعتبار نه دی[٦]
که دسلون ويو پلار شي به يې خه کا[۷] بې وقوفه زوی د پلار خه په کار نه دی[۸]

۲۷۸ معشوقې هميشه ناز په عاشق کاندي ۳۰۰۱
رحمان هيڅ لدخپله ياره آزار نه دی[۹]

عاشقان دې په اور سوي يادې کنه دي ستا دعشق په اور الوي دي که نه دی[۱۰]

---

د (۲۰٦) مخ د پايليکونو پاته برخه:

(۸) "ب" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "بارې گنج دی چې هر يو ته اظهار نه دی".
د "خ" لومړی نسخه: "چا به کسب دعشق نه کړ باری خه کړی چې دا گنج وهر يوه ته اظهار نه دی".

ددې مخ دمتن پايليکونه:

(۱) "ب" چاپ او "ق، ک" چاپ: "دخپل يار وصال دخدای په داد مونده شي".
"ق" چاپ: "دخپل يار وصال دخدای په امر مونده شي".
د "خ" لومړی نسخه: "دخپل يار وصال دخدای په داد مونده شي دغه کار و هيڅ بنده ته اظهار نه دی".
(۲) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) د "خ" لومړی نسخه: "که دسر ښندل دشوار دی وتا ته".
(٤) د "ب" لومړی نسخه: "دهجران عمر په عمر خه شمار نه دی".
د "خ" لومړی نسخه: "دهجران عمر په عمر شمار نه دی".
(۵) د "خ" دوهمه نسخه: "وهل".
(٦) د "خ" دوهمه نسخه، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "اعتبار د زماني خه اعتبار نه دی". او هم دا بيت او ورپسې بيتونه د "ب" په لومړی نسخه کې نشته.
(۷) "ق، ک" چاپ: "که دسلون ويو پلار شي خوک به يې خه کا". "ق" چاپ: "که دسلون ويو پلار شي خوک به يې خه کاندي".
د "خ" دوهمه نسخه: "که دسلون ويو پلار شي ته به يې خه کړې".
(۸) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه او مصوره نسخه: "بې وقوفه زويه زويه د پلار نه دی".
(۹) د "خ" لومړی نسخه: "معشوقه هميشه ناز په عشاق کاندي دا رحمان لدخپله ياره آزار نه دی". په "ق" چاپ کې هم معشوقه داخل ده.
(۱۰) دا غزل د "خ" په لومړی نسخه، مصوره نسخه او نيمگړي نسخه کې نشته.

زخمتونه د هجران واړه په عشق کړي ... تا وما وته ښو ولې دي که نه دي
په دنیا کې خو یا سر و مال ویل شي ... د واړه ما په تا بایللي[1] دي که نه دي
تل د وروځو په لیندو د ښو غشي ... تا په ما باندې راکښلي دي که نه دي
چې مدام يې زمانه له غمه چوي ... توري زلفې دې پېچوي دي که نه دي
راشه وګوره احوال د عاشقانو ... مړه د عشق په تېغ کوتلي[2] دي که نه دي
ناصحان چې نصیحت وما ته[3] کاندي ... چېرې دوی هم مین شوي دي که نه دي
ښایسته که په ښایست کې ملایک وي ... په وکښه د زړونو وړي دي که نه دي

۲۷۹ — بلبلان پسې ناري وهي رحمانه
د بهار ګلونه شوي[4] دي که نه دي — ۳۰۱۰

داثر وندي چې معلوم بې واړه مړه دي ... که څه دي هم هسې وایه چې څه نه دي[5]
یا د باد په مخ کې خاورې دي دا توري ... یا اور په مخ کې واړه وچ واښه دي
د خپل عمر شپې او ورځې چې په تېره کړم ... هسې درومي ګویا بهېده اوبه دي[6]
غافلان که وینې اوري به يې څه کړي[7] ... دا لې خوب دي نه لیده نه اورېده دي
چې د خدای له معرفته خبر نه وي ... هغه واړه که بېدار دي هم اوده دي[8]

۲۸۰ — د رحمان د زړه له حاله خدای خبر دی
چې په زړه کې يې د یار له غمه څه دي[9] — ۳۰۱۶

---

(۱) په قلمي نسخه کې "پاسلوي دي" راغلی دی.
(۲) د "ب" په لومړۍ نسخه کې "په شمشیر کوي دي" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "په ستر ګو کوي دي" راغلی دی.
(۳) په "پ" چاپ او "ب، ب" چاپ کې "د پاره ته" راغلی دی.
(٤) په قلمي نسخه کې "توي دي" راغلی دی.
(۵) دا غزل د "ب ب" چاپ کې نشته.
(٦) د "ب" لومړۍ نسخه: "هسې درومي چې د سیند ګویا اوبه دي". د "خ" دوهمه نسخه: "هسې درومي ګویا بحر دی اوبه دي".
(۷) "ق، ک" چاپ: "غافلان چې وینې اوري عمل نه کړي".
(۸) د "خ" لومړۍ نسخه: "بېدار نه دي".
(۹) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "چې په زړه کې د اشنا له غمه څه دي".

په ظاهر صورت چې ستا د درګدای دی — په معنی کې د جمله وکدخدای دی (۱)

مجنون بېد غوښتي رونق د ګلستان شي — چې يې ستا له غمه سر په پښت پای دی

چې له غمه د جرس غوښتي نالان دی — د جمله وګمراهانو رهنمای دی

چې څوك زړه د ستا وتوره وسترګو ورکا (۲) — ستا د وروځو تر محراب لاندې ځای دی

چې مسکن يې د زړه ستا د زلفو خم شي — د هغو ناستی په سيوري د همای دی

چې تا وويني وما ته نصيحت کا — شك پرې مه کوه بې شکه چې خودرای دی

۲۸۱

که زردار دي آشنايان د زردارانو
د رحمان د آشنايانو تکيه خدای دی

۳۰۲۲

که مطلب ومدعا سړي خدای دی — هر مړی د ژوندیو رهنمای دی

مسافر چې په رحلت کې خپله غږ کا — هر آواز يې خواب آلوده درای دی

که سړی وحقیقت وته نظر کا — ژوندي خلق واړه ناست د مړو په ځای دي

د اخو بخت دی څوك يې سپين او څوك يې توره — ګنه عيني لکه زاغ هسې همای دی

لکه فرق چې د همای او د زاغ نشته — هم دغه دليل د شاه ود ګدای دی

ته نظر د کاريګر و په کار مه کړه — کار همه واړه موقوف په کارفرمای دی

سالکان چې د جهان تماشا کاندي — له جهانه يې مطلب جهان آرای دی

که څوك خپل دست وپای و پاسي له ميانه — خدای بخپله د بې دستو دست و پای دی

په هغه جهان سکي وبدي نشته — هر مطلب د طالبانو په دا سرای دی

۲۸۲

زه رحمان يوازې نه يم په دا کار کې
همېشه ديار په يار پسې وای وای دی

۳۰۲۳

---

(۱) قلمي نسخې: "په معنی کې د جمله جهان کدخدای دی".
(۲) د "ب" په لومړۍ نسخه او د "خ" په ځينو نسخو کې "توره و زلفو" راغلي دي.

که د خلقو و نظر ته آدمي دی    خوار عاشق د معشوقې د کوڅې سپی دی

هر چې ځان د یار په سپیو کې داخل کا (۱)    تر و هاله به ورته وایم چې سړی دی

ما د خدای د یار له غمه بې غم نه کا    دا په ملک د عاشقۍ کې لوی وړانی دی

زه د یار په غم کې زیره خیره خوښ یم    دا زما خزان خزان نه دی سپرلی دی

زه ژوندون د یار و وصل ته وایم    گنهگار یو دوزخي په ژوند ژوندی دی

ته چې ما منعه کوې د یار له دره    کوم یو دی له د غه دره بریالی دی (۲)

زه د یار مینې په یار باندې شیدا کړم    که څوک ما گڼي زه نه یم وا یار دی دی

چې وحشي مجنون یې بهر له ره راوست    د لیلی د زلفو هسې غر وندی دی (۳)

زرداران که او به څښي په جام د زرو    خوښ زما دا خپل د خاورو کنډولی دی

اورنگ زیب که د ډیلي په تخت نازېږي    خپله خونه هر گدای له ډیلي دی

چې له خپله کوره ووځي مسافر شي    څوک یې په ژړني ساهو دی که مړ یې دی

چې یې خاورې شي له خاورو سره گډې    تر و چا خر زده چې د کوم نیکه ملسی دی

توره شپه په آشنا یانو رڼا ورځ ده    رڼا ورځ په ناآشنا تورو بمی دی

نه دي ستر گې پو زه غوږ د کم شناختو    په معنی کې یو د بوال سوړي سوړي دی (٤)

عاشقان یې د دنیا له غمه خلاص کړه    عشق په مثل د سلیمان باد شاهي دی

هر چې حب د عاشقۍ لري په زړه کې    که په قطع (۵) صد ساله وي هم حلالي دی

دا هلال دی چې لیده شي په شفق کې    که په لاس د گل ندامې سپین و نیي دی

ناآشنا به بهره خشکل ځني مومي    چې مدام یې په آشنا باندې غوزړي دی (٦)

---

(۱) د "پ پ" چاپ کې "حساب کا" راغلی دی
(۲) دا بیت د "خ" په نیگړې نسخه کې نشته.
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٤) دا بیت په نیگړې نسخه کې نشته.
(۵) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "حمر" راغلی دی.
(٦) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "زبیرگی" راغلی دی.

خر بوي مې قرباني لره پوهېږم | دا چې کړې دې په ما باندې زړه سوی دی
چې په نوم باندې باله شي لېوه نه شي | معلومېږي چې نر حوړ يا سپا پېږي دی (۱)
چې د خط په دود خلق يکې پرېوځي | زنخدان يې تر سبزې لاندې کوهي دی (۲)

زه رحمان له ياره خوښ يم که جفا کا
که جفا نه کا وفا کا خو تېري دي

۲۸۳ — ۳۰۵۵

ستا له غمه مې په مخ باندې ولې دي | لږ مې وپوښته له حاله چې ولې دي؟
زه په تا پسې مجنون يم قارون نه يم | چې مطلب مې غوا و غيلي يا غلي دي (۳)
هغه کوڅې لکه تا دي په ما کړې | کله کړي په مجنون باندې ليلي دي
لکه ما چې مصلي درپسې لنګ کړې | کوم ملنګ هسې لنګ کړې مصلي دي
بوي هم ستا د وفا نه دي رالوتي (٤) | ما پخپله خپلې کړې تسلي دي
نصيحت اثر په زړه د عاشق نه کا | ګنه يا دې زما د ږېرې مسلې دي (۵)

که رحمان د عاشقۍ په تيغ شهيد شي
د جنت حورې همه واړه د لې دي

۲۸٤ — ۳۰۶۲

چا چې کړې و دنيا و ته اسرې دي | د همه واړو په سر خاورې ايرې دي (۶)
نادانان که د دنيا په چار نا ږېږي | و دانا ته واړه وشتې (۷) مسخرې دي
چې بې خدايه محبت کا هغه خلق | نارينه يې واړه خره او ښځې خرې دي
وسپين ږېري وته مه وايه سپين ږيره | همګي واړه طفلان د ګهوارې دي (۸)

---

(۱) دا بيت په نيګمړې نسخه کې نشته، د "خ" په لومړي نسخه کې دا مسرې داسې ده: "معلومېږي چې نه حوړ نه سپا پېږي دی".
(۲) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) "پ" چاپ: "زه په تا پسې موسی يم قارون نه يم — چې مطلب مې غوا و غيلي يا ګلي دي".
د پېښور چاپي ديوانونه: "زه په تا پسې موسی يم قارون نه يم — چې مطلب مې غوا، غلي او يا ګلي دي".
(٤) په قلمي نسخو کې "رابلودلی" راغلی دی.
(۵) دا بيت په "سپ پ" چاپ کې نشته.
(۶) چاپي ديوانونه: "د هغو په سر همه خاورې ايرې دی". (۷) "ق، ک" چاپ: "تموکې"؛ د "خ" لومړی نسخه: "زشتی"
(۸) د "پ" لومړی نسخه: "دا همه واړه طفلان د ګوارې دی". د "خ" دوهمه نسخه: "وسپين ږېري ته مه وايه چې سپين ږېری".

هسې وايه چې څمڅې دي د ز نانو — کړي يې ايښي په دستار کې ترڅې دي

نه څه فيض نه ښېګړه ځني مونده شي[1] — همګي واړه يې فيضه بې بهرې دي

ذخيره د دنيا مه کوه رحمانه

۲۸۵ — دا همه واړه د خاورو ذخيرې دي[2] — ۳۰۶۹

په هر ځای چې ستا ثنا شي ښېوه ګرې — خوږه شي هلته د زړو مرغلرې

د هغو سترګو به او ښکې وي ګلرنګې — هر چې ستا په ګل رخسار وي منتظرې

هغه کله د ناصح خبرې اورې — هر چې اوري ستا خوږې خوږې خبرې[3]

مړ و د کاندي عاشق له جمله خلق — معشوقې له هيڅ ما مه شه مړوري

په ساعت کې سرې مړ هم يې ژوندي کا[4] — طايفې دي د خوبانو سحرګرې

زه ځان د روب ګڼم بې تا په خپلو وينو — کړې مې د روب کا څوک په شهدو په شکرې

لرې لرې غم دي واړه را نژدې کړه — چې له مخه دې حجاب کړه را ته لرې

چې مې نوم د ستا د تورو زلفو واخيست[5] — را پسې شوې د بلا تورې لښکرې

هيڅ په حق د حقدارانو نه ګرځي — هميشه زما د زړه په وړو منکرې[6]

زما ستا مينه ښکاره په جهان ده — ولې دا رنګه ښکاره ګواهي[7] نغري

---

(۱) چاپي ديوانونه: "چې نه فيض نه څه ښېګړه ځني مونده شي".
مصوره نسخه: "نه څه فيض نه څه ښېګړه ځني مونده شي".

(۲) د "پ" لومړۍ نسخه: "دا همه واړه په سر خاورې ايرې دي".
د "خ" دويمه نسخه: "د دنيا ذخيرې کل خاورې ايرې دي".
مصوره نسخه: "دا همه دا يو و خاورو ذخيرې دي".

(۳) د "خ" په دوهمه نسخه کې "وړې وړې خبرې" راغلي دي.

(۴) چاپي ديوانونه: "په ساعت کې سرې مړ کا هم ژوندي کا".
د "خ" دوهمه نسخه: "په ساعت کې سرې مړ بيا يې ژوندي کا".

(۵) چاپي ديوانونه: "چې مې نوم د ستا د زلفو په خوله واخيست".

(۶) د "پ" لومړۍ نسخه: "هميشه زما په زړه وړې منکرې"
مصوره نسخه: "هميشه زما په وړې زړه منکرې". نو موړی بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۷) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "ګواهي" پر ځای "دعوی" راغلي دي.

زه چې ستا له غمه ژړم آه فریاد کړم     د رقیب کره هم د ول وي هم سندرې (۱)
چې میوه یې د کابل خوږلې نه وي     د هغو له غمه وخلکې شي ګړ ګړ مې (۲)
د رند و ستر ګو (۳) حاجت د رانجه نه وي     په بد رنګه ناوې خه والې سندرې
که په غره په سمه ګرزم باك مې نشته     مزرې تل ګرزي په لوړې په ژورې

۲۸۶

د رحمان شعر به ولې نادر نه وي
چې ثنا کاندي د تاخوندې نادرې

۳۰۸٤

عاشقي را باندې سورې کړې مرې     هیڅ مې نه د روې یې یاره ترمرې (٤)
خه اثر به یې د عقل وي په سر کې (۵)     د هغو په سر چې کېني سنا پېرې
د مژګانو په پنجو مې زړه رکاږي     خدای د ترکو بړندې (٦) ستر ګې کړې زمرې
علوفه به یې بې غمه نور خه نه وي     هر چې کاندي د خوبانو چاکرې (۷)
لا د صبر سبق ما لره هم را کړې     که په عشق کې خوك د غه طاقت لري (۸)
خدایه خه دي د کوتوال په لاس کې وزهم     چې شپې و ورځ مې غریوې لکه تورې (۹)
په صورت مې نړۍ تبه شوه ولاړه     تا چې دواړه ستر ګې تورې کړې نرۍ (۱۰)
د وصال د لالان کوم طرف ته غواړم؟     چې بندي شوم د هجران په کچرې
نور د شمع په فانوس کله پټېږي     تا چې واغوستې د خیال جامې نرۍ

---

(۱) د "خ" د و همه نسخه : "زه چې ستا له غمه تل ژړا فریاد کړم    د رقیب کره هم د ول شته هم سندرې".
د "ق ، ک" چاپي دیوان کې د و همه مسره دا ده : "د رقیب کره مې د ول دی یا سندرې".
(۲) دا بیت او ورپسې دوه نور بیتونه په "ب" چاپ ، "ق ، ک" چاپ ، "ق" چاپ ، د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته.
(۳) د "ب" په لومړۍ نسخه کې "په رند د ستر ګو" راغلي دي.
(٤) د "خ" د و همه نسخه : "عاشقي را باندې سیورې کړې ژړې    هیڅ مې نه د روې یې یاره ترحلقې".
په "ب" چاپ او "پ ب" چاپ کې لومړۍ مسره دا ده : "عاشقي را باندې سورې کړې مرې".
(۵) مصوره نسخه : "خه اثر به یې په سر کې وي د عقل".
(٦) چاپي دیوانونه : "مستې".
(۷) د "خ" لومړۍ نسخه : "که په عشق کې خوك د غه طاقت لري".
(۸) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۹) دا بیت په نورو قلمي نسخو کې نشته په نوبهو نسخو کې داسې دی : "خدایې د عشق د پیر دلاور په لاس کې ور کړم
شپې و ورځ مې ژغه وي لکه تبرې"
(۱۰) دا بیت او ورپسې دوه نور بیتونه په قلمي نسخو کې نشته.

۲۸۷ ۳۰۹٤

زه رحمان په زړه نري کړم هغو ترکو.(1)
چې یې ملاوې د وښتو په دود نري

کړله تا یې شرم نه کیږي ځړي — مخ به پټ نه وو د حورې د پرې(2)
چې آفتاب دې تر رخسار پورې خجل شو — له دې وېرې زیست په شپه کا قمري
ستا تر حسنه پورې حسن وار هیڅ دي — نسبت به څه له هستو کا برابري
بې د ستا د تورو سترګو جادوګرو — کوم آهو د بیابان زده وي دم ګري
ستا د عشق د توري هسې پار نګ ګوزار دی — چې لمخه یې حباب شي ککري
دلبري او دلجویي لکه چې ستا زده — چا زده هسې دلجویي او دلبري
حسن وار د عاشق په عشق موقوف دي — معشوقه که فرښته وي که حوري
و عاشق ته دیار غم وار ه بنا دي ده — رضا په ملک کې نشته دلګیري
دا دستور دی چې له درده زګېروي خېږي

۲۸۸ ۳۱۰۳

ګنه څه وُ د رحمان له شاعري

ستا د تورو سترګو په یاد امې او ښکلې اوړي — حق دی که پړ یوځي په شرابت د غم سترګي(3)
زلفې دې سایه کړې پر مخ دې او ر پرې ګمان بل کړې — هر چا ترې ګوډم نیم په نور وي نیم په سیوري(4)
خوله دې په وصال کې قند نبات خوله ځګر خوري — چا وکړه و دید د چا شوه سپین د سترګو توري(5)
او ر ستا د رخسار د ما په خپلو او ښکو بل کړو(6) — تل په آتش سوزي آیینه چې لمر ته ګوري
سترګې مې د استا له خیاله پرې یوتې و نه زده ته — څه شو که مې بې سترګو صورت ځي په بل لوري(7)

---

(1) د "خ" دوهمه نسخه: "زه رحمان په زړه هغو ترکو زخمي کړم" په مصوره نسخه او چاپي دیوانونو کې د "ترکو" پر ځای "جونو" راغلي دي.
(2) دا غزل په قلمي نسخو کې نشته.
(3) دا غزل د "خ" په نسخه کې نشته، د روښتی مسري یې په "ب" چاپ ـــــ کې راغلې ده: "حق دی که پړ یوځي په شرابت د غم کې سترګي".
(4) د "پ پ" چاپ او قلمي نسخې: "زلفې دې سایه کړې پر مخ دې نور په ګمان کړې"، د "پ" لوړي نسخه: {زلفې دې سایه کړې پر مخ دې او ر ابانګي اوري / او دی کم د یخ د نور یوځي نیم په د اسیوري}
(5) د "پ" لوړي نسخه: "یو اصل دی چې خوله قند نبات خوله ځیګر خون خوري حال ستا د لبا نو او زما د سترګو توري".
(6) د "پ" لوړي نسخه: "اور ستا د رخسار په ما د خپلو سترګو بل کړ".
(7) د "پ" لوړي نسخه: "څه شو که بې سترګو تش د روي په بل لوري".

کله رقيبانو ته نظر کړې کله ماته — ستا ياران د هر په ښو بد و يکسان اوري

ځان په مستو سترګو باندې مه غولوه رحمانه (١)

٢٨٩ — ٣١١٠

دا مستان هوښيار دي له حکمته سره ښوري

غمخواري دا هسې چيرې وي غمخورې — چې به ما دلته کې ناست لرې ته وږې (٢)

هغه خدای چې يې ستا مخ بله لمبه کړ — د المبه يې کړه زما په ګوګل پورې

هم هغه دې زما توره لېمه سره کړې — چې يې ستا لاس نوې سره کړه سترګې تورې (٣)

غل د سرو د مال غلا په توره شپه کا — ته په ورځ زما د سرو د مال چورې

اصيل نه دي چا پيرې وي نه يې پلورې — ته اصيل په ديدن پيرې هم يې پلورې

دا کوم رنګ د آشنايي او يارۍ دی (٤) — چې زه ستا د مخ ثنا کړم ته مې زورې

د رخانې په سل غمونو خدای اختر کړه — زه به ولې له تا زار کوم که ګورې (٥)

زه وتا وته د ستا له جوره ژاړم — ته را واخلې (٦) سل ګيلې نادرې نورې

د ياران مخ په عاشقۍ به آفرين کړې

٢٩٠ — ٣١١٩

که لن مخ په آئينه کړې ځان وګورې (٧)

ته په هره ګړۍ (٨) غم د سيم و زر خورې — زه دې هره ګړۍ وينم چې خپل سر خورې

عاقبت به دې يو خنډ تر سينې ورځي — ته چې تل په هر (٩) ښاخ باندې ثمر خورې

---

(١) د "ب" لومړۍ نسخه : " مه غولېږه دسترګو په وهلو يې رحمانه ".
(٢) قلمي نسخې : " چې ما دلی وته ناست لرې ته دوړې ".
(٣) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته .
(٤) په چاپي ديوانونو کې د "يارۍ" په ځای " وروري " راغلی دی .
(٥) دا بيت د "ب" په لومړۍ نسخه ، د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې نشته د "خ" په لومړۍ نسخه کې دوهمه مسرۍ داسې ده :
" زه به ولې له تا زار کړم خپلې مورې ".
(٦) "ق" چاپ او "ټي ، ک" چاپ کې " را وسنکې " راغلی دی .
(٧) د "ب" لومړۍ نسخه : " که لن مخ وآئينې ته کړې وګورې "
د "خ" لومړۍ نسخه : " که لن مخ وآئينې وته وګورې ".
د "خ" دوهمه نسخه : " که ته مخ وآئينې وته وګورې ".
(٨) د "خ" دوهمه نسخه : " چې په هره ګړۍ ".
(٩) چاپي ديوانونه : " هر يو ښاخ " ، د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه : " په هر ښاخ ".

معلومیږي چې خپل غم د سره نشته — ځکه غم د براد راود پسې خوري (١)

په عوض یې کوم طاعت کړي راته وایه — دانعمت چې (٢) په هر شام په هر سحر خوري

روژتي هم په خلوه یار پسې افطار کا — نه خاوږې ځله طعام په هر پهر خوري (٣)

کړیو ځله تر کماله و رسیږي — نو ربه غوښې د خپل ځان لکه قمر خوري

بې هنر وله قند هم زهر قاتل دی (٤) — قند یې و ګڼه که زهر په هنر خوري

که سنبنه د نام و ننګ دې شي تر څنګه — د هر چا په کج روی به خپل ځیګر خوري (٥)

٢٩١

غني خال په زړه د صبر (٦) نخل کړه زمانه
چې (٧) مدام د برخوردار و په خیر برخوري

٣١٢٨

له چشمانو مې د غم را او بنې ایږي — چې اغیار (ته) یار زما له قصد ګوري (٨)

سره مال به د قاصد تر راتلو جار کړم — چې خبر راله راوړي د یار له لوري

تر سر کې پېزوان یې جار شه قلندره — لکه مست هاتي مدام په ځنځیر سنوري

تر څې راغلې خوبان وار په یسې شا شول — لمر چې وخیژي نو څې پټه یې ستوري

شینکی خال دې د جبین په مخ کې زیب کا — لکه حوره د طوطي ونې تر سیوري

٢٩٢

په کاکل دې یغی ساعت حرام شو
لکه بید مجنون چې شال سنوري

٣١٣٤

---

(١) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته.

(٢) د "خ" دوهمه نسخه: "چې نه هر شام"، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "چې تـه په هر شام و سحر خوري".

(٣) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته، "ق، ک" چاپ: "ته به څرنګه روژه نیسې په صبر چې خلوه ځله طعام په هر پهر خوري". په نورو چاپي دیوانونو او د "خ" دوهمه نسخه کې لومړی مسری داسې ده: "روژتي په خلوه هم پهر افطار کا".

(٤) د "ق، ک" چاپ او قلمي نسخې: "بې هنر وله قند زهر قاتل دی".

(٥) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته لومړی مسری یې د "ب" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "که سنبنه د نام و ننګ ده ترڅنګه".

(٦) مصوره نسخه: "د خیر نخل کړه".

(٧) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "که مدام".

(٨) دا غزل د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو په نورو نسخو او چاپي دیوانونو کې نشته.

ترا به وځې پوهېږې به جفا کړې — کم به مهر و وفا هم چېرې پیدا کړې

معشوقې کله جفا کله وفا کا — مینا یې چې کله هغه کله دا کړې

ماسته خوږې دې وهر چا وته ستا یلې (۱) — چېرې یې نه چې دروغژن مې تر هر چا کړې

سته خو لاس را باندې نه رسې دلبره — چې په لاس د رقیبانو مې سزا کړې (۲)

مرم په دا چې د رقیب (۳) په رضا درومې — نه په دا چې ته په ځان خپله رضا کړې

چې د غم او بنګې زما د غم خوستا وې (۴) — دا یې راز به مې په درست جهان رسوا کړې

په درست عمر به هېڅ لبدلې نه وې (۵) — هغه چارې چې ته هر ساعت پرما کړې

مار نخوړ په کټ کې پربېږدې چې کمبېږم — تر لا ګزې دې د رقیب سره خندا کړې (۶)

لاس تر غاړې د رقیب سره خندا کړې — چې ما وویې له قصه راته شا کړې (۷)

۲۹۳ — هر بیګاه والې چې خوله به سبا درکړم (۸)
دا بیګاه به په ماځ کله سبا کړې — ۳۱٤٤

په پیرې کې چې هوس د می و ناب کړې — بې هوده ګمان په صبح د مهتاب کړې (۹)

بې طاعته عنایت له خدایه غوارې (۱۰) — د عتاب په ځای امید د ثواب کړې

دانسته ګناه کوې توبې وکا بې — لکه بت هسې په غمو سترګو خواب کړې

په هغو غوږو چې ذکر د خدای اورې — بیا سماع په هغو غوږو د رباب کړې

---

(۱) د "پ" په نسخه کې "وېلې" راغلی دی.
(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۳) په چاپي دیوانونو کې "اغیار" راغلی دی.
(٤) چاپي دیوانونه: "چې دستا د غم خصلت دی زما او بنګې".
(۵) د "خ" لومړۍ نسخه: "په درست عمر به یې هېڅ لېدلې نه وي".
(۶) دا بیت د "پ" په لومړۍ نسخه، د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې نشته. د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "کمبېږم" پر ځای "نولېږم" راغلی دی.
(۷) دا بیت د "پ" په لومړۍ نسخه، د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې نشته.
(۸) چاپي دیوانونه: "هر بیګاه والې سبا له به خوله درکړم". د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "خوله" پر ځای "حق" راغلی دی.
(۹) دا غزل په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.
(۱۰) د "ب" لومړۍ نسخه: "په طاعت عنایت له خدایه غوارې". په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "بې طاعته عنایت غوارې له خدایه".
او دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "بې طاعته عنایت له خدایه غوارم د عتاب په ځای امید د آب وتاب کړې".

په هغو شونډو چې حمد و ثنا وايي — هم هغه شونډې بيا د ونې په شراب کړي

علم وکړي هيڅ[1] عمل ورباندې نه کړي — لکه طفل هسې لوڼې په کتاب کړي

په شپه پروت يې د مغان په ميخانه کې — او په ورځ مخ په لوري د محراب کړي[2]

تمام عمر د دنيا په طلب ګرځي — بيا د خداى په طالبانو حساب کړي

٢٩٤

له خالقه دې نه شرم نه حجاب شي[3]
له ياره نه ګوښه ونيسي حجاب کړي

٣١٥٣

چې مدام د بل و عيب و ته نظر کړي — خداى له خپله عيبه ولې نا خبر کړي[4]

که يو جو دانه عيب وينې په بل کې[5] — هغه يو جو دانه عيب به يې لوى[6] غر کړي

که دې خپله ګناه لويه لکه غر وي — په حيله حيله به غر د مچ وزر کړي[7]

که خوک تله د انصاف په لاس کې دره کا[8] — خپل تښتو او د بل آس به برابر کړي

تو لعنت دې په داسې منصفۍ شه — چې له حقه و باطل و ته ګذر کړي

خداى و تا د ملائکو مقام درکړ[9] — ته دا خپل صورت په خپله ګاوخر کړي

په نعمت يې شکرانه کولى نه شې — چې نعمت دربانديې درشي شور شر کړي[10]

---

(۱) د پېښور په "ق، ک" چاپ کې د "هيڅ" پر ځاى "بيا" راغلى دى.
(۲) دا مسرۍ په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "او د ورځې مخ په لوري د محراب کړي"
و "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "د ورځې د ورځې مخ په لوري د محراب کړي".
(۳) دا مسرۍ په "سپ" چاپ او "سپ" چاپ کې داسې راغلې ده: "له خالقه دې نه شرم نه حجاب دى".
د پېښور "ق، ک" چاپ کې داسې راغلې ده: "د خالقه دې نه شرم نه حجاب شته".
د "پ" په دوهمه نسخه کې دا مسرۍ داسې راغلې ده: "له خالقه دې هيڅ شرم حجاب نه شي".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "د خالقه دې نه شرم شي نه وېره".
(٤) دا غزل د "ب" په لومړۍ نسخه کې نشته، د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "ناخبر" پر ځاى "کور وکړ" راغلى دى.
(٥) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې "د نورو" راغلى دى.
(٦) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې "تورغر" راغلى دى.
(٧) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٨) د "پ" نسخې او "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "که خوک تله دا انصاف درته په لاس کا".
(٩) د "ب" لومړۍ نسخه: "خداى د تا ته ملائکو مقام درکړو".
(۱۰) دا بيت په "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته.

چې خلک ستا په رضا کار کا ستا هم بویه — چې دا خپله رضا واړه و خدای ورکړي (۱)

نه هغه چې دی به ستا په رضا کار کا — ته خپل ځان دده په کار کې مقصر کړي

که دي یو وېښته د ځان دپاسه کوږ شي — ځان هغه ساعت له خدایه مرور کړي

چې بندګي دي په خدای وي یو ګلوړي — نمایان یې په جهان کې لکه نمر کړي

لکه څوک تر مکې لاړ شي بیرته راشي — د دنیا د پاره هسې لوی سفر کړي

که یوه رتې د زړه په لاس کې کښېوځي — خرڅ خروار د عبادت په رتې ورکړي (۲)

د ځوانۍ عمر دې تېر کړو په غفلت کې — په پیرۍ کې به څه زبرمد د محشر کړي (۳)

په دنیا پسې دې لمړي دي رنګ کړي — ځان و خلقو ته درویش و قلندر کړي

لکه وار چې د زړي لوحه تېر شي — اوس تو یې له ضرورته په سپین سر کړي

په پیرۍ کې د ځوانۍ چاړې (۴) نه شي — ته په ورځ د عاشورې به څه اختر کړي

لکه بیخ د زړي ونې چینجي وخوري — په دا تېر عمر به څه ښاخ و ثمر کړي

د غم باغ به دې خلاص نه شي له خزانه (۵) — که چا پېر و ځنې سد د سکندر کړي

## ۲۹۵ — ۳۱۷۳

وبه خواه وته څوک نېك نصیحت نه کا
رحمان ستا په غم شریك دی که باور کړي

خدایه مه کړه ناامید هغه وګړي — چې امید یې وي د ستا په کرم کړي

ستا له رحمه به نه ولې نومید کړم — چې دې ځان دی د رحیم په نام نوم کړي (۶)

خواست زما قبول کړې ای ملك الملکه — ستا د اسم اعظم روی مې دی درو کړي (۷)

---

(۱) دا دوه بیتونه په چاپي دیوانونو کې نشته.
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. د "پ" په لومړۍ نسخه کې یې دوهمه مسره داسې ده: "خرڅ وار د عبادت په رتید ورکړي"
(۳) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. دوهمه مسره د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "د پیرۍ په وخت به څه نګدا اختر کړي".
د "خ" دوهمه نسخه: "د پیرۍ په وخت به زبرمد د محشر کړي".
(۴) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. په "ق، ګ" چاپ کې د "چاړې" پر ځای "کار و نه" راغلي دي.
(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "له زاغانو" راغلی دی.
(۶) د "خ" دوهمه نسخه: "چې دي ځان دی د رحیم په نام یاد کړي".
(۷) دا څلور بیتونه په چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې نشته، د ملا بسته خان په نامه له قلمي جونګ څخه نقل شول. نوموړی قلمي جونګ د ښاغلي رفیع په شخصي کتابخانه کې شته.

خلاص یې مه کړه بند بوان بند د چې من بینه — چې په غاړه یې وي ستا د مینې پړی

همېشه به رنځوري او ړلمن ګرځي — چې یې نهال وي په سینه د مینې زړی

که ملاح ستا د الطاف وي چې خلاص کا — ګنه نه شي خلاصېدی د عشق سیندولی

دا نیمګړي سړي ننګ هم د خیل نام کا — ته خو خدای یې چې په هېڅ نه یې نیمګړی(۱)

هېڅ بنده دې په بندګی(۲) کې لېده نه شي — چې تا خط د ازادۍ(۳) نه دی ورکړی

دا همه واړه شومیت دی د شومانو — ګنه ته د چا په زړه نه یې ستړی

چې بې تا یې په زړه باله هوا ګرزي — تر مقصوده به و نه رسي وګړی(۴)

۲۹۶

هر چې ستا په لاره قدم د راستۍ کېږدي
که یې زیان وي زه رحمان یې پوره وړی

۳۱۸٤

دا آشنا له لاسه ناست یم په زړه ستړی — په فلوس مې په کار نه دی درست وګړی

چې په ژوندي طمع پرېکړه شي له ژوندۀ(۵) — نو په څه باندې وېرېږي سرپرېکړی

که ژوندون د عاشقانو په وصال وي — زه مهجور یم په دغه روایت مړی

خوبن ژوندون مې جدایي هسې را تریخ کړ — چې د غم له تلخۍ دم نه شم را نغړی

دا صورت(۶) په مثال خس محبت اور شو — تر وداوره په مخ کې څه کاندي خسړی

لا علاج به لکه اوښ باربرداري کا — چې په پوزه یې پېزوان شو د عشق پړی(۷)

۲۹۷

له احواله یې وووو پوښتۍ یارانو
بېلتانه د رحمان واړه دي خطا کړي

۳۱۹۱

---

(۱) د "ب پ" چاپ : "نه خو خدای وي چې په هېڅ نه وي نیمګړی".
"ق، ک" او "ق" چاپ : "ته خو خدای یې په هېڅ شي نه یې نیمګړی".

(۲) د "ب پ" چاپ او "ق، ک" چاپ : "بزرګی".

(۳) د "ب پ" چاپ : "بزرګه".

(٤) د "ب" لومړی نسخه او "خ" لومړی نسخه : "دووړی" ـ د "خ" دوهمه نسخه "خوب وړی".

(۵) د "خ" لومړی نسخه : "په ژوندون چې طمع پرې کا له ژوندونه".

(۶) د "خ" دوهمه نسخه : "دا ژوندون".

(۷) د "ق، ک" چاپ : "د غم پړی".

خو به هسې آزادي په دا جهان کړي — چې خبرې به د سر و د سامان کړي[1]

همېشه به دا جهان درباندې نه وي — چې به سیل په بوستان په گلستان کړي

وارۀ دردي بدلوي (بې) په مشکینو — هر تلاش چې د دنیا په سود و زیان کړي

غمخواري دا آل عیال دې حمقي ده — چې د بل په زړه مه گرځې خپل نقصان کړي

په نفاق کې به ضایع شي مرد هاله — که ښخوا تر دښمن جمع خپل کاروان کړي

چې په دوو پېړیو پېښې هغه بدې دوب شي — بېهوده دلبستگي په این وآن کړي

۲۹۸

د تېر عمر ارمان مه کوه رحمانه

چیرې نه وي چې بیا دا ساعت ارمان کړي

۳۱۹۸

خدایه زړه د رقیب نرم په حسان کړي[2] — ما له یاره، یار له ما سره یکسان کړي

هغه درد چې دا آشنا د بېلتانه دی — دفع رفع[3] یې د وصل په درمان کړي

ته چې ما منع کوې د یار له لورې — کشکې باد سحر منع په بوستان کړي[4]

غم د هجر چې تېری، تراوره سخت دی[5] — له دې غمه مې په امن په امان کړي

کاروبار د عاشقۍ ډېر مشکل دی[6] — دا مشکل زما په ما باندې آسان کړي

حجاب لرې کړه زما د یار ترمیانه[7] — بې حجابه مخ دیار را ته عیان کړي

که مطلب د نور چا نور یې منتې دی — ما گدای په آستانه د خپل جانان کړي

که دا نور عالم و بل خوا ته گوري — ما په لوري د دلبرو[8] نگران کړي

---

(۱) دا غزل د "خ" له درېیمې قلمي نسخې نه نقل شو.

(۲) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته. د دې بیت لومړی مسری د پېښور په چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې داسې ده: "خدایه زړه د مهرویانو مهربان کړي".

(۳) په "ب" چاپ کې "دفع ورفع" راغلي دي.

(٤) دا بیت په قلمي نسخو او د پېښور د قصه خوانۍ "ق، ک" چاپ کې نه دی راغلی

(٥) دا مسری د "ب" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "غم د هجر چې بتر ترکاني اور دی".

په پېښور چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "غم د هجر چې تېرې ترکاني اور دی".

د "خ" په لومړۍ نسخه کې "غم د هجر چې تیر تر کمه اور وېر دی".

(٦) د پښتو ټولنې د لومړۍ نسخې نه پرته په نورو ټولو کې دا مسری داسې راغلې ده: "کاروبار د عاشقۍ چې ډېر مشکل دی."

(۷) دا مسری په پېښور چاپ کې داسې راغلې ده: "حجاب لرې کړه زما له یار ترمیانه"

(۸) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "دلبرانو" راغلي دي.

نه به ما منع کړې ته، له خپله یاره — نه به کوز په حمله ستوري د آسمان کړې (۱)

نه چې یار له ورځم په هغې لارې — هم تر خضر هم تر الیاس مې رهبران کړې (۲)

تاریکي د معصیت را څخه واخلې — د طاعت په روښنائي مې زړه روښان کړې

چې زما په پریشانۍ یې (۳) زړه ښه کېږي — زړه یې ما غوندې په یار پسې پریشان کړې

چې زما په چمن راشي گستاخي کا — د شبنم په څېر یې عمر یو زمان کړې (۴)

چې ازاده د منکر تر سره پر بوځي — د فلک په څرخ مې توره د زبان کړې (۵)

هغه غشي چې د ترکو د غمزو دي — هر کلام مې د هغه غشي پیکان کړې (۶)

چې کشور د افغانانو معطر کا (۷) — د هر بیت مسرۍ (۸) مې زلفې د خوبان کړې

چې هر حرف مې د نافې په څېر خوشبوي شي (۹) — برکت مې په جزدان په قلمدان کړې

۲۹۹

الهي د خپل حبیب له برکته (۱۰)

دا ساده انشا رنگینه د ریحان کړې

۳۲۱۶

ما په تا پسې د اسپینې جامې رنگ کړې — تر لا بیا په ما گومان د نام و ننگ کړې (۱۱)

هیڅ اثر یې په سنگین خاطر و نه شو — که هر څو مې مصلې در پسې لنگ کړې (۱۲)

---

(۱) دا بیت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی.

(۲) دا مسرۍ د "پ" په چاپ کې داسې راغلې ده: "هم تر خضر او الیاس مې رهبران کړې".
"ق، ک" چاپ کې داسې راغلې ده: "نه چې یار له ورځم په کومه لارې هم تر خضر او الیاس مې رهبران کړې".

(۳) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "یې" پر ځای "دې" راغلی دی.

(۴) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(۵) دا بیت د "پ" او د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(۶) دا بیت د "خ" په لومړۍ او دوهم او د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(۷) په "پ" چاپ او په پېښور مولوي چاپي دیوانونو کې د "کا" پر ځای "شي" راغلی دی.

(۸) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(۹) دا مسرۍ په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "چې هر حرف یې د نافې هسې خوشبو دی".
"پ" چاپ: "چې هر حرف یې د نافې په څېر خوشبوي دی"
د پېښور "ق، ک" چاپ: "چې هر حرف د نافې هسې خوشبو دی".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "هر چې حرف یې د نافې په څېر خوشبوي دی". دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(۱۰) دا مسرۍ د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "الهي د پیغمبر له برکته".

(۱۱) د دې بیت لومړۍ مسرۍ په "ق، ک" چاپ کې داسې راغلې ده: "ما په تا پسې د اخپلې جامې رنگ کړې".
دوهمه مسرۍ یې د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "تر لا بیا گومان په ما د نام و ننگ کړې" او لومړۍ غزل په مصور نسخه کې نه دی راغلی.

(۱۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "هیڅ اثر یې په سنگین خاطر و نه شو که هر څو مې مصلې در پسې رنگ کړې".

دلسوزي به دې په نور وګړي خو وي (۱) | چې له ما غوندې مخلص سره جنګ کړي
ته په عشق کې ما هاله دروغژن بوله | که (۲) يو بل هم هسې ما غوندې ملنګ کړي
دانا هې سوري غمازې دې په عشق کې | ګنه ما به د بلبل په خبر آهنګ کړي (۳)
عاشقي ومعشوقي ته سپينه لاره ده | ته وما وته داسپينه لاره ګرنګ کړي (۴)
چې يو دم مې له نظره پناه کېږې (۵) | داجهان لکه لحد راباندې تنګ کړي
په ښه خوی سره دخلقو افسانه وې | خدای زما له کم بختيه په زړه سنګ کړي (۶)

۳۰۰

دادې خوله له ښنګه ناست دنر پوهېږم (۷)
چې خبر يې له ناصح سره په ښنګ کړي (۸)

۳۲۲۵

که دعشق شکرې تېرې ترګلو کړي | نو لذت به لکه زهر هسې ترو کړي (۹)
که دې وشي ملاقات له سروقده | دفاختې په خير به کوکې په کوکو کړي (۱۰)
عاشقي به دعشق توره در په لاس کا | ترو دصبر دسکوت په ملک به هو کړي (۱۱)
په انصاف په عدالت به نوشيروان شې | هر عمل به (۱۲) دخپل ځان په ترازو کړي

---

(۱) دا مسرۍ په "پ" چاپ او "ب ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "دل سوزي به دې په لوړ وګړي خړ شي".
په "ق، ک" چاپ کې داسې راغلې ده: "دل سوزي به دې په لوړ وخلکو خړ شي".
(۲) د "خ" په دوارو نسخو کې د "که" پر ځای "چې" راغلې دی.
(۳) دا بيت په درو وارو چاپي ديوانونو کې داسې راغلی دی: "دانا هې سورې غمازې دې په عشق کې ګنه تل به دبلبل په خبر پتنګ کړي".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "دانا هې سورې غمازې دې په عشق کې ګنه تل به دبلبل په دود په ننګ کړي".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "دانا هې سورې په عشق کې دې غمازې".
(٤) دا بيت په "پ" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "دعاشق ومعشوقي ته سپينه لاره ده ته وما وته داسپينه لاره ګرنګ کړي".
(٥) دا مسرۍ په ټولو وارو چاپي ديوانونو کې داسې راغلې ده: "چې يو دم مې له نظره نه يو خوا شې".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا مسرۍ داسې راغلې ده: "چې يو دم مې له نظره يوه خوا شې".
(٦) په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "په ښه خوی سره دخلکو افسانه شې خدای زما له کم بختۍ نه په زړه سنګ کړي".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "چې ښه خوی بوی دخلکو افسانه يې".
(۷) په پېښور چاپي ديوانونو کې او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "ماته دوايه" راغلی دی.
(۸) د "ب" او لومړۍ نسخې نه پرته په ټولو کې "جنګ" راغلی دی.
(۹) دا رديف په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.
(۱۰) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "که په قد دسروقد ودې ګذر شي دفاختې په دود به کوکې په کوکو کړي".
په "ق، ک" چاپ کې په لومړۍ مسرۍ کې د "په خير" پر ځای "هسې" راغلی دی.
(۱۱) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی او په ټولو وارو چاپي ديوانونو کې يې دوهمه مسرۍ داسې راغلې ده: "لو ند صبر دسکون په ملک به هو کړي".
(۱۲) په "ب" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه او "ق، ک" چاپ کې د "به" پر ځای "چې" او په "پ" چاپ کې "که" راغلی دی.

د سکندر په خبر جهان به درځ ګند شي (١) | که سرکوز په آیینه د خپل زانو کړي
تریخ لوګي به یې د قند و په څېر نغرد شي (٢) | که صورت د عشق په اور کې تماکو کړي
و به نه وینې د ترکو مستې سترګې | مګر ځان په خپلو وینو کې سالو کړي (٣)
که یو ځله تورې زلفې په شانه کړې | خالستر به په چمن کې کشالو کړي (٤)
درست جهان به قاف تر قافه معطر شي | که یو ځله شانه ګنډه په ګېسو کړي (٥)
ستا د زلفو مار خوړلي به روغ نه شي | که افسون د مسیحا و ربانډې پو کړي
لاس و پښې دې یې زړ بوره بنا ایستر دي | خرمنت به د پایلو (٦) د باهو کړي

که سوزن د بڼو اوړي تار د زلفو (٧)
د رحمان د زړګي زخم به رفو کړي

٣٠١ — ٣٢٣٧

(٨)
تا چې مخ د پېرې سترګې د آهو کړي | نه پوهېږم چې آهو یې که جادو کړي
دعاګوي چې د چا وېرې خر بنا دي ده (٩) | تر په خر زما و مرګي و ترازو کړي
په محراب د عاشقانو کاني ووړي (١٠) | تر چې چین د جبین غوټه په ابرو کړي
تا چې رنګ د ګلو واخیست زه پوهېږم | زرغونه به په څهره زما ګنګو (١١) کړي
ستا لدېره د بره څوره معلومېږي | چې به ما په خپلو وینو (١٢) کې لاهو کړي

---

(١) دا مسرۍ په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "د سکندر په خبر جهان به دې دوزي شي"، په "پ" چاپ او "خ" لومړي نسخه کې "د سکندر په خبر شاهي به دې دوزي شي" او د پېښور "ق، ک" چاپ کې "د سکندر په شان جهان به دې دوزي شي" راغلې دي.
(٢) د "پ" په لومړي نسخه کې "نغرو"، په "پ" چاپ کې "نغرده" او "خ" په دوهمه نسخه کې "نغر" راغلې دي.
(٣) د "پ" لومړي نسخه: "مګر ځان په خپلو وینو کې لاهو کړي".
(٤) دا بیت په دواړو چاپي دیوانونو، د "خ" په لومړي نسخه او "پ" په دوهمه نسخه کې په ورپسې ردیف کې راغلی دی.
(٥) دا بیت په چاپي دیوانونو، د "خ" په لومړي نسخه او "پ" په دوهمه نسخه کې په ورپسې ردیف کې راغلی دی.
(٦) د "خ" په دوهمه نسخه کې "یاولیو" راغلی دی.
(٧) لومړي پنځه بیتونه په چاپي دیوانونو کې په "تا چې مخ د پېرې سترګې دې آهو کړي" غزل کې راغلي دي.
(٨) دا غزل د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نه دی راغلی. او دا بیت د "پ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی دی: "تا چې مخ د پېرې سترګې د آهو کړي تر وېرې که آهو یې که جادو کړي"؛ دوهمه مسرۍ یې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "نه پوهېږم چې پېرې یې که آهو یې که جادو کړي".
(٩) د "خ" په دوهمه او د "پ" په دوهمه نسخه کې د "بنا دي ده" پر ځای "بنا دي که" راغلی دی.
(١٠) د پېښور "ق، ک" چاپ کې "یو یوځي" راغلی دی.
(١١) په "پ" چاپ کې "کنګو" راغلی دی.
(١٢) په "پ" چاپ، د "خ" دوهمه او د "پ" په دوهمه نسخه کې د "وینو" پر ځای "اوښو" راغلی دی.

(۱) دوغ به نه شي بې دیاره سنه دیدنه — که سل ځله سپېلني ځانته لوګي
د غفلت لیچن لیمه به دې روښان شي — که دیاره د کوڅې خاورې ته خښکو کړې (۲)
دا دارو ته به دوا کوي طبیبه — چې دیاره په درد وغم کې مې دارو کړې (۳)
نصیحت به عاشقانو اثر نه کا — دا محنت واره بې ځایه بې قابو کړې

۳۰۲

په ځان باندې بې یاره خوب حرام دی
که بې سل پالنګه (۴) لاندې ترپلو کړې

۳۲۴۷

(۵)
که نظر په ماتوګو د روزګار کړې — هومره نه دي چې حساب یا بې شمار کړې
په هر غم کې خاموش اوسه او که نه وي — د بدخواه خاطر به سنه دوست (۶) آزار کړې
صبر ونیسه په محکې که مراد غواړې — په تلوار به هیڅ ونکړې که تلوار کړې (۷)
رضا پاسله و قضا ته فراغت شه — او که نور څه نور څه وایې ځان به خوار کړې (۸)
آزادي او کاروبار دي وبله لري (۹) — لاس له کاروباره وباسه که کار کړې

۳۰۳

چې په ځپله بې فاني بولې ځان نه
تر و بیا خد په هغو چارو اعتبار کړې (۱۰)

۳۲۵۳

---

(۱) دا غزل په مصوره نسخه او د "خ" په لومړي پنځه بیتونه، په اردو وارو چاپي دیوانونو کې په "که د عشق شکري تیري تر ګلو کړي"، غزل کې راغلي دي.
(۲) دا بیت په "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې داسې راغلی دی: "د غفلت لیچن لیمه به دې بینا شي که دیاره د کوڅې خاورې دې خښکو کړې".
په "پ" لومړی نسخه کې یې وروستی مسری داسې راغلی ده: "که دیاره د کوڅې خاورې خښکو کړې".
د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مسری داسې راغلی ده: "که دیاره د کوڅې خاورې په خښکو کړې".
(۳) دا بیت د "پ" په لومړی نسخه کې داسې دی: "دا دوا که به دوا کوي طبیبه چې دیاره په درد و غم کې مې دارو کړې".
په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "دا دارو ته به دوا کوي طبیبه چې دیاره په درد و غم کې مې دارو کړې".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "دارو دي دادی که دوا کوي طبیبه که دیاره په درد و غم کې مي دارو کړې".
(۴) په قلمي او اردو چاپي دیوانونو کې د "پالنګ" پر ځای "بالښت" راغلی دی.
(۵) دا غزل په مصوره نسخه او د "خ" په لومړي نسخه کې نه دی راغلی. په "پ پ" چاپ کې دا مسری داسې راغلی ده: "هومره نه دي چې حساب او یا بې شمار کړې".
(۶) په "پ" چاپ، د پېښور "ق، ک" چاپ او د "پ" په دوهمه نسخه کې "بناد" او "پ پ" چاپ کې "خو بن" راغلی دی.
(۷) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی او لومړی مسری یې په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی ده: "صبر ونیسه په محکې مراد غواړه".
(۸) دا بیت لومړی مسری په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی ده: "رضا وسپاره قضا ته فراغت شه".
(۹) دا مسری په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی ده: "آزادي او کار وبار دي سره لري"؛ خو د "پ" په دوهمه او د "خ" په دوهمه نسخه کې د "وبله" او "سره" پر ځای "ځبله" راغلی دی.
(۱۰) دا مسری د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: "تر و په خد په هغو چارو اعتبار کړې".

ولې ولې وعاشق ته نظر نه کړې  داګدای[1] په دیدن ولې توانګر نه کړې
ستا دې ډېرې حیا ډېر کور ونه وران کړل  چې وهچا ته کاته برابر نه کړې[2]
ستا په ډېر حسن مې دا عقیده نه شي  چې دا روغ وګړي واړه اوتر نه کړې
ته پلوله مخه واخله زه ضامن یم  که اورنګ د زمانې قلندر نه کړې[3]
زما هر زمان هر دم په تا ګذر دے  ته یو دم زما په لوري ګذر نه کړې
لکه ته چې دلاور زما په مرګ یې  چېرې دا رنګه رقیب دلاور نه کړې
زه دستا په جفا خوښ یم تل تر تله  که غمازي له دې رازه خبر نه کړې
ګذشته جور وجفا دې اواره وي[4]  که دا جور وجفا بار دیګر نه کړې
هغه خوګ دی چې به ستا له دره درومي  که یې ته له خپله دره بدر نه کړې
سنګدلي ده هغو خلقو لره ختمه  چې یې ته په مجلس ورشې اثر نه کړې
رحمان ستا مینې رسوا کړ باري حیف دی
چې ته هیڅ په دا خبره باور نه کړې[5]

٣١٤  ٣٢٦٤

وخوبانو وته ولې نظر نه کړې[6]  د چمن په ګلو ولې ګذر نه کړې
دا هغه چې د بهشت ځان یې معطر کړ  دماغ ولې په دا بوی معطر نه کړې
رضا ولې په قضا سپارلی نه شې  دغه زهر په ځان ولې شکر نه کړې
جلک زده چې په نارو د مرګ خبر یې[7]  ځان بیخوا تر مرګه ولې خبر نه کړې
چې د نور خلقو په سر اچوي خاورې[8]  ته په خپله خاورې ولې په سر نه کړې

(١) د "خ" په لومړي نسخه کې "خوله ګدای" راغلی دی.
(٢) د "خ" لومړي نسخه: "ستا دې ډېرې حیا ډېر کور ونه مات کړه چې هیچا وته کاته برابر نه کړې".
(٣) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته
(٤) چاپي دیوانونه: "ګذشته جفا دې واړه آواره وي". د "خ" لومړي نسخه: "ګذشته جور وجفا واړه معاف دی".
(٥) مصوره نسخه: "چې یې ته په دا خبره باور نه کړې"
(٦) دا غزل د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته. لومړی مسرئ د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "ولې ولې پر خوبانو نظر نه کړې".
(٧) په "ق، ک" چاپ کې "خواب آلود" راغلی دی.
(٨) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "چې نور خلک دې په سر اچوي خاورې". د "خ" دوهمه نسخه او "پ" لومړي نسخه: "چې دې خاورې په سر اچوي نور خلک".

پس له مرګه چې بیا مړي له لوږې تندې — ولې نن ساعت توښه د محشر نه کړي

۳۰۵ — ۳۲۷۱

داویل چې دې اثر کاندې په نورو (۱)
ای رحمانه په ځان ولې اثر نه کړې

چا چې لمړي وي په خپلو وینو ولې (۲) — د شبنم په څیر به تل وي سپین سپېڅلي
چې صیاد ئې د اوښکو دانې نه وي — د هوا مرغان هیڅ‌چا نه دي نیولي
هر یو مخ کله لایق د آبرویي وي — اوښکې نه دي وچې په مخ د هر ناولي
هره شپه به شمع خدای ژړا کا — کړي نه وي په ژړا کې خه موندلي
چې سیلاب د عاشقۍ ور باندې راغی — مخلوقات په مخه لاړل لکه خلي (۳)

ما رحمان به ژړا نه کړه له خوبانو
کړمي نه وي په قسمت داهسې شکلي

۳۰۶ — ۳۲۷۷

دلبر مخ چې ستا له مخه نه شرمېږي — تر و دا رنګه ولې زېړ د زغون ښکارېږي (۴)
دا سپوږمۍ چې نه لي سرشته نه لي ښېښته — په کوم حسن بدله تا سره سمېږي (۵)
زړه مې یو ورستا د مخ په رنا زلفو — باري غلې په سپین سبا کله پټېږي
خم ابرویې د پناه د زلفو تم شو — دلبرم لښته له مار سره تاوېږي (۶)
که قامت (۷) دې خوږک شمشاد بولي غلط دي — د لګیو په نرخ سپین زر نه یافتېږي
وړه دندانو ته دې دُر ویلی نه شم (۸) — کانی کله د برېښنا په دود ځلېږي

---

(۱) چاپي دیوانونه: "داویل دې اثر کله کا په نورو".
(۲) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، د "خ" په لومړۍ او د "پ" په لومړۍ نسخه کې لومړی مسرۍ داسې ده: "چا چې لاس وي په خپلو اوښکو ولې".
(۳) دابیت د "ق، ک" له چاپي دیوان نه نقل شو په نورو چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې نشته.
(۴) چاپي دیوانونه: "لمر سپوږمۍ که ستا له حسنه نه شرمېږي — تر دوی ولې نه خوځنه او نه پرښکارېږي".
(۵) د "پ" په لومړۍ نسخه کې "برسېږي" راغلی دی.
(۶) دابیت او دوه نور بیتونه د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته د "پ" په لومړۍ نسخه کې دابیت داسې دی: "خم ابرو یو د پناه د زلفو ئم شو — دلبرم له نښتر مار ځیله تاوېږي".
(۷) په چاپي دیوانونو کې "ستا قامت" راغلی دی.
(۸) "پ" چاپ: "وسپین غاښو ته دې دُر ویلی نه شم".

ستا د زلفو د ابرو یو له وحشته(1) همګي لړم ماران دي چې ودرېږي
لکه لوند زېړوکی تاوکړي نوي ووزي ستا له غمه مې رنګ زېړ پو مې چې برېږي(2)
سپوږمۍ مې هم هسې تاوخوړي ستا له مخه چې په هره میاشت کې دوه دوه نیمه کېږي
مخ دې او د خط دې سبزه د زه حیران یم چې سبزه په اور کې څرنګ زرغونېږي
اور او به سره چا ګډ لیدلي نه دي دا قدرت دی ستا په لبو کې نمایېږي(3)

۳۱۷ ۳۲۸۹

باریک خط یې زلفو لاندې کم ساح
مورچګان د شپې له مخه پایمالېږي

صبحدم چې هغه یار راباندې راشي عجب لمر د لمر د پاسه هویدا شي
ښکلي مخ له حاجت د سینګار نشته بې ترتیبه چې لمر وخېږي رڼا شي
چې یې وینم له ورایه پورې نښلم لکه پیښن چې وبله کاه وکهربا شي
مال د بل یې ناچاره ویارته شاکره ناروا د ضرورت په ځای روا شي
زه په وصل کې خواري د هجران ژاړم د هر کار فکر ترکاره لا پخوا شي
لا پخوا تر جدایي نه ژړا بویه ګنه هلته هر یو ژاړي چې جدا شي
وصال نه دی چا په سر و مال موندلی مګر غاړه په دا کار د چا ادا شي
زه به سر و مال د یار تر نامه جار کړم دا په عشق کې سهل کار دی که پیدا شي

۳۱۸ ۳۲۹۸

د ساح په او سنګو هسې رنګ پوهېږم
چې آخر به په تمام جهان رسوا شي(4)

کرد ګلوکره چې سیمه د بې ګلزار شي اغزي مه کره په پښو کې به دې خار شي

---

(1) په قلمي نسخو کې "له وړېځې" راغلي دي
(2) دا بیت او ورپسې بیت په قلمي نسخو کې نشته
(3) د "مخ" په دوهمه نسخه کې "ښکارېږي" راغلي دي.
(4) د "ب" لومړۍ نسخه: "چې دا پټ راز به په تمام جهان رسوا شي".

تر چې بل په غشو ولې هسې پوه شه — چې هم دا غشي به ستا په لسو ګوزار شي
کوهې مه کنه د بل سړي په لار کې — چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي
تر چې هر چاته په خوار و ستر ګو ګورې — لا به هومې به ستا صورت تر خاورو خوار شي
آدم زاد په معنی واړه یو صورت دی — هر چې بل ازار وي هغه ازار شي
که ته نه کوې نظر د چا و عیب ته — هر سړی به ستا د عیبو پرده دار شي
دهقان کر په اوړه حمله باندې نه کا — سر کوزې کوه چې بڼ دې مرغزار شي[1]
د مات لوښي آواز کله ثابت خېژي — د هر چا عمل څرګند په خپل ګفتار شي
تر چې صبح دی روښانه لاره سمې کړه — ناګهان به دې دا صبح شب تار شي[2]
لږ لږ مه ګڼه که هر څو ګناه لږ وي — چې لږ لږ و بله جمع کړې بسیار شي
که بل بد کاندي ته ښه ورسره و کړه[3] — هر یو نخل چې میوه لري سنګسار شي
تل و ښو و ته آزار د بدو رسي — هر چینجي و نرم چوب و ته د و خار شي[4]
هغه زړه به له طوفانه په امان وي — چې کښتۍ غونډې د خلکو بار بردار شي
خدای دې بد له لاسه مه کړه او کړي هم
د رحمان دې له کل بدو استغفار شي

۳۱۹

۳۲۰

هر و ګړي چې منصور غونډې په دار شي — دار یې پس له مرګه نخل میوه دار شي
روغ صورت که روغ عالم لره کمال دی[5] — لېوني لره کمال دی چې سنګسار شي
هر ګیاه چې و کمال ته ور سېږي — سر و ځمکې و ته کوز وي نګونسار شي
نړۍ باد به یې په خپل منزل داخل کا — که څوک پانه د خزان غونډې طیار شي[6]

---

(۱) قلمي نسخې : " سر کوزی کړه چې پستي دې مرغزار شي ".
(۲) دا بیت په " ق، ک " چاپ او " خ " په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) قلمي نسخې : " که بل بد کاندي ته ښه کړه مه رنځېږه ".
(۴) " ب " چاپ او " ب ، پ " چاپ کې " چوب ته ور دو خار شي " راغلي دي.
(۵) د " خ " په دوهمه نسخه کې " په کار دي " راغلي دي.
(۶) " ق " چاپ او " ق، ک " چاپ کې " ګدار " راغلي دي.

غفلت هیڅ مناسب نه دی په سپین ږیرو — صبحدم که ځنا وردی هم بیداره شي

چې یو موتي ابري نازېږي په آیینه کا — په دغه خبره فخر د خاکسار شي (۱)

کریمانو سود موندلی دی په زیان کې — لکه شاخ د ونې وتراشي باردار شي

خزانه په سخاوت سره زیاتېږي — د کوهي اوبه چې وکاږې بسیار شي

منزل د وږي ګیډې مشکل نه دی — منزل د وږي یوسترګو مشکل کار شي

کم خوراک سړی نژدې کا فرښتو ته — هر سړی چې بسیار خوار شي بسیار خوار شي

صاف دلانو لره لږ نصیحت بس دی — د ګوهر و پیوستون په نري تار شي

غلبه د عشق بانه د حسن غواړي — توره شپه په عاشق زلفې د خپل یار شي (۲)

د توفیق له مخه هر مشکل اسان دی (۳) — وستي وته د اور لمبې ګلزار شي

ناز د حسن پرورش مومي له عشقه (٤) — هسې نه چې د خوبانو په سینګار شي

راحت بې محنته نه دی چا موندلی (۵) — د وصال خوښي د هجر په مقدار شي

عاشقانو لره واړه سعادت دی — که یې سر و مال د یار تر نامه (۶) زار شي

یاره! یاره! هر څوک وایي په جهان کې — زه به پس له مرګه وایم چې یار یار شي (۷)

لکه دار کاندي دعوی له کرګانو — هسې رنګ له جدایۍ نه زما دار شي

۳۱۰ — ۳۳۳۱

د رحمان دا پوچ ګویي څه په کار نه ده

عاشقي په ګفتار نه شي په کردار شي

تبسم مې د ګوهر په روزګار شي — چې یې نه له خدایه ویره نه یې دار شي (۸)

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۳) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته او د "خ" په نیګړې نسخه کې د "توفیق" پر ځای "توکل" راغلی دی.

(٤) چاپي دیوانونه او د "خ" دوهمه نسخه: "ناز د عشق پرورش مومي له عشقه".

(۵) چاپي دیوانونه: "بې محنته چا راحت موندلی نه دی" او دا بیت او ورپسې دوه بیته د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(۶) په "ق، ک" چاپ کې "ځانه" راغلی دی.

(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(۸) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "چې له مرګه یې نه ویره نه یې دار شي".

له ده وزبږي د ده د وراندئ ومري      لا يې مينه د دنيا په کار وبار شي

که يې هر قدم د مريو په سر لاړ وي      يو قدم هسې وانخلي چې په لار شي

دا وند يو نصيحت پرې اثر نه کا      مګر مړ له قبره پاڅي په ګفتار شي

د اميد مزى يې هسې رنګ دراز وي      چې له خضره ورته خپل عمر بسيار شي

سپينه ږيره په اوږنې کې زوى راواخلي      چې به مالره سپاهي او منصبدار شي[۱]

د خرما زړې نهال کا ورته ګوري      چې دا سيوري دا ميوه به مې په کار شي

هر هر فصل چې ترې ربي هوسيږي[۲]      چې به ګانده راته بل فصل تيار شي

لا يې ليه تخم هم کرلے نه وي[۳]      ناکښته يې څنې طمع د خروار شي

غوندې د ناز وکړيو خسيو غمري      چې سبا بېګاه به مالره ګوهار شي

لکه وږکي کموړي غواړي له زانې      په دا هسې پوچ ګويې يې اعتبار شي

چې هرګز په ثمر نه وي چېري شوي      د هغو ناسته نيو اميد وار شي[٤]

هلکانو غوندې پاس په کوته ځغلي      خو چې دوه قدمه واخلي نو رحصار شي

په زحمت د تن له مالګې هم پرهيز کا      هغه نه کا چې له نهي پرهيزګار شي

دا وندون په تېر به يې نظر نه وي      چې دا ګنج به مې له لاسه تار په تار شي

تمام

۳۱۱      شه دې شه به پند والي وچاته      ۳۳۴۷

هدايت د هر بنده په کردګار شي[۵]

چې شهيد د تورو سترګو په خنجر شي[۶]      خوشنودي يې د سرو شونډو په کوثر شي

چې را ياد يې سپين رخسار دراز مژګان کړم[۷]      هغه دم مې زړه سپند سينه مجمر شي

---

(۱) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.

(۲) قلمي نسخه: "هر هر فصل چې تېرېږي هوسيږي"

(۳) "ق" چاپ: "لا يې پا نه تر بېنډه هم نه وي ربېلي".

(٤) دا څلور بيتونه په چاپي ديوانونو کې نشته.

(۵) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "هدايت د هر بنده په خپل کردار شي". (٦) دا غزل د "ب" په لومړي نسخه کې نشته

(۷) "ق" چاپ: "چې را ياد يې لوړ مژګان او سپين رخسار کړم". "ق ک" چاپ: "چې را ياد يې تورې سترګې سپين رخسار کړم".

عندلیب خاطر مې السوزي په ګلو — که د ترکو سنبل زلفې یې شهپر شي
که یار سل ځله جفا را سره کاندې — زما کله په جفا د یار باور شي
د ناصح په نصیحت به منع نه شم — که هزار ځله مې وروراو[1] و برادر شي
د رقیب او زما صلح سره نشته — که موچېړې لاس و دست و بله بر شي[2]
صبوري او قراري له ما خطا دي[3] — ترهغه ساعته پورې چې محشر شي
تر ساعت به د هېچا په لاس کېنوزي — مګر تېللی آشنا بیا په آشنا ور شي

۳۱۲ — خوبرویان به د سپوږمۍ تو کړه او اخلې[4]
که رحمان کچکول په لاس کې قلندر شي — ۳۳۵۶

چې غبار دستا له لارې په خوا ور شي[5] — که په دوا روسترګو روند وي مبصر شي
تازه نوې سر پیدا کا لکه شمع — چې یې غوڅ دستا په مینه د زړه سر شي
چې کیمیا د قناعت یې په لاس کېوزي — که ګدای وي د قارون په څېر توانګر شي
ستا د در ګدایان واړه پادشاهان دي — خو چې ستا له دره ووزي دربه در شي
تل یې مخ وي له عالمه جار وتلی — د هغو چې ستا په مخ باندې نظر شي
که د درست جهان له حاله خبردار وې — چې تا وویني له واړو بې خبر شي

۳۱۳ — آیینه که د جمال کمي ور څرګندوه
دا ګدای د رحمان به شاه سکندر شي — ۳۳۶۳

که دې غم د درست جهان ترزړه چاپېر شي — د ګیرمرشد هسې واید چې به تېر شي

---

(۱) د "خ" دویم نسخه : " یار ".
(۲) "ق، ک" چاپ : " که موچېړې لاس په یو بل سره بر شي ".
"ق" چاپ : " که موچېړې لاس و بله سره بر شي ".
د "خ" لومړی نسخه : " که دم لاس و دست چې و بله برابر شي ". دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) د "خ" لومړی نسخه : " له صبورۍ له قرارې زما توبه ده ".
(۴) د "خ" لومړی نسخه : " خوبرویان به د سپوږمۍ تو کړه ور واخلي که رحمان کچکول په لاس قلندر ور شي ".
(۵) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې " په چا ور شي " راغلی دی.

غم هغه دی هم چې خېر مه وي وچا ته (۱) ‏ ورو مې واره تر وروستیه پورې هېر شي
بې له خدايه چې مدام په يوه حال دی ‏ سرې کله شېر شاهي شي کله سېر شي
يو آدم دی چې په څو رنګه جلوه کا ‏ يو رقم دی کله زور شي کله زېر شي (۲)
د دنيا چارې مدام په قرار نه وي ‏ د بنو په ځنبول کې په بل پېر شي
په لږ غم کې د ډېر غم له کومه راغی (۳) ‏ خوله خپلې بې صبرۍ په سرې ډېر شي
خريدار و فروشنده چې سره خوښ شي (٤) ‏ په سودا کې سختي نه کا تېر و بېر شي

۳۱۴ ‏ ۳۳۷۱

بنا يسته په جهان د ډېر دي بې حسابه
بارې څوك به د رحمان (رحمن) ديار په څېر شي

له دې کته له يوزيه خوبه ولاړ شي ‏ تر و بيا خدای خبر چې کومه خوا به لاړ شي (۵)
په ظاهر صورت خو هسې (٦) معلومېږي ‏ چې به خس غوندې تر پسه ولاندې لتاړ شي
د آسمان ځمکه به وي او ته به نه يې ‏ په ورانه ورانۍ کې به ويجاړ شي
د بهار د ګلو عمر مدام نه وي ‏ عندليب غوندې به پاتې په اهار (۷) شي
په ويلاړ ويلاړ به ځان ورپسې ورك کړې (۸) ‏ چېرې نه وي چې د تركو په ويلاړ شي

۳۱۵ ‏ ۳۳۷۷

که ليلى غوارې رحمانه بايه دا دي (۹)
چې مجنون غوندې ساكن د كوه و كار شي (۱۰)

---

(۱) د "خ" لومړۍ نسخه : "غم هغه دی هر چې خېر مه وي وځان ته".
(۲) د "خ" دوهمه قلمي نسخه : "يو قمس دی کله زور شي کله زبر شي".
(۳) د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه : "په لږ غم کې د ډېر غم له کومه راغی".
(٤) قلمي نسخې : "خريدار و فروشنده وبله راضي شي".
(۵) د "ب" نسخې او د "خ" دوهمه نسخه : "له دې کته له يوزي خوبه لاړ شي ‏ تر و بيا خدای نه ده چې په کومه خوا به لاړ شي".
مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه : "تر و بيا خدای خبر چې کومې خواته لاړ شي".
(٦) په "ق ،ک" چاپ او "ق" چاپ کې "داسې" راغلي دي.
(۷) "ق ،ک" چاپ : "په سوبهار شي"
(۸) د "خ" لومړۍ نسخه او "ق ،ک" چاپ او "ق" چاپ : "په ولاړ ولاړ به ځان ورپسې ورك کړې".
د "خ" دوهمه نسخه : "په ژړا ژړا به ځان ورپسې ورك کړې" او لومړی بيت په مصوره نسخه کې نشته.
(۹) چاپي ديوانونه : "که ليلى غواړې بايد دی دا رحمانه" او لومړی بيت په مصوره نسخه کې نشته.
(۱۰) د "خ" لومړۍ نسخه : "کوهسار"

که د زړو مېړو سر وي خوڅې مړ شي — نه يې نوم په خوله اخيست شي نه نوم مړ شي[1]

که هيڅ پرکړې نه وي په جهان کې — واجل ته کله خر په خمته پړ شي

راشه راشه دا د بېرنان او کبر مه کړه — ياره څو به دې دا ناز په جهان ور شي

دا رخسار چې دې روښان تر آيينې دی — عاقبت به د لحد په خاورو خړ شي

مراد خواره دلبرۍ دې غزا وشوه[2] — که د سر وي په خير څوک په قامت لوړ شي

نېکنامي له نېک خويه نه پيدا کېږي — د غه چاره نه په سوک نه په لوړ شي[3]

عاشقان چې پښېمانېږي هغه نه کا — هغه سوک د نې هنر وي چې خپر شي[4]

دهوا په نغوته مه ځه که دانا يې[5] — دهوا[6] ويشتلی غشی زر په زوړ شي

دا خوزه له شفقته تا ته وايم — ګنه ځان له سرنوشته په چا ژغر شي

ولان به نه کاندي يو حرف خپلې بخرې — که پيدا وشکو د چا درست جهان چقر شي

په تدبير به د تقدير کښلي نو نه کړي — د قسمت علاج په عقل کله کړ شي

۳۱۷

په رحمان بې ياره صبر هسې ګران دی[7]

لکه هر چې ديده دانسته نغر شي

۳۳۸۹

هغه دم چې زړه ملال شي — يو ساعت ور باندې کال شي

حيران تللی وي په فکر — فراموش يې قيل و قال شي

نه يې ګفت نه يې شنود وي — په غوږ کوڼ په ژبه لال شي

نه خواب و چاته کاندي — نه يې غوږ د چا په سوال شي[8]

---

(۱) چاپي ديوانونه: "که د سر و نرو سري دي خوڅې مړ شي — نه يې نوم په خوله څوک اخلي نه نوم مړ شي".

(۲) قلمي نسخې: "مراد حمد له دلبرۍ دی غزا وشوه".

(۳) دا بيت په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته.

(۴) قلمي نسخې: "عاقلان چې پښېمانېږي هغه نه کا — هغه سکوي د بې هنرو وي چې سپړ شي".

(۵) د "خ" لومړۍ نسخه: "دهوا په فريب فهم کړه که دانا يې".

(۶) په قلمي نسخو کې "هوا يې" راغلي دي.

(۷) چاپي ديوانونه: "په رحمان باندې بې ياره صبر ګران دی".

(۸) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "قال شي".

علم عقل ځني لاړ شي　　درست صورت یې خواب و خیال شي (۱)

په ړنو سترګو ویده وي　　لکه نقش د دیوال شي

قوت یې وینې د جګر وي (۲)　　هم د غه یې اشتغال شي

د چشمانو له باړانه (۳)　　په رخسار یې پشکال شي

په سبب د عاشقۍ　　تېر (٤) تر آل و تر عیال شي

هم تر آل و تر عیاله　　تېر تر مال و تر منال شي (۵)

په خیل درد و په خیل غم کې　　له (٦) عالمه فارغبال شي

که ژوندي وي په جهان کې　　د مړه وُ په مثال شي

نه طاقت نه یې مجال وي　　بې طاقت و بې مجال شي

په خشکۍ کې ماهي ګوره　　هسې بې تېغه حلال شي (۷)

یا خبري نه شي له ځایه　　په زړه غوځ په تن کهال شي

د ویشتلیو په خبر یون کا　　د کل خلقو په دنبال شي

لکه خس د لوټې لاړې　　تر قدم لاندې پایمال شي

خدای له غمه سري ژغوره (۸)　　بیا لا ګوره چې (۹) خوشحال شي

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهم نسخه کې نشته. په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې د لومړي مسري د "لاړ شي" پر ځای "یا ځي" راغلي دی.

(۲) د "ب" لومړي نسخه: "خوري".

(۳) د "خ" دوهمه او مصوره نسخه: "له باړه شه".

(٤) د "خ" دوهمه نسخه: "هم تر آل وتر عیال شي".

(۵) مصوره نسخه: "هم تر آل تر عیال تېر شي　هم تر مال و تر منال شی".
د "خ" لومړي نسخه: "هم تر آل تر اولاده　هم ترمال و ترمنال شي".
په چاپي دیوانونو کې یې دوهمه مسري داسې ده: "هم ترمال و ترمنال شی".

(٦) "ب" چاپ، "پ" چاپ او "ق" چاپ: "تر عالمه"

(۷) د "خ" لومړي نسخه: "هم بې تېغه حلال شی"
د "خ" دوهمه نسخه: "د ماهي په خبر بې ګوره　هسې بې تېغه حلال شی".

(۸) "ق" چاپ: "ژغوري".

(۹) چاپي دیوانونه او نوري قلمي نسخې: "بو سه".

چې د زړه وینې شي و چې     نوې وینې په محال شي[1]
د باغبان سترګې کا سپینې[2]     چې تازه نخل و نهال شي
روئېدن[3] د کښت آسان دی     پرورش یې لوی[4] جنجال شي
ویراني په یوه دم شي     آبادي په ډېر اشکال شي
چې پلار ومري بیا لا بویه     چې یې زوی با کمال شي[5]
څوك خبر دی له دې دوره     چې په ما به پېښ څه حال شي[6]
چې په حال کې یې حال نه وي     څه امید په استقبال شي[7]
د یوه ساعت له مخه     خدای زده څه رنګه احوال شي[8]
د دنیا چارې فاني دي     رفت آمد یې په یرغال شي[9]
په مثال لکه د سیوري     خوا وشا د هر د بوال شي[10]
اعتماد په اوبو مه کړه     چې استادي په غربال شي[11]

---

(١) چاپي دیوانونه : "چې د زړه ولې شي غوټې   لوز ژوندون یې په اشکال شي"
د "خ" دوهم نسخه : "د زړه ولې یې شي غوټې   دوا کول یې په محال شي".
مصوره نسخه : "لوز یې ولې په محال شي".
(٢) د "خ" دوهم نسخه : "د باغبان که سترګې سپینې".
(٣) د "پ" لومړي نسخه : "د روئېدن".
د "خ" دوهم نسخه : "دا روون".
(٤) چاپي دیوانونه : "ډېر جنجال شي".
(٥) قلمي نسخې : "چې یې زوی په کمال شي"
د "خ" دوهم نسخه : "چې فرزند یې په کمال شي".
(٦) "ق" یک چاپ : "څوك خبر دی له خپل دوره چې به پېښ راته څه حال شي".
قلمي نسخې : "چې زمان له ره څه حال شي".
(٧) مصوره نسخه : "بې طاقته بې مجال شي".
د "خ" دوهم نسخه . لومړی مسری : "چې به حال کې یې نه وینې".
(٨) "پ" چاپ او "پ" چاپ : "خدای زده څه رنګ به احوال شي".
مصوره نسخه : "ګوره څه رنګه احوال شي".
(٩) د "خ" دوهم نسخه : "رفت آمد یې په غربال شي".
مصوره نسخه : "رفت آمد په ډېر غال شي".
(١١) د "پ" لومړي نسخه : "دهر د جال شي".   د "خ" لومړي نسخه : "ددې دېوال شي"
مصوره نسخه : "دهر جال شي". مګر دا بیت د "خ" په دوهم نسخه کې نشته.
(١١) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. (پاتې په ٢٣٧ مخ کې)

د بنو په څنبول کې | شال شړې کا شړې شال شي
که بادشاه د ولایت وي | کنډولي په لاس کنګال شي [1]
په ثواب يې غلط مه شه | په يوه ساعت [2] وبال شي
په کمال يې مه نازېږه | په يوه ګړۍ زوال شي
دهاتيانو سوداګر وي | بياد ګاوخر د لال شي [3]
جوهري وي د ګوهر و [4] | خاورې اغزي د کلال شي [5]
کلالي او ګل کارې کا | فروشنده د مات سفال شي [6]
په هستي کې يې اشراف وي | په نيستي کې يې ارزال شي [7]
د ځوانۍ په وخت کې شېر وي | د پيرۍ په وخت شغال شي [8]
چې مشهور په صداقت وي | پوچ ګويي واخلي بطال شي
محتسب وي احتساب کا | کوتوالي واخلي کوتوال شي
نيکوکار نيک افعال وي | بدکردار او بدافعال شي [9]
سرنوشت د سړي ګوره [10] | يو عيسى وي بل دجال شي
چې نيک بخت وي نيکويي کا | چې بدبخت وي بدسګال شي [11]

---

د (٢٣٦) مخ د پايليک پاته برخه:
- په چاپي ديوانونو کې د "اعتماد" پر ځای "اعتبار" راغلی دی.
د "پ پ" چاپ : "استاده به په عزبال شي"
د پېښور لوړ دوه چاپي ديوانه : "چې ولاړې په عزبال شي".
د "خ" لومړی نسخه : "چې استادي په سغال شي".
مصوره نسخه : "چې استادې په د برغال شي".

---

(١) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٢) د "خ" دوهمه نسخه : "په يوه ګړيځه".
(٣) قلمي نسخې : "ګاودلالوخر دلال شي".
(٤) چاپي ديوانونه "جوهري دي جوهر پلورې"
مصوره نسخه : "جوهري دي ګوهر پلورې".
(٥) د "خ" لومړی نسخه : "خاورې اغزي دکلال شي".
د "خ" دوهمه نسخه : "فروشنده د مات سفال شي" (پاته په ٢٣٨ مخ کې)

لاس و پښې د هغو نیسه — چې خوش خوی و خوش خصال شي[1]
په هجران کې نا امید مه شه — خدای قادر دی که وصال شي[2]
په حرامو کې امید کړه — گونده مخ دې په حلال شي[3]
کافر و باسي له کفره — په یوه ساعت ابدال شي[4]
تورښتی کاندي تر سپینو — په سپین مخ باندې تور خال شي[5]
ارزومند د یوه خره[6] وي — خداوند د ملک و مال شي
چې سیالي یې کړې نه وي — له سیالانو سره سیال شي
چې په عمر مفصل وي — په ساعت کې اتصال شي[7]
ممکنات به منع نه کا[8] — که څوک سل ځله سنبال شي
چې د خدای رضا شي پېښه — رمل یاتې د رمال شي

۳۱۷

فال به ښه گوري ناصح
خپل افعال[9] د سړي فال شي

۳٤٤۳

---

د (۲۳۷) مخ د پاټلیک پاته برخه :

(۶) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته . دوهمه نسخه : " خادرې اغړی کلال شي ".
(۷) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته .
(۸) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته . د "خ" دوهمه نسخه : " د ځوانه په ساعت شپږ وی د پېرۍ په دولت شغال شي ".
د "ب" لومړي نسخه : " په پېرۍ کې شغال شي ".
(۹) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته او په چاپي دیوانونو کې لومړی مسرۍ داسې ده : " نېکو کاره وي نېک عمل کا ".
دوهمه مسرۍ په "ق" چاپ کې داسې ده : " او بد کاره بد افعال شي ".
(۱۰) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته . په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې یې لومړی مسرۍ داسې ده : " سرنوشت د سړي خپل دی ".
(۱۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته د "خ" په لومړي نسخه کې یې دوهمه مسرۍ داسې ده : " چې بد بخت شي بد شکال شي ".

---

(۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته . په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې دوهمه مسرۍ داسې ده : " چې خوش خویه خوش خصال شي ".
(۲) دا بیت د "پ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته لومړی مسرۍ یې د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده : " په هجران کې نا امید شي ".
(۳) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته . د "ب" لومړي نسخه : " په حرامو امید مه کړه گنه مخ دې په حلال شي ".
د "خ" لومړي نسخه : " په حرام کې امید وار شه " او د "خ" دوهمه نسخه : " په حرام امید وار مه شه ".
(٤) دا بیت او ورپسې بیتونه په مصوره نسخه کې نشته . (۵) قلمي نسخې : " په سپین مخ د پاسه خال شي ".
(۶) په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې "خس" راغلی دی .
(۷) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته . د "خ" لومړي نسخه ، "پ" چاپ او "ق" چاپ کې لومړی مسرۍ داسې ده : " په دې بر عمر منفصل وي ". د پېښور په لوړو دوو چاپي دیوانونو کې داسې ده : " په دې بر عمر معضل دی ". (۸) د "ب" لومړي نسخه : " ممکنان به منع نه کا ".
د "خ" دوهمه نسخه : " ممکنات یې طمع نکه "
(۹) "ق ، ک" چاپ : " عمل ".

هر چې ستا په زنخدان کې[1] بې منزل شي — لکه خس په تناره کې به جلبل شي
چې څوک نوم دستا دشوندو په خوله واخلي — که يې زهر وي په خوله کې هم عسل[2] شي
په عاشق باندې ګمان داهسې مه کړه — چې يار زړه وڅخه يوسي تش کوګل شي
زه په هجر کې بې برګ وبې نوا يم[3] — لکه کښت چې اوبه نه مومي شهل شي
په جهان تر آشنايۍ خوږه څه نشته — ولې حيف دی چې هجران يې حنظل شي[4]
په خپل حسن باندې مه نازېږه ګله — دغه رنګ به دې په دوو ورځو بدل شي[5]

۳۱۸

زه رحمان بې ياره هسې شول وشل يم[6]
لکه کب چې بې محيطه شول وشل شي[7]

۳۴۵۰

که رسل ځله هم کنار وهم بغل شي — د دنيا مين به واړه سره ببل شي[8]
دا چې اوس په يوه کور کې سره ناست وي — عاقبت به يې جدا جدا منزل شي
دا ګلونه چې يې ځای دی په دستار کې — همه واړه به تر پښو لاندې غوبل شي
دا بې مخې چې بې مخ دلبر په خبر دي — تور وپسته به يې په مخ باندې څنګل شي[9]
دا شيرين شيرين شربت چې د وصال دي — د هجران په وخت به[10] زهر هلاهل شي
ماديان په بېلتانه کې دی لېدلی — که دانا د زمانې وي مبدل شي

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه : "زنخدان باندې منزل شي".
(۲) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه : "که يې زهر وي په خوله کې يې عسل شي".
(۳) چاپي ديوانونه : "په هجران کې زه بې برګ ودې نوا يم".
د "خ" لومړۍ نسخه : "زه په هجر کې دترکو بې نوا يم".
(٤) د "پ" لومړۍ نسخه : "په جهان کې تر آشنايۍ خوږه نشته — ولې حيف چې په هجران کې يې حنظل شي".
د "خ" دوهمه نسخه : "په جهان د آشنا يانو خوږه نسته — ولې حيف چې يې هجران د زړه صيقل شي".
(۵) دا بيت د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو، په نورو قلمي نسخو او چاپي ديوانونو کې نشته. او نو موړی بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۶) "پ" چاپ : "شم".
(۷) د "پ" لومړۍ نسخه : "لکه کب چې بې محيطه شل وشل شي".
د "خ" لومړۍ قلمي نسخه : لکه کب چې بې محيطه شل وشول شي".
د "خ" دوهمه نسخه : لکه کب چې په محيط کې شول وشل شي".
(۸) چاپي ديوانونه : "د دنيا په مينه واړه سره ببل شي".
(۹) دا بيت د "خ" په نسخو کې نشته.
(۱۰) د "پ" په لومړۍ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "کې" راغلی دی.

پسند له وېرې د وصال په حمله نه دي — چې خبر د جدائي په دلبدل شي (۱)

دردي هسې رنځ علاج به څوک په څه کا — چې نه فهم د چارسي نه اټکل شي

که د غرونو په سر ګرزي سر پې ټيټ وي — هر چې زړه يې د خوبانو ير غمل شي

۳۱۹ د رحمان خاطر غمونو هسې زنګ کړ — مګر جام د ميو ناب وي چې صيقل شي ۳۴۶۰

که د زړه په وينو رنګ د چا ګوګل شي — چې ببلتون په رحمان شته دي خو به ببل شي (۲)

که د اوښکو په درياب (۳) باندې نهال کړي — نېشکر به نېشکر شي نل به نل شي

مشقت د سري واړه ابتر دي (۴) — په سبوره کې چې د ګل بوټي نهل شي

د دنيا ياري دوستي څه په کار نه ده — له اوله ياري دوست وي پسې غل شي

که هر څو يې وبلهر و محبت وي — نهايت سره په جنګ وپه جدل شي

په مثال د دروغژني مس غلړي — آب و تاب يې په دوه ورځې کې بدل شي

که يې زنه د ځوانۍ په وخت سبب وي — هغه سبب يې په پيرۍ کې بيا حنظل شي

د رقيب له بده خويه به څه وايم — تر و داګوره چې لايان ور سره مل شي (۵)

۳۲۰ زه رحمان په ښه و بد ديان پوهېږم — کښلي زهر په دهن د چا عسل شي ۳۴۶۹

هغه زړه چې خداى روښان کا جام د جم شي (۶) — په دا جام کې ور ښکاره تمام عالم شي

په آدم کې د حيوان خوي نه هم شته (۷) — بيا هاله يې آدم بوله چې آدم شي

---

(۱) "ق" چاپ : "چې خبر د جدائي په تزلزل شي".
(۲) چاپي ديوانونه، د "خ" لومړۍ، ناقصه او مصوره نسخه : "چې ببلتون په رحمان ګرزي خو به ببل شي".
(۳) د "خ" په دوهمه نسخه کې "جويبار" راغلی دی.
(۴) په چاپي ديوانونو او د "خ" په نيمګړي نسخه کې "ابتر کا" راغلی دی.
(۵) دا بيت د "خ" په لومړۍ نيمګړې او مصوره نسخه کې نشته.
(۶) د "خ" لومړۍ نسخه : "جام د جم دی".
(۷) د "ب" نسخې : "په آدم کې د حيوان خوی مند شته دی".
د "خ" په دوهمه نسخه کې د "حيوان" پر ځای "چار پای" راغلی دی.

چې خوی ئې نه د چا پايو پکې نه وي[1] — سړی هوښ په سړي هاله مسلم شي[2]
چې اغوستي يې لباس وي د پاکانو — د ناپاکو چارې کاندي خو به ګرم شي
که هر څو لذيذ طعام وي مزه نه کا — چې يوه ذره نمک يې زيات و کم شي
ښادي هر چېرې د غم په اندازه وي — د هغو به څه ښادي وي چې بې غم شي
هر چې خپله رضا پاسلي[3] و قضا ته — که هر څو په ځان ناخوښ وي خو بې خرم شي
عاشقي چې تر کماله ورسېږي — د خپل يار له لاسه زخم[4] يې مرهم شي
که په ځان باندې قدم کېږدې له ځانه — نه فلک به دې لاندې تر قدم شي[5]

٣٢١ — ٣٤٧٨

چې مجنون غوندې يو موټی استخوان شي — په قوت د عاشقۍ به پهلوان شي
عاشقانو په شکست کې برې بيامونده[6] — دلته توان د هغه سړي چې ناتوان شي
زېړي رنګ د عاشق هسې مرتبه ده[7] — چې آفتاب غوندې څرګند په در جهان شي
له چشمانو يې باران د رحمت ووري — زر غونه يې په څېره باندې زعفران شي
له رخساره حال د زړونو معلومېږي — له بهاره نېک و بد د کال عيان شي
له نکتې نه تمام علم حاصلېږي[8] — درست خرواره له يوه مشته نمايان شي
په کار نه دي مخالف هزار تقريره — موافق له حاله نيم[9] کلام داستان شي
لکه مېله کاروباره وي و تلې — د هغو به وروسته په سر چې غافلان شي

---

(١) د "خ" دوهم نسخه: "چې خصلت د چا پايانو پکې نه وي".
(٢) د پښور چاپي ديوانونه "سړی ښوب په سړي هاله مسلم شي". او د "خ" په لومړي نسخه کې "له سړي" راغلی دی.
(٣) "پ" چاپ او "پ پ" چاپ: "پاسلوي". "ق ک" چاپ او "ق" چاپ: "وسپاري".
(٤) د "خ" دوهمه نسخه: "پرې مرهم شي".
(٥) "پ پ" چاپ: "آسمانونه به دې لاندې تر قدم شي".
(٦) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، د "خ" په لومړي نسخه کې لومړی مسری داسې ده: "عاشقانو په خپل نسبت کې برې بيامونده".
د "خ" نېګرۍ نسخه: "عاشقانو په خپل شکست برې بيا مونده" او "پ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "عاشقانو په خپل شکست کې برې بيامونده".
(٧) د "پ" په لومړي، د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې "مراتب دی" راغلی دی.
(٨) د "پ" لومړي نسخه: "له يوې نکتې تمام علم حاصلېږي".
د "خ" قلمي نسخه: "له يوې نکتې حاصلېږي تمام علم".
(٩) د "خ" په نېګرۍ نسخه کې "يو کلام" راغلی دی.

کړي دې عمر په کار د غفلت مړه کړه — په اوده باندې سل کاله یو زمان شي

د غفلت بنیاد دا وښکو په موج خړ دي — یو څڅوبکی خواب آلوده لره طوفان شي

روند په خپله عصا پرېوځي وکوهي ته (۱) — خپل دلیل د کم دلیل د ځان تاوان شي

سرکښي د عاجزانو په کار نه ده — هر مېږي چې وزر وکاندي پښېمان شي

موم دلان به یې لد شره لمن ژغوري (۲) — سنګدلان که عین لعل د بدخشان شي

چې کیمیا د قناعت یې په لاس کښېوځي — د شړۍ (۳) په خرقه کې بادشاهان شي

بل پوشاک یې په کار نه وي لې لمده — هغه زړه چې آیینې غوندې روښان شي

عاشقي ده تر جمله بلاو زیاته (۴) — ومجنون ته دیو ود د واړه حیران شي

۳۲۲

پرې به ورکا دُرستان د خپلو غوږو (۵)

که یې تېر تر غوږ و شعر د رحمان شي

۳۴۹۵

آشنایي به بلاده آشنا مه شي — جدایي به دې فنا کا فنا مه شي (۶)

د غم (۷) به دې درزه ولې کا غوڅې — ګرفتار په درد وغم د جانا مه (۸) شي

په زیړ رنګ به دې تل سرې اوښکې بهېږي (۹) — د دو رنګو په شېر ګل د رعنا مه شي

---

(۱) د "ب" لومړی نسخه : "روند په خپله عصا پرېوځي په کوهي کې".
د "خ" لومړی نسخه : "روند په خپله عصا پرېوت وکوهي ته".
د "خ" دوهمه نسخه او نېمګړی نسخه : "روند په خپله عصا پرېوځي شي چېنګکه".
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته او د "ب" په لومړی نسخه کې د "شره" پر ځای "شرم" راغلی دی.
(۳) د "خ" په لومړی نسخه کې "دشړابو" راغلی دی.
(۴) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. په نورو قلمي نسخو کې د "زیاته" پر ځای "پېچومته" راغلی دی.
د "خ" په لومړی نسخه کې یې دوهمه مسرۍ داسې ده : "ومجنون ته دیو ودد ځکه حیران شي".
(۵) د "ب" لومړی نسخه : "پرې به ورکا تبان در د خپلو غوږو".
په "پ" چاپ چاپ کې : "کاتبان به ورکا دُرد خپلو غوږو".
د "خ" دوهمه نسخه : "ښایسته په در د خپلو غوږو ورکه".
"ق" چاپ او "ق،ک" چاپ : "همدیان به ورکه در د خپلو غوږو".
(۶) دا غزل د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. د لومړی مسرۍ "بده بلا" په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې "توره بلا" راغلي ده.
(۷) چاپي دیوانونه : "درد وغم".
(۸) "ق،ک" چاپ او "ق" چاپ : "آشنا مه شي" او د "ب" لومړی نسخه او د "خ" لومړی نسخه "جانان مه شي".
(۹) د "خ" لومړی نسخه : "په زیړ رنګ به دې تل اوښې بهېږي".

هم(۱) په دا چې د روغږن د خدای دښمن دی — وهچا ته د روغږن په وینامه شي

که اعلیٰ مرتبه غواړې عاشقي ده — نو ر همه واړه ادنیٰ دي ادنامه شي(۲)

۳۲۳ — همېشه به سرنګون په فکر ناست یې — ۳۵۰
د رحمان په خبر مشغول په ثنامه شي(۳)

دعاشق بې خپله یاره قرار نه شي — بې طبیبه قرار ی د بیمار نه شي

چې په لوح محفوظ کښلي لیوني وي — په تعلیم د معلم به هوښیار نه شي(۴)

دخپل پلار په غېږ کې پروت وي روح یې (واخلي)(۵) — د قضا علاج په مور او په پلار نه شي

دهغو چې خدای کمال حسن روزي کړ(۶) — هیڅ نقصان یې د منکر په انکار نه شي

درد و غم دعاشقي چې ډېر مشکل دی(۷) — هیڅ سړی دې په دا رنځ ګرفتار نه شي

زه همه عمر د غه له خدایه غواړم — چې دې یار دیار له لاسه ازار نه شي(۸)

یار له یار سره جفا کا هسې ډېره — چې هیڅ فرق یې د اغیار او دیار نه شي(۹)

۳۲۴ — که هر څو یې دلبري او دلجویي کا(۱۰) — ۳۵۹
د رحمان په ترکو هیڅ اعتبار نه شي

---

(۱) د "پ" چاپ : "غم په دا".
(۲) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۳) چاپي دیوانونه : "د رحمان هسې مشغول په ثنامه شي".
(۴) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. لومړی مسری یې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده : "چې په لوح د محفوظ سبکلي لیوني دي".
(۵) چاپي [illegible] : "زوی د پلار په غېږ کې پروت دي روح یې لاړ شي".
(۶) قلمي نسخې : "وهغو چې خدای کمال د حسن ورکا".
(۷) قلمي نسخې : "درد و غم د عاشقۍ ډېر مشکل دی".
(۸) چاپي دیوانونه : "زه همه عمر له خدایه دغه خواست کړم — چې دې یار له خپله یاره بېزار نه شي".
د "خ" لومړۍ نسخه : "زه همه عمر دغه شان له خدایه غواړم — چې یو یار د یار له لاسه ازار نه شي".
د "خ" دویمه نسخه : "زه همه عمر له خدایه دغه خواست کړم — چې یو یار د یار له لاسه ازار نه شي".
مصوره نسخه : "زه همه عمر دغه خواست له خدایه غواړم — چې دې یار د یار له لاسه ازار نه شي".
(۹) دا بیت په "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا بیت داسې دی : "یار له ما سره جفا که هسې ډېره — چې هیڅ فرق مې د اغیار و د یار نه شي".
(۱۰) د "خ" لومړۍ نسخه : "که مې هر څو دلبري او دلجویي کا"

د سکوت په تیغ چې ژبه بریده شي — لا قلم غوندې په قال کې دویده شي

هومره اور د عاشقۍ په زړه کې یوسي — چې لالـه یې لـه تربته دمیده شي

همیشه یې د خپل یار په لوري ځي — نهایت چې په دا ځو کې رسیده شي

خم ابرو د یار مې نقش په لیمه دي (۱) — لکه میاشت چې په لوی بحر کې لیده شي

څه حاجت دی چې زه یار وچاته ستایم — کار هم د خپلو سترګو په دیده شي

کله وي چې یو دبل په ویل غولیږي — مګر صافه د چا خپله عقیده شي

خود څرګند وي لکه صبح په جهان کې — هر ګریوان چې په یارۍ کې دریده شي

آبروي د عاشق هلته ځان څرګند کا — چې یې نم د زړه له سترګو چکیده شي

د آه غشي یې په ځمکه کله لګي — هر قامت چې لکه لینده خمیده شي

بې مطلوبه یې هیڅ فهم په چا نه وي — هر طالب چې په طلب کې فهمیده شي (۲)

هر چې زړه په هر و یا نو باندې بایلي — بې درمه بې دیناره خریده شي

ما دیان په خبر بل مخ لیدلی ندی — مګر پس چې له نن ورځې آفریده شي (۳)

٣٢٥ یا به شهد یا به قند یا به نبات وي — هر کلام چې له ناصح شنیده شي ٣٥٢٢

چې سړی له بله بد وایي بدګوی شي — لا تری بله خوا روان دده بدبوی شي (٤)

مرده شوی چې هوس کا د بل ومرګ ته — بل هم پس دده له مرګه مرده شوی شي

دوست دښمن د سړي واړه خپل عمل دی — هم په دا مقدار یې اجر موی په موی شي

هره ونه چې کږه په یوه لوري (٥) — عاقبت یې پر پواته په هغه سوی شي

(۱) د "خ" د همه نسخه: "خم ابرو یې د یار نقش وي په زړه کې".
د "خ" لوړۍ نسخې او د "پ" لومړۍ نسخه: "خم ابرو یې د یار نقش وي په لیمه کې".
(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۳) قلمي نسخې: "مګر پس له نن ورځې آفریده شي".
(٤) قلمي نسخې: "لا تر بل خوا روان دده بدبوی شي".
(٥) د "پ" لومړۍ نسخه: "هره ونه چې کږه وي په هغه لوري".
د "خ" لومړۍ نسخه: "هره ونه چې کږه په هغه لور وي" او دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

په لوټي کي نور څه نشته بې زواله ‌ ‌ ‌ هلکان د هلکتوب په سبب لوی شي (۱)

دا وبوا اصل له خاورو پیدا کېږي ‌ ‌ ‌ خاکساري د خاکسارانو آبروی شي

هومره زیان له خوګ وخرسه نه رسېږي (۲) ‌ ‌ ‌ لکه خوګ په آدمیانو کي بدخوی شي

سړي هغه چي د سړي له تنه پاخي ‌ ‌ ‌ د سړیو په جامه کي خربشوی شي

٣٣٦ ‌ ‌ ‌ ٣٥٣١

وهغو ته چي خدای بخښلي وښود

څه حاجت یې د ماښام په ګفتګوی شي

وخت د عیش وطرب تېر شو خزان راغی ‌ ‌ ‌ څنګه د بلبلانو په ځان راغی

دلداري مي تر امید وه باري څه کړم ‌ ‌ ‌ هغه یار د دلبرانو په شان راغی

آشنایي مي په هوس وه خو چي بېل شوم ‌ ‌ ‌ دواړه لاس مي وبله منبوا رمان راغی

سود سودا د عاشقي که نفع مند وي ‌ ‌ ‌ ما هیڅ سود پکي ونه لید تاوان راغی

تمام عمر که وصال وهومره نه وُ ‌ ‌ ‌ لکه یو رمان د ښکلیو هجران راغی

ګوی زما د زړه یې یووړه په چوګان کي ‌ ‌ ‌ بیا د ناز په نیلي سور په جولان راغی (۳)

غونچه لب چي په خندا کاندي پرېشانه ‌ ‌ ‌ په شبیو زما د اوښکو باران راغی

٣٣٧ ‌ ‌ ‌ ٣٥٣٩

دمیرزا دا رزاني دعوی به پرېږي کا (٤)

قدردان د شاعرانو ماښام راغی

(٥)

په اول کي تا د عشق وهلي لافي ‌ ‌ ‌ هغه لافي دي اوس ولې کړې خلافي

اوس خیل سر ورته محکم نیولی اوسه ‌ ‌ ‌ چي د غم مصی دي ځان ته کړې مصافي

سپین چلتار په یوه تکي بد نماشي ‌ ‌ ‌ دا رذالو چاري مه کړه که اشرافي

---

(۱) په "پیا" او "پیاپ" "چاپ" کي "پیوی شي" راغلی دی.

(۲) د "خ" لومړی نسخه : "له ستمدلي په هر لوري غوغا وي"

(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته.

(٤) د "خ" دوهمه نسخه : "دمیرزا دشاعرعهد قدر به کم کا".

(٥) دا غزل د "خ" له دوهمي نسخې نه نقل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې تميزه خو معرفت کولای نه شي — ته کړه او کوټ معلوم کړه که صرافي

ځان دې ولې بې حيا کړې بې ځايه — چې پټ کړې دې د مينې په غلافي

که داهسې لوټې غواړې لونبې داده — که په اصل کې منصور غوندې نه لافي

د دوران له فساده نه امان غواړه — که په عقل د خپل فکر موې شګافي

د تقصير سبب يې کوم دی را معلوم کړه — مين وژني بې له جرمه نا انصافي

۳۳۸ — کوم صفت به زه رحمان دا ستا بيان کړم — ۳۵۴۸
په کامل صفت موصوف په کل اوصافي

يا دا ستا چشم وابرو وينم په خواب کې — يا مستان دي اوده شوي په محراب کې[1]

يا په جام کې ستا د مخ عکس ليده شي — يا خوتنده تجلي که په حباب کې

يا تر خط لاندې غوټۍ د ستا د خولې دي — يا کوکب دي غرق شوي په شهاب کې

يا دې زلفې په مخ دواړه راخورې کړې — يا سنبل دي کجک شو د اور په تاب کې

يا دې زلفې په مخ توره تاريکي کړه — يا خوتنده يې ځان خړګند کړ په آفتاب کې

يا دا ستا پېزوان زما په ځګر بنخ دی — يا سيخونه دي پېيلي په کباب کې

يا خو ستا په غم کې غرق زما صورت دی — يا خسۍ دي د جاه وزي په ګرداب کې

۳۳۹ — چې د يار کاته لې ووزې بيا له سترګو — ۳۵۵۶
د رحمان به خړ عزت وي په حباب کې

ستا د مينې ګوهر نشته په هر آب کې — مګر بيا مونده شي د اوښکو په درياب کې[2]

که ته وينې زما پټې خښنې دلبره — رنګ د لبو دي ګواهي لي په دا باب کې

په هر ځای چې ستا د لبو نام آغاز شي — د لاله و باران ووري په حباب کې[3]

---

(۱) دا غزل يوازې او يوازې د "خ" په دوهم قلمي نسخه کې راغلی دی.
(۲) دا غزل د "خ" په لومړي او مصوره نسخه کې نشته.
(۳) دا بيت د "خ" په دوهم نسخه کې نشته.

له خستو زړونو به څه دلستاني کا — د خراج گنجایش نشته په خراب کې
زه حیران دستا د وروځو په تور خال یم — کافر څه شکل سجده کا په محراب کې (١)
گل له ډیرې باریکۍ په شبنم خوږ شي — نازک زړونه بد وي په صاف خواب کې
د بهار په گلو اوري با ران نه — د څڅکۍ طاقت نشته په حباب کې
د کاتب غلطۍ وبښه اې خدایه — داوتر و چارې نه وي په حساب کې

٣٤٠ — ٣٥٦٤

زړه مې بایلو ستا په مهر محبت کې — عاشقي دې زهر راکړه په شربت کې (٢)
لاړ زما و یار ته مه تره ناصحه — مامونډلي دي دایان په ډېر محنت کې (٣)
که صورت د هغې مستي ډېر ښکاره شي — عقل هوښ به دې هیڅ نه وي په صورت کې
که د عشق ترکس لگي غابښ به بایلې (٤) — ته چې ماته غابښ چیچې په نصیحت کې
زه توبه په هغه تېر عمر وکاندم — چې صرف شوي دي بې یاره په غفلت کې
د آشنا د مینې پټ به راما ت نه شي (٥) — که مې سر له تنه درومي په داپټ کې
له ادبه یې و مخ ته کتی نه شم — خدای راپېښه جدایي کړه په وصلت کې
په قیامت که څوک له نیته پوښتیده شي — زه د یار د کوڅې خاوري یم په نیت کې
لکه زه چې یې د در په خاورو خوښ یم (٦) — خوښ به نه وي سلطانان په سلطنت کې
د درگاه په خاک نشینو یې تل سخ وي (٧) — د غمونو دخل نه وي په جنت کې

---

(١) د "خ" دوهم نسخه: " کافر چېټکله سجده نه کا په محراب کې".
(٢) ددې غزل پاته په مصوره نسخه کې څېرې شوې ده.
(٣) دا بیت په "ب" چاپ کې نشته.
(٤) چاپي دیوانونه: " که د عشق ترکس پر پوزې سر به بایلې".
د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: " که د عشق ترکس پر پوزې غابښ به بایلې".
(٥) چاپي دیوانونه: " پټ به مې مات نه شي"
(٦) دا بیت په "ب" چاپ کې نشته په لوړو چاپي دیوانونو کې یې لومړۍ مسرۍ داسې ده: " لکه زه چې ستا د در په خاورو خوښ یم".
(٧) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته په چاپي دیوانونو کې د " تل سخ وي" پر ځای " سختي نه وي" راغلی دی.

۳۴۱ — ۳۵۷۵

د دنیا له دولتونو بې پروا یم[1]
زه رحمان د عاشقۍ په بنه دولت کې[2]

مغرور مه اوسه د عشق په کاروبار کې[3] — هر خس چې تېره تېغ وي په دا لار کې
دا سور ګل به دې دستار په وینو سور کا — چې دې ایښی زمانې دی په دستار کې
مخ د ترکو چې تر آب حیات صاف دی — زه دې آب حیات سوی یم په نار کې
چې او سپینه آیینه پرې اوبه کېږي — تر و زما هستي یې خړه په دیدار کې[4]
په هر وار چې یې وسترګو ته نظر کړم — لا سمې وللي دې له ځانه په هر وار کې
یاره ته چې له ما صبر و قرار غواړې — عاشق کله وي په صبر و په قرار کې
که مې سر و مال دستا په مینه درومي — زه تر سر و تر مال تېر یم په دا کار کې
هېڅ صرفه مه کړه د زړونو آزار اخله — که د چا سود دې شي په آزار کې[5]
عشق د عقل په کوڅه استوګنه کا — چا موندلی نه دی یار په دا دیار کې[6]
ستا له دره له دیاره به وانه وړم — څو ونه مرم ستا په دره په دیار کې[7]
کم بختان دیار په وصل کې مهجور وي — د وچ ګلي بهره نه وي په بهار کې
مفلسانو لره عین کوهستان دی — که هم عمر یې کوزدی په بازار کې
وهغو چې خدای حق بیني سترګې ورکړې — د یوسف تجلي وینې په دیوار کې[8]

---

(۱) د "خ" په دوهمه نسخه کې "فراغت یم" راغلی دی.
(۲) قلمي نسخې : "زه رحمان د عاشقۍ په دولت کې".
د پېښور چاپي دیوانونه : "زه رحمان د عاشقۍ په دا دولت کې".
(۳) د "ب" په نسخه کې "کاروزار" راغلی دی.
(٤) "پ" چاپ او "ب" چاپ : "چې د او سپینو دانه پرې اوبه کېږي — تر وزما هستۍ خړ دی په دیدار کې".
"ق ک" چاپ او "و" چاپ : "چې د او سپینې داني پرې اوبه کېږې — تاب زما د هستۍ خړه دې په دیدار کې".
د "خ" دوهمه قلمي نسخه : "چې د او سپینې آهین پرې اوبه کېږي".
(۵) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته.
(٦) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۷) چاپي دیوانونه : "ستا له دره له دیاره به وانه وړم — څو ونه مرم ستا په دره په دیار کې".
(۸) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته.

وعیب جن نه واره عیب ښرګند بړي[1] ښایسته که ځان یوسف کا په سینګار کې

چې هغه د عاشقۍ یې خدای نصیب کړ[2] بې هغه نور څه نه وینې په یار کې

۳۴۲

دا داغونه د خپل زړه ورله بس دي[3]
څه حاجت دی د رحمان په لاله زار کې

۳۵۹۱

مدام ناست یم وچ ګوګل ستړګې په نم کې عشق را وښوه نحروبن په خپل حرم کې

ما چې ستا د توري زخم په خوله[4] ښکل کړ نور مې دالذت بیانه مونده په مرهم کې

خوار مجنون چې سر په پښو د لیلی کښېښود[5] سرفراز شو په عرب وه په عجم کې

زړه د مدام غالب وي په کمزوري زه له نوره غمه خلاص یم ستا په غم کې

لکه زه چې ستا په غم کې مستغرق یم بل به نه وي په جمله بني آدم کې

لکه مرې د ژړوند یو تر میان پروت وي هسې بېل یم له عالمه په عالم کې

هېڅ صحت[6] مې د دمګړو په دم نه شي هم په دا چې زما دم دی ستا په دم کې

نه مې بې تا تګ وړوی نه جستجوی شته مراد مې ته یې په هر دم په هر قدم کې[7]

که نصیب مې شي کو غالي ستا د سپیو وبه نه کړم نور نظر په جام د جم کې

زړه مې هسې ستا په زلفو پسې ورک شو لکه غوټه د چاپر یوځي په تورتم کې

سره یه وېښو دسرو ګلو په دود ځانګي هزار زړونه ستا د زلفو په هر خم کې

۳۴۳

زه رحمان کناره خوښ یم له عالمه
باري ستا ستر ګو رسوا کړم په عالم کې[8]

۳۶۰۳

(۱) چاپي دیوانونه: "وعیب جوته واړه عیب ښرګند بړي".
د "خ" لومړی نسخه: "عیب حق واړه عیب ښرګند بړي".
(۲) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "که هغه د عاشقۍ لې رب نصیب کړي".
(۳) قلمي نسخې: "خپل داغونه د خپل زړه ورله بس کا".
(۴) د "ب" په لومړی نسخه کې "زړه" راغلی دی.
(۵) د "خ" دوهمه نسخه: "چې مجنون سر خپل په پښو د لیلی کېښود" په چاپي دیوانونو کې د "خوار" پر ځای "خود" راغلی دی.
(۶) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "صحت" پر ځای "دمه" راغلی دی.
(۷) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(۸) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه: "باري ستا کتو رسوا کړم په عالم کې".

هسې نې یاره خفه یم په جهان کې(۱) | چې مې ځای نه شي په څمکه په آسمان کې
سره ګلونه د چمن راته سور اور شي(۲) | چې قدم نې یاره کېږدم په بوستان کې
چې یې مړ نه یم له ډېرې نې نیا زې(۳) | حیران یم د ناتوان صورت په توان کې
که هر څو فکر له ځانه سره وکړم | هیڅ د صبر طاقت نه وینم په ځان کې
هیڅ ساتنه د سر کېنې خاطر رانه شي | خوک ساتلې شي بخرې په ګرېوان کې
تر هغه به نادان بل په جهان نه وي | چې خوک مهر وفا غواړي په نادان کې
کړي یې سل ځله په زلو(۴) وقربان بولم | غوږ رانه باسي په زاړو په قربان کې
هسې رنګ زما په ډېره ژړا خاندې | لکه ګل د سپرلي خاندي په باران کې
جوهري شي در و لعل کاندې بر سېره | چې مې کېنې دد وېشتر ګو په دکان کې(۵)
چې مې هیچېږي په خوا په خاطر نه وي | زمانه یې را اخر ګند کا په زمان(۶) کې

چې په وصل کې یې اوسېږې نه وچېږې
تر و به حال د تاج خدوي(۷) په هجران کې

۳۴۴ | ۳۹۱۴

د بلبل له حاله زده کړه په خزان کې | بیا د ګاو تماشا کړه په بوستان کې
خو دې تېره تلخالې تر ستونې نه شي | شیریني به خوند در نه کا په دهان کې(۸)
ما په هجر کې لذت د وصال بیا موند | له یوسفه ملاقې شوم په زندان کې
لکه متن له معنی، معنی له متنه | یار هم هسې دی زما په دل وجان کې
عاشقي اسانه مه ګڼه خبر شه | سر بازي ده هر نفس په دا میدان کې

---

(۱) "ب" چاپ او "پ پ" چاپ: "هسې نې له یاره زه یم په جهان کې".
(۲) د "ب" په لومړي نسخه او د "خ" په لومړي نسخه کې "دی" راغلی دی.
(۳) د "خ" په دوهمه نسخه کې "نې رحمه" راغلی دی.
(٤) د "خ" په لومړي نسخه کې "ناز" راغلی دی.
(۵) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۶) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "لوآن" راغلی دی.
(۷) د "ب" په لومړي نسخه او "خ" په دوهمه نسخه کې "خر شي" راغلی دی او دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۸) مصوره نسخه: "شیریني به دې خوند نه کا په دهان کې"

د ناتوان له ناتوانۍ نه وو بېزاره　　　　کړه هزار ځله توانایي په خپل ځان کې[1]

هم هغه به پس له مرګه ازار وړي　　　　هر چې بل ازار وي په دا جهان کې

(۳۴۵)　　　　(۳۶۲۲)

په رباخ بندي بې یاره هسې حال دی
لکه حال د زندانیانو په زندان کې

زړه مې ډوب ډوب کېږي ستا د غم په غلبو کې　　　　هسې لکه څوک چې مستغرق شي په اوبو کې[2]

ستا د عشق له منځه چې هېڅ لوړې وتې نه شم　　　　د ولړه لاس مې پرېواته د عشق[3] په لامبو کې

سل توبې مې ماتې کړې وانه وښتم له عشقه　　　　ساه و یساه مې نوره پاتې نه شوه په توبو کې

ته چې له ماځې دادا و بنکو باران ګوره　　　　رنځ د سفر هېڅ نه دی په دا ګهنو شیبو کې

نه یوه سپوږمۍ نه په سمان کې هزار ستورې　　　　بې تا به څوک څه کا ندي د خلق په څنبو کې[4]

عشق و عقل دواړه سره ضد دي که پوهېږې　　　　کله کړې ارام داوړ بحرې په لمبو کې[5]

(۳۴۶)　　　　(۳۶۲۹)

هر څوک چې د عشق په آتش ځان سېزي کړ[6]
خدای دې ابراهیم غوندې څوک نه کا په لمبو کې

هسې خوښ یم ستا د ر په خاکسارۍ کې　　　　لکه خوښ وي سرداران په سردارۍ کې[7]

عاشقي که نو وخلقو ته خوارۍ ده[8]　　　　ماموندلې دی دولت په دا خوارۍ کې[9]

و بیمار ته که نا خوښ والي وګړي　　　　خوښ یم زه د ستا د عشق په بیمارۍ کې[10]

---

(۱) د "خ" په لومړي او د وحمه نسخه کې " په خپل توان کې" راغلی دی.

(۲) دا غزل د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته د "خ" په دوهمه نسخه کې یې لومړی بیت داسې دی: " زړه مې ډوب ډوب کېږي په غمو کې　　هسې لکه څوک چې مستغرق شي په اوبو کې"
د "ب" لومړۍ نسخه : " زړه مې ډوب ډوب کېږي ستا د غم په غلغلو کې　　هسې رنګ لکه چې څوک مستغرق شي په اوبو کې".
د "ق، ک" چاپ : " زړه زما ډوبېږي ستا د غم په غلبو کې　　هسې لکه څوک چې شي غرقا به په اوبو کې".

(۳) په قلمي نسخو کې " عقل " راغلی دی.

(۴) قلمي نسخې ، " نه یوه سپوږمۍ نه هزار ستوري له آسمانه　　بې تا نه به څوک څه وکا د خلق په کیڅو کې

(۵) دا بیت د "ب" په لومړي نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته . په "پ" چاپ ، "ق" چاپ او "ق ک" چاپ کې د "لمبو" پر ځای "پیغبو" راغلی.

(۶) قلمي نسخې : " هر څوک چې د عشق په اتش سوی دی رحمانه ".

(۷) دا غزل د "ب پ" چاپي دیوان کې نشته .

(۸) د "خ" دوهمه نسخه : "عاشقي که لور د عالم ورته خوارۍ ده ".

(۹) چاپي دیوانونه : "ما موندلی دا دولت دی په خوارۍ کې ".

(۱۰) دا بیت د "ب" په لومړي نسخه کې نشته . دوهمه مسوده د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : "خوښ یم زه د عشق په درد په بیمارۍ کې".
"ق ک" چاپ : "خوښ یم زه دیار د عشق په بیمارۍ کې ".

دخپل بام وروزینو وته نظر کړه ... هسې ستر ګې دې زما په بېدارې کې[1]
یار دیار له ستر ګو اوښکې پاکېزه کا ... تا دریاب[2] کړې زما اوښکې په یارې کې
ماله ډېرې ناچارې وېيان ته شاکړه ... سرې[3] عذر دی په ډېره ناچارې کې
غم به هیڅ یوه هوښیار خوښ کړی نه وي ... ما خوښ کړی دی دستا غم په هوښیارې کې

٣٤٧ ... د (رحمان) اوښکې به څرنګ په قرار وي ... ٣٦٣٧
چالېدلی دی دریاب په قرارې کې

سپین مخ و نه تورکوري شي په پیرې کې ... سم قد و نه کوږ لګي شي په پیرې کې[4]
لکه شمع د سحر آفتاب د ژمي ... هم بې تاب و هم زېږي شي په پیرې کې
یو طرف ته یې سره ږیره دي بل خوا دروې[5] ... خپل صورت تمام پړدي شي په پیرې کې
د مرده وُ په حساب وي که څه روغ وي ... که څه ګند لیده ژوندی شي په پیرې کې
مړ لا سنه دی پس له مرګه بیا ژوندي شي ... نشته دا چې څوک ځلمي شي په پیرې کې
که څه وخوري لکه زهر نه هضمېږي[6] ... نه څه ښه نه څه خوري شي په پیرې کې
دا حوالې ده چې څه اوري یا څه وېني ... نه لیده نه اورېدي شي په پیرې کې

٣٤٨ ... اي (رحمانه) پیري هسې عاجزي ده ... ٣٦٤٥
که رستم وي نره پري سوي شي په پیرې کې[7]

یو ځل ولېدلی دیار پرېشانې زلفې ... په عارض باندې حلقه پېچانې زلفې[8]
که تور تم لري ظاهر سیاهي د زلفو ... حقیقت لري سفېدي روښانې زلفې

(۱) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې یې لومړی مسرۍ داسې ده: "دخپل بام وهدوان و وته نظر کړه".
(۲) په چاپي دیوانونو کې "جارې کړې" راغلي دي.
(۳) د "خ" په لومړي نسخه کې "څمره" راغلي دي.
(٤) چاپي دیوانونه: "ښایسته مخ دې تورکوري شي په پیرې کې سم قامت دې کوږ لګي شي په پیرې کې".
(۵) قلمي نسخې: "که پل یوسر ږدي بل خواته درومي".
(٦) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. د "پ" په لومړي نسخه کې "ارزېږي"، د "خ" په لومړي نسخه کې "ورزېږي"، په مصوره نسخه کې: "پې تېرېږي" او د "خ" په بنګړي نسخه کې "وته جوړېږي" راغلي دي.
(۷) په قلمي نسخو کې "زړه سوی شي" راغلي دي. (۸) - دا غزل د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو.

دا قدرت الٰهي دے راشه ګوره — د دانا ګردن طوق نادانې زلفې

هم په خېرې دخپل ځان په زړه حیران یم — په اوبو و دیار پرتې حیرانې زلفې

په شمیم دخوشبوۍ یې زه خوشبو شوم — خدای دې نه کا په خپل داد پښېمانې زلفې

په کوم لوري بوزه سر ترپښه وکاږم — وګردن ته مې پرتې ریسمانې زلفې

٣٤٩ — ٣٦٥٢

ځکه ژاړم له دوو سترګو اوښکې وینې
چې رحمان وینې دیار خندانې زلفې

چې وصال دخپل جانان مې دی موندلے — ګنج د دُر و د مرجان مې دی موندلے (١)

هومره طمع مې له خپله بخته نه وه — نه پوهېږم چې څه شان مې دی موندلے (٢)

که په ډېر مشقت لاس لره خدای راست (٣) — زه خو وایم چې آسان مې دی موندلے

چې مې یو نفس وصال ورسره وشو (٤) — واړه اجر دهجران مې دی موندلے

څه عجب (٥) دی که تمام جهان زما شي — چې بادشاه د درست جهان مې دی موندلے

٣٥٠ — ٣٦٥٨

زه رحمان په خپل شعر شکر ګذار یم (٦)
چې داهسې رنګ دیوان مې دی موندلے (٧)

ما چې سترګې وګلرخ ته واړولې — په هغو سترګو مې وینې وژړلې (٨)

د عمل جزا یې بیا مونده برحقه (٩) — دا دستور دی چې کړې هغه اخلې

ترځمن وي یو په سله زه قاتل دی — تل چې مې تورې په کالي تېرولې

---

(١) مصوره نسخه : "واړه اجر دهجران مې دی موندلی".
(٢) دا بیت په مصوره نسخه کی نشته
"ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : " نه پوهېږم په څه شان مې دی موندلی".
(٣) د "خ" دوهمه نسخه : "که په ډېر مشقت لاس لره راغی".
(٤) د "خ" دوهمه نسخه : " ورسره وشي".
(٥) "ق، ک" چاپ : "څه تعجب دی".
(٦) د "خ" دوهمه نسخه : " زه رحمان په خپل شعر مدام خوښ یم "
(٧) "ق" چاپ : " چې داهسې رنګ داستان مې دی موندلی".
(٨) دا غزل د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کی نشته.
(٩) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : " دعمل جزا مې بیا مونده برحقه".

خود کرده به ښتاوان له چا نه غواړي — چې يې غوښې په خپل تېغ کړې سپينې خپلې

مادام رګ دا ستا په مينه کې هاله لېد — چې ګدای د بادشاهۍ لاڼې وهلې

له خوبانو به څوک څرنګ وفا[1] غواړي — سروې کله کشمشي مېوې نيولې

په رباب يې سندرا سي شه ور ته کېنه — تار په تار د سر وښتر ايرې مښلې[2]

که دفتر د خپل قسمت د چا په لاس وې — بدې بخرې به چا کله قبلولې

چې ښکې يې ورکوله و ښکا نو — دې بدانو خه بدې نده غوښتلې[3]

څوک له خاورو ايرو پاڅوي تخت ورکړي — څوک له تخته د ايرو په ډېران ولې

ستا چې نيت د آشنائۍ نه و صنمه — د رحمان سترګې دې ولې نه ګڼلې

۳۵۱

دا زل په ورځ د بخرو جواړي وه
ابې [illegible] چا بايلودې چا ګټلې

۳۶۷۰

بدلوې په دنيا دين و ايمان ولې؟ — نه پوهېږې په خپل سودا په زيان ولې؟

همېشه په ځای د شکر شکايت کړې — منکرېږې په عطا د سبحان ولې؟

د ربنلی خدای دې چارې توان دی — په ډېر توان کې خپسر بولې ناتوان ولې؟

مدام اوښکې تويوې د رزق له غمه — د ګوهر په بها پلورې ارزان ولې؟

چې په هر بېګاه سامان د هر سبا کړې — کور و کړ شوې د محشر په سامان ولې؟

هېڅ ګياه له ځايه نه خوځي نم مومي — تر د رزق په طلب من يې جهان ولې؟

چې بخوا تر قضا خپله رضا غواړې — بيهوده په لوټو ولې آسمان ولې؟

په ژوندو مره چې د مرګ له غمه خلاص شې — اسان کار دې کړ په ځان باندې ګران ولې؟

غيرې مينې دې په زړه باندې انبار کړې — په کعبه کې نن بلسې بتان ولې؟

(۱) په "ق" چاپ کې د "وفا" پر ځای "مېوه" لاغلي دي.
(۲) دا بيت او ورپسې څلور نور بيتونه په قلمي نسخو کې نشته.
(۳) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ [illegible] "دې بدانو خو بدي ندي غوښتلي".

نصير احمد (عزيز)
NASEER AHMAD (AZIZ)

زړه د نفس په پیروي د رحمان لار شو ... د خبیث په لاس دې وړکړه قرآن ولې؟
چې یوسف د حبشي په بیها مومي ... د مطلوب په بیها[1] نه سپندې ځان ولې؟

بد په بدو پښېماني کاندې مانه

۳۵۲ ... ۳۶۸۲

ته په خپلو بدو نه شوې[2] پښېمان ولې؟

په نور څه[3] پسې یې خلیه ژاړې ولې؟ ... د چارپای په څېر یې ځایه ناړې ولې؟
چې ړوند مې د ګوي په څوند خوږ یې ... تر و خېږې کوې لوارې لوارې ولې؟
نه داخپل کلام مې ده په داخپل څوند کړه ... تادا لوته تېرې کړې دا رې ولې؟
هغه کار چې دې په نرم ویل کېږي ... بیهوده په بېړته ولې لارې[4] ولې؟
نیک له نیکو بدله بدو مناسب دي ... نیک و بدو بله پر بله نغاړې ولې؟
یو قدم د خدای په لور اېښود نه شې ... تمامي عمر په پراته لارې ولې؟
تل دې طوق د تعلق په غاړه کېښوست[5] ... و کښېنې نه شې د غم طوق له غاړې ولې؟

چې په ورځ د شپې لافې کړې مانه

۳۵۳ ... ۳۶۹۰

په شپه مې له میخ وشم غواړې ولې؟

ته چې خپله بې عقلي هوښیاري[6] بولې ... کاشکي[7] بیا مومې د غوښتو په نرخ شولې
عشق یو داد دی په عاشق باندې[8] له خدایه ... هسې نه دي چې یې پېرې یا یې پلورې
زلیخا غوندې به بله شیدا نه وي ... که د مصر مستورې شي وار ه ټولې[9]

(۱) د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې "طلب" راغلی دی.
(۲) د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې "یې" راغلی دی.
(۳) په قلمي نسخو کې "لوزچا" راغلی دی.
(٤) دا او ورپسې بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته د "خ" په لومړۍ او د "پ" په لومړۍ نسخه کې "لونې لاړې ولې" راغلی دی.
(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "ګرزي" راغلی دی.
(٦) "ق، ک" چاپ: "هوښیار تیا".
(۷) د "خ" دوهمه نسخه: "دریغه".
(۸) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "رب". دوهمه مسره یې په صدري کتابونو کې داسې ده: "هسې نه چې یې یا پېرې یا یې پلورې".
(۹) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "که د مصر مستوراتې شې راټولې".
د "خ" لومړۍ نسخه: "که د مصر مستورې کړې وار ه تولې"
په مصوره نسخه کې د "وار ه" پر ځای "ځېله" راغلی دی.

هغه بحر څه په بحر حساب نه دی — چې اوبه یې خاك آلوده وي ختولې[1]
له هغو سره به څه فکر د یار وي — چې په غم وي د کاله یاد کولې
عاشقي د خپل نغري په غاړه نه شي — څو په یار پسې وانخلې ځلې ځولې[2]
د وصال په نعمتونو غره مه شه — جدائي یې خلقي کړې په زړه زمولې
د رحمان شعر گوهر دی څه یې تولې — در گوهر په تله نه دی چا تللې

۳۵۴ — ۳۷۹۸

هسې ډوب یم ستا د غم په دریاب تللې — چې ماهي غوندې یې تېغ یم کوتلې
ما لیدلي چې لیندۍ دې وه راکښلې — تا د ورو ځو په لیندو ولم زه وېشتلې[3]
په چل ځان مې تر هغو پورې نظر و — څو مې ته په نظر نه وې کېوتلې
اوس مې ستا په مینه ځان وجهان هېر شو — د سېلاب په مخ کې لار لم لکه خلې
عاشقي به یې د باد په مخ بنه کا — که چا ځای وي کوه قاف غوندې نیولې[4]
چې د عشق له بحره روغ سلامت وځي — زه یې نن گڼم له موره زېږېدلې
هر چې واوړي په بلا د تورو زلفو — هغه بیا تر کوره[5] نه دی ورغلې
چې له غرونه پرېوتلی وي بیا پاڅي — پاڅېدې نه شي له زړونو پرېوتلې
چې د اوو لمبو وهلي وي بیا روغ شي — نه رغېږي د آزار[6] لمبو وهلې
زه رحمان یې هر دم وینم ستا په غم کې — که خپل مرگ په سترگو نه دی چا لیدلی

۳۵۵ — ۳۸۰۸

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه : "یا ختولې".
(۲) د "ب" لومړۍ نسخه : "ځلې ځولې" "ب ب" چاپ : "ځلې زولې" "ق ک" چاپ : "زالې زولې".
"ق" چاپ : "زلې زولې" د "خ" لومړۍ نسخه : "زمرې ژولې" او د "خ" دوهمه نسخه : "زالې ژولې".
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته په "ب" چاپ او د "ب ب" چاپ کې "راکښلې" او په "ق ک" چاپ کې "وژلې" راغلی دی.
(٤) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٥) د "ب ب" چاپ کې "تر موره" راغلی دی.
(٦) په چاپي دیوانونو کې "هجران" راغلی دی.

هر چې کښت یې په باران او په سیلاب وي — دهغو عمر به واره په عذاب وي [1]

هغه ملک چې پکې سیند او [2] وربار نه وي — دهقانان به یې همه خانه خراب وي

و آسمان ته به یې سترګې وي ختلي [3] — د باران له انتظاره به نې خواب وي

لکه خوک چې کروي په کرهې کې [4] — دهغه ماهي په طور به کباب وي

لا به کله بارانونه پرې نزول شي — چې نخیل و زراعت به یې سیراب وي [5]

همیشه له خدایه خواست داوبو کاندي — کره یې چېرې خواست په عمر مستجاب وي [6]

لکه تل چې یې په زوږ داوبو غوږ وي [7] — هومره غوږ یې نه په چنګ نه په رباب وي

که همه عمر باران وربانده وروي — لا ګرمي یې په صورت کې د آفتاب وي [8]

د ګرمې او د خشکۍ له دهشته — د آفتاب په خبر ګومان یې په مهتاب وي [9]

داوبو له ډېرې ډېرې قیمتي نه — لړګي لوښي یې مردار په منجلاب [10] وي

فرق د پاکو د ناپاکو اوبو نه کا — که اوبه یې ګډې وډې په پیشاب وي

داوبو په ویش چې وشي انصاف نه کا [11] — که پړ لاس یې ورقو نه د کتاب وي

---

(۱) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته.

(۲) "ق، ک" چاپ: "سیلاب". د "خ" په لومړی نسخه کې دا مسرۍ داسې ده: "هغه ملک چې یې په سیند په نه وربار نه وي".

(۳) د "خ" دوهمه نسخه: "و آسمان وته یې سترګې وي ختلي".

(۴) "ب" چاپ: "لکه خوک چې کروي یې په کمرهې کې".
"ب" پ چاپ او "ق، ک" چاپ: "لکه خوک چې تلدوي په کمرهه کې".
د "خ" لومړی نسخه: "لکه خوک چې تلدوي په کمتوري کې".
دوهمه مسرۍ یې په دوهمه نسخه کې داسې ده: "دهغو په طور به درست سره کباب وي".
"ق، ک" چاپ کې دا مسرۍ داسې ده: "دهغې ماهي په شان به کباب وي".

(۵) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "چې یې نخل و زراعت به یې سیراب وي".

(۶) د "خ" لومړی نسخه: "که یې کاندي خواست به چېرې مستجاب وي".

(۷) د "خ" لومړی نسخه: "لکه تل چې یې په غږ داوبو غوږ وي".
"ق، ک" او "ق" چاپ: "لکه تل چې یې په زوږ داوبو غږ وي".

(۸) د "خ" دوهمه نسخه: "له ګرمه یې په صورت کې هسې تاب وي".

(۹) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته. په "ق، ک" چاپ کې داسې دی: "د ګرمه او د خشکۍ له ډېره دهشته په آفتاب باندې ګومان یې د مهتاب وي".

(۱۰) قلمي نسخه: "لړګي لوښي یې مردار د منجلاب وي".
د "خ" دوهمه نسخه: "لوښي کوډي یې واره منجلاب وي".
د "ب" لومړی نسخه: "لوښي لړګي یې مردار د منجلاب وي".

(۱۱) د "ب" لومړی نسخه: "انصاف پرېږدي".

داوبو په غلا چې ورشي نه جار وزي — که ساکن دخانقاه او دمحراب وي (۱)
داوبو ثواب یې نه کیږي له لاسه — که په کوټ اوبه یې عین دحج ثواب وي
دباران امید یې نه کیږي له خدایه — که یې شپه او ورځ په سر باندې سحاب وي (۲)
پلیتي به یې له تنه څه رنګ درومي (۳) — چې اوبه یې نایابې تر ګلاب وي
چې دنوکو اچولو په ځای ور شي — تر تنخه یې ځان بتر کاکه عقاب وي (٤)
هیڅ یې مه پوښته له غسله او دسه — چې یو څاڅکې یې په ګوهر غوندې نایاب وي
په سبب د دېره دېره تیممه — همیشه یې سپېره ان بېره په تراب وي (۵)
دللمي سړي (٦) په مخ کې وي آب چېرې — هغه خلق چې یې آب وي خوني آب وي
په آبي کې لا هم وي خونه ویرانه — هغه کلي چې دبل کلي پایاب وي
یو به نسي هیڅ بړی له سړي (۷) ورځه — پایاب سړی که زوی دار باب وي
سم حساب له عزیزانو کله مومي — تل تر تله یې دبل لاندې (۸) حساب وي
نه طاقت دبدویل لري نه صبر — لکه مار په ملا وهلی پېچ وتاب وي (۹)
نه یې مرګ نه یې فتنه له لاسه کیږي — لاس تړلی دخپل شرم په طناب وي
چې یې زیست روزګار په کار وي تحمل کا (۱۰) — همیشه یې له بدیه اجتناب وي

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه : "که یو کوټ اوبه عین دحج ثواب وي".
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) "ق"، او "ق،ک" چاپ : "دور شي".
(٤) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "خ" په قلمي نسخو کې نشته.
(۵) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، لومړی مسری یې په "ق،ک" چاپ کې داسې دی : "په سبب ددې چې دېر دېر تیمم کړي".
د "خ" په دوهمه نسخه کې د "سپېره ان بېره" پر ځای "سپین ان بېره" راغلی دی.
(٦) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته په "ق" او "ق،ک" چاپ کې د "سړي" پر ځای "تحکي" راغلی دی د "خ" په لومړۍ نسخه کې یې دوهمه مسری داسې ده : "هغه خلك چې دبل کلي پایاب وي".
(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، دوهمه مسری یې په "پ" چاپ کې داسې ده : "د پایاب سړی که زوی هم دار باب وي".
"ق،ک" چاپ : "پایاب سړی که زوی هم دار باب وي".
(۸) قلمي نسخې : "تر بل لاندې".
(۹) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته "ق،ک" چاپ کې داسې دی : "نه طاقت یې دګنځلو وي نه صبر لکه مار په ملا وهلی پېچ وتاب وي".
نورې قلمي نسخې : "نه طاقت در د بدل لري نه صبر لکه مار په ملا وهلی په پېچ وتاب وي".
(۱۰) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې یې لومړی مسری داسې ده : "چې یې زیست یا یې روزګار په تحمل شي".

کړیوه بده وینا لي تر خولې ووزي — هغه دم یي په خپل ځان باندې عتاب وي (۱)
یو هغه سړی تېرې ور باندې کاندي — چې په عمر نه د سوال نه د ځواب وي (۲)
همسایه وي چرېکار د پښتانه شي — او په اصل یا موچي وي یا قصاب وي (۳)
ملایم وېل اثر په هغو څه کا (۴) — چې په زړه کې یي نه شرم نه حجاب وي
لکه دیو چې د سړي په صورت (۵) شي — ته گومان کړې چې سړی ولي دی دواب وي
په هیڅ رنگ له بده خویه نه جار وزي — هسې مست د جاهلۍ په شراب وي
چې اشراف د هسې خرسو په لاس کېوزي — نو خلاصی به یي له خونه په کوم باب وي (۶)
هسې رزق دې خدای چا لره ور نه کا — که به رزق چا په هسې رنگ اسباب وي (۷)
تر دا هسې زمیندار هغه سنه دی — چې نوکر د یوه تور کافر کلاب وي (۸)
نوکري د یوه سپي ور له سنه ده — هغه پر بد ده چې لا نوم یي د نواب وي (۹)

۳۵۶ — د خشکۍ له څمه قوم د ملاح خوښ دې — ۳۷۴۵
که رفتن یي له ځانه په شتاب وي

تل دې ستا د خواب آلود سترگو خواب وي — چې فتنې په خوب او دشي دېر ثواب وي
لکه مې چې په مینا کې تجلی کا — نور د حسن په حجاب کې بې حجاب وي

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته. دوهم مسرۍ یي د "پ پ" چاپ کې داسې ده: "هم هغه لي په خپل ځان باندې عتاب وي".
(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته لومړی مسرۍ یي په نورو نسخو کې داسې ده: "یو هغه سړی تېرې ور باندې و کا".
(۳) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، "پ" چاپ: "همسایه یې چونیکار د پښتانه شي — او په اصل به موچي یا به قصاب وي".
"پ پ" چاپ: "همسایه او چلیکار یي پښتانه شي — او په اصل به موچي یا به قصاب وي".
"ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "همسایه یي چرېکار او پښتانه شي — او په اصل به موچي یا به قصاب وي".
(۴) چاپي دیوانونه: "ملایم وېل اثر ور باندې نه کا".
(۵) د "خ" د دوهمې نسخې کې د "صورت" پر ځای "صفت" راغلی دی.
(۶) "ق، ک" چاپ: "چې اشراف د هسې خرسو په لاس کېوزي — نو خلاصی به یي له خونه په کوم باب وي".
د "پ" لومړۍ نسخه: "چې اشراف د هسې حریصو په میان کېوزي — تر و خلاصی به یي له خونه په کوم باب وي".
د "خ" لومړۍ نسخه: "چې شراب د اهسې حرصو مینا گوري — تر و خلاصی به له هغو نه په کوم باب وي".
د "خ" دوهمه نسخه: "چې د اهسې اشراف د حرصو په میان کېوزي — تر و خلاصی له هغو نه لي په کوم باب وي".
(۷) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. دوهم مسرۍ یي د "پ پ" چاپ کې داسې ده: "چې د چا رزق په هسې رنگ سیلاب وي".
(۸) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۹) دا بیت د "خ" په دواړو نسخو کې نشته.

ته چې ما ته لولوې پښتې د صبر — زه هم ډېر په دا راضي یم که مې تاب وي
نه په دا سبب په ترکو پسې ژاړم — چې ژړا د عاشقانو د مخ آب وي
که نادان وي هم دا هومره خو پوهېږي — چې څوک نه ژاړي په یار پسې کذاب وي
د عاشق سترګې په دا سبب شوې پاکې — چې مدام د جوې په سر لکه حباب وي
له خالي خونې به څه وړېږي چې څه نه وي — که ختلي د حباب په سر سیلاب وي(۱)
هم په دا لې د نغمې اثر پیدا شو — چې په تشه ګېډه صبح د رباب وي
د حریص(۲) له خپله نقده بهره نشته — لکه مار د ګنج د پاسه پېچ و تاب وي
کاملان تعلقات د دنیا نه کا — لکه پاڼې د خزان پښه په رکاب وي
غفلت هېڅ عجایب نه دی په دنیا کې — ساکنان د خرابات واړه خراب وي(۳)

۳۵۷ — ۳۷۵۷

چې سبا دي غواړي بېشماره بې حسابه
په رحمٰن به د غمونو څه حساب وي

د هغو چې وبله هر و محبت وي — په هستۍ او په نیستۍ کې فراغت وي
عاشقي ده تر هغه مقام پورې ته — چې د چا مقام په رنځ یا په راحت وي
څه داور په لمبو سوي څه په وارو — واړه عشق دی که هجران وي که وصلت وي
چې مطلب و مدعا د سړي خدای شي — ناست ولاړ یې همه واړه عبادت وي
که په دوه قدمه و مرې یم حاجي شي — چا چې کړې د مکې په لوري نیت وي
هغه څوک چې پېروي د اولیاء کا — دا لې واړه په معنی کې ولایت وي
خاوري نه په سړي واړه برابر شي — هغه دم چې له جهانه په رحلت وي
که د زړو په تخت کېني غزا شوه — و فهیم و ته کم فهم بې(۴) عزت وي

---

(۱) د "خ" لومړۍ او دوهمې نسخې کې "په کوه سیلاب وي" راغلي دي.
(۲) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "د رقیب" راغلي دي.
(۳) چاپي دیوانونه: "ساکنان د دهر کل واړه خراب وي".
(۴) د "خ" په دوهمه نسخه کې "بې فهمه" راغلي دي.

د دانا و نادان ترمیان یو حد دی
هوښیاري تر حد پورته حماقت وي

تجاوز له خپله حده په کار نه دی
د هر چا په خپله خونه کې حرمت وي

۳۵۸ — ۳۷۶۸

نور عالم که د دنیا غمونه کاندي
لره رحمان سره دي غم د آخرت وي

د هغې بنا چې نوم محنت آباد وي
تر و خاطر به یکې څرنګ د چا ښاد وي

په خواره او په خښو کله وښې نیسي(1)
هر مرغ چې په قفس کې د صیاد وي

د رنځور په خوله کې کله مزه کاندي
که سل رنګه نعمتونه یې معتاد وي

پای بسته وله هرچېري زندان دی
هغه هر چېرې آزاد دی چې آزاد وي

عشق تغییر و تبدیل نه لري یکرنګ دی
د آشنا له لاسه داد وي که بېداد وي

د ښادۍ نښه هغه وي یا په جهان کې(2)
چې په یار پسې یې بیخه یې بنیاد وي

بودني هغه بالښي په معنی کې(3)
چې د تن په نابودۍ یې اعتقاد وي

نقصاني وي د دنیا عمارتونه
که تري لاندې یې سل ستونه د فولاد وي

زندګي که څوک پوهېږي حضور دم دی
آینده و رفته کله د چا یاد وي

د دنیا الکه سیلاب هسې بهېږي
نه یې چا څخه استوګه نه استاد وي

وهغو ته چې خدای خود بخپله وښود
څه حاجت یې په ښوونه د استاد وي(4)

چې کامله اراده لري په زړه کې
د مرشد له اشارته یې ارشاد وي(5)

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه: "په خواره او به خښه کله غوښه نیسي".
د "خ" دوهمه نسخه: "په خواره په خښه به کله وینه نیسي".
(۲) د "ب" لومړی نسخه: "بیخي و بنیادي هغه دی په یاره کې".
د "خ" لومړی نسخه: "بنیادي بیخي هغه دی په دنیا کې".
د "خ" دوهمه نسخه: "د بنیادي بیخ هغه دی په یاره کې".
(۳) د "ب" په لومړی نسخه کې "په دنیا کې" راغلی دی.
(٤) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته، لومړی مسری یې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "وهغو ته چې خدای بخپله وښود".
(٥) دا بیت هم د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

۳۵۹ — ۳۷۸۱

د بې یارانو ځنې بل شوق هیڅ ګرم نه دی
که رحمان له جدایي نه په فریاد وي

په دنیا کې که هر څو وبله پیوند وي — پس له مرګه به یې درست صورت بند بند وي
زه به وخورم په دا باب هزار قسمه — که باور دې په قسم او په سوګند وي
یا به ورلاندې تر تادره وي یا د وه ستو — که دې ورور که دې عزیز که دې فرزند وي
زمانه به یې تر پښو لاندې پایمال کا — که په قطع تر آسمانه سربلند وي
هم یې هسې پیمانه ګڼه په خاورو — که دې دکه خوله(۱) تمام عمر په قند وي
هر چې کاندي آزادي په دا جهان کې — پس له مرګه به همه واره په بند وي
هر چې غاړه یې وحق ته اېښې نه وي — همېشه به یې په غاړه کې کمند وي
دا چې نه وتا ته وایم کړي یې خدای کا — په آیاتو په حدیث کې به څرګند وي
ته چې نه کوې باور په آیتونو — تر و زما وېل به څه د لره پند وي
ناپسند به د منکر په انکار نه شي — هر کلام چې دلپذیر او دلپسند وي

۳۶۰ — ۳۷۹۲

خدایه ګنج د قناعت و رحمان ورکړې(۲)
چې بې ملکه بې حشمته دولتمند وي(۳)

که د درستې دنیا غم مې په سر بار وي — واړه سهل دي که یار راسره یار وي
هزار وار به یې دیار تر نامه ځار کړم — که په قطع مې دا یو صورت هزار وي
هغه نه(۴) دی په شمار د عاشقانو — چې د خپل تن تر داغو تري په شمار وي
مشکل کار د عاشقي چې خدای پیدا کړ — کله بل په جهان هسې مشکل کار وي(۵)

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې "که یې دکه خوله" راغلی دی.
(۲) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "خدایه ګنج د قناعت رحمان ته ورکړې".
(۳) قلمي نسخې: "چې بې ملکه بې حشمه دولتمند وي"
(۴) "ب، پ" چاپ کې "هغه کس" راغلی دی.
(۵) "ق، ک" چاپ: "بل به کله په جهان داهسې کار وي".

خوټې او ښکې په مخ لاړې روغې نه کا | دهغو معشوقو ته کله لاره وي
ته چې ګل زما دیار په شکل(۱) غواړې | کله دا رنګه ګلونه په ګلزار وي
نه موندله شي په بازار کې نه په ښهر | هغه رخت چې دخوبانو په بازار وي
زه دیار په څېر مخ نه وینم په سترګو(۲) | که په هره خوا خوبان هزار هزار وي
دعاشق نظر په ډېرو په لږ نه وي | که دیدن دیار په لږ که په بسیار وي(۳)
شته هزار هزار خوبان ولې سوګند دی | که زما دیار په څېر به دچا یار وي(۴)

۳۶۱ — ۳۸۰۳

مرګ له هیچا سره وار نه کا (ردیف کاماخ)
یار به ځان تر یار روم بې کا که په وار وي(۵)

له هغو سره به څه فکر دیار وي | چې یاران یې په هر لور هزار هزار وي
په آشنا پسې ویشتلي هم هغه وي | چې له نورې آشنائي یې استغفار وي
صبوري او قراري دې په ما زوم شي(۶) | که یې تا بې مې یا صبر یا قرار وي
هر ژوندون دیار په وصل ښایسته وي(۷) | بې مینه که ژوندون وي څه په کار وي
په یارۍ کې آزار نشته خدای دې نه کا | که ذره به زما زړه له تا آزار وي(۸)
وهغو ته عاشق نه ویلی بویه | چې یې فکر یا دسر یا ددستار وي(۹)
که دیار له لاسه اور په یار بلیږي(۱۰) | هغه اور وعاشقانو ته ګلزار وي

---

(۱) "ق، ک" چاپ کې "رنګه"، د "خ" په دوهم نسخه کې "حسن"، په "ق" چاپ، د "پ" په لومړی نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کې "جنس" راغلی دی.
(۲) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "زه دیار په څېر بل نه وینم په سترګو". او د "پ" په لومړی نسخه کې د "دبلا مخ" راغلی دی.
(۳) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(۴) په قلمي نسخو کې "په بل دیار" او "په هیڅ دیار" راغلی دی.
(۵) د "پ" چاپ او د "پ سپ" چاپ: "که یې وار وي" او "ق، ک" چاپ کې "که یې یار وي" راغلی دی.
(۶) د "پ" په لومړی نسخه کې "نه وي"، د "خ" په لومړی نسخه او نیمګړي نسخه او "ق، ک" چاپ کې "نه وي" او "ق" چاپ کې "ګم" راغلی دی.
(۷) د "خ" لومړی نسخه: "لږ ژوندون دیار په وصل کې ښادي ده".
(۸) د "خ" لومړی نسخه: "که هزار ځله مې زړه له تا آزار وي".
(۹) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(۱۰) د "پ" چاپ، د "خ" په دوهم نسخه او نیمګړي نسخه کې "په ما" او په "ق، ک" چاپ کې "په چا" راغلی دی.

خاې يې اوړ شي چې زنار يې شي په غاړه — ولې نه چې ستا د زلفو زنار دار وي (۱)
ستا د زلفو زنار دار که په اور سوځي — دغه اور به هم همه ستا د رخسار وي (۲)

غم ځوره به ليلى غوندې رسوا شي
چې رحمان غوندې مجنون يې په ديار وي (۳)

۳۶۲ — ۳۸۱۳

که د ستا د خاطر مينه په اغيار وي — ستا پاره دې اغيار هم زما يار وي
چې سړې په يوه مخ باندې مين شي — له يوه مخه يې سل مخه په کار وي
هر چې کاندې نوکري د بادشاهانو — خواه نا خواه به د دربانو منت بار وي
زه به ستا له رقيبانو څه ماندکړم — داد ستوري چې له ګله سره خار وي
خوش خاره يې څنبن نه شي په تهمت کې — ګله وي چې د بلبل و ګل ته لار وي
سجاده به د ساقي د لارې فرش کا — هر صوفي چې د سرو سترګو (۴) خريدار وي
په جذبه د عاشقى به ليونى شي — که په قطع افلاطون غوندې هوښيار وي

په رحمان باندې به هيڅ ملامت نه کا
هر سړى چې ستا له حسنه خبردار وي (۵)

۳۶۳ — ۳۸۲۱

د وصال په هوا والوتې مرغه شوې — د هجران په اور کې درست صورت اوبه شوې (۶)
نه وند کا له هوس، نه مري له غمه — سړې سخت دې ګنه يواځې پرې وشوې (۷)
زړه که چاودې هم له دې غمه به وچاود (۸) — چې د يار د بېلتانه خوارې په زړه شوې

---

(۱) دا بيت او وروستى بيت د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې نشته
(۲) چاپي ديوانونه: "دغه اور به هم رښتيا ستا د رخسار وي".
(۳) د "ب" په لومړي نسخه کې "دربار" راغلى دى، او دا مسرى د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې رحمان غوندې ځوانان يې په ديار وي".
(۴) د "خ" په دوهمه نسخه کې "د سرو شونډو" راغلى دى.
(۵) "ب" چاپ او "پ" چاپ: "هر سړى چې ستا له مخه خبردار وي".
"ق" چاپ او "ق ک" چاپ: "هغه شوک چې ستا له مخه خبردار وي".
(۶) دا غزل د "ب" په لومړي نسخه کې نشته، د "خ" په دوهمه نسخه کې د "صورت" پر ځاى "سر" راغلى دى.
(۷) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. لومړى مسرى يې په "ق" چاپ کې داسې ده: "نه نر کاله. هوس مري له ډېره غمه".
او په "ق ک" چاپ کې داسې ده: "نه ورکېږي په هوس نه مري له غمه".
(۸) د "خ" لومړي نسخه: "که د چا زړه له غمه چاودى له دې وچوي".

د رقیب و ناکردو ته چې نظر کړم / د عاشق له آهه ړوند په تورو لیمو شي
هیڅ پوره به دې نیمګړې نه شي خدایه / که بېلتون د دوه یارانو و بله نه شي
چې بېلتون د دوه یارانو و بله کاندي / د هغو خلقو له مرګه وا وریه شي(۱)
خدای رضا له چا هسې تعویذ وکړي / چې لړزه د هغه یار تر غمه سره شي
یو ځل یار په سترګو ولیدي(۲) چې دای / د غه پسه هر چې شولي بیا هاله شي
نوم یې یو ځل زما واخستې په ژبه(۳) / نور مې نوم په دا جهان کې پاتې نه شي
لکه د رست عمر په خوله د رقیب کارګا / دغه هسې یو زمان زما په خوله شي(۴)
زه رحمان په دا خبره(۵) حق حیران یم / نه پوهېږم چې دیان له غمه څه شي؟

٣٦٤

٣٨٣٢

چې په مخ باندې یې د اوښکو یو درم وي / عین د توروله پرهره سره سم وي
که ګرېوان مې د سپوږمۍ د لمر مشرق شي(٦) / زه چې یار په سترګو نه وینم تور تم وي
کږ و وړو څو غونده یې نیښ وهلې نه شي / که په زړه د پاسه پروت د چا لړم وي
دلته سر پورته کول د چا سېری یې / چې پخپله د یار زلفې خم درخم وي
معشوقه چې د عاشق په غم وي غوڅه / د عاشق سترګې دې وځي چې بې غم وي
همه مې د دوو همه موهسې بویه / چې د دوار و زندګي په یوه دم وي(۷)
که د رست جهان خوبي ورباندې راشي / مګر خدای چې خوبي یالخوش خرم وي
بل ستم د بېلتانه د پاسه نشته / که لېدلی چا په سل رنګه ستم وي

(۱) دا بیت په "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته.
(۲) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "ووینم".
(۳) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "خوله نوم یې زما واخستې په ژبه".
مصوره نسخه: "خو چې نوم یې زما واخستې په ژبه".
(٤) دا بیت په "پ" چاپ کې نشته.
(۵) د "خ" قلمي نسخې: "دا معامله".
(٦) د "خ" لومړۍ نسخه: "که ګرېوان مې د سپوږمۍ له نوره غرق شي".
(۷) چاپي دیوانونه: "چې د دوار همدمي په یوه دم وي".

دا قضا خو په قاضي موقوفه نه ده ... خود بخپله یار تر یاره پوري ګرم وي

راحت هر چېري چغولره لازم وي ... چي په درد و په محنت کي مقدم وي

چي خوناب يي د چشمانو مي ناب شي ... پیوسته له د غم جام سره جم وي

هيڅ حاجت د هنر نشته و نصیب[1] ته ... که په اصل خولك عرب وي که عجم وي

هنرمند غواړه طالع له خدایه غواړه ... بي سليمانه په کار نه دي که خاتم وي

د رحمان خندا په اجر د ژړا ده ... تازګي د ګل په قدر د شبنم وي

٣٦٥ ... ٣٨٤٦

همیشه دي زما سر او ستا قدم وي ... تر هغه ساعته پوري څو مي دم وي[2]

ستا له لاسه واړه ما له نافع دي ... که مي زهر بدي[3] په زخم که مرهم وي

زه بي تا هسي ګومان کړم چي سفال دي[4] ... که نسکور مي په لبانو جام د جم وي

نور عالم که د دنیا په سبادي سبا دي ... زما زړه دي مدام سبا د ستا په غم وي[5]

که په زړه باندي مي سل غمونه راشي ... دا ستا غم دي تر همه و مقدم وي[6]

ما دي خداي د ستا له غمه بي غم نه کا ... تر هغه ساعته پوري څو مي دم وي

رحمان ستا په مخ مين دي خدای خبر دي[7] ... که په داکي به هيچېري زيات و کم وي

٣٦٦ ... ٣٨٥٣

---

(۱) په چاپي ديوانونو کي " ورقيب ته " راغلي دي

(۲) دا غزل په "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ، د "پ" په نسخو او د "خ" په لومړي نسخه کي نشته.

(۳) د "پ ا پ" چاپ : " که مي زهر وي ".

(٤) د "ق" چاپ : " زه به بي هسي رنګ ګومان کړم چي سفال دي ".
د رفيع صاحب د شخصي کتابخاني نسخه : " زه په تا پسي ګومان کړم چي بي حال يم ".
د "خ" د دوهمي نسخه : " زه ګومان کړم چي په تا پسي بد حال يم ".
د "خ" مصوره نسخه او د دوهمه نسخه : " زه بي تا هسي ګومان کړم چي هيڅ نشته ".

(٥) د "خ" د دوهمي نسخه : " زما زړه دي مدام خوښ د يار په غم وي ".

(٦) د "خ" د دوهمي نسخه : " دا ستا غم مي تر همه و مقدم وي ".

(٧) د "ق" چاپ " رحمان ستا په مخ مين دي باور وکا که په داکي به هيڅکله زيات و کم وي "
د "خ" مصوره نسخه، د رفيع صاحب د شخصي کتابخاني نسخه او د "خ" دريمه نسخه : " رحمان ستا په مخ مين دي که باور وکړي ".

ته چي ماته والي چي په چاباندي شېدا يې — زه په تا شېدا يم وايه ته چي يار دچا يې[1]

زه به تا په کومه زيرکي شم پېژندلی — چا زده لکه تا زده هومره وايه چي څوک يې

زه چي کېږم ورم عاشقي مي گرانه د ماتي کړه — ته چي لکه وې هم هغه هسې کبريا يې

ځان که ستا په مينه کې فاني کړم څه بد وکړم[2] — ته چي په دا هسې رنگ له آهه بې پروا يې

مرگ مي په تا ولې خدای اختر کړي ونه پوهېږم[3] — څه دي حاصل هم شته که مطلق په مرگ زما يې

څه شو که زه يم انگشت نما په مينه ستا کې — زيات له ما نه خوښ ته د قاضي هم د ملا يې

٣٦٧ ستا د عشق تر توري گړي د رحمان زار شه
دا هم سهل کار دی زما يار که په دا يې ٣٨٦٠

چي پخته شي آشنايي — تر ميان وو زې جدايي

و طالب وته وفا شي — د مطلوب بې وفايي

بادشاهي کاندي بدله — د د بدن په گدايي

خاني پلوري په ورېښو — ميرزايي په ميرزايي[4]

نظر نه کاندي هيچېري — په لوټي په بلا يي

ور ته کفر څرگند بريې — خود بيني او خود رايي

خود رايي په عاشقي کې — له عاشقه نه ښايي

معشوقي که بې وفا دي — عاشقان خوږي ستايي

غوڼي کوي ستر گي رندي وي[5] — د خپل يار په خطايي

---

(١) دا غزل په قلمي نسخو کې نشته.
(٢) "ق" چاپ: "کړه ځان ستا په مينه کې فاني کړم څه به وکړم".
(٣) "پ" "چاپ"، "ق"، "ک" چاپ او قلمي نسخې، "څه دي په مرگ هم شته که مطلق په مرگ نه ما يې".
(٤) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(٥) د "خ" لومړۍ نسخه: "په غوږونو کړه په ستر گو رونده وي"؛
د "خ" دوهمه نسخه: "په غوږو کوڼه په ستر گو روندوي"؛
د "پ" لومړي نسخه: "غوږيې کړ وي ستر گې يې رندې وي"

کړي کړي وي سل علمه — هم ديني هم دنيايي
همه واړه فراموش کا — چې پرې وشي شيدايي
و مطلب ته نه رسيږي — په شيخي په ملايي
اواره ننګ و ناموس کا — په سر واخلي رسوايي
تر ناموسه ور ته به شي — بې ننګي او بېنوايي
هره چار چې په اخلاص وي — نه په روي و ريايي
قبلوي په دوا رو سترګو — هر چې يار پرې فرمايي
نصيحت پرې اثر نه کا — که څوک سل ځله وايي
فايده نلري په عشق کې — د دانا او دانايي[1]
مشکل کار د عاشقي دی — اسان چېرې دی بايي
دغه کار کولی نه شي — هر کم فهم و کجايي
هر کم بخت چې کله مومي — د دلبر و همتايي
خه په کسب مونده نه شي[2] — دغه کار دی عطايي
چې د عشق په لومه کېوزي — نور يې نه وي رهايي
بې ديار له مخه نه شي — د عاشق د لکشايي
د خپل يار په طلب ګرزي — غاړې غړونه پيمايي
له عالمه وي وتلی — لکه صيد صحرايي
تل تر تله يې وطن وي — ګوشه کنج و تنهايي
مدام سوی لوغړن وي — د خپل آه په ګرمايي
هر زمان يې په اور نيسي — د خپل يار تمنايي

(۱) د "خ" لومړی نسخه : " و دانا ته دانايي".
(۲) چاپي ديوانونه : " خه په کسب موقوف نه دی".

نه یې ملک وي نه یې مال وي　　نه یې زهد و پارسایي
په داسې ګرانو چارو　　معشوقې یې ازمایي
په یوه دیدن یې یوسي　　د درست عمر کمایي
هم مې هسې رنګه وژني　　یاره ستا بې وفایي
چې په[1] زړه کرم زړه مې چوي　　دغه ستا خودنمایي
هم خودي لري بې قیاسه　　هم د حسن زیبایي
ضرر نه لري بې نفع　　ستا د مینې سودایي
ستا سودا مال د سود دی　　حق به وایم خدایي
په هېڅ مخ کې لیده نه شي　　ستا د حسن صفایي
لمر به څه له تا سیالي کا　　په دا بې سروپایي
ادراک نه رسي د سروې　　ستا د قد په رعنایي
لکه ستا قد و بالا دی　　نشته هسې بالایي
که د ستا وصال دریا دی　　زه ماهي یم د دریایي
د مګسو زندګي ده　　په دوکان د حلوایي
زه توتا شکرپرست یم　　د استا شونډې متایي

٣٦٨　　دا ګمان په ما مه کړه　　چې بې تا به وپایي　　٣٩٠٥

خوږ ما په ورمېږه ماتول شېر یې　　که په مرګ د رقیب هم هسې شمشېر یې[2]
مرګ خوږ نې چې په خپله را پسې دی　　څه محتاج زما و مرګ و ته ډېر ډېر یې
کبر و خیال خو لا له ځایه ستا عادت دی　　او که نن زما د قصد په بل پېر یې[3]

(١) له مصوري نسخې نه پرته په نورو قلمي نسخو کې "له زړه مې کړم" راغلي دي.
(٢) دا غزل د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(٣) دا بیت په "ق، ک" چاپ کې نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اې شماره عاقلان به شي کم عقله[1] — ته چې دا رنګه په زړه وسکه دلېږې
ستا خوېونه به بخپله ځان څرګند کا — زه به څه وايم چې ته ترې بلا تېرې[2]
له حېرته دې تعریف کولی نه شم — چې په څه رنګ دې ستايم د چاپېرې
ما چې ستا دلبو خونه بیا مونه محظوظ شوم[3] — که سل ځله به تر خوېل ګندېږې

٣٦٩
د جهان سنګلي که واړه د رحمان شي
خدای دې نه کا چې یې ته له دله هېر یې
٣٩١٣

په یوه ذره به وږی یا به موړ یې — په یوه ذره به ګرم یا به سوړ یې[4]
که ځواني له خدایه غواړې ځوانه مړ یې — او که پس له ځوانۍ پاڼې خو به زوړ یې[5]
بندګان خو کله جوړ کله ناجوړ وي — څه خدای نه یې چې به تل تر تله جوړ یې[6]
عاشقي به دې آسمان غوندې څرګند کا — که مجنون غوندې هر څو په صورت وړ یې[7]
بدي واړه په سنه و نیسه رحمانه — چې پای بند دیان په هر یا به مړور یې[8]

٣٧٠
عاشقي بې جذبې چېرې ده رحمانه
ته مجذوب دیان په هر کې لا وړ یې[9]
٣٩١٩

---

(١) د "پ" لومړی نسخه: "کم بخته".
(٢) دا بیت او ورپسې دوه نور بیتونه د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، د "پ" په لومړی نسخه کې د "ته" پر ځای "خو" راغلی دی.
(٣) "پ" چاپ: "محفوظ".
(٤) د "پ پ" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه کې د "یې" پر ځای "وي" راغلی دی او نوموړی غزل په مصوره نسخه کې نشته.
(٥) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٦) "پ" چاپ: "سړی کله خو یا جوړ کله ناجوړ وي — خدای خو نه یې چې به تل تر تله جوړ یې".
د "پ پ" چاپ: "سړی کله خو یا جوړ کله ناجوړ وي — خدای خو نه دی چې به تل تر تله جوړ وي".
(٧) د "پ پ" چاپ: "وي".
(٨) دا بیت په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې نشته.
(٩) "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ: "ته مجذوب دیان په هر کې مړور یې".
د "پ پ" چاپ: "د مجذوب دیان په هر کې مړور وي"
"ق" چاپ: "ته مجذوب دیان په عشق کې کړور یې".
د "خ" لومړی نسخه: "بدی واړه په سنه و نیسه رحمانه — چې پای بند دیان په هر یا په مړور یې".
د "خ" دوهمه نسخه: "عاشقي بې جذبې چېرې دی رحمانه — چې مجذوب دیان په مینه کې مړور یې".

خدای دې و نه غواړه له هرې پرېشانۍ — اې زما د کوره کلي ودانۍ
عاشقي چې ما ګڼله نا داني وه (۱) — اوس خبر شوم له دې خپلې نادانۍ
تر ورځ تېرې اوبه بېرته نه جارو ځي — څه په کار ده پوچ بې ځایه پښېمانۍ
ودانۍ په یوه دم کې شي ویرانه — مرد هغه چې کړي یې د ورانۍ ودانۍ (۲)
لکه باد چې ځان وهي له کوه و دشته — زه په تا پسې کوم سرګردانۍ
داخو زه د ستا له غم سره لوښېږم — څوک له دیوه سره کا پهلوانۍ (۳)
چې په آب و په آتش په خاک و باد وي — څه امید دی په چټې زندګانۍ
ته چې دا رنګه اوبدې او بدې وعدې کړې — کشکې وکړې وما خط د امانۍ
که زه ته په هغه وخت وی چا بد نه کړې — د مجنون او د لیلی قصه خوانۍ
زما ستا و تنداره ته به حیران وو — که څوک وی آدم خان او درخانۍ

۳۷۱

هر چا وته چې وایم حیرانېږي
څه به وایم د ښایست له حیرانۍ

۳۹۳۰

په ځوانۍ کې بد دماغه بد ګمان یې — چې پیر یې دره باندې در شې بیا ناتوان یې (۴)
که په دادې زړه سنه کېږي داخو نشته — چې به تل تر تله ځوان وې هم به ځوان یې (۵)
چې هرګز دې په لاس نه دي کبوتونې — بېهوده د هغو چاوو په ارمان یې
چې بې خدایه زړه ترې په نور څه پورې — هم په خدای حسې باور کړه چې نادان یې (۶)
پښېماني تر پښېمانۍ لا ښخوا بویه — نه هغه چې بیا په تېر ساعت پښېمان یې (۷)

---

(۱). په قلمي نسخو کې "دانایي" راغلی ده او د "پ پ" چاپ کې د "ګنبد" پر ځای "کوله" راغلی ده.
(۲) قلمي نسخې: "مرد هغه دی چې ودانې که ورانۍ".
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "لوښېږم" پر ځای "نخښېږم" راغلی دی.
(٤) په قلمي نسخو کې "درشي ناتوان یې" راغلی دی.
(۵) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "چې به هم تر ډېره ځوي هم به ځوان یې".
(٦) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۷) دا بیت او ورپسې اووه بیتونه د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

هسې رنګ دې وهغه جهان ته شا کړه — ګویا تل به مستقیم په دا جهان یې
هومره سر دې وخپل خدای وته ټیټ نه دی — لکه ټیټ په لوره دخان ودسلطان یې
یوه شپه په طاعت نه شې رڼولې — هره شپه په مال وملک باندې[1] پاسبان یې
په تسبیح دې تانده ژبه وچ لرګی شي — پوچ ګویې لره بلبل غوندې ګویان یې
ولمانځه ته چې ملا خېږې هاله پاڅې — په قلبه پسې لا نیمې شپې روان یې
او دا سر لره کوزه اخستی نه شې — چې په لوا و په لوړو ورشې پهلوان یې[2]
دهلک په څېر لاس اچوې واوره ته — نه خبر په خپل بهبود نه په نقصان یې
پښې سترګې لکه ستور په ګاڼه ګرځې — که پر پوزې وکوهي ته هم دوان یې[3]

چې وېل ته نصیحت کا ځان یې هېر وي
نور څوک نه دی هغه ته عبدالرحمن یې

٣٧٢ — ٣٩٤٤

زه د ستا له غمه ژاړم واره وینې[4] — واره وینې، واره وینې، واره وینې
خو مې وینې چې په تش کاته دې مړمه[5] — لا خنجر په کاڼي مه بې دل سنګینې
هر زمان مې په حضور د سترګو ورځې — لا یقین دې د زړه نه شي بې یقینې
عالم ستا په مینه ژوی نه پوهېږم — زه په څه سبب وژلی یم ستا مینې
د پر عالم به نوي[6] رنګ کا معلومېږي — تا چې هسې جامې واغوستې رنګینې
پښې یې نه وي چې و بله خوا ته درومي — هسې سکنې په غمزه د عاشق سینې[7]
که صورت مې پر بله پوري معلومېږي — زړه مې ستا له غمه چاود دی نازنینې[8]

---

(١) په چاپي دیوانونو کې "پسې" راغلی دی.
(٢) د "خ" دوهمه نسخه: "چې د لو په لوړې ورشې پهلوان یې".
(٣) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٤) د "خ" لومړی نسخه: "زه دیار په غم کې ژاړم واره وینې"
(٥) د "خ" په لومړي او د "پ" په لومړی نسخه کې "مړیم" راغلی دی.
(٦) د "خ" په لومړي، دوهمه نسخه او "ق، ک" چاپ کې "نمړي" راغلي دي.
(٧) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٨) دا بیت د "پ" په لومړی نسخه کې نشته.

څغه څوک دي چې ترتا به ښه‌ترين وي — اې تر واړو ښه‌ر ويا نو ښه‌تر يې (۱)

۳۷۳ — ۳۹۵۳

چې دې زلفې د رحمان په زړه وريځ کړې (۲)

تر بنو يې څکه شاڅې او به سپينې

ورک شه ورک شه بدکردار او بد سړی — که دې ورور که دې عزيز وي که پردی

تر هغه لا سپکو کان بېګانه ښه دي — چې بدکار شي د چا زوی او يا لمسی (۳)

لړګي لوښې همه واړه پرې مردار وي — بدکردار دی سور لنبه يا وړې سپې (۴)

هغه خلق همه واړه لېوني کا (۵) — چې په کلي کې يو سپی شي لېونی

بل علاج د لېونيو سپيو نشته — بې له مرګه چې ترې ډک کاندي کوهی (۶)

حرام خورد مخنث په حساب دي — که په توره يا په تېغ وي مړه نې

مړني ويلي بويه وهغه ته — چې بې وجه آزار نه کاندي يو شي (۷)

ديګ يې اېښي په ديګدان روږې تر تېغ و — چې يې سوړ په آه سړد نه شي نغری (۸)

هسې فيض يې وهر چا وته رسېږي — چې بالله شي د خپل وخت حاتم طی

۳۷۴ — ۳۹۶۳

اې رحمانه چې بدفهم بدکردار شي

راته وايه سپی ښه‌تر دی که سړی

---

(۱) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۲) "ق، ک" چاپ : "چې دې زلفې د رحمان په زړګي وريځ کړي".
(۳) د "پ" لومړي نسخه : "چې بدکردار شي د چا زوی او يا لمسی". "ق" چاپ ، "ق، ک" چاپ او د "خ" لومړي نسخه : "چې بدکار شي د چا زوی وي چا لمسی".
د "خ" دوهمه نسخه : "چې بدکار شي د چا زويه يا لمسی".
(٤) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته. د "پ" لومړي نسخه : "لوښي لړګي همه واړه مردار شي — بدکردار که سور لنبه يا وړې سپی".
"ق" چاپ : "ګوښي ګو ښي پرې همه واړه مردار دي — بدکردار سور لنبه او وړې سپې".
د "خ" دوهمه نسخه : "لوښي کودري همه واړه مردار که — بدکردار لکه سوځلند وړي سپې".
مصوره نسخه : "بدکردار دي لکه وړې سپې".
(٥) د "خ" لومړي نسخه : "هغه خلک همه واړه پرې مردار شي".
(٦) د "پ" لومړي او د "خ" لومړي نسخه : "بې له مرګه چې پرې ډک کړي يو کوهی". د "خ" دوهمه او مصوره نسخه : "بې له مرګه چې پرې ډک شي يو کوهی".
(۷) "ق" چاپ : "چې بې وجه آزار نه کاندي سړی".
نور چاپي ديوانونه : "چې بې وجه آزار نه کا هيڅ سړی".
(۸) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته ، په "پ" چاپ کې دوهم مسری داسې دی : "چې يې سوړ په آه تېغ نه شي نغری".
د "خ" لومړي نسخه کې يې لومړی مسری داسې دی : "ديګ يې اېښي پر ديګدان اور ترې لاندې".

کله به دې غمه دم د چا ختی — نه به مړوم ستا په غم کې لړغونی (۱)

نه مې هسې رنګ په تورو زلفو بایلود — لکه ورک په توره شپه کا څوک کالی

په یوه ساعت مې رد هم مې قبول کا — نه پوهېږم چې یې خپل یم که پردی

په یوه لاس یې مرهم په بل خنجر وي — نه په مړو کې حساب یم نه ژوندی (۲)

که په مرګ د عاشقانو دې رضا وي — خدای دې ما کا ترحمه واړه رومبی

خون بها مې د ستي په مثل نشته — ما پخپله قبول کړې دې خپل سوی (۳)

وکوم دم ته به ادراک د پارو رسي — هر وښته یې د کاکل شو منګری (٤)

څوک دې چې غم زمانه دې ور او ښکو نه خوري — کم به نه کا په خوړدن سره نه دی

د هجران په توره شپه کې نه وېرېږم — چې یې نه وینم د وصل سپین سپوږمی

دیار غم لکه مزری را باندې راشي — خدای دې پښې په هېڅ نه کاندي مزری

چې پرې غم غلطومه د شپې پاڅم — کله مې په شونډو وکېږد دم کله نی

ګاه کتاب کښې رباب په لاس را واخلم — باري دا دې په هېڅ رنګ نه کا کمی

همسایه مې واړه وواته له خوبه — که په سل کوتو دننه کړم ځګېږي

که عاشق تر معشوقې پورې یو سي وي — خدای د هجر په تېغ مړ وژنه یوسې

نه رحمان دیان په غم کې هسې ډوب یم
چې هېڅ نه وینم په سترګو مګر دی

۳۷۵ — ۳۹۷۸

چې دار و درد و غم دې پڅغه می — ساقي راکړه یو دوه جام پیاله

می د خپلو لبو را نه د انګورو — چې اول یې نوشیدن وي پسې قی

---

(۱) په "ب" چاپ او "پ پ" چاپ کی: "نه به مړومه په عشق کې لړغونی".
"ق" او "ق، ک" چاپ: "نه به مړومه په غم کی لړغونی". د "خ" لومړی او دوهم نسخه: "نه به مړوم په هجران کی لړغونی".

(۲) دا بیت په "ق، ک" چاپ او د "خ" په دوهم نسخه کی نشته.

(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته.

(٤) دا بیت په چاپی دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته.

په هر تیغ کې چې آب نه وي د شرابو — ثوك د غم په غلیم نه موميي بري [1]
جام د میو چې غم خوار د کل جهان شو — زه به اوسم [2] په دا غم کې تابکې
راشه یو ځل مې هسې مست خراب کړه — چې خبر نه شم [3] له حاله د هیڅ شي
بیخودي هسې پناه ده زوروره — چې له هره غمه خلاص کاندي سړي
زه هغه تحصیل تمام کړم په عشق کې — چې یې روغ وګړي بولي لیوني

٣٧٦ — ٣٩٨٦

رحمان سوله له رقیب سره پیدا کړه
آشنا سنه دی البته خوږ ونکی سي

د بري خولې زما په یاد شکرخوري شوې — بیا زما [4] په زمانه خاوري ایرې شوې
یوه بخره خدای هر چا له ورکړې — د چا بخره خاموشي د چا ناري شوې [5]
د چند نو ونې وسولېدې لاړې — هزار څانګې د شمشادو په اړې شوې
په هغو ځمکو چې روغې پرې مانې وې [6] — د ایام په ګردشونو هدیرې شوې
په دنیا کې چې بنیاد د آشنایي کا — د هجران توري هغو له تیرې شوې
د افلاك چې خدای پیدا کړي دا یې خوی دی — چې وچا وته دعا چا ته شیرې شوې

٣٧٧ — ٣٩٩٣

د دنیا د محلونو خښتې واړه [7]
و رحمان ته د سرونو منارې شوې

---

(۱) د "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "څوك له غمه په غلیم موميي بري".
(۲) په "ق، ک" چاپ کې "سوځم" راغلی دی.
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. په نورو قلمي نسخو کې د "نه شم" پر ځای "نه یم" راغلی دی.
(٤) د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "زموږ" راغلی دی.
(۵) دا بیت د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو. په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې نشته.
(٦) قلمي نسخې: "په هغو ځمکو چې روغې وې مانې".
(۷) د "خ" لومړۍ نسخه: "د دنیا د محلونو خښتې واړه —
و رحمان ته د سرونو کنګرې شوې"

د "خ" دوهمه نسخه: "د رحمان د محلونو خښتې واړه —
و عالم ته د سرونو منارې شوې"

بوصل تو ما را کجا ہاتھ ہے — کہ وصل تو خیلی بڑی بات ہے
بگوی تو گفتم کہ مسکن کنم — ولی کی مرا این درجات ہے
خم زلف تو گوشۂ ابروان — دلم را عجائب مقامات ہے
مکن پیش من وصف خورشید و ماہ(1) — کہ از حسنت این کم علامات ہے
ہمی دادی دشنام و گالی مرا(2) — بسویم ہمین از تو سوغات ہے
نگاہت نہ امروز خوئم بر بخت — کہ دایم ترا ہمچو عادات ہے
ز آغوش رحمان مرو بار قیب — کہ این سفلہ بدخوی و بدذات ہے(3)

۳۷۸ — ٤٠٠٠

# مخمس

سغه یار چې ښایسته دی تر آفتابه — مخ به کله را ښکاره کا له نقابه(4)
بیلتانه په زړه زهیر کړم بې حسابه — یو سبب و کړې مسبب الاسبابه
چې زما ملاقات وشي له احبابه

(1) د "ب" لومړی نسخه : "خورشید و ماه را".
(2) د "ب" لومړی نسخه : "همه داد دشنام و گهالی مدام".
(3) د "ب" لومړی نسخه : "که این سفله بدکار و بدذات ہے".
(4) د پېښور چاپي دیوانونه : "حجابه". دا غزل په "ب" چاپ کی نشته.

ملاقات د بنا یسته ؤ مې نصیب کړې    د بنایست په ګلستان مې عندلیب کړې

عندلیب مې په ګلشن د خپل حبیب کړې    خدایه ما په دلبرانو کې قریب کړې

ومې ژغورې د دې اهل له عتابه

هغه یار چې زه یې مینه په دیدار کړم    همیشه یې د ویدن ته انتظار کړم

شپه او ورځ پسې ناري وهم کوکار کړم    که په روی تمام جهان ورته رویدار کړم

ستر ګې نه پورته کوي د نازله خوابه

بلتانه یې پټ پټم په زړه تاراج کړم    و دیدن ته یې په هسې رنګ محتاج کړم

چې غرقاب یې د غمونو په امواج کړم    هیڅ پایاب یې مونده نه شي څه علاج کړم

د آشنا د مینې غم شو نا پایابه

ته چې کس یې د جمله ؤ نې کسانو    هم کارساز یې د جمله ؤ کارسازانو[1]

الهٰی[2] په بزرګې د بزرګانو    زه وصال په دعا غواړم د خوبانو

لا به کله دا دعا کړې[3] مستجابه

اسیر کړی دې د زلفو په تناب یم    تکبیر کړی دې د سترګو په قصاب یم

د کشتی[4] غوندې مدام په اضطراب یم    لکه زه چې ستا له غمه په عذاب یم

خبر مه شه هیڅ بنده له دې عذابه

دریغه مه وی په دنیا کې پیدا شوی    او که وی هم په داسې شان خو مه وی

لکه زه یم د هجران په لمبو سوی    خو به ګرزم په داسې[5] اور الوی

چې سینه مې په درست غم شوه کبابه

---

(۱) په "پ" چاپ، "پ پ" چاپ او د "خ" په قلمي نسخو کې "خام کارانو" راغلی دی.

(۲) د "پ پ" چاپ: "هم په روی او"

(۳) چاپي دیوانونه: "شي".

(٤) "پ پ" چاپ: "دماهي په شان"

(٥) چاپي دیوانونه: "د هجران په اور"

هې هې څه مې دا خراب[1] خاطر نا بنا د شو — زیست روزګار مې همېشه آه و فریاد شو
عمارت مې د زړه هسې رنګ برباد شو — چې حباب غوندې بې بېخه بې بنیاد شو
د بنیاد[2] طمع به څو کړم له حبابه

پټ پټ ګرځم د ناصح له نصیحته — را ته کاندې نصیحت په خصوصیته[3]
چې توبه کړم د خوبانو له قربته — هیڅ جواب بې په ما نه شي له غیرته
درمانده وم ته ولاړیم لا جوابه

دا جواب څه هسې نه دی چې په خوله شي — د عشق راز څه هسې نه دی چې وایه شي
دا مشکل حکایتونه په ما نه شي — د دې بحر بې پایان حساب په څه شي
چې بې زه و چا ته وایم له حسابه

چا موندلی[4] د دې بحر پایان نه دی — دغه راز و هر سړي ته عیان نه دی
هېچا کړې د دې چارې بیان نه دی — دغه واره عاشقي ده ګمان نه دی

## ۳۷۹ چې په خوله کې در و لعل لري سیرابه ۴۰۲۷

ستا جفا تر حد په هو تېره ده صنمه — تل مې اوښکې موج وهي د زړه له غمه[5]
څو به پټه دا قصه اوسي پنهمه — هسې ډوب په فکر ویم بې دمه[6]
نه پوهېږم چې په غره یم که په سمه

که خبر[7] وی له دې چې هسې رنګ خوار یم — ما به نوم اخستی نه وُ د یاره
ستا د غم په دریاب ډوب یم تر مرې — بې تا نه لرم هېڅوک د دستګیرې[8]
مګر ته په خپله لاس راکړې همدمه

---

(۱) د "ب پ" چاپ: "ستا په هجر مې"
(۲) په چاپي دیوانو او د "خ" په قلمي نسخو کې "مبادي" راغلی ده.
(۳) د "خ" دوهمه نسخه: "په خوکرته".
(۴) "ق" چاپ او "ق ،ک" چاپ: "ماموندلی"
(۵) "ب" لومړۍ نسخه: "د زړه له غمه"، "ق" چاپ، "ق ،ک" چاپ او د "خ" قلمي نسخې: "د زړه له غمه"
(۶) "ب" چاپ، "ق" چاپ، "ق ،ک" چاپ او "خ" قلمي نسخې: "هسې ډوب په فکر تللی یم له دمه".
(۷) قلمي نسخې: "که مې نه ده وي" (۸) د "ب پ" چاپ: "دادګیرې"

ما وې نور به آشنايي له هيچا نه کړم — هم په دا رنګه مې نيت ؤ باري خه کړم
د قسمت علاج په چا شي چې يې زه کړم — که په سل رنګه تلاش و تدبير کوم
خلاصی نه مومم له لوحه له قلمه

خوبرويان که بې وفادي خو هم وړه دي — عاشقان که وفادار دي خو هم پېړه دي
ستا له غمه هر چې دي زما په زړه دي — اوس به حال و چا ته (خه) وايم چې مړه دي(1)
غرض دا دی چې زه ګرم يم ته ناګرمه

يو خودا چې په صورت يې پري لويه — هم په خوی و په خصلت فرښته خويه
هم په قد و په قامت هر ګوره لويه — بيا به نه مومي څوک تا غوندي دلجويه
که يې غواړي په هژده هزار عالمه

ستا له غمه(2) زه په ځان کړم هسې چاړې — چې د ښنه يې ويله نه کا ګلعذارې
ته په څه سبب له ما نه دل آزارې(3) — دا زما ګناه را وښيه دلدارې(4)
چې توبه کړم نصوحا غوندي محکمه

لاس تر غاړې له رقيب سره خندا کړې — چې ما وويني له قصده را ته شا کړې
خدای يې ويني هغه چار چې پر ما کړې — ترا به چې ورځې پورې به جفا کړې
که(5) به کله هم چارو زې له ستمه

تا چې هسې بې نيازي د ځان پېښه کړه(6) — په عاشق دې د خندا ځمکه مترکه کړه
بيا دې ورځ په غريبانو توره شپه کړه — نور دا هسې د جفا خوی ونه مه کړه
خلقه به دې له جوره شي برهمه

---

(1) د مخمس په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کي نشته. څلورمه مسرۍ په "پ" چاپ او د "خ" په قلمي نسخه کي داسې ده: "اوس به حال و چا ته خه وايم چې مړه دي".
(2) قلمي نسخې او "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "ستا د پاره".
(3) قلمي نسخې "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "له ما لاسته"
(4) د "پ" لومړۍ نسخه: "ته يارې".
(5) د "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ: "ته به کله" (6) "پ" چاپ، د "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ: "تو مبنه کړه"

زما ستا له مینې هر څوک خبردار دي | دا خبرې کوډګرو په هر دیار دي
چې فلانا فلانا سره دوستدار دي | اوس په بېرته جار وته وما ته عار دي

چې رسوا شوم تر عرب و تر عجمه

څه ډز وي (۱) چې په تا باندې مین وي | په وګړي کې رسوا لکه کوهکن وي
همېشه انګشت نما په مرد و زن وي | چې دا نښې پکې نه وي دروغژن وي

که په هره ګړۍ خوري هزار قسمه

نښانه د عاشقانو ول دا ده | چې مدام یې سر په کار وي له فریاده
تل نامرد بدنامه وي پرې زیاده | نه وېرېږي له پېغوره له داهداده

بې دیار د جدایۍ له ماتمه (۲)

هر چې زړه یې مبتلا شي په بتانو | زیست یې نه شي یو ساعت بې مهرویانو
که څوک ورکا بادشاهي د بادشاهانو | په نسبت د هغو سوي سوختګانو

دا متاع ده تر یوه خسي کمه

که سلیمان غوندې مسند یې په هوا وي | په سبب د عاشقۍ به خاکپا وي
همېشه به په فریاد و په غوغا وي | چې دا هسې نښانې پکې پیدا وي

تر وهاله پرې عاشقي ده مسلمه

عاشقي دې هیڅوک نه ګڼي آسانه | دا خبره ده له حده پهو تر ګرانه
وصال نه دی چا موندلی بې هجرانه | تر له ځان (۳) سره اتکل وکړه رحمانه

۳۸۰ په دنیا کې سبا دي چېرې چا ده بې غمه ۴۰۶۲

---

(۱) د پېښور چاپي دیوانونه : "هغه ن وید".
(۲) د "خ" لومړی نسخه : " نه بېنکاره پرې دیوې ستنې تن سومه".
"ق، ک" چاپ : " بادشاهي ده له یوه خسري کمه".
(۳) په قلمي نسخو کې " له ن ږه سره " راغلی دی.

# ضمیمه

## وروستني لاس ته راغلي

### غزلونه او بیتونه

**١**

تېر شو په دا طمع په درستا عمر زما — ګوندې چېرې کېږدې یو قدم په سر زما [1]
تا وېې چې د عشق پیاله خوږه ده تر شکرو — وسو په هجران کې دې پیالې ځیګر زما
سل جفا که وینم په سترګو ستا له لاسه — ستا په جفا نه کېږي هرګز باور زما
٣٨١ یا له ما ساح سره جفا مه کړه دلبره — ٤٠٦٩
یا لې تا راوښیه یو بل دلبر زما

**٢**

هر ګفتار هره وینا چې خوک عبس کا — تر عبس ویل دا بده چې یې بس کا [2]
په هغې وینا چې ورو ستر پښیمان بېږي — له اوله دې خوله هسکه (له نفس) کا [3]
هره چار چې له اختیاره وي وتلې — بېهوده به یې خوک لاف د دست ورس کا
فقیري یا د خدای په مهر مونده کېږي — داهن په کېږنه شي چې یې نس کا [4]
آدم زاد په معنی وایه یو وجود دی — یو وجود دی هم یې پاک هم یې نجس کا
که یې اصل یو وجود دی (په دې) څه شو — د ګلونو هغه کله خار و خس کا
په اخلاص د لمانځه ګذاروي جنوب دې — هر لمانځه بې چې (په) ریا تیمم [5] او دس کا
٣٨٢ (که خود بین وي) ته یې څه کوي ګمانه — ٤٠٧٤
د خود بینو سره اخپله خودي بس کا

---

(١) دا غزل د زلمي هیوادمل د شخصي کتابتون له قلمي نسخې نه نقل شو.
(٢) دا غزل د حبیب الله رفیع د شخصي کتابتون له نسخې نه نقل شو. په دې بیت کې د "عبث" کلمه د قافیې د سمون په غرض د "عبس" په شکل راوړل شوې ده.
(٣) اصلي نسخه: "لا اول دې خوله هسک". چاپي دیوان: "لا اوله دې یې نکه تر خوله هسکه"
(٤) اصلي نسخه: "داهن په کېږنه شي چې نصق کا"
(٥) په اصلي نسخه کې "تیمون" راغلی دی.

## ۳۹

دلربا که دخپل حسن مخ عیان کا
دین یې غمزه جمع زړونه به لمزان کا

په کشور د صبا برانو به قیامت شي
اسرافیل غوندې آوازن به هر نالان کا

چې یې چا جام دلعلو وي نوش لې
پیمانه چغلګیرې په دا نادان کا [1]

دجبین په چین یې هسې رنګ پوهېږم
چې محراب به دګایلو زړونه ویران کا

دپرېشان ګیسو دلیل یې عین دادی
چې وابست زړونه په دا رنګ پرېشان کا

که جلوه یې دجمال شي معینه
په شعله به لمر، سپوږمۍ سوي نانان کا

که دباد ګذر (یې) وشي و خاکپای تر
درند و ستر ګو دار و به خدای آسان کا

که شانه په تورو زلفو باندې کېږدي
مشک عنبر (به) دیوې پیسې دېران کا

تورې زلفې یې هم مشک دي هم عنبر دي
خو زما له کم بختۍ (یې) خدای ماران کا

که پلوله مخه لرې که حمانه
په دیدن به هندوان واړه مسلمان کا

۳۸۳ ٤٠٨٤

## ٤٠

که په بخت کم بختان ندوا خسته دل خوک
په حضور به له تا ولې بېلبېدل خوک [2]

و دیدن وته د هر چا رضا کېږي
ولې حکم یې له تا نه لرې بل خوک

که یې لاس دخدای په چا رسېدلی
بې مقصوده به یو دم نه سهېدل خوک

دا یو سر دی ما دا ستا شکرانه کړی
نور ناحق مې ویروي په سر وهل خوک

دا هم زما شومیت دی چې را رسي
ګنه [3] تر او د چا زړونه بدول خوک

---

(۱) اصلي نسخه: "پیمانه چغلګیرې پیدا نادان کا". او دا غزل د رفیع دکتابخانې له نسخې نه نقل شو.
(۲) دا غزل د رفیع د شخصي کتابخانې له چاپي دیوان او قلمي نسخې نه نقل شو (۳) د رفیع کتابخانې چاپي دیوان: "ګنه"

ددیدن په طمع وغلېدم بندي شوم — گنهر زه او د هجران سختی زغمل څوك
په هیڅ رنګ به دې له میني منکر نه شم — هر شان قصد چې مې کوي په قتول څوك
که مې زړه ستا میني نه وای را پېرودی[(۱)] — په رضا له سره کله تېرېدل څوك
که اثر د محبت ورسره نه وي — روغ صورت د اهومره زړه زهیرېدل څوك
که په مینه دلیلی مبتلا نه وای — (دا) غریب مجنون بېدیا، غرونه ځنګل څوك

٣٨٤ — مینه هره بلا کاندي (که باور کړې)[(*)]
گنهر زه عبدالرحمان هومره ویل څوك — ٤٠٩٥

٥

دخپل ځان له خاکساري (نه) بلند شوم — لکه ګرد هسې شهسوار د هر هوا یم[(۲)]
کمېني هسې کامل کړم چې زه درو م — لکه ځمکه درست جهان را سره بیا یم
ما چې خپل معراج د دار د پاسه ولېد — د منصور په څېر رښتیا وېنا (به) وایم
د منصور او زما هومره تفاوت دی — چې ده ناري کړه، پـه جهر زه خفیا یم

٣٨٥ — له عیانه هیڅ حاجت د بیان نشته
زه رحمان به په خوله څه وایم چې دا یم — ٤١٠٠

٦

هر چې خپلي میني خوار کړ خوار يې مه ګڼه — عشق د رحمت ابر دی غبار يې مه ګڼه
کله تور سنبل کله تور مشك کله عنبر شي — زلفي که د ماں په څېر دي مار يې مه ګڼه

---

(۱) قلمي نسخه: "را پېر ودلی"
(۲) ددې غزل مطلع په نسخه کې نشته او دا غزل" په سنه خوی له بدخواها نو نې پر والم" له غزل نه وروسته راغلی دی.
(*) چاپي دیوان: "مینه هره بلا کړې په عاشقانو — گنهر زه غریب رحمان هومره ویل څوك".

یو مخ یې د سوزې سل مخه (لې) د سان دي — عشق په اصل نار دی نار یې مه ګڼه

د بې بیداره ویده دی که بت په غمو ستړی — بت که د تر غت ګوري بیدار یې مه ګڼه

مراد خو یو اثر دی د خوبانو له رخساره — هر چې اثر نه لري رخسار یې مه ګڼه

خار چې په ګل پورې (وي) د ګلو په حساب یې — خر و شوکه نام د خار دی خار یې مه ګڼه

په خلک هغه دي چې اقرار په ناپوهي کا — هر چې ځان هوښیار ګڼي هوښیار یې مه ګڼه

بد خو هم هغه دي چې خپل بد ورځ ګند نړي — هر چې ځان بدکار ګڼي بدکار یې مه ګڼه

هر چا چې اقرار د یار له زلفو سره وکړ — تل به ناقرار وي په قرار یې مه ګڼه

۳۸۶ هر چې کمال غواړي کمیني (دې) د رحمان کا — عین د غه چار ده بل هچار یې مه ګڼه ۴۱۱۰

## ۷

اې د نفس او د حرص په هوا لېوه — په ظاهر صورت ملک په معنی دیوه

شدادي خصلت دې و نمرود ظلم — خبر نه شوې د مسکین د زړه له غریوه

تا چې خپل مخ د فرعون په دود تور کړ (۱) — په دې خوی به برابر نه شې له نیکبوه

پر وجود به دې په څه رنګ حاصل یې — چې لېږې د یار له دره د دیوه

په ظاهر صورت تندرست په روح رنځور — د ریغ و سوی تر دروغ پوست لاندې معتبوه (۲)

د نیستی له مکافاتو هغه خلاص شول — چې هستي یې د فنا په مخ ایښوه

۳۸۷ اول دې پاچا وه له خوبه (با ورو کړه) — و رحمان وته په خپله په نار بوه ۴۱۱۷

---

(۱) اصلي نسخه: "تا چې فرعون په دود مخ تور کړ". (۲) چاپي نسخه: "د ریغه و سوی تر دروغ پوست لاندې معتبوه"

## ۸۸

یا داستا چشم ابرو وینم په خواب کې
یا مستان دي ویده شوي په محراب کې

یا په جام کې ستا د مخ عکس لیده شي
یا خورشید دی تجلاکا په حباب کې

یا تر خط لاندې غوټۍ ستا د خولې دي
یا کوکب دی را ډوب شوي په شهاب کې

یا دې زلفې په مخ دواړه راخورې کړې
یا سنبل دی کنجلکي داوړ په تاب کې

یا دې زلفو په مخ توره تاریکي کړه
یا خوتند رخان ترګند کړ په آفتاب کې

یا داستا مژګان زما په خاطر خښ دي
یا سیخونه دي پټ شوي په کباب کې

یا خوستا له غمه غرق زما صورت دی
یا خسرې دي جاروزې په ګرداب کې

ته د دې رحمان خطا کړه ور معافه
داوتر وچاره نه وي په حساب کې[1]

۳۸۸ چې د یار د مخ کاته له میانه ووزي
د لمانځه به څه عزت وي په حساب کې ۴۱۲۶

---

(۱) دا بیت د زلمي هیواد مل د منځني کتابخانې له قلمي نسخې نه نقل شو.

## ۹

مست د هغه مخ یم چې مستانې لرې سترګې — بې توري، بې تېغه، قاتلانې لرې سترګې

بې لیده وکتو غایبان زړونه وړي له خلکو — هسې چشمان بندې ساحرانې لرې سترګې

هر څوک چې یې ویني نو دې سترګې کتی نه شي — ښکلې پر یوال رغوندې حیرانې لرې سترګې

لب آب حیات دی او نفس (یې) د عیسی دی — هیڅ عجب نه دی که خوبانې لرې سترګې

هر چې عاشقان دي هغه کله بل خوا ګوري — واړه ستا په لوري نګرانې لرې سترګې

ای رحمانه اوښکې هم له تخمه د باران دي*

٣٨٩ کښت د هغه شین شو چې ګریانې لرې سترګې ٤١٣٢

## ۱۰

که په قطع د تمام جهان ملک یې — چې له ځانه خبر نه یې لا هلک یې

آدمیت خو څه په مال او په شال نه دی — ته چې خیال په شال په مال کړې حکه سپک یې

منصفان دې د انصاف خبرې وایي — څه شو څه شو که په خپلو کې شریک یې

که د لمر په څېر ښکاره شې په جهان کې — خو په زړونو پسندیده نه شې لا ورک یې

بزرګي په دلجویي کې ده د خلکو — ته چې خلک د وبوې څرنګ بزرګ یې

په لویي کې لویي چېرې ده لا یقه — کمینه وته مټ کړه که سالک یې

فلک تا غوندې پیدا کړي بیا فنا کړي(۱) — ته لا نوې خواست کوې په نازنازک یې

دانایان به په دیوان ښکلي پند خلي

٣٩٠ چې رحمان په خوار نظر ګوري فلک یې ٤١٤٠

---

(۱) اصله نسخه: "فلک تا غوندې هزار پیدا کړي بیا فنا کړي". (*) چاپي دیوان: "ای رحمانه اوښکې دي هم تخم هم باران دي".

## ۱۱۶

دزړه حال وتا ته څه وایم په ژبه　　ته خبر د خونړو زړونو په منزل یې (1)

هم د ګل په خبر بلبل سېځې په مینه　　هم مین لکه بلبل هسې په ګل یې

بې لېده د خړ ګند بڼي عیب واړه　　په کمال د ځملګي چارو کامل یې

هم قاضي یې هم ملا هم محتسب یې　　هم ساقي د مي پرستو په محفل یې

یو دې ذات په دواړو کونو کې شهره دی　　بل په نام له هر چا لو یه یو په سل یې

چې ته مخ په عبادت کې نه جار باسې　　دا ستا شپه دې (نفس) بد کاته یې خپل یې

ورکول او پېرودل دې په خپل لاس دي　　که وچا یې ورکوې کړې یې اخل یې

جار تر هسې رنځ نبولو شه رحمانه　　چې شهې یې په پوښتنه وې راغل یې

خدای طاعت، عبادت څه کوې راځه

۳۹۱　　۴۱۴۹

خوږې مینه د سړي ده ازمیل یې

## بیتونه:

په "چې یې نقش په زړه خیال شي د اشنا" غزل کې:

ترا بده به یې بخره ملالي وي　　له هغو چې زړه ملال شي د اشنا

په "ته چې ما ته وایې چې په څه کوې ژړا" غزل کې دریم بیت:

خو به دا جفا کړې نه پوهېږم څه بلا شوه　　خو به وې تر کومه دا جفا او دا بلا

په "بسه ده بسه ده دا دنیا" غزل کې له مقطع نه د مخه بیت:

(2) که یې مال د دنیا بې پروا وي　　هیڅ پرې نه کاندي پروا

په "لاس مې وتړې د زلفو په تناب" غزل کې:

---

(1) د دې غزل مطلع په اصل نسخه کې نشته.
(2) اصل نسخه: "هیڅ ورنه کاندي پروا"

لهٔ فراقه چې يې آه کړم سوك په ستر ګو — يو لستو نې مې ګرداب (شي) بل ګرداب

په "هر مطرب چې غوږ يې تاو کا د رباب" غزل کې دوهم بيت:

هومره تاو د بېلتانهٔ را باندې زور شي — چې حساب يې بيان نهٔ شي په کتاب

په "چې مې يار وليد په سيمه د اغيار ګډ" غزل کې لسم بيت:

سخت سفر د عاشقۍ د څوك او زهٔ څوك — خدای ناخاپه پرې راګډ کړم په دا لار ګډ

په "نظر د بې بصر" غزل کې اوه ولسم بيت:

نهٔ پخلا نهٔ مرور وي — پرېشان ګرزي در په در

په "زهٔ تېر شوی يم ترسر" غزل کې ۱۶ - ۱۷ - ۱۸ بيتو نه:

کهٔ مې آس وي کهٔ مې خر — کهٔ مې غوا وي کهٔ مې وزه وي

کهٔ مې اوښ وي کهٔ غاتر — کهٔ مې مېښ وي کهٔ مې من وي

کهٔ لنګې وي کهٔ تغر[1] — کهٔ په کور کې مې کالي وي

په "پس له مرګه څوك ارت غواړي خپل ګور" غزل کې يوولسم بيت:

په يقين به بدکردار ته بدکردار کا — کشيده شي د بدکردار سر يې پېغور

په "بد اختر به نېك اختر نهٔ شي هرګز" غزل کې اووم بيت:

کهٔ ته غر وربانديې وکړې کار به کېږي — مرغچه[2] به د ګوهر نهٔ شي هرګز

په "چې پای بند شه دليلې په اشتياق" غزل کې:

تهٔ به والې چې بادشاه دې دآفاق — جهان خوښ دې د خپل يار په دردو غم کې

په "چې مشغول نهٔ وې د ترکو په جمال څوك" غزل کې لسم بيت:

کهٔ هر څو يې پاکيزه کا په رومال څوك — لې بند خو يې مخ روڼ نې له هېڅ نهٔ شي

په "مهٔ غوږ باسه د نااهلو قيل وقال" غزل کې نولسم بيت:

---

(۱) اصل نسخه: "کهٔ لنګې وي کهٔ تغر"

(۲) په اصل نسخه کې "مرغاچې" راغلي دي. پښتو قاموس "مرغچيچه"، څښتني دې اصل شکل يې "مرغچه" ده چې د مصنوعي مرلو" يا "مشکنيو" معنی ورکوي.

خراب دل مې نهي غواړي بلادا شوه — چې نهي دا معلومېږي کال په کال

په " په لوړه غمزه دستر ګوي فنا شوم " غزل کې ۶-۷ بیتونه :

په خپل کلي په خپل کور کې مې غربت دی — په صدف کې دریتیم غوندې یکتا شوم

مستورې دا څخه یو ورځ مستو ستر ګې — رحمان ځکه په وګړیو کې رسوا شوم

په " چې له مرګه بې پروایې په هر دم " غزل کې ۲۸ بیت :

پس له مرګه به دې هوس ئې هم خانه وي — څه پوهېږې یا به مار وي یا به لړم

په " ته چې هسې ګامې ترشه ګامې خندان " غزل کې اتم بیت :

د سرې صورت څرګند د کاڼي نه دی — نشته کاڼي څخه ستا د جور توان

په " څو به شپېږم زه غمونه د هجران " غزل کې شپږم بیت :

لکه غم د آشنایۍ په ما وورېږي — یاد به نه وي د چا هسې ګړن باران

په " تا چې رنګ د میو درکړو لبانو " غزل کې ۶-۷-۸ بیتونه :

ستا د خولې له حقیقته صوفي څه زده — له دې رازه څوک خبر وي بې رندانو

د پېزوان غمې دې زېب کا پر لبانو — دوارو زلفې دې چوړې د ملنګانو

تور او ربل دې لکه مار په جبین پروت دی — شینکی خال دی مواصل د رنځورانو

په " که هر څو په صحرا سر شوم هم په کلیو " غزل کې دریم بیت :

هر آشنا چې مخ پنهان کا نه بې موم — کړي بې غواړم شپه او ورځ په سپرو پلیو

په " ورځ دې تېره په شوې کړه شپه له خوابه " غزل کې اتم او نهم بیتونه :

اندرون به دې له اوره هسې دک شي — چې نن دک شي په شرابو په کبابه

چې د مخ و آب و تاب تر بې نظر کړم — واړه ښخ شي د ګلونو آب و تابه

په " ته ئې ما بې شکر لبه " غزل کې :

نه د لې شوې نه هورې شوې — ترمیان ولاړې مذبذبه

په "خود به وران شي د دنيا بازار التساره" غزل کې ۴-۵-۶-۷ بيتونه :

يوه هسې بې سوزې مې شوه په برخه — چې سرې يې لا بترې ده ترسانه

مصلې د بې ننګۍ وړ پسې لنګ کړه — د هوس مصلې قطع کړه وې بې نغاړه

يار زما د سترګو تور پړ بې ګرزيد لم — په هجران کې مې د سترګو رڼا لاړه

په خوار بدن مونده نه شي له سګانو — په لوح سر سره د روزې له بګاره

په "ما وې زه به نه کړم په خوبانو باندې ميړه" غزل کې پنځم بيت :

د ارشد نجومي زما د يار فال وګوره — تل لې يار به کله له سفره راپيښينه

په "کشکې زه خاورې ايرې د ستا دروازې" غزل کې نهم بيت :

يا شبنم د صبحدم يا عندليب شوې — چې د استا په ګلشنو زما ګذر وای

په "ستا له غمه مې په سر کې هسې شور دی" غزل کې اووم بيت :

درد و غم د عاشقۍ جوړه سره کړه — خدای ورکړي و دنيا ته يې سروزي

په "زلفې دې له ډېرې درازې پای تر سر دی" غزل کې اووم بيت :

داخو زه له کم بختۍ له تازار کړم — ستا له نيک خوی کاڼي بوټي هم خبر دي

په "چې د ځنګ مې دلبر په لاس کې جام دی" غزل کې اووم بيت :

نه چې خپل فراغت غواړې په جهان کې — فراغت خاطر راوښيه کدام دی

په "چې دا هسې لاس په لاس دنيا پړ لنبو دې" غزل کې لسم بيت :

په خپل ځای به يې هر کلام په کار شي — رحمان ... طالب لره د سنګو دی

په "خبر مې ستا د بنوغشي په سينه دی" غزل کې لسم بيت :

نه تنها زما په سترګو کې جلوه کا — ماه وهر يې سينه مخ يې آينه دی

په "غم دې هسې غلبه شو په ما باندې" غزل کې اووم بيت :

زه رحمان يې شته نې په ځان ګڼمه — که يار سل ځله ناشته يې چاري کاندې

په "آشنايي توره بلا ده اشنا مه شي" غزل کې څلورم بيت:

خپل څربښت وهرڅاروي وته قصاب دي ... توانايي د تن تاوان دی توانا مه شې

په "ولي ولي و عاشق ته نظر نه کړې" غزل کې دريم او اووم بيتونه:

ښښتن لاس د سپي په سر باندې راکاږي ... ته تش سيوري د مخلص په سر نه کړې

زما هر زمان په تا باندې ګذر وي ... ته يو دم زما په لوري ګذر نه کړې

په "مغرور مه اوسه د عشق په کاروبار کې" غزل کې اووم او دوولسم بيتونه:

هيڅ صرفه نه کړي د زړونو ازار خلي ... د چا سود دی کوزې شوې په آزار کې

وهغوي چې خدای حق بيني ستر ګې ورکا ... د يوسف تجلي ويني په ديوار کې

په "دمخې بنا چې نوم محنت آباد وي" غزل کې شپږم بيت:

بيخ بنياد به دهغو وي په ياري کې ... چې د تن په نابودي يې اعتقاد وي

په "که د دروستي دنيا غم مې په سر بار وي" غزل کې ۶، ۷ او ۱۱ بيتونه:

زه به ستا له رقيبانو څه ماندکړم ... دا دستور دی چې له ګل سره خار وي

که يې هر زمان په آب زمزم وينځم ... بې مينه مې په زړه باندې غبار وي

خو يې سل ځانه ښنه شيې په تهتر کې ... کله وي چې د بلبل و ګل قرار وي

په "د وصال په هوا والوتي مرغه شوي" غزل کې څلورم بيت:

چې بېلتون ور ته اسان دی هغه خلک ... از ميښت له په بند د بېلتانه شوي

په "د ېرې خولې زما په ياد شکر خورې شوې" غزل کې څلورم بيت:

خپل قسمت په سرې کاندې هر چې کاندې ... د چا برخه خاموشي د چا ناري شوي

په "چې په مخ باندې داد بنکو يو رقم دی" غزل کې ۱۴ بيت:

قاعده د درد منديه هسې نه ده

چې په درد کې يو درد من تر بل کم وي

په "ترڅو چې ماته وایې چې په ما باندې شیدایې" غزل کې له څلورو بیتونو نه وروسته لاندې بیتونه:

هر چې په حیات صورت له مرګ سره اشنا شي | خلاص به د قیامت له خرخښې نه دې دنیا لې
سخ د هغو ګلو چې برګ رېزي په بهار وي | ګل سره اسې وکا له خزانه استغنا یې
غم (خو) هم (هغه) که چې هیڅ غم ورسره نه وي | ولې چې ناګاه به یو ورځ ور باندې زیا یې
حکم د نیستي په هغو دی هم (چې) هست دي | هر چې هستي پر بن دي له نیستي نه خبر وا
زړه د عاشقانو د دښمن له لاس بېغم دی | لکه شمع د مقراض له خصومته په خندا یې
لوښه تنده نشتر د قانع په قناعت کې | دا کیمیا چې زده کا په خرقه کې امرا یې
هیڅ اسر چشمې حاصلي نه کړې په خرمن کې | بلکه د قحطي په ملک که شاه یې هم ګدا یې
ما به رښتیا نه وي اې یارانو باري خه کړم | حقه کلمه نغره ده هر ګوره سخته بلا یې
زور د سیلاب وار ترل په مقامات وي | زړه د خاموشي په ځای لره نه (چې) ګویا یې
بې خس و خاشاکه د آتش بقا په څه وي | آه و فریاد واړه په مقدار د تمنا یې
زه د رقیب چار و ناو پسا کرم له حبیبه | زلفي په نسبت د مار خوږ لواړ ډها یې

اې رحمانه هر راحت په اجر د زحمت دي
هر چې ډېر (ډېر) خاندي هسې ډېر (ډېر) په ژړا یې

په "چې پخته شي آشنایي" غزل کې له مقطع نه وروسته بیت:

په پښتو کې رحمان ووې | په فارسي کې سنایي

په "یوه ذره به ورځي یا به موري" غزل کې پنځم او شپږم بیتونه:

عبادت خو په ځوانۍ کې دي رحمانه | په پیرۍ کې به څه زهد کړې چې زوړ یې
بدي واړه په سر ونیسه رحمانه | چې پای بند د یاران په هر پایه مړ یې

په "هر گفتار هره وینا چې څوک عبس کا" غزل کې شپږم بیت[1]:

معتقد له اعتقاده مقصود بیامومند　　　　د خو طاعت غلط دی چې وسوس کا

په "که په بخت کم بختان نه وای خسته دل څوک" غزل کې ۶ او ۱۲ بیتونه:

زه لاړ غږ دستا په مینه کې شهره یم　　　　نه چې نن کاندې خبرې پردې خپل څوک

ما دا یو سر دی ذاستا شکرانه کړې　　　　که دسر ماغزه مې خورې په دا ویل څوک

په "دزړه حال و تا ته څه وایم په ژبه" غزل کې ٤ او ۵ بیتونه:

که یې لاس د خدای په چارو رسېدلی　　　　بدې بخرې به چا چېرې قبلول یې

څوک له خاورو واېږو پاچا په تخت ورکړې　　　　څوک له تخته دایرو په ډېران ولي یې

٤٢٠

د رحمان بابا دیوان د (۱۳۵۵) لمریز کال د زمري په میاشت کې
د نصیر "هنر" پښتون په قلم خطاطي او نقاشي شو.

---

(۱) دا بیتونه د سبا علي رفیع د شخصي کتابخانې له یوې زړې چاپي نسخې څخه لاس ته راغلل.

ترتیبوونکی: څېړنیار محمد عارف غروال

# د ویې پانګه تاسو یې ورته

## لغت | معنی

### الف

| لغت | | معنی |
|---|---|---|
| ابتـه (حبطه) | | عبث، بې معنی، بې ځایه. |
| ابلق | | آس، برګ. |
| اختلاط | | ګډون، خبرې کول |
| ارهنډه | arhánda | بیدانجیر. |
| آدینه | | جمعـه. |
| اشام | | ؟ |
| اشراق | | دځالبنت لمونځ، طلوع کول ځلیدل. |
| الوی | aláway | وریت شوی. |
| اعراف | | دجنت اودوزخ ترمنځ ځای. |
| افسون | | جادو، اوده، دم. |
| الغیاث | | پناه غواړم، فریاد. |
| الوس (اولس) | | ټبر، قوم، طایفه. |

| | | |
|---|---|---|
| آماج | | موخه، هدف، د ټوپک غشي او نښان. |
| آماس | | پړسوب. |
| اوتاد (د وتد جمع) | | یوه روحاني مرتبه، موږي، میخونه. |
| اوړنی | odə́nay | یو ډول ښځینه پوړنی دی چې غالباً یې په ودونو کې په سر وي |
| اوراد (د ورد جمع) | | دوعاګانې. |
| اوربښتی | orpəṣtay | پتنګ، پروانه. |
| اوږمکه | oẓmáka | میاشت، ماه. |
| اولاق (الاغ) | | خر. |
| اهار | | د اوړې سختې ګرمۍ موسم. |
| اهلاد (هیداد) | | سزا، پاداش، سرزنش. |
| ایاغ | | د شرابو پیاله او کاسه. |

# ب

| | | |
|---|---|---|
| باده | | شراب. |
| باړه | bāṛá | یو مشهور خوږ. |
| بالي (همایي) | | وزر. |
| بتان (بت) | | مجازاً پېغلې، ښکلې. |
| بدسګال | | بدذات، بدجنس. |
| برنا | | ځوان، زلمی. |
| بساط | | د ځمکې فرش. |
| بطال | | بد ویونکی، باطل ویونکی، غلط ویونکی. |

| | | |
|---|---|---|
| بګاړ (بګیاړ) | *bagāṛ* | لبوه، شرمښ . |
| بیچاونې (بیچاونه) | *bičāwna* | دعزت جامې، بستره، روجایي . |

## پ

| | | |
|---|---|---|
| پارسا | | پرهیزګار، زاهد . |
| پارچي | *pārci* | دجوارې کولو داني . |
| پاسلل | | سپارل . |
| پایله | | پاینیب . |
| پخساك | | پرېشاني، غم او خپګان . |
| پراته | | پرته، بې ځایه، بې مورده . |
| پسندل | | غوره کول . |
| پکو | | په ځان پورې تنګ او له ځانه ستړی . |
| پنم | | پړسوب . |
| پیچل | *pecə́l* | زغمل، صبر کول، تحمل کول . |
| پیچوي (پچوي) | | دمچنوغزې پرې (پچوکې) مجازاً ورته ویني خپني او کوچنۍ . |
| پېړې | | دکښناستو تخته، دناستې کټکۍ کټنې . |
| پیشاب | | متیازې، بولې . |

## ت

| | | |
|---|---|---|
| تبرا | | بېزاري ښکاره کول، تېرا کېدل . |
| تراره | *trāra* | تیاره، کاڼۍ، ډبره . |
| تراهي | *trāhí* | وېره |

ترو *tru* نو.

توسن نیلی.

تولا محبت، دوستي، رښتینګلوي، مینه.

تېزل *tezə́l* ځغلول، پرېږې سپرېدل.

## ټ

ټوکرکی د پوزي یوه ټوټه یا ټوټکی.

ټنډ *tə́nḍ* په زړه مور، سخت، محکم.

## چ

چلیکان هغه کسان وندګر چې په تالي ښه یا من دوري د چا حمله کړي.

چندن صندل.

چوړه چوړه، چواړه.

چوړک یو کم شی، لنډ څه.

چوګان نیزه، ډنډه، یا توپ وهلو ډنډه.

چووه *čowá* عطر، خوشبویه مواد.

## ح

حط ایسته کول، لیرې کول، دیوار کوزول، پرېښودل.

## خ

خاصا نیک خویه، خاص الخاص، وتلی.

خاکروب جارو کښ.

خټول — ختنه لرونکی، ناپاک.

خپسر — *xpəsár* — خپل ځان.

خدنګ — غشی، خندق.

خړاره — *xrāra* — یو ډول دښتي وړه مرغۍ ده.

خرام — ناز او نزاکت (غالباً له تګ سره راځي).

خمر — شراب، مُل.

خمسور — *xamsor* — همراز، همراه.

## څ

څښکو — *caṣko* — یو بوټی دی چې میده کوي یې او په لیچنو سترګو کې یې اچوي (چشکو)

څړی — *carə́y* — دکېږۍ د سر اوږده وېښتان.

ځلې ځولې — *cale-cūle* — ګنډه ګونډه، زوړ سامان، ګند او کچکول.

## ځ

ځبله — *jabə́la* — سره، یو لړ بله.

## د

دد — ځناور.

دښن — *daṣən* — دښمن.

دراج — تنځري (تځري) یو مارغه دی.

درای — زنګځه، ګونګرو، ژوږی، جرس.

دلق ازرق فام — زرغون کند، ګودړی.

دمک — یوه لحظه

دواب — څاروي، څلور پولي، بوده ګان.

دوځار — *ducār* — څرګند، ښکاره، وړمخامخ، نمایان.

دیبا — وړېښمین ښکلی ټوکر. میلک

## ډ

ډبر — *ḍabár* — تباه، تېر، کهول.

ډلیال — *ḍalyál* — د ړلي ملګری.

## ر

راج — راجا (واکمن)

راح — خوښي، نشاط، مجازاً شراب.

رټی — *ratə́y* — ډېرلږ، ناڅیز، کم وزنه شي.

رسن — رسۍ، تناو.

رصاص — قلعي، سرپ.

رعنا — ښکلی او متناسب اندام.

رنځوری — *ranjə́ray* — رنځور، ناروغ، علیل، مجازاً زیړرنګی.

رېمن — *remán* — خیرن، بدرنګ، ناولی.

## ژ

ژباد — اثبات.

| | | |
|---|---|---|
| زبر | | یاد ، په یاد . |
| زمول | *zmal* | مراوی ، بې سبکه ، ضعیف . |
| زوږ | *zwəẓ* | نشت ، نابود ، حرام . |
| زوم | | کم ، کمی . |
| زیرمه | | تدبیر ، ذخیره ، پانګه ، پاسره . |

## ژ

| | | |
|---|---|---|
| ژغر | *zğər* | ژغورل . |

## س

| | | |
|---|---|---|
| سالکان | | زاهدان ، عارفان . |
| ساهو | *sāhū* | آزاد ، اصیل . |
| سترغلی | *stərğláy* | کولک ، دسترګو غاړې ، (کاسهٔ چشم) |
| ستور | *stwar* | څاروي |
| سنجاب | | لولی . |
| سراښ | *srāṡ* | حریص |
| سفال | | ټیټ ، بې قدره ، پستي او بې همتي ، کودړی |
| سقلات | | خپل ځان پټول . |
| سکه | *ska* | نو ، ځکه ، ګویا ، لکه چې . |
| سمک | | کب ، ماهي . |
| سنداسي | | واندې کېدل ، ملنګ ، کیمیا لټونکی ملنګ . |
| سولند | *swáland* | حریص ، بخیل ، ممسک ؛ لکه سولند سپی . |

| | | |
|---|---|---|
| سوها | sohā | یو ډېر وړوکی ستوری دی . |
| سېپاري | sepāri | یوه لوړه ونه ده چې په تودو سیمو کې شنه کېږي . |
| سیم | | یو گران قیمته فلز دی . |

## ش

| | |
|---|---|
| شب داج | توره شپه ، د تروږمۍ شپه . |
| شط | سیند ، هغه ستر رود چې دریاب ته ګډېږي . |
| شهاب | ستور ، ستوري . |

## ط

| | |
|---|---|
| طره | جوغه |
| طوق | غاړکۍ ، امېل |

## ع

| | |
|---|---|
| عتاب | قهر او غصه |
| عرعر | سپېدار |

## غ

| | |
|---|---|
| غبغب | د چرګ جنجره ، د چرګ ججوړه . |
| غربال | غلبېل ، پرويزنۍ . |
| غزا وشوه | اصل معنا : دا یو شوق دی ، په دې نوخه وشول ؛ ( یو تکیه کلام دی ). |

غوړ — ğor — برخه، نصیب، قسمت، مجازاً میراث.

غوړځي — په زوره چیغې ایستل، په اتڼ کې تو پونه او چیغې ایستل.

غوږی — ğwazáy — سخت انتظار، غوږ بلکی، د چا د راتګ د زیږې انتظار.

غوک — لویه ښنګښه (چونګښه)، شلانده.

غونډی — ğúnday — دوز غنو جوال.

غونډ ژبی — ğwand-žəbay — فصیح، بلیغ.

## ف

فلوس — د فلس جمع، دیوې ونې میوه ده چې په تودو سیمو کې شنه کیږي زیږې تریخ او په طب کې کارونې اخیستل کیږي.

## ق

قرقره — د چرګ تاج، چرګ خولي، تاج، شوغه.

قنج (غنج) — ناز.

## ک

کاړ — دوړ و کانو ډیری.

کام — هدف، مرام.

کاواك — ډډ، ګوګ.

کروړ — Kror — سخت، محکم.

کړیکه — Kríka — چیغه، وېروونکې غږ.

کښنیده — نقشه، انځور.

کلاب (کلب) — سپی.

| | | |
|---|---|---|
| کنګال | | مفلس، نیستمن، مېنځل شوی. |
| کوتل | *Kutál* | ذبح کول، حلالول، پوستکی ترې ایستل |
| کودیکه | | یو ډول خاورین دېګ دی. |
| کورمه | *Kormá* | کورنۍ، اهل بیت. |
| کوله | *Kolá* | د ساقۍ د پاسه د ګل برخه. |
| کوی | | چم، کوڅه، مالت. |
| کهی | *Kaháy* | ډنګر، لاغر. |

## ګ

| | | |
|---|---|---|
| ګانده | *gánda* | سبا، راتلونکې ورځ. |
| ګایل | | ژوبل، زخمی، پرهار ژلی. |
| ګرام | *grām* | کلی، سیمه، استوګنځی. |
| ګروهېدل | *grohedə́l* | عقیده لرل، معتقد کېدل. |
| ګریال | *garyāl* | زنګ. |
| ګورهنده | *gorhánda* | وړه تیاره کوټه، په غره کې بانډه ډوله څپرۍ، مجازاً قبر |
| ګونته | *gontá* | د شطرنج دانه. |
| ګوهار | | د غواوو پاده. |
| ګوی | | پنډوس، پنډ وسکه. |
| ګنګو | *gongú* | زعفران. |
| ګېدی | *gedáy* | ناپوه، بېړل، احمق. |

## ل

| | | |
|---|---|---|
| لارغه | *lārǧə́* | ډرنګ، څنډ. |

| | | |
|---|---|---|
| لال | | ګونګ، يو ډول انګور دی. |
| لګام | | واګي، قبضه. |
| لو | *lu* | لوګي. |
| لوخېدل | *locedә́l* | يوه داسي اوږده مبارزه کول چي يوه سياله دله هم نهائي برياليتوب ته نه رسېږي، خو له مبارزې څخه هم لاس نه اخلي. |
| لوښتل | *lostә́l* | په کوچ پيل کول، لېږد پېل. |
| لونل | | پاشل. |

# م

| | | |
|---|---|---|
| مال ومنال | | شته، هستي او دارايي. |
| ماوا | | استوګنځی، مسکن. |
| متره | *matrá* | ناياب، نشت، زوبن. |
| مټ | *mә́t* | بازو، هاند، همت. |
| مجذوب | | جذب شوی، عاشق شوی. |
| مجمر | | نغری، ديګدان. |
| مخمور | | مست، نشه. |
| مخنث | | نرښځی. |
| مذمت | | بدويل، غيبت. |
| مرسته | | طلب، لټون، کومک |
| مرغچه (مرغچې) | | کونجکه، خړوړه. |

| | |
|---|---|
| مستدام | همیشه، تل. |
| مشاطه | دمه، سینګارونکی. |
| مشګیرک | دیو مارغه نوم دی. |
| مصحف | کتاب، هغه پاڼې چې یو ځای یې سره ټولې کړې وي. |
| مطر | باران، ورښت. |
| معتیو (معتوه) | غیر مکلف، لیونی ډوله. |
| مغاک | ګودال، ژورغالی. |
| مقراض | بیاتي، قیچي. |
| منجلاب | خوسا ډنډ. |
| منزه | پاک، سپېڅلی، پاکیزه. |
| مواس | چوغلګر. |
| میثاق | ژمنه، وعده، عهد، پیمان. |
| میزر | پړونی، چادری. |
| مهوت | پیلبه، پیل والا |
| معیشه | معاش ـ تنخوا. |

# ن

| | |
|---|---|
| نارون (نارو) | یو ډول دانه ده چې د چتلو اوبو له څښلو پیدا کېږي او په منځ کې یې د تار غوندې نرۍ چینجي وي. |

| | | |
|---|---|---|
| ناړ | | د نړۍ، ساقه . |
| ناغه | | دسترګو سره رګونه . |
| ناوک | | غشی، شتی |
| نخل | | دخرماونه، خجوره . |
| ندا | | غږ، آواز |
| ندی | nadáy | رود، وړوکی سیند . |
| نغړول | | نغړل، په یوه ساتېرول . |
| نغوتل | | غوږنیول، دخبرې منل . |
| نغوته | | اشاره، تلقین . |
| نمړي | | جامې، لباس، کالي . |
| نمط | | طریقه، نوع، روش، رویه هغه ډله خلک چې په یوه فکراوروش وي . |
| نول | | غم، پرېشاني، اندوه . |
| نومر | | یادشوی، نومول شوی . |

# و

| | | |
|---|---|---|
| وارړ | wāṛə | غوره، وړ |
| وبله | | یوتربله . |
| وژلي (وژل) | | ریزه ریزه کول، مرل . |
| وشتې | wášte | ټوکې ټکالې، لطیفې . |

وقر (وقار) — طاقت، تحمل، درنښت.

وېلاړ *welā́ṛ* — عزم، اراده، نیت او مراد.

## ه

همیانۍ — هغه تیلۍ چې پیسې پکې اېښودل کېږي، کیسه.

هنډه *hánḍa* — مضبوطه اراده، ډېره غوښتنه، په زړه کې یوه ځېره غوښتنه کول.

هوک *huk* — نیغ، شخ.

## ی

یرغال — بیره، یرغل حمله، برید.

یسار — کیڼ، اسان.

یمین — ښی.

پای

# یادونه :

د متن تر تیارېدو وروسته ، د رحمن بابا د دیوان ځینې نورې نوې خطي نسخې ترلاسه شوې ، په دغو نسخو کې ځینې داسې غزلونه وو ، چې د متن له غزلو یې بېلتون زیات وو ، او یا یې توپیر سره درلود ، نو ځکه موږ نوې لاس ته راغلې غزلې په ضمیمه کې ونیولې ، په دې ضمیمه کې ځینې داسې غزلې هم شته ، چې په متن کې یې نیمګړی شکل هم خوندي دی ، لکه د متن د ۸۷ م غزله ، چې بشپړه د ضمیمې په ۲۸۳ مخ کې راغلې ده ، او یا لکه د متن د ۲۴۶ م غزله ، چې په بشپړه توګه د ضمیمې په ۲۸۶ مخ کې راغلې ده . نو محترم لوستونکي به د دغه کار زموږ تېروتنه و نه ګڼي .

اداره

PROPERTY OF ACKU 4499

(c) ketabton.com: The Digital Library

# *COLLECTIVE WORKS OF RAHMAN BABA*

PUBLISHED

BY

PUSHTU ACADEMY

Government Printing House

1977

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**